# د
# افغانستان سقوط



د لومړي ځل لپاره په مستنده توګه:
رازونه افشاء، حقایق برسېره،
نقابونه لېرې او توطیئې رسوا شوې.

لیکوال : عبدالصمد غوث
ژباړن : ډاکټر شېر زمان طائزے

PROPERTY OF
ACKU
8175

# د افغانستان سقوط

د يو عيني شاهد بيان

مولف
عبدالصمد غوث
د افغانستان د بهرنيو چارو د وزارت مرستيال

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

ژباړن
ډاکټر شېرزمان طائزی

# کتاب پېژندنه


د کتاب نوم : د افغانستان سقوط

مـولـف : عبدالصمد غوث

د افغانستان د بهرنيو چارو د وزارت مرستيال

ژبـاړن : ډاکټر شېرزمان طائزے

خپروونکـی : دانش خپرندويه ټولنه

کمپـوزر : نجيب الله "وصال"

د خپرېدو نېټه : چنګاښ- ۱۳۷۸ لمريز - ۱۹۹۹ جون

د چـاپ ځای : دانش کتابتون

قصه خواني پېښور- فون: ۲۵۶۴۵۱۳

مهتمم محمد داود وفا

# د خپرندوی یادښت

دانش خپرندویه ټولنه ویاړي. چې د افغانستان د یوه پوه او وتلي ډیپلومات ښاغلي عبدالصمد غوث په قلم په انګریزي ژبه د لیکل شوي کتاب "د افغانستان سقوط" پښتو ژباړه تاسې ته وړاندې کوي.

د دې کتاب لیکوال د افغانستان د تاریخ پر یوزرین پېر د هېواد په مهمو پېښو کې غوره نقش درلود: دی د اروانباد سردار محمد داود خان د جمهوریت په دوره کې، څه کم پنځه کاله د افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت په بېلابېلو برخو کې لوړ رتبه کارمن او په پای کې د همدغه وزارت معین هم ټاکل شوی و. چې پر دغه مهال یې د دولت له رییس سره په ګڼ شمېر سفرونو کې برخه اخیستې او په دې توګه یې زموږ د هېواد د دغه زرین پېر خاطرې په ذهن کې ساتلې، چې اوس اوس یې د یوه ملي امانت په توګه د خپراوي ډګر ته راوویستې او څه مهال له مخه یې په جلاوطنۍ کې په انګلیسي ژبه خپرې کړې.

موږ د ګران هېواد له تاریخي پېښو سره د مینې له امله دا کتاب د پښتو او انګرېزي ژبو تکړه لیکوال او څېړونکي ښاغلي ډاکټر شېرزمان طایزي ته د پښتو ژباړې لپاره وسپاره. له نېکه مرغه هغه هم د خاڼګړې لوړې مینې له مخې. دا کتاب په خوږه پښتو ژبه وژباړه او دا دې اوس ګرانو مینه والو ته وړاندې کېږي.

هیله ده د افغانستان د تاریخ څېړونکي یې په غور ولولي او زموږ د معاصر تاریخ په لیکنه کې ترې ډېر ارزښته ګټه واخلي.

دانش خپرندویه ټولنه په پای کې ښاغلي غلام محي الدین زرملوال ستایي، چې د دې کتاب د انګرېزي منځپانګې په موندنه کې یې زیار وګاله.

په ډېره مینه او درناوي

دانش خپرندویه ټولنه - پېښور

۱۳۷۸ ل- چنګاښ

بسم الله الرحمن الرحیم

# ترون

دا کتاب د هغو افغاني شهیدانو ارواګانو ته پېرزو کولی شي
چې د ۲۸ اپریل ۱۹۷۸ء د کمونیستانو د یرغل په وخت
شهیدان شول

# نیولیک


سریزه الف

مننه هـ

## لومړی څپرکی

د منځګړي هېواد زرغونېدل ۱

د بهرنیو چارو په کړنلاره کې د توازن ... ۱۵

## دویم څپرکی

لومړی نړیوال جنګ

افغانستان بېطرفه پاتې شو ۲۴

د جنګ کلونه ۳۲

## دریم څپرکی

د نړیوالو جنګونو تر منځ ۳۸

د افغانستان د باندینیو چارو کړنلاره... ۶۱

## څلورم څپرکی

دویم نړیوال جنګ ۶۷

## پینځم څپرکی

له جنګ نه وروسته دوره ۶۷
د پښتنو په سر له پاکستان سره شخړه
د مرستو لټون ۹۰
د افغانستان او پاکستان د اړیکو ... ۱۰۸
د اساسي قانون لسیزه ۱۱۴
پاکستان او ایران سره د اړیکو د عادي... ۱۱۷

## شپږم څپرکی

د جمهوریت پیلامه ۱۲۳

## اووم څپرکی

د جمهوریت بهرنۍ اړیکې ۱۲۸
پاکستان ۱۲۹
ایران او د عربو ستر هېوادونه ۱۷۶
د امریکا متحده ایالات ۱۸۱
شوروی اتحاد ۱۸۹

## اتم څپرکی

د جمهوریت نسکورېدل ۱۹۷۸ کودتا ۲۱۹
د جمهوریت د غورځېدلو تحلیل ۲۳۵
اخري خبره ۲۴۴

# ســـريـــزه

دا کتاب لږ تر لږه دوه داسې ښېګنې لري چې دې ته خاص اهمیت ورېخښي - ړومبنۍ دا چې دا د افغانستان باندیني اړیکي څرګندوي او دا چې په اخره کې د شمالي امپراتور ګاونډي یعنې شوروي اتحاد په مقابل کې د افغانستان د استقلال په ساتنه کې هغه کړنلاره ولې ناکامه شوه - د دې کېسې د راسپړلو په لړ کې دا کتاب د افغانستان ړومبنۍ جمهوریت په خصوصي ډول په نظر کې نیسي، چې په ۱۹۷۳ء کال کې له ډېرو لوړو هېلو سره پېل شوی وه، خو په ۱۹۷۸ء کال کې د کمونیستي یاغیانو له خوا نسکور شو - دا کیسه له دې امله د ډېر اهمیت وړ ده چې دا د یو داسې کوچني هېواد په هکله څرګندونه کوي چې استقلال یې له هغه ستر قوت سره په اړیکو ولاړ و چې پوله ئې ورسره شریکه وه -

دویم دا چې د دې لیکوال عبدالصمد غوث نه یوازې یو سابقه لرونکی افغان ډپلومات دی، بلکې د افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت په هغو ټولو کارکوونکو کې له ده رتبه لوړه ده چې د اپرېل ۱۹۷۸ء د کودتا نه ژوندي پاتې شوي دي - د دې پېښې نه پنځه کاله د مخه د افغانستان د باندېنۍ چارو په ټولو عمومي اړخونو کې ده خصوصي لاس درلود - په هغو کې شوروي اتحاد، د امرېکې متحده ایالاتو او پاکستان سره د لوړ رتبه هیئتونو تر مینځ خبرې اترې هم شاملې وې - د افغانستان د بهرنیو چارو د پالیسۍ د ناکامۍ د جریان د عېني شاهد په حیث، دی یو ځانګړی صلاحیت لري چې د تاریخ او د هغو پېښو تحلیل وکړي چې د افغانستان د

استقلال د نسکورېدلو لامل وګرځېدې. زما په خیال دا د افغانستان د باندېنیو چارو رومبنی یو داسې جامع او بشپړ تاریخ دی، چې د یو افغان له خوا لیکل شوی دی. او په خصوصي ډول د جمهوري دورې د پېښو لومړۍ څېړنه ده.

په دې کتاب کې دوه عمده موضوعات دي. یو د افغانانو هڅه ده چې د خپل امپراتور ګاونډي نه یې د استقلال د ساتنې له پاره کوله. په نولسمې او د شلمې پېړۍ په رومبني کلنو کې چې د خورېدونکي روسیې او د بریتانوي امپراتوریو تر منځ ښکېل شوی وه، نو افغانستان د خپل استقلال لپاره لاس ښپې وهل. په دې دوران کې د یو بل په خلاف د دوو لویو قوتونو د ګټو په توازن ساتلو کې دا هیواد بریالی شو او خپل ژوند ته یې دوام ورکړو. په ۱۹۴۷ء کال کې له نیمې وچې نه د انګریزانو له وتلو نه وروسته افغانستان د نورو قوتونو، په خصوصي ډول له امریکې متحده ایالاتو، نه د کومك غوښتنه کوله چې د روسیانو د نفوذ توازن وساتي. صمد غوث د امریکې د پالیسۍ د ناکامۍ په باره کې ډېر څه خصوصي معلومات وړاندې کوي، چې هغې د افغانستان د استقلال ساتنه غوښتله خو نه یې څه اراده لرله او نه د دې مقصد د سر ته رسولو له پاره یې څه عملي ګام پورته کړی وه.

دویمه غوره موضوع، چې د بین المللي اړیکو د مطالعې په لړ کې ورته ډېره لږه پاملرنه شوې ده، د پښتنو د حالت په هکله دی چې د بریتانوي امپراتورۍ په نتیجه کې د افغانستان او پاکستان تر مینځ وېشلی شوي دي. د افغانستان مشران پخپله پښتانه دي او په پاکستان کې د پښتنو سیمه یو وخت کې د افغانستان برخه وه، نو د افغانستان نه د باندې د پښتنو قسمت تر ډېره حده د افغانستان اړیکي په رومبني پړاو کې له لویې بریتانیې سره او د ۱۹۴۷ء کال

نه را په دېخوا پاکستان سرد خړ کړي وو . د دې شخړې اصل نوغی هر څه چې وي، خو دا یو حقیقت دی چې شوروي اتحاد ته ئې په افغانستان کې د لاس وهنې له پاره ډېرې موقعې برابرې کړې وې . که په راتلونکو میاشتو او کلنو کې شوروي اتحاد په افغانستان کې خپل نفوذ ټینګ کړی وی، نو دې ناحل شوې شخړې به ورته په پاکستان باندې د تېري له پاره یوه بانه سازه کړې وی .

امریکا او د هغو نورو ټولو طاقتونو له پاره چې د شوروي امپراتورۍ د ګټو په مخنیوي کې علاقه لري، دا کتاب ارزښتناك دی . د استقلال له پاره په جګړه بوخت افغانان نن زمونږ له پاره جنګ کوي . که دوی ناکامه شي نو شوروي به تودو اوبو او د تېلو ذرائعو ته یو قدم ورسېلمه شي چې پکې چې د ډېرې مودې راسې د دوی او له دوی نه مخکې د تېر شوو تزاریانو سترګې ښخې وې .

د ۱۹۷۳ء کال د نومبر په میاشت کې افغانستان ته د متحده ایالاتو د سفیر په حیث رسېدلو نه لږه مهال مخکې ما عبدالصمد غوث وپېژندد هغه وخت دی د باندېنیو چارو په وزارت کې د ملګرو ملتونو او
بین المللي کانفرانسونو د شعبې مدیر وه . په ۱۹۷۶ء کال کې د سیاسي چارو عمومي مدیر شو او په ۱۹۷۷ء کال کې ورته د باندېنیو چارو د وزیر مرستیال رتبې ته ترفیع ورکړی شوې وه . کله چې د کمونیستو ټانکونه د ۱۹۷۸ء کال د اپرېل په ۲۷مه ورځ په کابل رانوتل نو دا اخرنی افغان مامور وه چې له ما سره په تماس کې وه . له کمونیستي کودتا نه پس دی په خپل کور کې بندي شو او په ۱۹۸۰ء کال کې جېل ته ولېږل شو . اخرکار د ۱۹۸۱ء د مارچ په میاشت کې د امریکې متحده ایالاتو ته رااورسېد. ولس مشر محمد داود، د هغه ورور او د باندېنیو چارو مشاور محمد نعیم او

د باندېنیو چارو مسئوول وزیر وحید عبدالله، ټول د کمونیستانو له خوا ووژل شو ـ په دې حساب صمد غوث د محمد داود د باندېنیو چارو د ډلې په ژوندي پاتې کسانو کې تر ټولو لوړه رتبه لرله ـ

زمونږ د دوستۍ په دوران کې ما غوث د یو وطندوست افغان، رسېدلی ډپلومات او وفادار سړي په حیث پېژندلی دی ـ دا د خوشالۍ لمحه وه چې مونږ په دې خبره اتفاق وکړ چې دی دې کتاب ولیکي ـ دا د ده له پاره اسان کار نه دی ځکه چې ده د افغانستان نه یو دوسیه هم راوړی نه ده ـ ده د خپلو خاطرو نه کار اخستلو او د هر ځایه چې به یې چاپي مواد تر لاسه کړل، هغه به یې ورسره مقایسه کول ـ او د شمېر یو څو هغو کسانو نه یې هم مشوره اخستې ده چې څه نا څه ورته یاد وو ـ زه دا خبره تکراروم چې امریکایانو او نورو ټولو هغو قوتونو له پاره چې د شوروي نفوذ مخنیوي سره علاقه لري دا کتاب د اهمیت وړ دی ـ

زه د اسیا، ایرهارټ هرسټ، او ای ډبلیو مېلن فاونډېشن، د باندېنیو چارو څېړندوی ټولنې او یو شمېر هغو کسانو نه مننه کوم، چې له دې پروژې سره یې مرسته کړې ده ـ فلېچر سکول آف لاء اینډ ډپلوماسي چې زه یې هغه وخت رئیس وم، غوث د څېړنمل په حیث ومانه چې د دې کتاب د لیکلو وړتیا تر لاسه کړي.

تهیوډور ل ایلیئټ جونیئر

# مننه

زما دوست تهیوډور ل ایلیئټ چې پخوا په کابل کې د امریکې د متحده ایالاتو سفیر وه، ما ته مشوره راکړه چې زه د خپل هېواد افغانستان داسې یو سیاسي تاریخ ولیکم، چې د افغانستان د جمهوریت بهرنۍ اړیکي پکې په خصوصي ډول ځرګند وي. له دغو چارو سره زما ډېرې نژدې اړیکې وې. زه دا منم چې دا خیال زما په دماغ کې هم پورته شوی وه او د افغانستان پرېښودلو نه وروسته ما پر دې باندې کار پیل کړی وه، او د محمد داود او نورو افغاني مشرانو د خیالاتو، خبرو اترو، ورکړې راکړې، ویناګانو او د افغاني مقاماتو او د نورو هیوادونو د هیئتونو تر مینځ د ځینو خبرو اترو په اړه د هغو اسنادو چې زما په یاد کې وو، په تحلیل ما خپل ځان بوخت ساتلی وه. خو دا راته معلومه نه وه چې په دې کار به پیل په کوم وخت کوم. د تېډ مشورې زما پام دې ته راوګرځاوه چې دا کار په وخت وشي. پرته له دې ما ته یې دا احساس هم راکړو چې لږ تر لږه یو سړی چې رایه یې ډېر ارزښت لري، تېډ ایلیئټ، د دې کار په ارزښت یقین لري. زما له پاره همدا تشویق بس و. ما د هغه مشوره سم د لاسه ومنله. هغه د فلېچر سکول آف لاء اینډ ډپلومېسي چې هغه یې په هغه وخت کې رییس و، د کار په چوکاټ کې د هغې

پروژې چې هغه او زه پرې متفق شوي وو د دفترې او تګ راتګ د چارو له پاره مرسته هم تهیه کړه.

اوس چې دا کتاب ولیکل شو، نو زه خپله ډېره صمیمانه مننه د تیډ ایلیئټ په حق کې څرګندول یوه اړتیا ګڼم، چې دده له ګټورو مشورو، هڅو نه پرته دا کار عملي کېدای او د ډاډ وړ پای یې نه شوه موندلی.

زما مېرمن زلېخا د دې مسودې روښانه نقل ټایپ کړو. زما د کار په پرمختګ کې د هغې دا مرسته د هرکلي وړ ده. هغه تل تر تله په ډېره مینه دې کومك له پاره چمتو و. د فلېچر سکول پېغله البرټا لېنګلی د دې اخرېنۍ مسوده ټایپ کړه او د لاس لیکلې نسخې له کتنې نه وروسته هم د فلېچر سکول پېغلې هېډوېګ ډربك د دې په متن کې زما ترمیمات پکې شامل کړل او ټول کتاب یې ورډ پراسېسر یعنې له کمپیوټر نه ووېست. غواړم چې د دوی د مرستې په لړ کې له دې دواړو پېغلو نه ډېره مننه څرګنده کړم.

زه غواړم چې د فلېچر سکول له هغو غړو نه هم د هغوی د مهربانۍ او مرستې مننه وکړم چې د کار په دوران کې زما ورسره تماس پېښ شوی و. په پای کې زه هغو ټولنو او اشخاصو ته خپله خوښي څرګندول غواړم چې د دې پروژې په لړ کې یې مرسته کړې ده.

(لیکوال)

# لومړی څپرکی

## د یو مینځګړي هیواد زرغونېدل

د اسیا او اروپا سترو امپراتورۍ جوړوونکو له پاره د هندوستان په نیولو کې تل تر تله یو خاص راښکون موجود و. هغو فاتحینو له پاره چې پوره هندوستان یا د هغې د څه برخې په خپلې حکمرانۍ کې په شاملولو کې بریالي شوي دي د نورو باندېنیو یرغلګرانو په مقابله کې د دې خاورې ساتنه تر ټولو نه لوی فکر بلکې اخري هدف ګرځېدلی دی. د هندوستان په بهرنیو ښکېلاکګرو کې شدید نور څوك داسې بهرنیو خطرو ته د انګرېزانو نه زیات اندېښمن نه وو. نولسمې پېړۍ کې څنګه چې په د بریتانیې حکمرانۍ د هندوستان شمالي لویدیز پلو ته خورېدله، داسې د دې د ساتنې فکر هم د بریتانوي حکمرانانو په ماغزو خورېدله په حقیقت کې د هندوستان د ساتنې دا فکر، که په عمومي توګه د هغوی د باندېنیو کړنلارو اساس نه وه، نو په خصوصي توګه د ختیځو کړنلارو اساس ضرور وګرځېده. په منځنۍ اسیا کې د روسي شاهي دولت د یوې فعالې امپراتورۍ په شکل کې وده کولو او د هغې مخ په سوېل ناترسه غزېدلو د بریتانیې حساسیت په ډېرې چټکتیا سره زیات کړ.

د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې دې نیمقارې ته د روس له خوا خطر او ګرمو اوبو ته د هغې د رسېدلو غوښتنه په بریتانیا او هندوستان کې په عمومي ډول ومنلی شو. اول او دویم نړیوالو جنګونو کې د لږ څه ځنډ نه پرته، دې نیمې وچې ته د زار روس او بیا د شوروي اتحاد له خوا خطرې د بریتانیې دې اندېښنې ته تر کال ۱۹۴۷ ء پورې دوام ورکړو، تر هغې وخته چې په ناڅاپي ډول د بریتانیې حکومت په هندوستان کې ختم شو.

هرکله چې دا دوه اروپایي امپراتورۍ، روسیه او بریتانیا، په منځنۍ اسیا کې یو بل ته مخامخ کېدې، سره د دې چې د دوی تر مینځ موثره فاصله وه، په هندوستان باندې د روس له خوا د تېرې وېرې د بریتانیې حکمرانان دې ته

وپارول چې خپله جدي پاملرنه هغې سیمې ته واړوي کومه چې د شمالي هندوستان د هغو سیمو چې بریتانیې نیولې وې او د زار روس ناټاکلي برېدونو تر مینځ پرته وه ـ په حقیقت کې بریتانیې ته دا احساس شوی وه، لکه د هندوستان پخوانیو باچایانو ته معلومه وه، چې "د هندوستان ساتنه د هغې قوت په زور کېدلی شي چې د هندوستان واکمن یې د هندوکش په غرونو او د امو نه ورخوا سیمو باندې لري، ځکه چې صرف په دې طریقه دا وحشي خلك تمبولی شي"

د روس خوځښتونو او د هغې د بریدونو مخنیوی هغه مسئلې وي چې بریتانیا یې دې ته وهڅوله چې د هغو دولتونو او ریاستونو په کورنۍ چارو کې په جار لاس ووهي، کوم دولتونه او ریاستونه چې د روس او د دوی تر مینځ پراته وو ـ اکثر دا لاسوهنه د هغو سیمو د استقلال په تاوان وه ـ افغانستان د شمالي لویدیز له خوا د روس د برید په لاره کې پروت و. له دې امله د روسي اسیایي امپراتورۍ په اړه د دې عسکري اهمیت ښکاره کېدلو او زیاتېدلو ـ او په اخره کې د بریتانیې په اندېښنې یې رسا اغېز وکړ. بریتانیې د افغانستان په کورنیو چارو کې په پراخه ډول لاس وهلو، او په نولسمه پېړۍ کې یې دوه واره د پوځ په زور نیولی هم و.

افغانستان ته ورغزېدلو او په وړاندې کرښو کې ځوکۍ نیولو او ځای په ځای کېدلو ته یې د فارورډ پالیسۍ یعنې "مخ په وړاندې کړنلار" نوم ورکړو ـ دا کړنلاره به کله کله د زیاتې ژغورنې د استادانه ناراستۍ په حق کې وځنډولی شوه ـ خو دا ښکاره وه چې د دې اخرینی روش مطلب دا وه چې د عسکري لاس وهنې او د خاورې نیولو نه لاس راکاږي، خو سیاسي لاسوهنه یې په مکمله توګه نه بندوله ـ بیا یو وخت راغلو چې د هندوستان د ساتنې په غرض بریتانیا دې ته چمتو شوه چې یوه دریمه فارمولا وازمایي ـ او هغه دا چې افغانستان د روسي امپراتورۍ او هندوستان تر مینځ د یو مینځګړي هیواد په شکل کې وساتي ـ په دې منصوبې به د دې برخې په اخر کې په تفصیل سره بحث وشي ـ

"مخ په وړاندې کړنلاره" په وړومبي ځل هغه وخت ښکاره شوه چې کال <u>۱۸۳۸</u>ء کې بریتانیې په افغانستان د برید له پاره تیاری نیوه، خو هغه هلې ځلې چې دې برید ته یې مخه وه په حقیقت کې کال <u>۱۸۳۷</u>ء کې پېل شوې وې کله چې ایرانیانو د هندوکش په لویدیز کې د افغانستان د یو ښار هرات په لور د نیولو په غرض حرکت وکړو ـ هغه وخت ایران د ترکمانچای د تړون په نتیجه کې د روسي زار تر اغیزې لاندې وه ـ د بریتانیې د عسکري چارو پوهانو دا پیېلې وه چې هرات د هندوستان د ساتنې په لاره کې یو سنګر دی ـ د هغوی دا یقین راغلو چې ایران

دغه حرکت د زار روس په نغوته کړی وه. خو کله چې د کال ۱۸۳۸ء د دسمبر په میاشت کې بریتانوي عسکرو ته د سوق الجیشی امر ورکړی شو، چې په افغانستان یرغل وکړي، ایران خپله ناکامه محاصره ختمه کړې وه. دلته دا حقیقت څرګندېږي چې په داسې وخت کې چې د ایران عسکر د هرات په شاو خوا کې وجود نه لرلو په افغانستان یرغل کولو دا مانا ورکوله چې دا هڅه د مخ په وړاندې کړنلارې د غوښتنو د مخه شوې وه. او دا د هغه وخت یو ضرورت و چې د افغانستان واکمن دوست محمد خان بدل کړي. ولې چې هغه د بریتانیې دښمن او د روس دوست ګڼلی شو. او د هغه په ځای یو داسې منونکی واکمن راولي چې په افغانستان باندې بریتانیې نفوذ ومني.

د دې نه انکار نه شو کېدای چې امیر د بریتانیې نه مایوسه شوی وه او روس سره یې د روغې لارې لټولې. په هر حال د هغه په روش کې دا بدلون هغه وخت راغی کله چې بریتانیې د هغه دا غوښتنه و نه منله چې د پېښور په شمول د اباسین لویدیز ته پرته سیمه دې، چې هغو نژدو ورځو کې سېکانو نیولې وه، افغانستان ته بیرته پرېښودل شي.

د ۱۸۳۹ء د اپرېل په اخره کې بریتانیې کندهار ونیوه او د آګست په شرو کې په کابل وروختنه. امیر دوست محمد خان ځان وسپارلو او بریتانیې هغه هندوستان ته ولېږه. په هر حال په افغانستان دا ورومبنی برید انګرېزان تباهی ته ورټېل وهل کله چې په کال ۱۸۴۲ ء کې د بریتانیې مقامي واکمن ولیئم ایچ مېکناټن ووژل شو. او د کابل خلکو د انګرېزانو ګوډاګی شاه شجاع هم ووژلو چې انګرېزانو د ځان سره راوستی و او د کابل په تخت یې کښېنولی وه.[۲] د بریتانیې یرغل چې کوم اړی ګړی مینځ ته راوستی وه صرف په هغه حالت کې ختم شو چې د هندوستان بریتانوي واکمنانو کابل ته د امیر دوست محمد خان واپس لېږل ومنل. دوست یو ځل بیا د کال ۱۸۴۳ء په پېل کې په تخت کښېناست.

د دوست محمد د دویمې دورې په دوران کې د پخواني دشمنانو یعنې سېکانو په ملګرتیا د هغه او د بریتانوي لښکر تر مینځ صرف یوه نښته پېښه شوې وه. دې نه پرته بله کومه غټه پېښه نه وه شوې. هغه وخت امیر ته د بریتانیې د امپراتورۍ د روش ډېره تجربه شوې وه او د افغانستان د زمکني او سیاسي حساسیت نه ډېر خبر شوی وه. هغه بې د څه شکه دا ګومارلې وه چې د هغه د حاکمیت ګټه په دې کې وه چې نور د روسیې نه لاس واخلي، او تر څه وخته پورې د اباسین لویېدیز ته د لاسه وتلو سیمو د بیرته اخستلو اراده هم وځنډوي. په هغه وخت دا سیمې د سیکانو نه د بریتانیې ستر طاقت نیولې وي او خپلې

امپراتورۍ کې يې شاملې کړې وې ـ خو د افغانستان وروستونيو واکمنو په هغو سيمو چې د افغانانو وينه ګډ خپلوان په کې ژوند کوي، خپله ادعا پرې نښوه ـ دا ادعا افغانانو له پاره دومره مسئله جوړه شوه چې په راتلونکو کلونو کې يې د افغانستان د باندېنيو اړيکو مخه ټاکله ـ

دې دوران کې د روسيې پرمختګ په منځنۍ اسيا کې دوام درلو ـ بريتانيې ځو واره د روسيې امپراتورۍ نه دا وضاحت غوښتې وه چې د دوی اخري پړاو به کوم ځای وي ـ د روسيې امپراتورۍ چانسلر شهزاده ګورچاکوف کال ۱۸۶۴ء کې يو ليک خور کړو او په هغې کې يې د روسيې د پرمختګ هدف ځرګند کړو او بل ځواك ته يې دا وښوولو چې روسيه په هغه مهال کوم ځای ته رسېدلې وه هم هغه د دغې امپراتورۍ بريد وه ـ د ګورچاکوف هغه ليك د نولسمې پېړۍ د امپراتوري روایاتي سند وه چې په کې په دې ادعا زور اچولی شوی وه چې د ټولې منځنۍ اسيا استوګن نيم وحشي قبايېل وو او د روسيې ځمکنۍ پراختيا صرف يو اتفاق وه ـ د دې اصل غرضونه د روسيې په حدونو کې دننه د خلكو ساتنه او د اروپايي تهذيب خورونه وو ـ

په هر حال په دې سند کې دا نه وو ځرګند شوي چې آيا د اسيا خلك د خپلې د خپلواکۍ په زيان د اروپا هڅوب او کلتور ته غاړه ايښودله که نه؟! د روسيې استدلال د مخه د اسيا کوچي قبايېل به د روسيې دننه چورچپاول پېل کړي ـ په داسې حالت کې به واکمن مجبوروي چې دوی ته سزا ورکړي او د ځان ساتنې په غرض د دوی سيمه ونيسي ـ څه موده پس به هغه نيولي سيمه د نورو ورته قبايلو تېري ته مخامخ شي او دولت به يو ځل بيا مجبور شي چې د خپل رعايت ساتنه وکړي او هغو يرغلګرو د سزا له پاره يو نوی ګام پورته کړي ـ دا راز د سزا او د سيمې د نيولو دا بيه به روانه وي، او د روسيي غزېدنه هم ـ ښکاره ده چې د دې ليك په خورلو سره ګورچاکوف غوښتل چې په اسيا کې د روسيې د غزېدلو کړنلاره پېژندلی او ومنلی شي ـ د دې ليك په رڼا کې ټولو نه لويه ستونزه "د ودرېدلو وخت معلومول" وه ـ ليك کې دا اعلان شوی وه چې د کهوکند خلکو ته سپلمه هغه اصلي کرښه رارسېدلې وه او هغه په اسيا کې د روسيې د غزېدلو هدف وه ـ۳ په هر حال د ګورچاکوف د ليك سياهی لا اوچه نه وه چې روسيې په کهوکند بريد وکړو او هغه يې لاندې کړ ـ

له دې امله د ګورچاکوف ليك هيڅ ډول باور ونه ساتلو ـ يو مصنف ليکلی دي دا غير معمولي سند يا خو د فرېب يو شاهکار وه او يا سېنټ پيټرسبرګ په دغه کرښه کې په تمامه مانا په خپلو قوماندانو باندې برلاسي ساتلو

کې پاتې راغلې وه. د بریتانیې حکومت خپلې هڅې تازه کړې چې د روسیانو نه د هغوی د اخرینی هدف په هکله څه ترلاسه کړي. په داسې وخت کې بریتانیې دا هڅه هم کوله چې روسان په اسیا د دوو امپراتوریو تر مینځ د یو "بېطرفه سیمې" یا د "مستقل دولتونو یوې پټۍ" ساتلو له پاره وهڅوي چې په اسیا کې د دواړو تر مینځه د مخاصمانه ټکرې مخه ونیولی شي.

د بریتانیې موتبرو سیاستمدارانو کله کله د بېطرفه سیمې یا د مستقلو دولتونو د پټۍ خیال باندې بحث کولو چې وروستو یې د مینځګړي دولت شکل غوره کړو. په کال ۱۸۶۹ء کې د بریتانیې د باندینیو چارو یوه پلاوي په لندن کې د روس سفیر ته د "د انګلستان او روسیې د نیولو سیمو تر مینځ د یوه بېطرفه سیمه منلو" وړاندیز وکړو.[۴] په کال ۱۸۷۰ء کې د هندوستان وایسرای لارډ میو داسې وړاندیز وکړو:

(الف) دا دواړو هیوادونو په ګټه کې دي چې د بریتانیې او روسیې د سرحدونو تر مینځه د مستقلو دولتونو یوه اوږده پوله وي. دا به مناسبه وي چې روسیې ته بلنه ورکړی شي چې د خېوې او نورو وړوکو دولتونو (بخارا او کهوکند) په هکله یوه کړنلاره غوره کړي او مونږ دې ژمنې ته چمتو شو چې د کلات، افغانستان او د یارکند په شاوخوا کې ولسوالیو داسې کړنلاره جوړه کړو. د څه خاص تړون نه پرته دا قسمه په خپلو کې د مداخلې نه کولو ژمنه به دواړو قومونه له پاره د منلو وي. او د څه قسمه ځانګړي تړون نه به دا غوره وي چې په داسې حالاتو کې مهذب طاقتونه د وحشي قبایلو په مقابل کې ودروي.[۵]

په داسې حال کې چې د پیټرسبرګ د ارادو په اړه بریتانیې خپل لټون جاري ساتلو، دا ښکاره شوه چې د یو حل په صورت کې د زار دولت غوښتل چې بدخشان په شمول د افغانستان شمالي ښېرازه سیمه خپل دولت کې ونغاړي. روسانو دا احساس کاو چې که دا ممکنه نه وه نو د افغانستان شمالي نامعلومه سرحدونو پورې دې د هغوی د غزېدلو حق ومنلی شي. بریتانیې ته دا ګڼلې وه چې د لږې یا اوږدې مودې وروسته د امو نه ورهغه خوا سیمې به د تزار په امپراتورۍ کې شاملېږي. دا د روسیې هدف وه. نو په ښکاره توګه د افغانستان له شمالي پولې نه وراېسته د بېطرفه سیمې یا د مستقلو دولتونو د پټۍ د قایمولو نه ترسره کېدله. له دې امله بریتانیې دا وېښتېله چې روسیانو سره معامله کولو کې د دوی د ټولو نه اهم کار به داوي چې لږ تر لږه د افغانستان د خاورې تمامیت وساتلی شي. نور پروا نه لري که روسان د امو نه د شمال په لور ټوله سیمه ونیسي.

د بریتانیې دغې کړنلارې په سېنټ پیټرسبرګ ښه اغېزه وکړه . او د روسیې او بریتانیې تر مینځ تماسونو کې د بېطرفه سیمې یا مستقلو دولتونو (د بریتانیې په خیال په دې کې افغانستان او د امو دریاب په شمال کې ځینې سیمې راتلې) مسئلو د خبرو د لړۍ نه ووته . روسیه په دې راضي شوه چې افغانستان د هغې د نفوذ د ساحې نه بهر وه او دا به د دواړو امپراتوریو تر مینځ یو ښکاره برخه وي . د دې حالت په منلو سره روسیې دا هم ومنله چې په اسیا کې د هغوی د غزېدلو هدف به د افغانستان شمالي سرحد وي . هغې حالت د امو دریاب تر غاړو د غزېدلو په لړ کې روسیه د ضمیر د قبده آزاده کړه .

د اوږدو خبرو اترو او د ډېرو لیکونو نه پس کال ۱۸۷۳ء دواړو طاقتونو د افغانستان پر سر یو تړون لاسلیک کړو . دا د افغانستان په اړه د دواړو طاقتونو تر مینځ وړومبنی مهم تړون وه . او دا د کلیېرډون . ګورچاکوف د تړون په نوم منسوب شو . په دغه تړون کې روسیې دا ومنله چې افغانستان د هغې د نفوذ د ساحې نه بهر دی او د مینځنۍ اسیا د هغو سیمو چې په راتلونکي وختونو کې یې تر قبضې لاندې راوستلې او د افغانستان تر مینځ یې یو سرحد هم ومنلو . د بریتانیې صدراعظم ګلېډسټون په ولسي جرګه کې د ۱۸۷۳ء د تړون په هکله وویېل: "دا تړون په ختیځ کې صرف د بریتانیې او روسیې د اخلاقي نفوذ پورې اړه لري . روسیه به په افغانستان کې د هڅې کولو نه پشا شي او بریتانیا به دا د سولې په غرض په کار راولي ."٦ دا په حقیقت کې یوه سودا وه چې دوی خپل مینځ کې وکړه چې بریتانیا به د روسیې له خوا د افغانستان د شمالي پولې نه ورایسته د ځمکې په نیولو چپه پاتې شي او روسیه به دا ومني چې افغانستان د هغې د نفوذ د سمیې څخه د باندې او د بریتانیې د نفوذ په سیمه کې دی .

دا عجیبه ده چې د کال ۱۸۷۳ء دې تړون بریتانیې ته هغه سکون ورنه کړو د کوم له پاره چې هغه په لټون کې وه . ځکه چې دې سره د روسیې د غزونې د اخري هدف په هکله د هغې وېره کمه نه شوه . نتیجه دا چې بریتانیا بیا هم په مینځنۍ اسیا کې د روسیې خوځښتونو ته په اندېښنه کې وه او د روسیې هر نوي ګام په هندوستان کې د بریتانیې اندېښنه پاروله .

تر کال ۱۸۷۸ء پورې روسیې د منځنۍ اسیا زیاتې مستقلې او نیم مستقلې خانۍ یا خو خپل قلمرو کې شاملې کړې او یا یې د خپل فرمان لاندې راوستلې . او د راز د هغې نفوذ د افغانستان د شمالي پولې سره تر امو دریابه پورې خور شو . په کال ۱۸۷۷ء کې د روسیې او ترکو تر مینځ شخړې راولاړې شوې او د بالکنز په سیمو د جنګ خطره پیدا شوه . د دې نوې شخړې په ترڅ کې

د بریتانیې خلاف د سیاسي تېرې په غرض روسیانو د افغانستا امیر شېر علي خان چې د دوست محمد زوی وه سره د دوستۍ په لټون کې شوه. د دې په نتیجه کې د کال ۱۸۷۸ء د ګرمۍ په موسم کې یو روسي هیئت افغانستان ته ولېږلی شو چې افغان امیر ته "د روسیې او بریتانیې تر مینځ په اړیکو او په افغانستان باندې د هغې د اغېز په لړ کې ځینې ځانګړې فکرونه پرمخ بوزي."[۷] کابل کې امیر سره د هغه هیئت د لېدلو نه پخوا د برلن د کانګرس د هڅو له کبله په اروپا کې د جنګ خطره تېره شوې وه، خو بیا هم د زار د مقاماتو له خوا داسې هېڅ حرکت و نه شو چې هغه هیئت منع کړې او یا یې واپس وغواړي. د هېواد په دارالخلافې کابل کې، چې د هغه وختونو کې د بریتانیې د خیال سره سم د هندوستان د ساتنې یوه مهمه برخه وه، د یو روسي هیئت شتوالي کلکته کې د لوړې رتبې منصبدارانو ښه موقع په لاس ورکړه چې امیر شېر علي خان ته د دې سزا ورکړي. د هغوی په خیال شېر علي خان د بریتانیې د ګټو په خلاف روسیانو سره په تماس کې وه.

د کال ۱۸۷۸ء د خزان په موسم کې بریتانوي عسکرو د "دویمې پرمختګ کړنلارې" له مخې په دویم ځل په افغانستان برید وکړو، او جلال آباد او کندهار یې ونیولو. د هندوستان د ساتنې د فوري ضرورت له کبله د ماهرانه ناراستۍ کړنلاره پرېښودل شوه. دا کړنلاره د دوست محمد خان د دویمې دورې د حکومت په دوران کې وضع شوې وه. دلته دا ګومان بېځایه نه دی چې دا وار د هندوستان د حکومت درې عمده هدفونه وو: (الف) د یو استقلال راجه حکمران لرې کول، (ب) د هندوستان له پاره د هندوکش په اوږدو کې یو "سائنټفک سرحد یعنې قدرتي پوله" ټاکل، او (ج) د افغان د مسئلې یو دایمي حل پېدا کړي.

د بریتانیې برید امیر شېر علي خان وهڅولو چې روسیانو نه عسکري کومک وغواړي. خو د هغه دا غوښتنه و نه منلی شوه. هغه بیا روسي هیئت سره د کابل نه ووتو او د افغانستان په شمال د مزار شریف په ښار کې د ۱۸۷۹ء کال د فرورۍ په میاشت کې مړ شو.

انګرېزانو ته د امیر د زوی یعقوب خان په شکل کې یو ډېر فرمانبردار حاکم په لاس ورغی. د کال ۱۸۷۹ء د مۍ په میاشت کې دوی هغه سره د ګندمک تړون لاسلیک وکړو. د هغې تړون د مخه هغه په دې راضي شو چې انګرېزان دې خیبر دره، د کرمې، پشین او سبي ولسوالۍ خپله ولکه کې وساتي. د انګرېزانو په خیال د دې تړون مهمه فقره دا وه چې امیر په کابل د بریتانوي حکومت پرنګی نژاده نماینده ومنلو. دا یې هم ومنله چې د هند حکومت د افغانستان په نورو

ځایونو کې هم نور انګرېزان اېجنټان ټاکلی شي ـ د انګرېزانو او افغانانو تر مینځ د لمړۍ جګړې وروستنه افغان حکمرانانو د انګرېزانو دا غوښتنه په جدي توګه رد کړې وه ـ دې تړون کې دا فقره هم وه چې امیر به باندېنیو دولتونو سره د هند د حکومت په واسطه خپل تعلقات ساتي ـ د دې تړون په کېدلو انګرېزانو په دې راضي شو چې امیر یعقوب خان ته کالیز پولي کومك ورکړي ـ

د ګندمك د تړون له مخې د لوئیس کېواګنري په مشري یو انګلیسي هیئت کابل کې میشته شو ـ د یوې هفتې ارامۍ وروسته افغانان بیا پخپل هیواد د برید او کابل کې د انګلیسي هیئت د شتوالي په خلاف وپارېدل، ځکه ددغه هیئت مشر د افغانستان د حکومت د چارو واك په خپل لاس کې اخستی وه ـ په راتلونکي پاڅون کې کېواګنري او د هغه د هیئت غړي ووژلی شو ـ بریتانوي عسکر وخوځېدل، جلال آباد او کندهار، سیمې چې د تړون له لاسلیك کېدلو وروسته پرېښوول شوې وې، بیا ونیولې ـ دوی کابل هم لاندې کړ امیر یعقوب خان چې د افغانانو زښت بدي شوی و تخت پرېښو او هندوستان ته وتښتېده ـ

د افغانستان د مشرتابه له دې دریځ نه انګرېزانو ښه ګټه پورته کړه ـ د یو آئیني حکمران د نیشتوالي په صورت کې د هندوکش په سویېل د افغانستان زیاته برخه د اګرېزانو د فوځي حاکمیت لاس ته ورغله ـ په دې توګه د انګرېزانو طاقت آخر د ستر هندوکش لمنو ته ورسېدو، چې په انګلستان او هندوستان کې ډېرو اهم کسانو د هندوستان د امپراتورۍ "قدرتي پوله" ګڼله ـ دې کې شك نه شته چې په ښې طریقې د هیواد د کنټرول لاندې راوستلو له پاره انګرېزي سیاستمدارانو په کلکه د افغانستان تجزیه غوښتله ـ کندهار یې د انګرېزانو د لاس لاندې سدوزیو ته ورکولو ـ هرات او سیستان یې ایران ته ورکولو چې په هغو ورځو کې یې د روسیې د ګرفت نه خلاص کړی وه ـ د افغانستان مینځنې او ختیځې برخې یې د خپل واك لاندې ساتلې تر هغې چې داسې یو افغان واکمن وموندلی شي چې افغانانو او دوی ته یو ډول د منلو وړ وي ـ د داسې یو سړي موندل په هغه وخت مشکل وو ـ نو د عام خیال مطابق انګرېزان به تر ډېرې مودې د هغو سیمو واك په لاس کې ولري ـ د هغه وخت د دولتي فکر نه چې کومه نتیجه اخستلی شوه د هغې په اساس دا ګومان کېدو چې په بریتانوي هند کې د افغانستان د مینځنیو او ختیځو برخو شاملېدل کلکې پاملرنې لاندې نیول شوي وو ـ د هندوستان وایسرای لارډ لیټین خو د دې طرفدار وه چې د لویېدیځ افغانستان پاچایي دې جوړه شي او هغې دې په ورو ورو هرات، بلخ، مرو او کندهار کې شامل کړی شی ـ او د بریتانیې د نظر لاندې یو افغان تر دې د هغې

واك وركړی شي - په دې ډول د هندوكش غرونه، هرات او كندهار به، چې انګرېزانو د هند د ساتنې له پاره سنګرونه ګڼل، تر لاسه شي - او "پرمختګ کړنلاره" به خپل منطقي انجام ته ورسي -

هر كله چې په كلكته او لندن كې انګرېزي سياستمدارانو د "هندوكش په اوږدو كې د سرحد" په ګټو خبرې كولې نو دوی ته دا يقين وه د دې فكر د غوراوی روسيې ته يوه بلنه وه چې هغه دې هم خپل سرحدونه مخ په سوېل ان د هندوكش د غرونو پورې وغزوي - شايد هندوكش كې د روسانو د شتوالي ناوړه پايلو، د افغانانو په مينځ كې زياتېدونكې ناارامي، د دې ولكې په صورت كې د اقتصادي پېټې درونوالی، او د هرات او ټول سيستان د نيولو نه د ايران څنډه كول، داسې عوامل وو چې د انګرېزانو په سوچ يې يخې اوبه توېې كړې - د كړنلارې د مخ ګرځولو له پاره بريتانيې دا فيصله وكړه چې د كندهار نه بغېر دې افغانستان خوشی كړي او د هرات ولايت دې افغانانو ته پرېږدي - په دې فكر كې په ناڅاپې ډول د يو داسې افغان، چې د افغانستان قدرت ورته وسپارلی شي، د لټون چارې يو په دوه توندې كړی شوې -

د كال ١٨٨٠ء په مارچ كې امير عبدالرحمان د روسي تركمنستان نه د افغانستان د تخت نيولو له پاره هيواد ته راستون شو - امير عبدالرحمان د شېرعلي خان د ميرني ورور محمد افضل خان زوی وه - د دوست محمد خان د مرګ نه پس لږې مودې له پاره محمد افضل خان تخت نيولی وه - اګرچې انګرېزانو دا سردار ښه نه پېژندلو او د هغه وفادارۍ ته يې د شك په سترګه كتل، بيا هم هغوېې هغه سره د خبرو اترو په پېل كولو كې بېړه وكړه - د خبرو اترو په لړ كې انګرېزانو هغه ته څرګنده كړه چې هغه د هرات په شمول په ټول افغانستان خپله ولكه ساتلی شي - د كندهار ولايت د هغه د واكسيمې نه وېستلی شوی وه - دا يې ورته هم څرګنده كړه چې د باندينيو چارو واك به د انګرېزانو په لاس كې وي - د هغې په بدل كې به انګرېزان د ناپارېدلي برېد په مقابله كې د هغه په ساتنه كې كومك كوي - په كابل او د افغانستان په نورو سيمو كې د انګرېزي اېجنټانو د ساتلو مسئله د عبدالرحمان خان خوښې ته پرېښودل شوې وه چې په راتلونكي وخت كې به يو مسلمان د بريتانيې سفير ومني كنه! د خبرو اترو په نتيجه كې سردار هغه شرايط ومنل چې انګرېزانو وړاندې كړي وو - او د دواړو خواو تر منيځ د يووالي يو تړون په كال ١٨٨٠ء كې لاسليك شو - د دې تړون توكي هغه درې ليكونه وه چې د هندوستان د باندينيو چارو سېكتر لېپل اېچ ګرېفن او سردار عبدالرحمان تر مينځ تبادله شوي وو - د كال ١٨٨٠ء د جولای په مياشت كې

عبدالرحمان چې د مخکې ورسره انګرېزانو ژمنه کړې وه، خپل ځان امیر اعلان کړو او د هندوستان حکومت هم هغه ومنلو ـ د افغانستان خلکو دې اعلان ته په نازړه غاړه کېښوه ـ د کابل او جلال آباد نه انګرېزي عسکر په چلاکۍ سره ووتل

په هغو ورځو کې کندهار کې میوند سره نزدې د انګرېزانو فوځ ته د شېر علي خان زوی سردار محمد ایوب خان ماتې ورکړه ـ ایوب خان د کندهار ښار ونه نیو خو د افغانانو بریالیتوب د انګرېزانو کمزوري برسېره کړه ـ غالباً دې پېښې او د کندهار د ساتنې پر خلاف په لندن کې زیاتېدونکې مخالفت د بریتانیې حکومت دې ته مجبور کړو چې په کندهار باندې د یو سدوزي حاکم په واسطه د خپلې واکمنۍ پرېکړه بېرته وګرځوي ـ لږه موده پس د انګرېزانو عسکر د کندهار نه ووتل ـ خو انګرېزانو د افغانستان سیمې چې په کې د خېبر دره، د کرمې دره د پېشین او سیبي ولسوالۍ شاملې وې د ګندمك د تړون د مخه ځان سره وساتلې ـ د هندوستان ساتنه بیا د سلېمان او سپین غر محتاجه شوه ـ امیر عبدالرحمان خان اول کندهار او بیا هرات ونیو ـ د امیر د قوي کېدلو لپاره د هندوستان حکومت په کال ۱۸۸۲ء کې د کلني کومك په ورکولو راضي شو ـ

څنګه چې انګرېزانو د روسیې مخ په سویل خوځښت ته په اندېښنه کې وو، داسې روسانو هم د انګرېزانو مخ په شمال پرمختګ ته د شك په سترګه کتل ـ په افغانستان دوو برېدونو په ځانګړې توګه د روسیې اشتباه تېنګه کړې وه چې بریتانیه د هندوکش په اوږدو کې د میشته کېدلو اراده لري او دابه په آخر کې د هندوستان سرحدونه تر هرات، او شاید تر مرو، پورې وغزوي ـ د روسیې په خیال د داسې حالت پېل به روسي مستعمراتو او په ځانګړې توګه مینځیۍ اسیا کې د هغوی د سوداګرۍ بازارونو له پاره زیانمن وي ـ اګر چې په سویل کې د تودو اوبو په لور د روسیې پرمختګ د هغې ارادې تابع وه چې هغه خپل ښکاره هدف ته ورسوي، خو د هغوی ځینې بریالیتوبونه، یا کم نه کم د هغو بریالیتونو وختونه، د بریتانیې د "مخ په وړاندې کړنلارې" په عکس العمل کې دفاعي بڼه لرله ـ د افغانستان دویمې جګړې "او هغې تېنګ امکان چې بریتانیه به ډېر خپل سرحدونه تر هراته او هندوکشه وغزوي، روسیه وېاروله چې د کال ۱۸۷۹ د جون په میاشت کې د ارخال درګې باندې تېری وکړي ـ او هغوی هلته ورسېدل حال دا چې انګرېزان لا په کندهار کې وو ـ"[۸] د روسیې د سوئېل په لور د خوځښت یو بل په زړه پورې اړخ د هغه هدایت د لاندیني پراګراف نه معلومیدی شي چې د روسیې د باندینیو چارو د دفتر په کال ۱۸۸۴ء کې نواب ډې ستېئېل ته هغه وخت لېږلی وه چې هغه په لندن کې سفیر ټاکل شوی وه ـ

د تاریخ مهمو پېښنو مونږ ته وښودل چې مونږ د انګلستان په دوستۍ اتبار نه شو کولی. هغه پر مونږ د سره یوځای شویو ځو وچو په مرسته ګوذار کولی شي، په داسې حال کې چې مونږ هغه ته په یو ځای کې هم نه شو رسېدلی. هیڅ یو لوی قوم داسې حالت نه شي منلی. د دې نه د ژغورنې له پاره امپراتور دویم الېګزنډر، چې تل د یاد ساتلو جوګه دی، مونږ ته په مینځنۍ اسیا کې د غزېدلو امر راکړی وه. نن مونږ د دې قابل یو چې په ترکستان او د ترکستان په دښتو کې د عسکري اهمیت داسې ځایونه ونیسو، چې انګلستان ته په هندوستان کې د مداخلت وېره پېدا شي.»[۹]

دا معلومول ګران دي چې تر کومه حده ارخال ته د روسیې غزېدلو انګرېزان د افغانستان پرېښودلو ته مجبور کړه، خو غالباً د سوېل په لور دې خوځښت بریتانیه او کلکته کې د ځینو لوړرتبه سیاستمدارانو فکر نور هم ټینګ کړو چې په منځنۍ اسیا کې د روسیې د مستعمرو او هند د شمالي لویدیز سرحدونو تر مینځ تر ټولو زیاته فاصله پکار ده.

د ۱۸۷۳ء کال تړون دا خیال نور ټینګ کړ چې د بریتانیې او روسیې امپراتوریو تر مینځ په منځنۍ اسیا کې افغانستان یو مینځګړی دولت جوړ کړی شي. کله چې انګرېزانو په ۱۸۸۰ء کال کې افغانستان پرېښو او د دې واك یې نوي حکمران امیر عبدالرحمان ته ورکولو، نو دا فکر د انګرېزانو د پوهې مطابق عملي کېدلو لپاره پوخ شوی وه.

د مینځګړتوب فارمولې په عملي توګه د افغانستان د باندینیو چارو نه بریتانیې لاس و نه ونیولو، خو د فوځ په زور د افغانستان د نیولو او په صبر سره د روسي پوځونو نیمې وچې ته د ننوتلو د انتظار تر مینځه یوه لاره وه. د دې فارمولې دا مقصد هم وه چې د نیمې وچې په شمالي لویدیځ کې د بریتانیې پرمختګ د ځینو عواملو له کبله ودرېدلی وه. اوس بریتانیې دې کې علاقه لرله چې د مینځګړي دولت د ډال تر شا خپل هندي مستعمرات وساتي. د مینځګړتوب فکر یو مهمه کمزوري لرله. هغه دا چې د ده د میدان نه د ستنېدلو سوچ زېږولو، او د یو وړومبنی درجې طاقت لپاره ستنېدل د خطرې نه خالي نه و. خو بریتانیې دا هېله لرله چې د مختلفو توکو ګډون، چې په هغو کې یو توکی د افغان واکمن د ښکاره رول اهمیت سره اړه لرله، د مینځګړي دولت پایښت او د هغې په نتیجه کې د هندوستان ساتنه تامین کړي.

د ارخال په مخ د روسیې کمپاین د مروې د درګې نه په لږه فاصله تم

شوي و، کله چې هغوی خبر شو چې بریتانیه د افغانستان نه ستنبږي . دا د هغې غزېدنې د کیسي منطقي مقصد وه . په هر حال د پخوانیو ټولو یقین ورکولو په خلاف درې کاله پسته یعنې په ۱۸۸۴ء کې روسیې مرو ونیوله . د دې پېښې نه ډېر وړاندې د بریتانیې عسکر د افغانستان نه وتي وو او په مینځنۍ اسیا کې د روسیې مستعمراتو ته د بریتانیې لخوا څه خطر نه و پاتې شوی .

د روسیې لخوا په مرو باندې قبضې ته بریتانیه متردده وه او دا یې هرات ته یو خطر ګاڼه، چې څه د پاسه دوه سوه میلو په فاصلې د یوې اسانې او اوارې دښتې په سویل کې پروت دی . د تېرو چارو په رڼا کې د روسیې په قضاوت کې بریتانوي حکومت دا یقین درلود چې روسیه به په مرو تم نه شي او زر وي که وروسته په هرات باندې به برید وکړي . دا ځکه ضروري وه چې د روسیې د نور پرمختګ مخه ونیسي . د روسیې او بریتانیې تر مینځ د افغانستان د شمالي سرحدونو په اړه د ۱۸۷۳ء کال تړون په رڼا کې د بریتانیې حکومت وغوښتل چې روسیه دې د افغانستان په شمال کې یو سرحد په رسمي توګه وپېژني، چې د هغې لویدیځه برخه په ښکاره ډول د مرو او هرات تر مینځ کرښه راکاږي . د یو څو میاشتو ډېل نه پس روسیې دې ته غاړه کېښوه .

کله چې په لندن او پیټرسبورګ کې مرکې روانې وې د تزار امپراتورۍ یو ځل بیا د سویل په لور خوځښت وکړ . او د ۱۸۸۵ء کال د مارچ په میاشت کې یې پنجده، چې د افغانستان یوه برخه وه، ونیوله . پنجده د هرات په ولایت کې د بادغیس ولسوالۍ یوه برخه وه . د پنجده په نیولو کې د روسیې مقصد بالکل ښکاره و چې هرات ته یې لاره اوارولې او د بریتانیې اراده یې هم ازمایله چې آیا هغوی به د روسیې او د هغوی لخوا په منطقه کې نورې ځمکنۍ ګټې رد کړي او که نه؟!

کله چې د روسیې پرجوشه خورونو په حکومت زور اچولو چې تم نه شي او د هرات په لور روان اوسي، د بریتانیې حکومت او خلکو د پنجده په نیولو سخت عکس العمل غوره کړو او هندوستان کې یې دوه عسکري فرقې وخوځولې . ولسي جرګې نه وغوښتلی شو چې د جنګ له پاره په د زیاتې بودجې په حق کې رای ورکړي . بریتانوي مهندسان هرات ته ولېږل شول چې افغاني مهندسانو سره د هغې ښار په کلابندۍ کې کومک وکړي .

د بریتانیې کلکو تیاریو روسي حکومت ته دا وښودله چې بریتانیه پخه اراده لري، چې د افغانستان په سیمو هغوی نور تېري ته پرېنږدي . او د هرات په لور د هغوی یو بل خوځښت به په یقیني ډول د دواړو تر مینځه یو جنګ ته ورسي

ـ د بریتانیې دې سخت دریغ، او غالباً په اروپا کې د دوارو طاقتونو په ضد د جرمني د یو ویرونکي طاقت په شکل کې اوچتېدلو، روسیان دې ته چمتو کړه چې د سولې لارې غوره کړي ـ هغوی د سویل پر لور خوځښت تم کړو، په دې هېله چې په یو بل سازګار وخت او حالاتو کې یې بیا پیل کړي ـ

د سرحداتو په هکله خبرې اترې بیا پیل شوې ـ آخر دواړه خواوې د روسیې او افغانستان تر مینځ په یوې کرښه راضي شوې او په څو پړاوونو کې د هغې رابنکل شرو شول ـ دا کرښه لویدیځ کې د ذوالفقار نه شرو کېږي او د ختیځ پر لوري د مرو او هرات تر مینځ امو دریاب ته رسي ـ د هغه ځایه اوبو سره سره وکټوریا ډنډ او بیا له شمال نه د سویل په لور د چین سرحد ته رسي ـ دې جریان کې روسیانو پنجده وساتله ـ د بریتانیې او روسیې تر مینځ په دې اوږدو خبرو اترو کې چې د دوارو خواو تر مینځ یو سرحدي تړون ته ورسېدي، د افغانستان امیر د یو نازره کتونکي نه زیات څه حیثیت نه لرلو ـ په اخر کې امیر هغه څه ومنل چې د هغه په غیاب کې منظور شوي و ـ

د انګرېزانو په خیال د افغانستان په شمالي سرحد د ۱۸۹۵ء کال موافقې سره د یو دوامداره مینځګړي دولت دوه مهم توکي په ځای شول ـ یو خو د عبدالرحمان غوندې یو قوي امیر په تخت کېنول شو ـ د هغه د باندینیو چارو واك انګرېزانو سره و، او هغه په هر لحاظ د روسیې د نفوذ د خورېدلو مخه نیولې شوه ـ دویمه د دې مینځګړي دولت هغه شمالي کرښه چې په رسمیت وپېژندل شوه او یو حقیقت وګرځېدله ـ او د هغې کرښې نه تېرې د بین المللي قانون د سر غړونې برابر و ـ دریم مهم توکی چې په حقیقت کې پټ و، دا و چې دا مینځګړی دولت په داسې ځای کې راګېر شو، چې د انګرېزانو د ښکاره فکر له مخې په پیټرسبرګ کې د هغو دا جدي اراده ومنلې شوه چې هغوی روسیې ته په افغانستان باندې د نور تېرې اجازت نه شي ورکولی ـ او د هغې په نتیجه کې د هغوی بېشکه روش به د تزار حکومت مجبور کړي چې د افغانستان د تمامیت په هکله د هغې ژمنې خیال وساتي چې په ۱۸۷۳ء کال کې یې بیا بیا تکرارولې ـ

د افغانستان د مینځګړتوب د فېصلې په صورت کې د بریتانیې دفاعي وضعې او د روسیې دا غوښتنه چې په اسیا کې بریتانیه د خپلو پولو نه لرې وساتې، د دې دوارو خپلو کې دې کمزوریو دې سیمې ته یو ډول عسکري دوام وبخلو ـ د افغانستان د مینځګړتوب حیثیت د مینځګړتوب انتظاماتو سره د روس په موافقت اړانه وه، او انګرېزانو په محتاط اندازې دا هېله لرله چې د زار امپراتوري په دې وپوهېدله چې د هغې موافقې نه روسیې ته څومره ګټه رسي ـ د

افغانستان ځمکني او سیاسي موقعیت دې نه یو ډېر ښه مینځګړی هیواد جوړ کړ . په هر حال دا هیواد دا رول تر هغې لوبولی شي څو پورې چې دا دوه امپراتورۍ داسې غواړي او څو پورې چې افغان واکمن د دې قابل وي چې د دې دوو اروپایي دښمنانو تر مینځ توازن او د هغې په نتیجه کې خپل استقلال ساتلی شي.

د روسیې او بریتانیې تر مینځ د یو مینځګړي هیواد په څېر د افغانستان جوړېدل یو اوږد او مشکل جریان وه . خو د ۱۸۸۰ء کال په پېل کې انګرېزانو لږ څه په ډاډه زړه د دې نتیجې لېدی شوې . د دې مینځګړتوب د هېبتناك دېوال ترشا هندوستان په امن کې وه . یو بې آرامه حالت ښه شو . او آخر په مینځنۍ اسیا کې دا "لویه لوبه" خاتمې ته ورسېده . تر کومه ځایه چې افغانستان پورې اړه لري نو مینځګړتوب په څېره کې دا په کرار کرار تېرو ته وروخویېدو.

د بریتانیي سوري لاندې افغانستان په اقتصادي لحاظ کمزوری او په سیاسي لحاظ یوازې وساتل شو . انګرېزانو په مختلفو موقعو دا منله چې دوی افغانستان قوي او مستقل غواړي . خو د قوي او مستقل افغانستان مفکورې هغوی لپاره یوه معنا او افغانانو لپاره بېخي بله مانا لرله . د افغانستان واکمنو ته د بریتانوې مستعمري په دوران کې دا یادونه برابر کېدله چې د دوی شتوالی د بریتانیې په خوښه او صبر اډانه دی . او د دوی د هیواد د قسمت فیصله د دوی د مشورې نه بغېر د لندن او پیټرسبرګ په موافقت کېږي . د دې په نتیجه کې د افغانستان پاچایان د خپل تخت په ساتنه او د هیواد په زمکني تمامیت کې دومره بوخت وو چې د هیواد د انکشاف لپاره یې نه کافي وخت یې ورکاو او نه د ضرورت وړ پولي کومك او وسایل .

په نولسمه پېړۍ کې د انګرېزانو دې ارادې به افغانستان هم روسیه کې د شامېلېدلو نه ساتلی وه، چې هندوستان د خارجي حملو نه بچ وساتي . خو د هندوستان ساتنې په افغانستان او د دې خلکو ته ژور او دوامداره زیانونه ورکړه . د انګرېزانو او افغانانو دوو جنګونو نه صرف خلکو ته لوی ځاني او مالي زیانونه ورسول، بلکې د خارجیانو نه د تنفر هغه احساسات یې هم رابرڅېره کړه چې د ډېرو کلونو راسې سوغېدل . په راتلونکو وختونو کې چې د افغانستان واکمنو کوم اروپایي ډوله اصلاحات او ابتکارات غوښتل د هغو په خلاف هم دا احساسات په ډېر زور کې وپارېدل . د انګرېزانو د زور او زبردستۍ روش خلك په دې قایل کړي وو چې هغوي به تر هغې پورې ارام نه کوي څو چې د مینځنۍ اسیا دا وروستنی مستقل دولت افغانستان د نړۍ د نقشې نه وباسي . دا راز د انګرېزانو، د

اروپایانو او ان د هر خارجي شي خلاف نفرت او خفګان وده وکړه .

له دې نه پرته د بریتانیې او روسیې د بریدونو په حال کې افغانستان نه څه برخه په شمال کې روسیې ونیوله او څه برخې په ختیځ او سویل ختیځ کې انګریزانو وترورلې . په ختیځ کې د پښتنو د سیمو نه پرته خیبر، کرمه، پشین او سبي هم په بریتانوي هند کې شامل کړی شول . د پښتنو هغه سیمې لږه موده وړاندې د افغانستان برخې وې او د هغو استوګن د افغانستان د پښتنو سره شریک ژبني، مذهبي او کلتوري ښېګنې لري . او د هندوستان او افغانستان تر مینځ د قبایلو د پټۍ په نوم یوه مینځګړې سیمه یې هم جوړه کړه . بریتانیې د ختیځو پښتنو په سیمو د افغانستان ادعا ته هېڅکله هم ښه پاملرنه ونه کړه . د بریتانیې متعلق دا خیال وه چې د ختیځ او د هغې د استوګنو باره کې ښه معلومات لري، خو هغې چرې هم دې حقیقت او په دې موضوع د افغانانو د احساساتو ژورتیا ته جدي پاملرنه ونه کړه . د مسئلې د حل نه د ژغورنې په صورت کې د هندوستان د ساتنې لپاره بې شمېره کړنلارې غوره کړی شوې . شاید بې د څه ارادې انګریزانو د افغانستان او د زېږېدونکي دولت پاکستان تر مینځ د بې اتفاقۍ تخم وشینده . هغې روان استعماري وراثت شتوالي د دې دوو هیوادونو تر مینځ اختلاف پیدا کړی وه او هغې اختلاف په راتلونکي وخت کې افغانستان ته د روسیانو د ننوتلو لپاره څمکه اواره کړه

## د بهرنیو چارو په کړنلاره کې د توازن ساتلو لاره

امیر عبدالرحمان د خپل هیواد په متزلزل جغرافیایي موقعیت ښه پوهېده . امیر او د هغه دربار په عمومي ډول په دې باور و، چې د زاري روسیې کړنلارې تېری کوونکې دي او د هغو نهایي هدف د هندوستان ګټل و . په دې لاره کې په افغانستان باندې قبضه کول او د هغې تباه کول فطرتي امر و . د دې یقین په وجه امیر د "لویې بریتانیې په مقابل کې روسیې نه زیاده وېره کوله . څکه چې هغه لېدل چې د روسیې د پرمختګ مطلب دی زیاتوالی او شمولیت . د یو فیل په څېر، لکه چې هغه ویلي دي، چې هغه د پښې اېښودلو نه مخکې په دقت سره ځای ګوري، او کله چې پښه کېږدي نو بیا په شا تګ نشته ."[۱۰]

د دربار ځینو مخورېزه غړو دا فکر کاوه چې بریتانیې د شمالي لویدیځ

په لور د غزېدنې کړنلارې خپل پړاو وهلی دی. د هغې په نتیجه کې انګرېزان هیڅ ضرورت نه محسوسوي چې د افغانستان برخې خپل دې قلمرو کې شاملې کړي . خو د انګرېزانو د دې خاموشۍ وضعې دا مطلب نه وه چې امیر او نور افغانان دې داسې باور ولري چې انګرېزان به بیا چرې هم د افغانستان زمکني تمامیت ته ضرر و نه رسوي. تېر تاریخ په دې حقیقت ګواه دی چې هر کله هم انګرېزانو هندوستان ته د یوې خاص خطرې له کبله د مخ په وړاندې کړنلارې د بیا خپلولو ضرورت محسوس کړی دی، هغه وخت د افغانستان د زمکني تمامیت د ساتنې فکر په دې هیواد د دوی د یرغل مخه نه ده نیولې.

د افغانستان زمکنی او سیاسي موقعیت د هغې هیواد د باندینیو چارو کړنلاره ټاکي. د دې کړنلاره نور څه نه ده، خو صرف د دوو مخالفو طاقتونو تر مینځ د مینځګړي په حیث د افغانستان استقلال تامینول دي. "عبدالرحمان ته دا معلومه وه چې هغه طاقتونه چې د خپلو سیمو تر مینځ د دې هیواد مینځګړتوب یې منلی دی، دا هم کولی شي چې دا هیواد ووېشي. په هغه د یو مستقل مینځګړي شتوالی مناسب وه، خو د هغې ګاونډیانو د پاره ضروري نه وه."[11]

د یو مستقل وجود په حیث د افغانستان د پایښت د تامین له پاره امیر په داسې یوې باندینۍ کړنلارې باندې روان شو چې د هغه د دوو طاقتورو ګاونډیانو تر مینځ څه نا څه توازن وساتلی شي. د امیر په خیال د داسې توازن ساتلو د پاره اساسي ضرورت دا وه چې د بریتانیې او روسیې نفوذ له هېواد نه د باندې وساتي. دې د پاره پکار وه چې افغانستان ځانله وساتي. بریتانیې ته د افغانستان په دوستۍ باور ورکول پکار وو، او دا چې افغانستان او هندوستان به شریکه د دواړو عمومي دښمن د روسیې خلاف د هندوستان دفاع ته اړ وو. دوی ته دا خبرداری ضروري وه چې له افغانستان سره د بریتانیې ډېر نزدې اړیکي و په دې هیواد کې د هغوی ډېر نفوذ به روسیه په شك کې واچوي، او کېدلی شي چې یرغل کولو ته یې هم وپاروي. بل طرف ته روسیې له پاره داسې هیڅ دلیل پیدا نه کړي چې د یو مستقل وجود په شکل کې د افغانستان د ساتنې په لړ کې د امیر په نیت شك وکړي. هغوی ته د داسې یقین موقع ور نه کړي چې افغانستان به په خوښه خپله سیمه بریتانیې ته خلاصه کړي چې هغه د روسیې د لاس لاندې په مینځنۍ اسیا برید وکړي.

د توازن د دې کړنلارې په رڼا کې د امیر د پاره لازمه وه چې: افغانستان د مینځګړتوب او تمامیت ټینګتیا وښیي. او دا چې د دې هیواد ټینګتیا د روسیې او هند په سرحداتو ارامي تامینولو کې کومك کوي. دې کې

شك نه شته چې د کورني حالاتو د استحکام په مقاصدو کې يو دا هم وه چې داسې قسم استحکام وموومي چې ګاونډيانو د مينځګړتوب په دوام کې يو قسم له رانښکون پيدا شي ـ ببشکه د عبدالرحمان خان د افغانستان استحکام دې احساس ته تقويت ورکړو چې دا مينځګړتوب د دواړو امپراتوريو د پاره سودمن او ګټور وه ـ بيا هم هغې ځانلتوب چې امير پرې د استقلال د تامينولو د پاره ټينګار کولو بريتانيه خپه کړه ـ بريتانيې دا غوښتل چې افغانستان دې هغه د يو پلټوي په حيث ومني او د روسيې غوندې دې لرې نه ساتي ـ

د انګرېزانو او افغانانو تر مينځ کال ۱۸۸۰ء کې شوي تړون توازن د بريتانيې طرف ته ټيټ کړو ـ دوی دا فرض کړه چې د انګرېزانو او روسانو تر منځ د کال ۱۸۷۳ء د تړون له مخه د ټيټوالی روسيې ته منظور وه ـ افغان واکمنو ته دا معلومه وه چې د بريتانيې په لور ټيټوالی به ډېر نازك وي او په دې کې به ډېر احتياط پکار وي ـ د افغانستان خلکو ته داسې معمولي اشاره هم ورکول نه وو پکار، چې امير ته د تخت په نيولو کې بريتانيې کومك ورکړی وه ـ ځکه چې دا به ارو مرو د هغه واك اختيار ته زيان ورسوي ـ دا امکان و چې له بريتانيې سره د امير ببتوله ملګرتيا به داسې حالت پيدا کړي چې زورور به په ارام سره په کمزوري ورشي او په نتيجه کې به دواړه يو شي ـ دې ته جدي پاملرنه پکار وه چې په افغانستان باندې د بريتانيې غير مستقيم اختيار د ځينو پولو نه وانه وړي ـ دا پولي امير پخپله ټاکلې ـ هم دا روحيه وه چې د انګرېزانو د خپګان باوجود امير د هغوی دا غوښتنه په کاميابۍ سره رد کړه چې د هند نه د افغانستان ځينو سيمو ته د ټېلي ګراف تار او د رېلوی کرښه وغزوي ـ هم دا راز هغه په خپل هيواد کې هيڅکله د بريتانيې عسکري مشاوران نه منل ـ حال دا چې په تخت د ناستې نه يو کال پس امير عبدالرحمان په نه زړه د بريتانوي سفير په حيث د يو مسلمان ټاکل منلي وو، خو هغه ته چرې دا اجازت نه وه ورکړی شوی چې هغه په صحيح توګه خپله وظيفه اجرا کړي ـ او هغه ځان د دربار او له خلکو نه ګوښه محسوساوه.

بلوچستان کې نوي چمن ته د بريتانيې د ريلوی د کرښې د غزولو پر خلاف هم امير احتجاج کړی وه ـ او چې هغه مکمل شوه نو بيا امير خپل خلك د هغې د استعمال نه منع کړل ـ دې بايکاټ له رېلوی نه نظر کې نيولې ګټه کمه کړه ـ انګرېزان په دې معامله کې د امير په سخت دريځ باندې تاوژن وو ـ ولې امير خپله فيصله واپس نه اخيسته ـ ځکه چې هغه ته دا پته وه چې رېلوی د کرښې غزولو اصلي هدف هغو سيمو ته ننوتل وو چې په هغو د دواړو دولتونو تر مينځ لانجه وه .

کله چې روسانو په کال ۱۸۸۵ء کې پنجده ئیولو نو امیر او د هغه رعایې د بریتانیې د کومك هیله لرله ـ خو په اخر کې چې انګرېزانو دا یو حقیقت ومنلو، نو افغانان پرې غصه شو او د افغانستان د زمکني تمامیت د ساتنې په لړ کې د بریتانیې په ارادې شکمن شو ـ امیر عبدالرحمان د پنجده د زهرو ګوټ تېر کړو خو د انګرېزانو خلاف یې خفګان زیات شو ـ

امیر ته د احساس هم وه چې له بریتانیې سره د ملګرتیا په صورت کې به بریتانیه له هغه سره د عسکري لوازماتو په صورت کې په کومك کولو پړه وي ـ خو کله چې بریتانیې د عسکري لوازماتو د پاره د هغه غوښتنه کې تردد نه کار واخستو نو د هغه خاطر پرې ډېر درون شو ـ انګرېزانو دا وېره لرله چې افغانستان د وسلو د ورکولو په صورت کې به د هغې یوه زیاته برخه سرحد ته لاره ومومي ـ د افغانستان او هندوستان تر مینځ پرتې سیمې ته یې سرحد ویل ـ د انګرېزانو په خیال د سرحد پښتنو ته د امیر له خوا د دې وسلې په لېږلو سره به نه صرف په قبایلي سیمو کې د امیر عزت زیات شي، بلکې د افغانستان ادعا ته به هم حرکت ورکړي، او بیا به هغو سیمو کې ارامي راوستل مشکل شي ـ

د وخت په تېرېدلو سره د امیر او بریتانیې تر مینځ اړیکي رانښکلي کېدل ـ د دوی تر مینځ لویې مسلې د سرحد یا د هغو ختیځو پښتنو د قسمت سره اړه لرله چې امیر د افغان ولس یوه برخه ګڼل ـ امیر دا احساس کاو چې هغه دې خلکو سره په ازادانه توګه تماس ساتلی شي او د ختیځو پښتنو نه زیاتو خلکو که هغه یو واکمن نه ګڼلو نو یو روحاني لارښود یې ضرور ګڼلو ـ هغه به دې خلکو ته وسله او پیسه ورکول او د هغې په بدل کې به هغوی همېشه د پاره د هغه د جهاد په غږ لبیك وایه ـ د نورو ټولو افغان واکمنو په شان عبدالرحمان هم پښتانه قبایل د افغانستان پښتي ګڼل ـ هغه به همېشه د پاره قبایل د انګرېزانو د زورلو یا په هغو باندې د فشار کمولو د پاره پکارول ـ په غېر مستقیم ډول روسانو ته یې هم هغه اړم ښودلو چې د انګرېزانو خلاف یې پکارولو ـ په دې ډول هغه په دې حساسه سیمه کې خپله برتري ساتله ـ انګرېزانو غوښتل چې امیر قبایلو ته د مرستې ورکولو او د هغوی سره د بریتانیې په خلاف کارونو کې ملګرتیا نه ځان وژغوري، او په قبایلي سیمو کې د بریتانیې واکمني ومتي ـ خو امیر د هغوی خدمت په ترخ کې هم پښتنو قبایلو سره خپل اساسي روش بدل نه کړو ـ

د کال ۱۸۸۳ء په نیمایې کې د افغانستان او بریتانیې تر مینځ د اړیکو مزي شلېدونکي وو، کله چې د هند حکومت له امیر عبدالرحمان نه وغوښتل چې د بریتانیې هغه نماینده ته هرکلي ووایي چاته چې د افغانستان او هند تر مینځ د

سرحد بیا ټاکلو په اړوند د خبر اترو اختیار ورکړی شوی وه. د څه وخته پورې خو انګرېزانو په چټکۍ سره د ازادو قبایلو په خلاف خپل پوځي عملیات زیاتول، چې هغوی د خپل نفوذ لاندې راولي. په دې دوران کې د قبایلو له خوا مدافعت ډېر کارګر وه. انګرېزانو دا شك کولو چې د هغوی د نوې مخ په وړاندې کړنلارې په خلاف د قبایلو پاڅون کې د امیر لاس وه. د بریتانیې د وایسرای لارډ لېنسډاون چې د مخ په وړاندې کړنلارې یو پلوي وه، دا خیال وه چې د سرحد د بیا ټاکلو په نتیجه کې به د قبایلي سیمې زیاتې شخړې اوارې شي. د هغه په خیال د سرحدونو بیا ټاکلو سره به د هغو سیمو مسله حل شي په کومو سیمو چې جګړه وه. بله دا چې انګرېزانو به د دې جوګه شي چې په ډېره اسانه قبایل بې وسلې کړي او هغوی به د خپلې قانوني ادارې لاندې راولي. دربمه دا چې د افغانستان کارکونکو د پاره او ختیځو پښتنو ته د وسلې په رسېدلو کې به مشکلات پېدا شي.

امیر عبدالرحمان د سرحد بیا ټاکلو د پاره د بریتانیې نماینده ته د هرکلي نه انکار وکړو. د دې په جواب کې لارډ لېنسډاون د افغانستان د پاره په هر قسم وسلې او نور سامان لېږلو د بندېز امر ورکړو. او د عسکري تېرې دړکه یې هم ورکړه که بیا هم امیر خپل روش بدل نه کړو. د دې په نتیجه کې په هندوستان کې د جنګ تیاری پېل شو. امیر ته پوره علم وه چې په تېرو وختونو کې د هغه هیواد ته د بریتانیې د مخ په وړاندې کړنلارې نه څومره زیان رسېدلی وه. له دې امله هغه د پخولا کېدلو روش اختیار کړو. هغه د هندوستان حکومت ته خبر ورکړو چې خپل نماینده رالېږلی شي.

د کال ۱۸۹۳ء د ستمبر په میاشت کې د هندوستان د حکومت د باندینیو چارو منشي سر مورټیمر ډیورنډ کابل ته راورسېدو چې د افغانستان او هندوستان تر مینځ د یوې ښکاره ټاکلې مینځګړې سیمې په هکله د بریتانیې پخې غوښتنې راوړي. امیر چې د دې غوښتنو د اصل او پراختیا نه خبر شو نو وبوګنېدو، ځکه چې هغه سیمې او خلك چې د عمرونو راسې د افغان د کورنۍ زمکې برخه ګڼلې شو، په یو طرفه قضاوت بریتانوي هند کې شاملولی شو. ځینې قبایل او د هغو ټاټوبي ټوټې شوي وو، یوه برخه یې افغانستان سره پاتې کېدله او دویمه هندوستان سره. ډیورنډ د امیر وړاندېزونو منلو ته چمتو نه وه، ځکه چې د هند حکومت د مخکې نه د سرحد د کرښې په بابله پرېکړه کړې وه. امیر ته ډېر زر دا احساس وشو چې هغه د بایللي مقصد دفاع کوله او په حقیقت کې هغه یو اخرېني خبرداري ته مخامخ وه. د هند د حکومت زوروري او امپراتوری ډوله معاملې امیر بې زړه کړی وه. هغه په نه زړه په هغې سرحد منلو راضي شو چې

بریتانیې ټاکلی وه . صرف دوه کوچنۍ ولسوالۍ چې د بریتانیې په اصلي وړاندیز کې د هند په برخه رسېدلې، په اخر کې افغانستان ته وسپارلی شوې .

عبدالرحمان خان د کال ۱۸۹۳ء د نومبر په دولسم تاریخ، د فشار لاندې، هغه سرحدي تړون لاسلیك کړو چې د ډیورنډ تړون په نوم یادېږي . دا راز د بریتانوي امریت په خوښه یو ملت او یوه خاوره په دوو برخو کې ووېشلی شوه. چې د ډیورنډ کرښې په نوم په یوې مصنوعي کرښې بېلې کړی شوې . د دې تړون تباه کونکې نتیجه دا وه چې امیر د دې تړون په منلو سره، په حقیقت کې. بریتانوي قلمرو کې د دې کرښې ختیځ او سویل ته د پرتې زمکې، چې په اصل کې د افغانستان برخې وې، شامېلېدل ومنل . په راتلونکې کال کې د زمکې په مخ په زیاتو سیمو کې دا کرښه راښکلی شوه، او د ځینو برخو حد بندي هڅو شوې نه ده .

دا فرض کول بېځایه نه دي چې هغه وخت که امیر د انګرېزانو غوښتنې نه وی منلی نو دهلې کې ناست بازانو یو ځل بیا په افغانستان د یرغل امر ورکړی وی . د ډیورنډ تړون د لاسلیك نه پس د هند حکومت په افغانستان لګېدلې بندېزونه پورته کړه او د امیر کالیزه مالي مرسته یې هم زیاته کړه . هغه څه چې پېښ شوي وه امیر ته لوی تکان ورکړی وه، خو هغه ته دا معلومه وه چې د بریتانیې دوستي د افغانستان په ګټه وه . په دې ترتیب بریتانیې سره دا مشکله ملګرتیا جارې وه .

د ډیورنډ کرښې په سرحدي سیمو کې انګرېزانو ستونزې اوارې نه کړې . قبایلو کې اړی ګړی روان وه او هغو سیمو کې حالات ورځ تر ورځه خرابېدل . دا ناارامي هغه وخت څه کمه شوه چې د هند نوي وایسرای لارډ کرزن د دې سیمو نه انګرېزي عسکر ووېستل او د امنیت چارې یې هم قبایلو ته پرېښوې .

د تعجب وړ ده چې د عبدالرحمان خان د حکومت په اوږده دوره کې د نااعلان شوي دښمن یعنې روسیې په مقابل کې خپل بریتانوي ملګري سره اړیکې زیات راښکلي وو . په دې سبب چې انګرېزان د افغانستان په کورنۍ چارو کې د لاس وهنې نه نه منع کېدل، او افغانستان د سرحد پښتنو قبایلو ته د هر قسمه کومك ورکولو نه نه اوړېدو . تر څو چې د روسیې تعلق دی، نو معامله ساده وه . امیر ته پته وه چې د هغې له طرفه د روسیې خلاف په خپل سر هیڅ یو عمل بریتانیې نه شو زغملی . او روسانو ته دا ښه معلومه وه چې د افغانستان خلاف د هغوی هر قسم له خوځښت ته به بریتانیه په ډېرې خواشینۍ ګوري . د پنجده د یرغل نه پس، په یو څو شمالي ولسوالیو کې د حاکمیت په مسله د یو څو پېښو

نه پرته، د روسانو لخوا د افغانستان په زمکه هیڅ قسم له مداخله نه وه شوې. کله نا کله به امیر یو څو روسي جاسوسان ونیول او غرغره به یې کړه. د هغې په عکس العمل کې به روسانو مخ په بله واړاوه. په مجموعې توګه د کال ۱۸۷۳ء دا بې ارزښته تړون په ظاهره برقرار وه.

له بریتانیې سره تړون امیر روسیې سره د سیاسي اړیکو ساتلو نه منع کړی وه، خو هغه دا مناسب نه ګڼله چې خپل شمالي ګاونډي سره دې دښمني وکړي. د دې په ځای امیر دا غوښتل چې د روسیې ته دې بېطرفانه مخ وښایي. په داسې حال کې چې هغه په سختۍ سره د روسي نفوذ د خورېدنې مخنیوی کولو او روسانو د پاره یې خپل شمالي سرحد بند کړی وه، افغان تاجرانو ته یې اجازت ورکړی وه چې روسي ترکستان ته دې ګټور تجارت د پاره پورې وځي.

د ډیورنډ کرښې په منلو د افغانستان خلك، خصوصاً منورینه ډله، تر نن ورځې پورې عبدالرحمان خان ملامته کوي چې افغان ملت او د هغې ګټه یې خرڅ کړه. خو تقریباً یوه سلیزه وروستو د ۱۹۷۰ء لسیزې په نیمایې کې د افغانستان ولس مشر محمد داود چې د ډیورنډ تړون یو سخت مخالف وه، لما سره په اړه داسې غږېدلی وه:

> د پرامن کلونو په اوږدو کې داسې ښکاري چې د امیر لخوا د تش په نامه ډیورنډ کرښې منل د بخښنې وړ نه دي. خو که څوك هغه بې انتها فشار په نظر کې ونیسي چې هغه ورته مخامخ وه، او د بریتانوي امپراتورۍ وضعه چې د هغه په علم کې وه، نو بیا سړی په خواخوږۍ سره دا منلی شي چې هغه حالات په رښتیا سره زړه چاودوني وو. د ډیورنډ کرښې په منلو امیر د افغانستان پاتې برخه وساتلی شوه. امیر چې کوم ناوړه حالت کې ځان لېدو د هغې فکر سړی مجبوروي چې هغه ته د شك فایده ورکړي.

د ډیورنډ کرښې د داغ باوجود، امیر د یو متحده افغانستان په جوړولو کې بریالی شو، او هیواد ته یې د اداري چارو، د یو پوځ او د زرغونېدونکې صنعتي سکتور په شمول یو مضبوط مرکزي اقتدار ورکړ. هغه ځان د یو مستقل افغانستان واکمن ګڼلو او د هیواد په کورنیو چارو کې یې د هیڅ یو طاقت لاس وهنه نه پرېښوه. تر څو چې د هغه د باندینیو چارو تعلق وه، نو هغه د کال ۱۹۱۰ء د تړون د مکتوب نه په سرغړونه کې بریالی شو او په مشهد، بخارا او پېښور کې یې تجارتي نمایندګان وساتل، او اسلامي هیوادونو ته یې هیتونه هم ولېږل. د خپلې دورې په اخرېني کلونو کې امیر په جدي توګه غوښتل چې اسلامي

هیوادونو سره په دولتي سطحه روابط جوړ کړي او په جار یې د اسلامي یووالي مرام خورولو ـ هغه د هند د حکومت د لارې نه، بلکې براه راست لندن سره د روابطو ساتلو باندې هم ټینګار کولو ـ

په امیر باندې دا تومت اکثر لګي، چې د وروستینیو کلونو د ځینو نورو افغاني واکمنو په شان، هغه د خپل پایښت د تامینولو په غرض د بریتانیې په خلاف د روسیې په نوم لوبه کوله ـ دا اعتراض کونکي د یو کوچني دولت په ناوړه حالت نه پوهېږي چې دوو ذښمنانو دیوانو تر مینځ ګېر وي ـ هغه کوچنی دولت چې صرف پایښت او په امن کې خوشالي غواړي ـ

د باندینیو چارو کړنلاره کې توازن ساتلو سره امیر عبدالرحمان خان د افغانستان تمامیت ساتلو کې بریالی شو ـ د ټینګتیا او سولې غوښتنې تر مینځ په نرۍ لاره باندې تګ سره هغه وکړی شو چې په خپل هیواد کې د بریتانیې نفوذ محدود کړي او د روسانو د نفوذ د خورېدلو مخه ونیسي ـ هغه د سیاست په هنر کې ښه پیاوړی وه ـ هغه ته پته وه چې څه کېدی شي او څه کېدی نه شي ـ

څنګه چې شرایط بدل شو، وروستنیو افغان واکمنو د نوو حالاتو مطابق باندېنیو چارو کې د توازن په کړنلاره کې مناسب بدلون راوست ـ خو د هغې کړنلارې اساس هم هغه دی چې فولادي امیر ایښی وه ـ دا منطقي او روانه کړنلاره وه چې د زمکني او سیاسي حقیقتونو تابع وه، او مرام یې د افغانستان د استقلال ساتنه ده ـ پخوانیو افغان واکمنو هم په باندینیو چارو کې د توازن د کړنلارې د ضرورت احساس لرلو، خو هغو کې یو هم د امیر غوندې طاقت او بېداري نه لرله چې په دومره ښکاره ډول یې وضع کړي او په ټینګه سره یې عملي کړي ـ

د دې هیواد نه یو نوی هیواد جوړولو نه پس امیر عبدالرحمان کابل کې د ۱۹۰۱ء د اکتوبر په دریمه نېټه مړ شو ـ خو هغې سیاسي وصیت چې هغه خپل وارث ته پرېښی وه تر دې ورځې خپل ارزښت نه دی بایللی ـ

افغانستان یو داسې هیواد دی چې یا خو به د یو مضبوط او مشهور پاچاهۍ په شکل کې وده ومومي او یا به د دنیا له مخه بیخي ورک شي ـ هیڅ یو باندیني حکومت د پاره افغانستان عسکري خدمت نه پرته مالي ګټه نه لري ـ د عسکري خدمت په صورت کې دا د یو باندیني حکومت څه په کار راتلی شي کله چې هغه په یو بل باندیني هیواد د تېري یا یرغل د پاره په دې هیواد پورې ووځي ـ خو د هیڅ یو باندېني حکومت د پاره له پنځوسو نه تر شپېتو کالو پورې په افغانستان باندې قبضه ساتل څه ښه تجارت نه دی ـ د افغانستان کړنلاره دې د دوو قوي

# Notes

1. W. K. Fraser-Tytler, *Afghanistan: A Study of Political Developments in Central and Southern Asia*, 3rd ed. (London: Oxford University Press, 1967), 282.
2. Shah Shuja was the last of the Sadozai kings. The first Sadozai monarch, Ahmad Shah Durrani, became king in 1747 and organized Afghanistan into a modern nation state.
3. Fraser-Tytler, *Afghanistan*, Appendix II.
4. Dr. Munawwar Khan, *Anglo–Afghan Relations 1798–1878* (Peshawar: University Book Agency, 1963), 145.
5. Ibid., 132.
6. Ibid, 153.
7. Fraser-Tytler, *Afghanistan*, 144.
8. Ibid., 159.
9. *Cambridge History of India*, vol. VI, p. 408, as quoted by Khan, *Anglo–Afghan Relations*, 104–105.
10. Arnold Fletcher, *Afghanistan: Highway of Conquest* (Ithaca, N.Y.: Cornell University Press, 1965), 157.
11. Ludwig W. Adamec, *Afghanistan 1900–1923: A Diplomatic History* (Berkeley and Los Angeles: University of California Press, 1967), 17.
12. Quoted in Fletcher, *Afghanistan*, 153.

PROPERTY OF ACKU 8175

# دوهم څپرکی

# لومړی نړیوال جنګ
# افغانستان بېطرفه پاتې شو

## تر جنګ مخکې:

د امیر عبدالرحمان تر مرګ وروسته د هغه مشر زوی حبیب الله خان په تخت کښېناست. انګرېزانو دا هیله لرله چې د پاچا د بدلون په صورت کې به دوی ته په افغانستان کې د خپل حیثیت د ټینګولو موقع په لاس ورشي. له دې نه پرته د انګرېزانو او افغانانو تر مینځ اړیکو کې د سملاسي سمون ضرورت پېښ شو، ولې چې له افغانستان سره د نېغ په نېغه اړیکو ساتلو کې د روسیې علاقه ورځ په ورځ زیاتېدله. د دواړو تر مینځ اوس یو مشترکه سرحد و او د کسپین یعنې د خزر سمندري سیمو کې د رېل پټلۍ غزېدلې وه. په افغانستان باندې د خپل ښکېلاك د پیاوړتیا او په ملګرتیا کې د چاودونو د ډکولو په خاطر د هندوستان حکومت نوي امیر ته خبر ورکړو چې د یو رسمي سند په شکل کې د ۱۸۸۰ء د تړون تازه کېدل به د دواړو خواو په ګټه وي. امیر جواب ورکړو چې هغه په هغو شرایطو پوره ډاډه وه کوم شرایط چې د هغه د پلار او د بریتانیې تر مینځ فیصله شوي وو، او هغه به "تر هغې وخته پورې چې نامتو بریتانوي حکومت یې

تعقیبوي" د هغو احترام کوي .١

د هندوستان د حکومت له خوا د دې غوښتنې یو لامل دا وه چې بریتانیې له ډېر مهال رراهیسې دا یو دستور جوړ کړی وه چې د بریتانیې د استقلال د ساتنې له پاره له پخوانیو تړونونو نه ورتېر د کابل له هر نوي امیر سره تازه اړیکي جوړي کړي . انګرېزانو همېشه دا ټینګار کاوه، چې له افغان واکمنو سره د هغوی تړونونه ذاتي وو او د کورنیو سره یا د دوو دولتونو تر مینځ نه وه چې د امیر اولاد دې هم د هغې تابع وي . خو د افغانانو له پاره هر نوي تړون سره نوي مراعات تړلي وو . له دې امله دوی د انګرېزانو په دې درخواست متردد وو .

په کال ۱۹۰۲ء کې په دوو وختونو یعنې فبرورۍ او جون کې لارډ کرزن په تړون د خبرو اترو له پاره هندوستان ته بللی وه . او دواړه ځله امیر په تذبذب کې وه . امیر د "وایسرای په ټینګار شکایت وکړو او وې ویل چې څرنګه چې د ملکه وکټوریا په مرګ د ملګرتیا تازه کول ضروري نه وو نو زما د پلار په مرګ هم داسې ګام پورته کول غېر ضروري دي ."٢ لارډ کرزن د حبیب الله په سخت دریځ مایوسه شو نو افغانستان ته په وسلې لېږلو یې بندېز ولګاوه، ځکه چې انګرېزانو دا منل چې مالي کومك ذاتي وه، نو لارډ کرزن فیصله وکړه چې حبیب الله ته دې دا اعانه بنده کړي . د هندوستان حکومت دا خیال هم څرګند کړو چې تر هغې وخته چې نوي امیر سره یو تړون نه وي شوی نو هغه دې د خپلې ساتنې ادعا نه کوي .

په هر حال امیر حبیب الله خان د ملګرتیا جاري ساتلو خواهش ظاهر کړی وه او د هندوستان د حکومت په جواب کې یې له بریتانیې سره د خپلې دوستۍ اقرار کړی وه، نو ډېلي کې یې دا فیصله وشوه چې د هغه پر خلاف د څه عملي ګام پورته کړلو نه مخکې انتظار پکار دی . کېدی شي چې د بوور په جنګ کې په شا کېدلو هم د امیر په حق د انګرېزانو نرمۍ کې څه کار کړی و .

په داسې ناارامه حالاتو کې د هندوستان او افغانستان په سرحداتو کې څه پېښې او نښتې وشوې، چې څه پکښې خطرناکې هم وې . داسې افواګانې هم خپرې وې چې امیر به له انګرېزانو سره خپله ملګرتیا پای ته ورسوي . په دې حالاتو کې د بریتانیې د وراثت اندازه لګول څه ګران کار نه وه .

څه مهال پس په اسیا کې یوه ډېره مهمه پېښه وشوه . په لرې ختیځ کې د روسیې او جاپان تر منځ جنګ د زار د امپراتورۍ په زبردستې ماتې ختم شو . د افغانستان د امیر په خیال روسیې د یو نړیوال طاقت په څېر اتبار بایلود . په بل

طرف دا امکان هم وه چې روسیه به په لرې ختیځ کې د خپلې ماتې د نقصان راګرځولو له پاره په منځنۍ اسیا کې عملیات پیل کړي. د روسیې له طرفه له افغانستان سره نېغ په نېغه اړیکو ټینګار هم امیر ډېر فکرمن کړی وه. هغه له بریتانیې سره د بېتوله تړونونو په بار او شرم په ډېر شدت سره محسوسولو، خو هغه ته د روسیې ارادو نورې اندېښنې راولاړه کړې وې.

شاید د دې پېښو او پرېشانیو له امله امیر په ناڅاپي ډول خپل روش بدل کړ او کابل ته یې د بریتانیې یو هیئت وباله، چې د ګډو ګټو په معاملو خبرې وکړي. د هندوستان د باندېنیو چارو د منشي لوییس ډبلیو ډېن په مشرۍ بریتانوي هیئت کابل ته د کال ۱۹۰۴ء په دسمبر کې ورسېده. ډېن ته هدایت شوی وه چې له امیر سره دوه تړونونه وکړي. دا تړونونه چې د هندوستان حکومت د مخکې نه لیکلي وه پاخه نه وو بلکې ذاتي وو. وړومبنی د اساسي تړون په توګه منل کېده چې د ملګرتیا د دواړو خواو حقوق او مسئولیتونه ترتیب کړي. دویم یو فروعي تړون وه چې د افغانستان او بریتانیې تر مینځ عسکري مرستو سره یې اړه لرله.

دا مجوزه تړون بېخي د هغې تېر انتظام یعنې د ۱۸۸۰ء د تړون غوندې وه، له دې پرته چې دې تړون د باندېني یرغل په وخت بریتانوي عسکرو ته افغانستان ته د ننوتلو اختیار ورکاه. فرعي تړون هم بریتانیې ته دا اختیار ورکولو چې په دفاعي چارو کې امیر ته د مرستې له پاره د بریتانوي منصبدارانو هیئت وټاکي. اګر چې دې تړون د هند د حکومت د هېلو په نسبت بریتانیې ته ډېر لږ څه منل، خو په افغانستان کې د بریتانیې د نفوذ د زیاتېدلو زمینه یې برابروله. له دې کبله بریتانیې په افغانستان خپل کنټرول سختولی شو چې دا د امیر د ازادۍ له پاره مرګ ګڼل کېده.[۳]

د تړونونو له کولو نه پرته ډېن ته دا هدایت ورکړی شوی و چې له امیر سره هغه شخړې هم اوارې کړي، چې په تېرو کلونو کې پورته شوې وې او بریتانیې ته یې ډېرې پرېشانۍ پېدا کړې وې. په دې کې عمده "شکایتونه" دا وو:

- له ختیځو پښتنو سره د افغانستان تماس ته د پای ته رسولو اړتیا.
- د ډیورنډ کرښې پاتې برخې په زمکه رانښکل.
- د چمن د رېلوې پر خلاف د افغانستان اعتصاب ته خاتمه ورکول.

- د افغانستان له خوا له هندوستان سره په تجارتي چارو کې د پراختیا راوستلو روش منل.
- په کابل کې د بریتانوي استازي یعنې سفیر او په هرات او کندهار کې د "خبریالانو" حیثیت او له هغو سره سلوك ښه کول.
- د افغانستان په شمال کې په میمنه، مزار شریف او فیض آباد کې د خبریالانو ټاکل.
- د هند او افغانستان په سرحد د پېښنو پای تر رسېدنه.

ډېر موظف وه چې له امیر نه دا وعده هم واخلي چې تر خیبر درې او کرمې پورې د رېل د پټلۍ د غزولو مخالفت به نه کوي. بریتانوي هیئت به له امیر سره له هندوستان نه د افغانستان دننه ځینې ځایونو ته د رېل د پټلۍ د غزولو په هکله خبره نه کوي. خو هیئت ته ویل شوي وو چې د امیر پام د هند او افغانستان تر منځ د مخابرې د تار د غزولو ارزښت او د دې خدمت نه به چې څومره ګټه افغانستان ته رسي هغې ته وګرځوي.

د خبرو پېل نه پس ډېر زر د بریتانیې او افغانستان تر منځ د تړونونو د اصلیت په هکله د رای اختلاف پورته شو. امیر ټینګار کاو چې هرکله پخواني تړونونه د دولتونو تر مینځ نه وو او د هغه پلار سره وو، او د هغه نور رایج نه وو، نو د ډیورنډ تړون هم قانوني حیثیت نه لاره او پکار ده چې تر خبرو لاندې راشي. خو د هند د حکومت استازي له قانوني چلبازیو نه د کار اخیستلو په ترڅ کې د دې څرګندونې هڅه کوله چې ځینې هغه تړونونه چې له سیمو سره اړه لري، لکه د ډیورنډ تړون، پاخه وو، او نور، لکه د ۱۸۸۰ء تړون داسې نه وو. دې دلیلونو افغانان او امیر قانع نه کړل. په دې موضوع د روغې امکان نه وه او هره خوا خپل دلیل پورې نښتې وه، نو دا ناحله پرېښودای شو.

د بریتانوي مسودې په حق کې د ډېر توضیح افغانانو ته د منلو وړ نه وه. امیر د هند د حکومت د شکایتونو د حل کولو نه ژغورنه کوله تر هغه وخته پورې چې د بریتانوي عسکرو او مالي کومك د ضرورت او اندازې په اړه پرېکړه لیك نه و شوی. تر څو چې د پوځي مرستې د لا ډېرواالي خبره وه نو د امیر او د هند د حکومت تر مینځ یو اساسي اختلاف موجود وه. د امیر په خیال پوځي کومك دې په بشپړه اندازه د پوځي سازوسامان او نغدې مالي مرستې په شکل کې وي. هندوستان غوښتل چې پوځي کومك دې په افغانستان کې د بریتانوي

عسکرو شتوالي ته زمینه برابر کړي، لکه په سیستان کې او د روسیې او افغانستان په سرحد د انګرېزانو منصبدارانو ټاکل او میشته کول، او د امیر د عسکرو تربیه کول. دې مسودې د باندیني یرغل په وخت افغانستان ته د ننوتلو په لړ کې بریتانیې ته پخپله خوښه د فیصلې حق هم ورکولو. امیر په ټینګه د بریتانیې دا غوښتنه رد کړه او ډېر په تادۍ سره هغه شا ته واچوله.

د وخت په تېرېدلو سره داسې ښکارېده چې خبرې اترې تمتیا ته رسېدلې وې. د مایوسۍ په دې وخت کې حبیب الله خان خپل متقابل وړاندېزونه وړاندې کړل، چې په هغو نژدو وختونو کې روسیې ماته خوړلې وه نو د هغې د "ملا ماتولو" له پاره دې د افغانستان او بریتانیې تر مینځ د عسکري ملګرتیا داسې یرغل منونکی تړون وشي.[۴] ډېر د داسې ملګرتیا په هکله خبرو کې ننښتلو ته بیخي تیار نه وه. هغه چې په دې وړاندیز د غور کولو نه انکار وکړو نو امیر حبیب الله ډېر مایوسه شو. کېدای شي چې د امیر دا وړاندیزونه د بریتانوي غوښتنو د پځولو له پاره یو چل وه، خو دې د خبرو د هغې تمتیا په پای ته رسونه کې لږ کار هم و نه کړو.

لندن د هند د حکومت په نسبت نرم وه او داسې رعایت ورکولو ته تیار وه. ځکه چې د هغه په خیال له افغانستان سره د تړون اهمیت هغو سختو شرایطو سره مربوط نه وه بلکې هغې خنډ سره وه چې د روسیې د یرغل مخې ته یې ودراوه. کورني حکومت دا فکر کاو چې هرکله امیر حبیب الله هغې اساسي اصول سره متفق وه چې د هغه باندېني اړیکي دې په ټینګه سره د بریتانیې په لاسونو کې وي نو بیا د بریتانیې د نورو وړاندېزونو په منلو هغه ته د فشار ورکولو څه جواز نه وه. د کورني حکومت دا دلیل وه چې تړون وي او که نه وي، خو چې روسیې د برید کولو پرېکړه وکړه، نو بریتانیا به دفاع له پاره افغانستان ته په ورننوتلو مجبوره وي.

د کورني حکومت په لارښوونه هندوستان ډېر ته امر ورکړ، چې د کال ۱۸۸۰ء تړون تازه کړي او د هند د حکومت په مسوده دې ټینګار نه کوي. دې نوي تګلارې حالت لږ ښه کړ او د کال ۱۹۰۵ء د مارچ په ۲۱م تاریخ د امیر او لوییس ډبلیو ډېر تر مینځ د ۱۸۸۰ء د مندرجاتو په شان یو تړون لاسلیك شو. بریتانیا امیر د یوې کالېزې مرستې په ورکولو راضي شوه او د تېر وخت د اعانو په ورکولو بندېز یې هم پورته کړ. او ....م دا راز افغانستان ته د وسلې په واردولو بندېز یې پورته کړو. امیر دا ژمنه وکړه چې بریتانیې ته به د هغې د خینو

شکایتونو په لړ کې اطمینان ورکړي . خو هغه د افغانستان په شمالي سیمو د خبریالانو په ټاکلو راضي نه شو . د بریتانیې د استوګن سفیر حیثیت جګ کړی شو . خیبر درې او کرمې ته د رېلوی کرښې د غزولو په لړ کې د بریتانیې د ازمېښتي پوکښو په جواب کې امیر غوڅه خبره و نه کړه . افغان امیر د ډیورنډ تړون او پاتې سیمو کې د ډیورنډ کرښې رانښکل ومنل . (هغه پروژه چې انګرېزانو ته ډېره ګرانه وه، وروستو د عملي مشکلاتو له مخه نیمګړې پاتې شوه) . د اصل شکایت ، یعنې د افغانستان او د پولې نه وراېسته د پښتنو تر مینځ د اړیکو، په لړ کې امیر وویل چې "په آینده کې به د خپل پلار د اصولو نه تېري نه کوي ."[۵] په دې لړ کې د هغه د پلار تګلاره انګرېزانو ته ښه ښکاره وو، نو هغو د امیر د وینا نه خپله نتیجه اخیستله .

نوي تړون نه انګرېزانو ته د پوځي ارزښت څه ګټه و نه رسېده . خو د کورني حکومت عقلي او حقیقي پرېکړې چې امیر زیات پرېشانه نه کړي، د ملګرتیا په هکله د هغه خوښه مثبتې اغېزې لاندې راغله او هغې ته یې نوې حرکت ورکړ . مطلب دا چې د انګرېزانو عمده مقصد دا وه چې افغانستان کې دې امیر د هغوی دوست وي چې د هندوستان د ساتنې په ضرورتونو پوهېږي او دا احساس لري چې د هغه د هیواد او هندوستان پایښت یو بل پورې پېوست دي . انګرېزانو دا مقصد وګاټه .

په دې دوران کې روسیې نبغ په نبغه په افغانستان او بریتانیې خپل فشار ته دوام ورکاوه . روسي مقاماتو به په زوره سرحدي ستونزې جوړولې او افغانانو ته یې زور ورکاوه چې هغه په سیمه ییزه توګه د خپلو نمایندګانو په وسیله حل کړي . خو امیر د هغو پارونو نه ځان ژغورله . هغه روسیان خبر کړل چې هر ډول پېښه که وي خو د بده مرغه هغه کوم یو باندیني طاقت سره په هغې خبره نه شي کولی، بلکې د بریتانیې په وسیله به بې کوي . امیر به انګرېزان د هغو پېښو نه خبرول او خپله اندېښنه به یې هغو ته څرګندوله .

په لرې ختیځ کې د روسیې ماتې او په اروپا کې د نوو حالاتو مینځ ته راتګ، په خصوصي ډول د دې دواړو په مقابل کې د جرمني سر اوچتولو، بریتانیا هغې نااشنا تجربې ته ورسېلمه کړه چې د روسیې د ویرې فکر یې کم شوی وه . دې فکر انګرېزي مامورین دې حقیقت منلو ته مجبور کړل چې د افغانستان او روسیې تر مینځ روابط ضروري وو . خو دا احساس یې ټینګولو چې دا روابط دې په جدي توګه منظم وي او صرف غېر سیاسي چارو پورې دې محدود وي . بریتانیا

دې نه چمتو وه چې صرف په اسیا کې د دوی تر مینځ د اختلافاتو په بهیر کې روسیانو ته داسې یو رعایت ورکړي. د بریتانیې په فکر د داسې حل په صورت کې به د هندوکش په لویدیځ کې هغه سیمه د هغو په ولکه کې پاتې شي، چې له لویدیځ نه د هند په لور په روانو لارو کې پرته له ټولو نه زیاته کمزورې ګڼلی شوه. دې غرض له پاره بریتانیې له مخکې نه یوه سودا سنجولې وه چې فارس دې د نفوذ په ساحو کې ووېشي. د دې پلان د مخه شمالي فارس به د روس تر انتظام لاندې راشي او ختیځ فارس به د بریتانیې د نفوذ په ساحه کې پریوځي.

په دې هېله چې د جاپان د لاسه ماتې خوړلو نه پس به خپل طاقت بیا راټول کړی شي، روسیه په ډېرې تلوسې سره د جرمني خورېدلو ته زېر وه. د کورني سیاسي اړې ګړې په زیان یې له بریتانیې سره د خپلو اختلافاتو د حل داسې یوې موقعې ته هر کلی ووایه. د انګرېزانو او روسانو تر مینځ خبرې په کال ۱۹۰۷ء کې په دریو برخو کې د یو کانونشن یعنې لوزنامې په شکل کې پای ته ورسېدې. د دې لوزنامې یوه برخه تبت، بله فارس او دریمه افغانستان سره مربوط وه. دا د سېنټ پیټرسبرګ د لوزنامې په نوم ونومولی شوه. د هغو اسیایي هیوادونو هیڅ یو نماینده ته په هغو خبرو کې د ناستې اجازت نه وه ورکړی شوی چې د هغه د کورني هیواد د حیثیت د ټاکلو له پاره کېدلې. د ۱۹۰۷ء لوزنامه د دوو روایتي استعماري دښمنانو تر مینځ یو انتظام وه، چا چې لیدل چې سملاسي ګټه په خپلو کې د نښتې په نتیجه کې د هغوی لاس ته نه ورتله، نو هغوی د خپلو اختلافاتو د حل لاره غوره کړه او د اسیا یوه پراخه برخه یې د نفوذ په سیمو کې ووېشله.

د لوزنامې د محتویاتو له مخه روسیې او بریتانیې په تبت باندې د چین اختیار ومانه. د فارس په هکله، لوزنامې په ساده ډول هغه هېواد په درې سیمو ووېشه. د فارس شمالي سیمه د روسیې د نفوذ لاندې ومنل شوه، لویدیځه سیمه فارسیوانو ته پرېښوی شوه او سویل ختیځه سیمه د بریتانیې له نفوذ سیمې سره شامله کړی شوه. په دې طریقې بریتانیې یوه لاره وموندله چې د افغانستان لویدیځ سرحد تقویه کړي او د هندوستان د دفاع په بهرني چاپیریال کې چاود بند کړي.

د افغانستان په هکله لوزنامه کې روسیې ومنله، چې هغه هیواد د هغې د نفوذ له سیمې نه وتی دی، او بریتانیې اعلان وکړو چې د هغې هیواد د سیاسي حیثیت د بدلولو هیڅ اراده نه لري. دا راز د بریتانیې له خوا تحمیل شوی د

افغانستان محدود حاکمیت د لندن له خوا یو ځل بیا ومنل شو او روسانو په هغې اهمه لوزنامه کې ومانه، چې د اسیا د یو شمېر قومونو د قسمت فېصله یې اداره کوله. له دې نه پرته بریتانیې دا هم ژمنه وکړه چې داسې گام به نه پورته کوي چې د روسیې له پاره خطرناك وي او نه به افغانستان دې چارو ته لمسوي. په دریمه فقره کې بریتانیا په دې راضي شوې وه چې د غېر سیاسي محلي ستونزو د حل له پاره روسیه او افغانستان خپلو کې براه راست تماس نیولی شي. څلورمې فقرې یوې خوا ته د انگرېزانو او افغانانو او بلې خوا ته د روسانو او افغانانو تر مینځ د تجارتي موقعو د برابري اجازت ورکولو، او ویل یې چې "د تجارت پراختیا که تجارتي وکیلانو ته ضرورت ولري نو دواړو دولتونه به په دې اتفاق کوي چې کوم قسم گام پورته کول پکار دي، خو په هر حال د امیر د حاکمیت د حقوقو به مناسب احترام ساتلی شي."

خو د امیر د حاکمیت له حقوقو نه د وخته انکار شوی وه چې، د هغه د مشورې نه پرته دواړو استعماري طاقتونو د زور په نشه کې افغانستان سره تړلې چارې په خپل مینځ کې سنجولې. د بریتانیې توهین چې هغه ورسره مخامخ وه او د لوزنامې محتویاتو امیر له غصه وروستله. د بریتانیې او روسیې تر مینځ هغه روغه چې ډېره وېره ترې کېدله، د عملي کېدلو په حال کې وه. د افغانانو په خیال د هغې روغې مطلب دا وه چې په آخره کې افغانستان تجزیه شي او د هغې د مینځگړتوب حیثیت ختم شي. د افغانستان په دربار کې د بریتانیې خلاف خلك ناکراره شوي وو او له بریتانیې سره د ملگرتیا د ختمولو، او حتی د جهاد، وکالت یې پېل کړی و.

د افغانستان په هکله د لوزنامې د برخې د عملي کېدو له پاره د امیر منظوري پکار وه، خو هغه د بریتانیې د فشار باوجود له دې کال نه انکار وکړ. بیا بریتانیا او روسیه په دې متفق شول چې د هغې عملي کېدو له پاره د امیر منظورۍ ته ضرورت نه وه. خو د امیر د ښه نیت او رضا نه بغېر د افغانستان په هکله د دوی تر مینځ موافقې څه عملي ارزښت نه لاره. د دې له پاره چې د لوزنامې د نورو برخو له پاره د روسیې موافقت تر لاسه کړي، شاید بریتانیې دا یقین ورکړو چې د امیر موافقت به وروسته په لازم وخت تر لاسه کړي. خو د حبیب الله خان د دورې تر خاتمې د افغانستان او روسیې تر مینځ براه راست تعلقات جوړ نه شو او د تجارت په ډګر کې د رعایت په نوم څه شی روسیې ته ور نه کړی شو. دواړه استعماري طاقتونو د دوی د امریت خلاف د امیر د ارادې ډېره غلطه

اند زه لګولي وه ـ

د انګرېزانو او روسيانو تر مينځ د ۱۹۰۷ء د لوزنامې په آخر کې برېتانيا بريالۍ شوې وه، ځکه چې هغې ته د فارس د تجزيې په هکله په خبرو کې د دې د ضروري مقصد احساس شوی وه ـ امير حبيب الله دا لېدل چې برېتانيې سر، ملګرتيا که هر څومره نازکه وه د نيشت نه ښه وه ـ چا چې برېتانيې سره اړيکي شلول غوښتل هغو ته هغه د صبر تلقين کاو ـ د لوزنامې نه راولاړه شوې هنګامه څه وخت پس کراره شوه او د انګرېزانو او افغانانو تر مينځ د بې ترتيبه تاريخ يوه بله شخړه تېره شوه ـ

## د جنګ کلونه:

د وړومبني نړېوال جنګ پېل چې روسيه او برېتانيا پکښې ملګري وو، د افغانانو وُېره تازه کړه چې داسې ملګرتيا څه نا څه نتيجهٔ ضرور ورکوي ـ خو دا زر ښکاره شوه چې دا دواړه اروپايي ملګري په دې مطمئن وو چې امير په جنګ کې بې طرفه پاتې شي ـ برېتانيې ته د پولې نه ورايسته پښتنو کې د امير د نفوذ اندازه وه او دا چې هغه په هغو سيمو کې د هند حکومت له پاره مشکلات پېدا کولی شو. په هغه وخت کې چې برېتانيا په اروپا کې بوخته وه نو دلته په سرحد باندې د پاڅون د مخنيوي له پاره يې د امير د ښه نيت غوښتنه کوله ـ هغوی دا هېله هم لرله چې په هند کې د سياسي اړي ګړي لمبو ته د لمنې وهلو له پاره امير د انقلابيانو په مرسته د خپل نفوذ نه کار وانه خلي ـ اګر چې د هند په مقابله کې کمې وې، خو تر روسيې لاندې په منځنۍ اسيا کې هم د استقلال له پاره په هلو ځلو سترګې پټول نه و پکار ـ د اسلام د تازه کولو آرزوګانې چې امير ورسره ډېره علاقه لرله، د منځنۍ اسيا هغو مسلمانو کې هم خورې شوې وې چې د زار په خلاف خوځښتونو کې فعال وو ـ د منځنۍ اسيا د دې مسلمانو په نظر کې د هغوی د استقلال په هلو ځلو کې امير يو قدرتي ملګری وه ـ له دې امله د هغه بې طرفي د روسيې له پاره هم د اهميت وړ وه ـ

په دې دوران کې د بریتانیې خلاف په دربار کې یوې طاقتورې ډلې چې د امیر زوی امان الله او د هغه مخورېز ورور نصرالله هم پکښې شامل وو، په امیر فشار راوړو چې د مرکزي قواوو په حق کې خپله مرسته اعلان کړي، خصوصاً په هغه وخت چې د خلافت مرکز ترکیه هم د پلویانو خلاف جنګ کې شامله شوه. دې خلکو په امیر زور اچولو چې له بریتانیې نه پوره استقلال وغواړي او د پښتنو سیمې دې هم له افغانستان سره بیا شاملې کړي. که بریتانیا دا غوښتنې ونه مني نو هغې ته به په پراخه اندازه قبایلي پاڅون ودرولی شي. د بریتانیې خلاف له دې خلکو سره روشنفکرانو هم خپل اواز یو کړ.

امیر په باندینیو چارو کې د بریتانیې غلامي نه خوښوله او د پولي نه ورایسته پښتنو او د افغانستان د خلکو په مشترکه قدرونو باندې یې یقین لرلو. په داسې وخت کې چې راج باندیني فشار ته ډېر کمزوری شوې وه، امیر د بریتانیې په خلاف سخت دریځ غوره کولو ته هم جلبولی شو. په هر حال د رایو جاج اخستلو نه پس، هغوی دا فیصله وکړه چې د افغانستان ګټه په دې وه چې لږ تر لږ په هغه وخت بېطرفه پاتې شي. هغه دا یقین لرلو چې د پایښت ضرورت دا وه چې توازن وساتلی شي او په داسې حال کې بېطرفي یو قدرتي خوښه وه. امیر دا هم مناسب نه ګڼل چې د بریتانیې له مصروفیت نه دې استفاده پورته کړي او هغه غوښتنې دې وکړي چې د نه منلو په صورت کې د هغه شان ته زیان ورسوي. د یوې باورې سرچینې د وینا مطابق، بریتانیې په کابل کې د خپل استوګن حافظ سیف الله خان په ذریعه امیر ته دا باور ورکړی وه، که هغه بېطرفي وساتي او ملګرتیا وپالي نو هغوی به د جنګ په ختمېدو د افغانستان پوره استقلال ومني. دوی د کابل او د سېنټ جېمز د دربار تر مینځ د براه راست روابطو، چې امیر یې ډېر ارزومن وه، هم وعده ورکړې وه ٦.

د جنګ په دوران کې امیر په سرحدي سیمو کې کراري وساتل شوه. د وړومبني نړېوال جنګ په دوران کې چې څومره قبایلي سیمو کې ارامي وه دومره هېڅکله هم نه وه. هغه په هند کې د ناکرارۍ د زیاتولو له پاره د هندي انقلابیانو د تشویقولو نه هم ځان وژغورلو. په هغه دوران

کې په هندوستان کې په لویه اندازه کوم یو باقاعده پاڅون پورته نه شو .
د امیر له پاره بېطرفي ساتل څه اسان کار نه وه . له کورني پرله پسې فشار نه پرته دا حقیقت هم و چې مرکزي قواو په جدي توګه هڅه کوله چې امیر خان ته راکاږي . هغوی ته پته وه چې په نیمه وچه کې د بریتانوي حاکمیت د کمزروي کولو له پاره د افغانانو نفوذ نه کار اخستلی شو، او د هغویې د وس نه یې استفاده کول غوښتل . اګر چې د هغوی ځینې مخبران د افغانستان له لارې په پټه منځنۍ اسیا ته ننوتل، خو د هغوی د پټو فعالیتونو اصل هدف هندوستان و . د مرکزي قواو ایجنټان د افغانستان د لارې قبایلي سیمو ته ننوتل او په افغانستان او هندوستان کې له انقلابیانو سره یې تماس نیولو . په افغانستان کې ځینې ترک کار کونکو په کسبي ځایونو کې کار کولو . هغویي د پان اسلامیزم خوځښت کې هم فعاله وو، د بریتانیې خلاف یې په افغانستان او قبایلي سیمو کې احساسات پارول او تنظیمول، او په جنګ کې یې د مرکزي قواو د مرام تقویه کولو له پاره هم خپلې هڅې غبرګې کړې . د هغوی دا کار د ترکو او افغانانو مذهبي یووالي او له ترکو سره د افغانانو همدردۍ اسانه کړې وه.
مرکزي قواو چې د امیر په ګټلو کې څومره هلې ځلې کولې هغو کې یوه هم دومره جرآتمندانه او جدي نه وه، څومره چې افغانستان ته د نیدرمائیر او هېنتېګ د هیئت رالېږل وو . دا هیئت په ابتدا کې د جرمني حکومت جوړ کړی وه خو ترکو، اتریش او هندي انقلابیانو په ګډون د یو اوږد ستومانونکي سفر نه پس افغانستان د کال ۱۹۱۵ء په ستمبر کې راورسېدو . هیئت ته دا هدایت ورکړی شوی وه چې امیر د خپلو روایتي دښمنانو په خلاف مرکزي قواو سره ملګرتیا ته چمتو کړي . مرکزي قواو سره د هغه د ملګرتیا په بدل کې به عسکري او مالي کومك ورکړی شي . او د جنګ په ختمېدو به د پولې نه ورایسته د پښتنو سیمې افغانستان ته واپس کړی شي . هیئت د امیر نه دا هم غوښتل چې د ترکو د سلطان لخوا د جهاد اعلان ومني . بریتانیې چې هر څومره وس وکړو چې هغه هیئت پرېنږدي، خو حبیب الله خان هغې ته تود هرکلی ووې . هغه دا معلومول غوښتل چې هغه هیئت څه پېښ کول او ایا د بېطرفۍ څه پایدار

بدل وه. خو شاید د هیئت په منلو هغه بریتانیې نه د افغانستان د استقلال د حد څرګندول غوښتل. او دا یې وریادول چې په هغو حالاتو کې ده ته د هغوی د ضرورت په نسبت هغوی ته د ده ضرورت زیات وه.

حبیب الله څو میاشتې په دقت سره کتل چې جنګ په کوم مخ اوړي او هغې هیئت سره یې د تړون نه ځنګ کولو. آخرکار د بریتانیې خلاف او د ترکو په حق کې د خلقو د احساساتو د ډاډ په خاطر هغه له نیدرمایر او فون هېنتېګ سره یو تړون وکړ. خو په جنګ کې د مرکزي قواو د مرستې په لړ کې د امیر شرایط دومره سخت وو، چې جرمني ته دا محسوسه شوه چې په خالي وعدو افغانان د پلویانو په خلاف څه عمل کولو ته تیار نه وو. ۷ په جنګ کې چې مرکزي قواوې په شا کېدلې او هیئت سره د امیر روش په کرار کرار سړېده نو اخرکار هغه هیئت په کال ۱۹۱۶ء کې رنګ شو. د هغې ټول اروپایي غړي له افغانستان نه ووتل. ترک د جنګ تر ختمېدلو پاتې شوي وو چې په قبایلي سیمو کې ګرځېدل او د بریتانیې په ضد یې تبلیغات کول. یولیکوال د دې هیئت د اصل مقصد په هکله د علاقې وړ معلومات داسې ورکړي دي:

اګر چې د نېدرمائېر هیئت په تخنیکي لحاظ ناکامه شوی وه، خو د هغې نور پټ مقاصد پوره شوي وو. هغه وخت چې نېدرمایر پاچا یعنې، امیر حبیب الله خان، سره خبرې کولې، نو د هغه د هیئت نورو غړو د هغه رعایې او د هندوستان ایجنټانو سره تماس نیولی وه. په هیئت کې هندي انقلابیانو په سرحد کې مسلمانانو زده کوونکو، او د هغوی په واسطه قبایلو او په هند کې مخالفو ډلو سره، په تماس نیولی وو. هغه بوګنونکی پلان، اګرچې د حقیقت نه لرې وه، د کومې په جریاناتو کې چې دا فعالیت کېدلو، داسې وضع شوی وه چې د کال ۱۹۱۶ء په اخره کې پایې ته ورسي، او په هندوستان کې د مسلمانانو یو عمومي پاڅون په روسي اسیا کې هم د هغې قسمه بغاوت سره برابر پورته شي. په تاشکند کې د جرمني بندیانو نه به یو عسکري قوا جوړه کړی شي. افغانستان به د دې عملیاتو مرکز وي، او د بریالیتوب په

صورت کې به حبیب الله خان د هندوستان پاچا وي ـ۸

ځینو خلقو د نېدرمائر او هېنتېک هیئت داسې ګڼلو لکه یوه خندنۍ ډرامه ـ دا داسې نه وه ـ جرمنیان په دې پوهېدل چې د هندوستان په دفاع د افغانستان د لورې نه ګوزار پکار وه، او د افغانانو د خاورې نه په نیمه وچه باندې یرغل ناشونی نه وه ـ په حقیقت کې له امیر سره په ابتدايي خبرو کې، هغوی ته دا یقین وه چې د یوې پرېکړې په حق کې حالات بېخي سازګار وو ـ

په هغه تړون کې چې د امیر او د نېدرمائر او هېنتېک هیئت تر مینځ شوی وه، جرمني په رسمي ډول د افغانستان بشپړ استقلال وپېژندو. دا خبره د علاقې وړ ده چې د عام خیال په خلاف جرمني اولنی هیواد وه چې د افغانستان استقلال یې پېژندلی وه ـ شوروي اتحاد په کال ۱۹۱۹ء کې داسې کړي وو ـ د نېدرمائر او هېنتېک هیئت په وړومبي ځل د جرمني او افغنستان تر مینځ تماس راوستو، چې په راتلونکو کلونو کې د افغانستان په انکشافي هڅو کې ډېر ګټور ثابت شو ـ

د امیر او جرمني تر مینځ په تړون باندې بریتانیې ځان ناګاره اچولی وه ـ هغو له پاره د افغانستان واقعي بېطرفي پکار وه ـ او امیر، سره د دې چې په ظاهره یې سر غړولو، په ټینګه سره دا تعقیبوله ـ

په کال ۱۹۱۸ء کې د مرکزي قواو ماتې افغانان د امیر خلاف وپارول ـ د هغوی په خیال هغه د ترکي عثمانیه خلافت سره فرېب نه کار واخستو او د کافرانو په خلاف یې د اسلام د ساتنې له پاره حرکت و نه کړو ـ امیرِ بلندې دا اعتراض هم په شدت سره کېدلو چې په بریتانیې یې زور و نه چولو چې د افغانستان بشپړ استقلال ومني ـ مخورېزو سردارانو او روشنفکرانو په جار د هغه سپکاوی کولو چې د هغو زمکو چې پخوا د افغانستان برخه وي د واپس اخستلو له پاره یې څه ګام پورته نه کړو.

امیر دا هېله لرله چې د بریتانیې په حق کې د هغه د بېطرفۍ په بدل کې به د هغه بشپړه استقلال، د کابل او لندن تر مینځ براه راست سیاسي روابط، او ان د زمکې رعایتونه هم ومنلی شي ـ د هغه دا هم خیال وه چې په کال ۱۹۱۷ء کې په روسیه کې چې کمیونستو اقتدار تر لاسه

کړو او د شمال د لورې خطرې ته یې نوې بڼه ورکړه، نو هغه به بریتانیا تشویق کړي چې د هغو تر مینځ ملګرتیا په هغو کرښو ټینګه کړي چې امیر یې وکالت کولو. خو هر کله چې جنګ ختم شو نو د امیر په هېلو او غوښتنو کې د بریتانیې څه علاقه پاتې نه شوه. او شاید تر یوې اندازې په روسیه کې د کمیونستهو د رااوچتېدلو په وجه، د افغانستان د باندېنیو چارو نه د لاس وېستلو نه یې انکار وکړو. د جنګ په دوران کې یواځېنۍ جایزه چې امیر تر لاسه کړې وه د پاچا جارج پنځم یو لیك وه چې هغه ته یې د "یوُر هائېنس" په ځای "یور مېجستي" خطاب کړی وه. او د هغه د بېطرفۍ تعریف یې کړی وه. د امیر د محبوبیت ټیټوالی صرف د بریتانیې لخوا څه ارزښتناك رعایت جګولی شو، خو هغوی هغې لور ته د خوځېدلو په چروت کې نه وو.

په هیواد کې دننه د خپل حیثیت ټینګولو په لړ کې حبیب الله خان د هند وایسرای لارډ چېمسفورډ ته د ۱۹۱۹ء د فرورۍ په دویمه نیټه یو مکتوب ولیکلو او غوښتنه یې وکړه چې د.ورسېلز د امن په کانفرنس دې د افغانستان نمایندګي وشي، او هغې کانفرنس کې دې د هغه د هیواد استقلال اعلان او تامین شي. د هند نه د هغې لیك د جواب د رسېدلو نه مخکې امیر د اوسني لغمان ولایت کلا ګوش کې د کال ۱۹۱۹ء د فرورۍ په ۱۹مه ورځ ووژلی شو. د قاتل یا قاتلانو او د هغوی غرض لا نه دی ښکاره شوی، خو دې کې شك نشته چې د بدلون بادامو چې په هیواد خورې وې او د افغاني قومیت نامکمله ارزوګانو هیڅکله یو داسې محافظه کار امیر نه شو زغملی، چې یو داسې استعماري طاقت غلامي یې کوله چې اسلامي ترکو ته یې زیان رسولی وه او د افغانستان د استقلال په هکله له خپلو وعدو نه په شا شوی وه

## Notes

1. Adamec, *Afghanistan, 1900–1923*, 30.
2. Ibid., 31.
3. Ibid., 49.
4. Ibid., 40.
5. Ibid., 64.
6. Related to me in 1973 by the late Ali Mohammad Khan, who, at the time, was a young courtier close to the amir and later occupied positions of importance including ambassador to London, foreign minister, deputy prime minister, and minister of court.
7. The treaty stipulated, among other things, that the German government would furnish to Afghanistan 100,000 rifles, 300 guns, appropriate munitions, other necessary war materiel, and £10 million sterling. The amir had stated, for the record, that he would not act unless 20,000 to 100,000 German or Turkish soldiers arrived in Afghanistan and not before all of India rose against Britain!
8. Fletcher, *Afghanistan*, 182.
9. Conversation in 1973 with Ali Mohammad Khan.

# دریم څپرکی

## د نړېوالو جنګونو تر منځ

د وروښني نړیوال جنګ په پای ته رسېدو سره د افغانستان په ګاونډي سیمو کې نوي حالات وټوکېده. روسیه کمونیستو ونیوله. د بریتانیې او روسیې تر منځ د لنډې مودې ملګرتیا غوټه شوه. په اسیا کې دواړو هیوادونو یو ځلې بیا د دښمنۍ لاره ونیوله. سره د دې چې د روسیې نوي واکمن د خپل رژیم په ټینګولو کې بوخت و، خو هغوی د بریتانیې په ضد د پخوا نه کار شرو کړی و، د ختیځ خلك یې د بریتانیې خلاف بغاوت ته لمسول. په اسیا کې د دوی د عمده هدفونو څخه یو دا و چې د قومیت په بنه هندوستان ته د هندي انقلابیانو سره د کومك او ملګرتیا په ذریعه خپل انقلاب صادر کړي. یو شمېر انقلابیانو بالشوېکو سره نزدي اړیکي قایم کړي وو.[١] ډېرو هندوستانیانو د بریتانیې د جنګ په فعالیتونو کې په جدي توګه برخه اخستې و. او اوس چې هغه جنګ ګټلی شوی و، چې د دې د خلکو د قربانۍ حصه هم پکې وه، نو دوی د هغې جایزې حق لرلو چې د مودو راسې ورته پسخېدل، یعنې د هغوی د هېواد استقلال. پلویانو د جنګ په دوران کې دا ویل چې دوی د خلاصون، جمهوریت او د خپلواکۍ له پاره جنګېږي. دې لپاره دا یو فطرتي امر و چې د جنګ په خاتمېدو نه صرف هندوستانیانو بلکې د اسیا ټولو مستعمره خلکو دا هېله لرله چې هغه سپېځلي اصول به د وړاندې کوونکو له خوا عملي شي. د هغه ورځو شعار و "اسیا د اسیاوالو لپاره!"

د بریتانیې امپراتوري په حقیقت کې د هند امپراتورۍ پرېښودلو ته تیاره نه و. د جنګ نه راپېدا شوي نوي روشونو او فکرونو او د برطانوي جزېرو د عمده ګټو روغه نه راتله. د ګاندهي د کانګرس ګوند تر فشار لاندې بریتانیې

د "خپل اختیار" په لور یو کوچنی ګام پورته کړ، او هغه دا چې په ۱۹۱۹ء کې یې د مونټېګ او چېمسفورډ په نوم اصلاحات ورکړل - د هغې یې ډېره ډنډوره وډنګوله خو هغې ضرورت ته یې جواب ونه وایه چې په نیمه وچه کې لکه د تودې بادامې الوتی و -۲

په حقیقت کې هغه اصلاحات د هغو قوانینو په پرتله سپك شو چې د ولسي اختیار او د استقلال په لاره د خوځښتونو د مخنیوي لپاره رائج شو - هندوستانیانو د هغو ګامونو په سخته سره مخالفت وکړ - په هغو وختونو کې تر ټولو سخته غمیزه د ۱۹۱۹ء د اپرېل په میاشته کې د امرتسر قتل عام و، کله چې بریتانوي عسکرو په یو ګڼ شمېر هغو خلکو ګولۍ وچلولې چې د حکومت د یو فرمان خلاف د یو مذهبي میلې لپاره راغونډ شوي وو - ۳۷۹ کسان مړه او د سلو نه زیات ټپیان شو -۳

"د دې پېښې قهرجنو عواقبو دنیا ولړزوله او نژدې و چې جنرل رېګینالډ ډائر د وظیفې نه ګوښه کړی شي - هم دې پېښې ګاندي لپاره اقتدار ته او په هند کې د بریتانوي واکمنۍ خاتمې ته لارې پرانیستلې -"۴

په ماتې خوړلي ترکو باندې د سولې زښت ډېر شرایط تحمیلول د بریتانیې خلاف د خفګان د زیاتېدلو یو بل لامل وګرځېدو - د هند مسلمانان په عملي توګه د هغو شرایطو خلاف وو، ځکه چې ذوی هم د انګرېزانو په هغه پوځ کې شامل وو چې مرکزي قواو ته یې ماتې ورکړې وه، او د ترکو د ماتې مسئولیت یې انګیره.

له دې مشکلاتو نه پرته، چې بریتانیې ته پېښ وو، په هند کې بریتانوي واکمن په دې ډېر پرېشان وو چې په روسیه کې د واك واګې د کمونیستو لاس ته ورغلې وې او هغوی په نړۍ کې د انقلاب راوستلو اراده او هدف لرلو - د کمیونستو د وېرې په مقابل بریتانیا هم د بالشوېکو خلاف د پلویانو په مبارزه کې ورګډه شوه، او د انقلاب ضد عناصرو مرستې ته یې ملا وتړله - د پلویانو مداخله د بالشوېکو د حکومت په لرې کولو کې ناکام شو - یو څو کاله نور په منځنۍ اسیا کې د انقلاب ضد عناصرو چې په حقیقت کې ملت پرست وو د بالشوېکو ورته باسمچي یعنې اشرار ویل، د روسیې د حاکمیت د لرې کولو لپاره مبارزه جاري وساتله، خو د ځینو ابتدایي ګټو نه پس سور پوځ هغوی له مینځه یوړ - په دې کې شك نه و چې بریتانیا په دې ډېره مایوسه شوې وه چې د لسېزې په ختمېدلو د افغانستان په شمال کې پرتو سیمو کې د شوروي خلاف د ذکر وړ څه مقاومت نه و - څو پورې چې د بریتانیې او د ډیورنډ کرښې نه ورایسته د قبایلو تر مینځ د خړپړتیا تعلق و، نو د جنګ خاتمې سره هغه بیا راپورته شوه - د قبایلو حملې مخ په زیاتي وې او په سرحد کې بریتانیې بیا تعزیري عملیات پېل کړل.

دننه په افغانستان کې د استقلال چپو فضا خړه کړې وه. سراج الاخبار، چې د امیر حبیب الله په دوره کې شرو شوی و، او محمود طرزي خورولو، په روښن فکرانو خورا ډېره اغېزه کوله.[٥] دې سره افغانان په داسې مسئلو ورکېوتل لکه د خلافت انجام، اسلام، او د هغوی خپل ملت[٦] د افغانستان د استقلال په اړوند د خپلو وعدو نه د بریتانیې په شا کېدلو، په هندوستان او سرحدي سیمو کې د ظلمونه او د عثمانیه امپراتورۍ د ړنګېدلو په هکله د افغانانو فکر د بریتان یې خلاف لمبو ته لمنه وهله. پرته له دې په دربار کې داسې مخورېزه عناصر ‌وو. هغو په دې دلیل زور اچولو چې د زار د امپراتورۍ ړنګېدلو، او د هغې په نتیجه کې د روسیې کمزوره کېدلو په شمال کې د فشار زور هم کم کړی و، نو افغانستان لپاره د بریتانیې په ساحه کې د اوسېدلو څه جواز پاتې شوی نه و.

په داسې چاپېریال کې د کرامت ښتن او په استقلال مین د حبیب الله دریم ځوی امان الله د افغانستان د امیر ځای ونیوه. د امیر په حیث د امان الله په وړومبنو کارونو کې یو دا و چې د افغانستان استقلال یې اعلان کړو او بریتانیې ته یې درخواست وکړو چې د برابرۍ په اساس د یو نوي دوستانه تړون لپاره خبرو ته کېني. د هند حکومت په ناڅاپې ډول یو مشکل سره مخامخ شو. په جنګ ستومانه بریتانیې د امان الله خلاف د زور له روش نه زرغونېدونکې خطرې نه ځان ژغورلو، خو د افغانستان د باندېنیو چارو واك پرېښودلو ته هم تیاره نه وه. بله خبره دا وه چې "تر ډېرې مودې خو د انګرېزانو او افغانستان تر مینځ تړونونه په ذاتي ډول امیر سره کېدل، نو د دې نه انکار کول، چې امان الله د یو نوي تړون د غوښتنې حق لري، مشکل وو."[٧] د هند وایسرای لارډ چېمسفورډ د امان الله په جواب کې استقلال ته د حوالې ورکولو نه ډډه وکړه او د یوې بانې په څېرېې د پخواني امیر په مرګ ماتم ته اشاره وکړه، چې د امان الله تجویز لاندې په تړون خبرې و نه شي.[٨]

امیر او د هغه درباریان زر په دې وپوهېدل چې د بریتانیې له خوا د افغانستان د پېژندګلو په لړ کې مهذب درخواستونو او ډپلوماتیکو هڅو نه سېوا څه پکار وو. دوی فېصله وکړه چې د کومې نه چې انګرېزانو زیاته وېره کوله هغه پلمه ورته جوړه کړې، یعنې یو قبایلي پاڅون. ډېر زر په سرحدونو کې د جهاد غږ وګونځېدو. قبایلي مشرانو جلال آباد او کابل کې جرګې جوړې کړې او په تادۍ سره یې قبایلي لښکر ودرولو. امیر فیصله وکړه چې د پاڅون د پیاوړتیا لپاره ډکې، خوست او سپین بولدك سره سره د هند سرحدونو ته د افغانستان د باقاعده پوځ قطعې ولېږي. د هند په سرحدونو د پوځ حرکت او قبایلي بغاوت په هند کې دننه د یو کېدونکي پاڅون سره سم په نظر کې نیول شوي وو.

امان الله ته دا معلومه وه چې د بریتانیې خلاف د هغه جنګیالی موقف

به هغه توازن ګډوډ کړي کوم چې د هغه مشرانو په ډېر زغرده ساتلی و. په هر حال د هغه دا خیال و چې که افغانستان د نړۍ نورو ملتونو سره ځای نیول غواړي نو د تېر وخت نه به ځان شوکوي. د هغه دا فکر و چې د بریتانیې د سوري لاندې هغه اصلاحات او پرمختګ نه شو کېدلی چې هغه یې ډېر ارماني و. هغه ته دا هم پته وه چې د استعماري دورې نخښې ورانولو کې خطرې پټې وې، خو هغه په هغو خطرو ورختلو ته پخه اراده کړې وه، او بدلو حالاتو چې په افغانستان کې د ننه او د ګېر چاپېره د افغانستان د مکمل استقلال له پاره کومه نادره موقع پېدا کړې وه، هغه د لاسه ورنه کړي.[٩]

بریتانیې ته د ودرېدلو له پاره تیاری له نیولو سره امیر په ډپلوماتیك اړخ هم تیاری نیولو. په دې لړ کې هغه له پاره یوه منطقي خوښه دا و چې روسیه کې د نوي رژیم سره روابطو له پاره لاره خلاصه کړي. امیر ته د کمیونستو د خطرو وېره وه، خو دا فکر یې کاوه چې بالشویك کورني ستونزو کې داسې بوخت وو چې افغانستان ته ترې څه خطره نه وه، او د بریتانیې خلاف د هغوی له غوصې ډك دریغ به د بریتانیې خلاف د یو اړم په ډول استعمال کړی شي. د کال ۱۹۱۹ء د اپرېل په میاشت کې لینن او د هغه د باندېنیو چارو کمېسار چیچېرین ته هغه او د هغه د باندېنیو چارو وزیر محمود طرزي پېغامونه ولېږل. په هغو پېغامونو کې دوی په روسیه کې نوې رژیم ته هرکلی وویل او له هغې سره د دوستانه روابطو ساتلو خوښه یې څرګنده کړه.[١٠] په جواب کې لینن د امان الله هڅې ته تود هرکلی وویل او ښکاره یې کړه چې "د اقتدار لاس ته راوړلو د پېل څخه شوروي حکومت نړۍ ته خپل ارمان څرګند کړی و چې نه صرف د ټولو ملتونو، لوی وي که کوچني، د خپل اختیار حق ومني، بلکې هغو ملتونو سره مرسته هم وکړي چې د خپل استقلال له پاره هلې ځلې کوي."[١١] محمد ولي خان چې د امان الله یو نږدې سلاکار و، ماسکو ته ولېږلی شو. هلته لینن د کال ۱۹۱۹ء د اکتوبر په ۱۸م تاریخ هغه ته هرکلی وویلو. د امیر شېر علي خان د غورځېدلو نه پس دا وړومبی ځل و چې یو افغان واکمن داسې په جار په شمال کې "وحشیانو" ته د دوستۍ لاس وروغزولو. آیا د هغه انجام به هم د هغې بدبخته امیر غوندې و؟

په دې دوران کې په ختیځه جبهه کې څه محلي پېښې وشوې. افغان قوماندان د وخت نه مخکې په عملیاتو پېل وکړو. د هغې په جواب کې انګرېزانو ډکه ونیوله. په افغانستان کې دننه د هغه ځای د نیولو نه د هند حکومت لندن ته د کال ۱۹۱۹ء د مۍ په ۱۵م تاریخ خبر ورکړو. او دغه شان د انګرېزانو او افغانانو تر مینځ دریم جنګ ونښتو. انګرېزانو په سویلي جبهه کې په تادۍ سره د کندهار په لاره سپین بولدك ونیوه. د هند حکومت له ډکې نه د جلال آباد په لور حرکت ته چمتو و او د کندهار نیول یې هم تر جدي غور لاندې نیولي وو. خو

کورنی حکومت په دې ترتیب په مخکې تګ باندې سا نیولی وه . هغې هند ته خبرداری ورکړو چې "په یو څو مستقلو مسلمان دولتونو کې که په یو باندې برید وشي نو په نورو ځایونو کې د وخیمو عواقبو لامل کېدلی شي، او په پاریس کې روانې د سولې خبرې به ارومرو تر تاثیر لاندې راځي . لندن معلومول غوښتل چې آیا خپل حالت ته په ستنېدلو د سولې امکان و ."١٢

افغانانو په ختیځې او سویلزې جبهو کې څه خاص توره ونه کړه، د افغان قواو سرلښکر جنرل نادر خان، چې د منځنۍ جبهې قوماندان و خوست کې د متون نه په وزیرستان وروختو، او په ټل کې د انګرېزانو په اهم کوټ یې برید وکړ . دې بریالیتوب انګرېزان مجبور کړه چې د خپلمنځې جبهې نه څه عسکر وزیرستان ته ولېږي . دې سره په جلال آباد فشار کم شو . په وزیرستان کې د نادر خان پرمختګ قبایل چې د مخکې نه د جنګ په حالت کې وو، اوچت کړل .

اګر.چې د افغانانو اولنی هدف ټل و، خو د نادر خان پرمختګ په وزیرستان کې تر ډېرې مودې خپل اثر پرېښی و ۰۰۰ په وانا کې د قبایلو نه جوړې ملېشې بغاوت وکړو او کلا یې ونیوه ۰۰۰ په وزیرستان کې نورې څوکۍ هم لکه د پخې میوې وغورځېدې . تقریباً د شلو زرو وزیرو او محسودو په مقابل کې خورې ورې ملېشې او هندي عسکرو په مشکله خپله دفاع کولی شوه . د هغو قبایلو نه ډېر داسې وو چې په لویدیځه جبهه او ختیځې افریقا کې بریتانیې سره جنګېدلي وو . په وزیرستان کې ارامي راوستلو کې څه دوه کاله تېر شو.١٣

په بریتانیا کې کورنی حکومت له افغانستان سره د نښتو او په سرحدي سیمو کې د خورېدونکي بغاوت د عواقبو نه پرېشانه وه او د هغې شخړې پرامن حل یې ډېر زر غوښتو . د لندن تر فشار لاندې د هند حکومت دا حالت ومنلو . امان الله چې په ختیځې او سویلي جبهو کې د خپلو عسکرو د فعالیت نه مایوسه و، نور نه غوښتل چې هغوی نور عسکري زیانمن حالت ته برخېره کړي . له دې نه پرته قبایلي اړی ګړی ځان ته خپل فطرت لري . هغه د کنټرول نه د باندې غورځنګ وهلی او واپس راګرځېدلی شي او د افغانستان په طرف هم وخیم حالت پیدا کولی شي . هند کې د بغاوت ناکامي یو بل علت و چې د امان الله خان جنګي روحیه یې سړه کړه، او هغه یې تشویق کړو، چې په جالوت باندې د داود د غړ نه، بریتانیې او هند کې چې کوم رواني ټکان شوی و د هغې نه ګټه پورته کړي .

نادر خان ته په وزیرستان کې د بریالیتوب نه.د نورې ګټې اجازت ور نه کړی شو . امیر هغه ته هدایت وکړو چې د ټل نه واپس شي او د انګرېزانو او افغانانو تر مینځ شخړه دې.د ډیپلوماتېکي لارې حل ته پرېښنوی شي . دا راز د

انګرېزانو او افغانانو تر مينځ دربمه جګړه چې د استقلال په جنګ هم يادېږي د کال ۱۹۱۹ء د جون په پېل کې پای ته ورسېد. د دواړو مخالفينو د باقاعده پوځونو تر مينځ په عملي توګه روغه راغله، خو پښتنو قبايلو د انګرېزانو د رسد په کرښو حملې کولې. په دې دوران کې د مۍ په اخر کې شوروي اتحاد په رسمي ډول د افغانستان استقلال وپېژانده.

د کال ۱۹۱۹ء د جولای په ۲٦م تاريخ د افغانانو او انګرېزانو هيئتونه په وړومبي ځل د هند په راولپنډۍ کې د روغې خبرو ته کښېناسته. د افغاني هيئت مشر د کورنيو چارو وزير علي احمد خان و، او د انګرېزانو د هيئت مشري د هند د حکومت د باندينيو چارو د دارالانشاء غړي ای، اېچ ګرانټ کوله. د امير له پاره د بريتانيې له خوا د افغانستان بشپړ استقلال پېژندل لازمي وو، نو د راولپنډۍ په خبرو کې د افغانانو عمده موضوع هم دا وه. نورو موضوعاتو کې چې د انګرېزانو موافقت يې پرې غوښتلو د ډيورنډ کرښې نه ورايسته قبايلو، خصوصاً وزيرو، محسودو، افريدو او مهمندو چې په جنګ کې يې د افغانستان ملاتړ کړی وه، ته عام معافي، او افغانستان ته د ځينو سيمو لکه وزيرستان واپس ورکول شامل وو.

د افغانستان د حقيقي استقلال باوجود، چې په هغه وخت، له شوروي اتحاد سره د هغې اړيکو نه ښکاره وه، انګرېزانو ته د هغې حقيقت منل ګران وو. هغوی له پاره افغانستان اوس هم د هندوستان له پاره کيلي وه. تر څو پورې چې افغانستان ته د سيمو ورکولو تعلق وه، نو انګرېزان په جدي توګه د داسې قسم انتظام مخالف وو او په دې اړوند يې خپل دريغ ښه څرګند کړی وه. دا راز د اختيار منلو موضوع انګرېزان مجبور کړي وو چې قبايلو ته د معافۍ په هکله د افغانانو غوښتنو ته پام ونه کړي. د انګرېزانو فکر وو چې هغوی سره معامله دانګرېزانو کار دی د بل چا غرض ورسره نه شته. په خبرو کې انګرېزان صرف د امن منلو، په خپل طرف د عسکرو واپسۍ او د شپږو مياشتو امتحاني دورې نه پس "که امير توب ګار وي" د دوستۍ د يو تړون لاسليک ته چمتو وو.[۱۴]

د خبرو په دوران کې ګرانټ محسوسه کړه چې افغانانو جنګ ته صرف په دې غرض غاړه اېښې وه چې انګرېزان د هغوی استقلال وپېژني، او د هغوی هيئت به تر هغې واپس لاړ نه شي چې دا په رسمي توګه پېژندل شوی نه وي. هغه دا محسوس کړه چې د افغانانو د استقلال د پېژندګلو نه انکار ممکن نه وه، تر هغې پورې چې انګرېزان بيا خرپړتيا جوړه کړي او په سرحد باندې قبايلي بوختې ته تيار شي. دې له پاره هغه خپل حکومت ته مشوره ورکړه چې د افغانستان د استقلال پېژندګلو ته وروخوځي. د هند وايسرای لارډ چيمسفورډ هم "ومنل چې د مينځني ختيځ په سياسي بڼه کې د عمومي ناارامۍ، بېدارې شوو ملي هېلو،

د ولسمشر ویلسن فرمان او د بالشویکو راښکونکو شعارونو په وجه ډېر تغییر راغلی دی." ۱۵ داسې حالاتو کې وایسرای محسوسه کړه چې د افغانستان استقلال نور نه شي ځنډېدلی، خو هغه فکر کاو چې دا به د انګرېزانو د اندېښنې لامل نه شي، ځکه چې "امان الله به ډېر زر قانع کړی شي چې هغه په یوازې ځان خپلې چارې په مخ نه شي بوتلی."۱٦ د وایسرای دا امید وه چې "که مونږ د افغانستان اتبار بیا وګټلو او مشکل وخت کې په داو طلبانه توګه هغوی زمونږ مرستې ته تیار شي، نو مونږ به د کاغذ د یوې پرزې نه زیات ډېر څه تر لاسه کړو."۱۷ د نورو عواملو په جم کې د هغه مېکاولیزه فطرت هم کورني او هندي حکومتونو ته دا رغبت ورکړو چې د افغانستان د استقلال په لړ کې د خپل دریځ ارزښت بیا وتلي. او د دې پېښې منلو ته په ذهني توګه تیار شي.

علي احمد د افغاني دریځ په وړاندې کولو کې دا سپینه کړه چې افغانستان بریتانیې سره ښه روابط ساتل غواړي. هغه "د کمونېزم د خطر خبرداری ورکړو، او د هغې په هکله یې خپله "وېره" ښرګنده کړه. هغه دا ادعا وکړه چې افغانستان نه د کمونېزم د باندې ساتل به د دواړو په ګډو ګټو کې وي."۱۸ خو هغه په دې ټینګار وکړو چې د افغانستان په خارجي او داخلي واکمنۍ خبرې نه شي کېدلی. د افغان نماینده په خیال له بریتانیې نه ازادې او هغې سره نزدې اړیکي د موافقې حاجت نه لري. د قبایلي حالاتو په ضمن کې هغه وویل:

ټوله قبایلي سیمه دې افغانستان ته وسپارلی شي. هغه به د دې اداره په داسې ترتیب کوي چې په دې معامله کې بریتانوي حکومت ته څومره مشکلات پېښېدل د هغو نه به خلاصه شي. د قبایلو په اداره چې د بریتانوي حکومت څومره خرڅ راځي د هغې په نیمه دې د افغانستان حکومت ته ور کوي.۱۹

ګرانټ د قبایلو او د وزیرستان د سپارلو په شمول د زمکنیو رعایتونو په ارتباط د افغانستان دریځ رد کړو، خو دا اشاره یې ورکړه چې د بریتانوي حاکمانو په روش کې افغانستان ته د ازادۍ په ورکولو کې مثبت تغییر راغلی دی.

ګرانټ له افغانستان نه د هندي انقلابیانو د وېستلو مسئله هم وڅېړله، خو کله چې علي احمد افغانستان ته د قبایلو سیمو په ستنولو او قبایلو ته د معافۍ په ورکولو ټینګار کاو، نو هغه یې شا ته واچوله. افغانانو او د هغوی کوربنو تر څه وخته پورې خپلو ستومانونکې غونډو کې ګډون کولو تر هغې چې برطانوي هیئت بالاخره د افغانستان د استقلال د پېژندلو اعلان وکړ. هغې افغانانو ته خبر ورکړو چې د هغوی کالېزه اعانه او د مرحوم امیر په حق کې کومه بقایا پاتې وه هغه ختمې کړی شوې. د بریتانیې رسمي دلیل دا وه چې د اعانې ورکول

د افغانستان له استقلال سره سمون نه خوري ـ خو دا ښکاره وه چې د اعانې ختمولو او په خصوصي توګه د بقاياجاتو نه ورکولو مقصد دا وه چې بريتانيې د امان الله خان خلاف خفګان څرګند کړي، په دې چې هغه د هغو د سپکاوي په خاطر د هغو خلاف د پاڅېدلو جرآت کړی وه ـ بريتانيې دا فېصله هم واوروله چې د هند د لارې افغانستان ته د وسلو او مهماتو لېږل، د دواړو هيوادونو تر مينځ د دوستۍ د يو تړون تر کېدلو، وځنډولی شو ـ

د نوموړي بريتانوي حکومت او د مستقل افغان حکومت تر مينځ د امن لوزنامه په راولپنډۍ کې د 1919ء د اګست په 8م تاريخ وشوه، او د دواړو هيئتونو مشرانو لاسليك کړه ـ لکه چې له عنوان نه ښکاره ده، دا يوازې د امن لوزنامه وه چې په رسمي توګه دښمني ختمه کړي ـ څرنګه چې دا لوزنامه د امير او د بريتانوي حکومت تر منځ نه بلکې د دوو دولتونو تر منځ وه، نو دا خبره سپينه شوه چې بريتانيې اخر افغاني واکمنو سره په ذاتي حيثيت د تړونونو کولو خپل روايتي دريځ پرېښو ـ د افغانستان استقلال د بريتانيې دريځ شنډ کړو ـ په هغې مکتوب کې چې د لوزنامې يوه برخه وه، ګرانټ خپل يقين علي احمد ته داسې څرګند کړ: "دا لوزنامه او دا مکتوب په رسمي توګه افغانستان په داخلي او خارجي چارو کې ازاد او مستقل پرېږدي ـ له دې نه پرته دې جنګ ټول پخواني تړونونه منسوخ کړه ـ"[20] په هر حال د نوي لوزنامې پنځمه فقره داسې وايي: "د افغانستان حکومت د هندوستان او افغانستان تر مينځ هغه سرحد مني چې پخواني امير منلی و ـ" په دې ډول د هغوی د هڅو باوجود افغانان د هغې يو تړون يعنې "ډيورنډ تړون" په لغوه کولو کې کامياب نه شو چې دوی په جدي توګه دغسې غوښتل ـ

د لوزنامې وروميني فقرې داسې شرط ايښی وه چې: "د لوزنامې د لاسليك د نېټې نه به د دواړو حکومتونو تر مينځ سوله وي ـ" دويمې فقرې د هغې رعايت د واپس اخستلو اعلان وکړو "د کومې د مخه چې پخواني امير د هند د لارې افغانستان ته وسله او مهمات او جنګي سازوسامان واردول ـ" په دريمه فقره کې د امير حبيب الله په حق کې د اعانې بقاياجات ضبط، او نوي امير ته د اعانې ورکول ختم کړی شو ـ څلورمه فقره کې چې د شپږو مياشتو امتحاني مودې پورې تړلې وه، ويل شوي وو چې د بريتانيې حکومت چمتو دی چې "شپږ مياشتې پس يو بل افغاني هيئت ومني چې د دواړو حکومتونو د شريکو ګټو په معاملو غور او پرېکړه وکړي او د ډاډ وړ اساس باندې زړه دوستي بيا قايمه کړي ـ"

د لوزنامې د لاسليك نه پس ډېر زر ډکه او سپين بولدك افغانستان ته وسپارل شو ـ خو د لوزنامې د يو شرط د مخه د کال 1919ء د اګست او ستمبر په مياشتو کې يو بريتانوي کمېشن په يومخيز ډول د خيبر په لويديځه سيمه کې

د ډیورنډ کرښې یوه پاتې برخه ټینګه او یوه ټوټه زمکه چې د افغانانو پرې دعوا وه د بریتانیې قلمرو کې شامله کړی شوه.

آخرکار د ازادۍ له پاره جنګ په ګټه تمام شو. "څنګه چې د افغانانو خیال وه جنګ هغه شان ونه شو، خو دا یو ستر بریالیتوب و، څکه چې د دې په نتیجه کې افغانانو د بریتانیې نه بشپړ او دایمي استقلال وګټلو."[21] فریزر ټېټلر د افغنستان د استقلال د ګټې بیان په داسې جالب انداز کې کړی دی:

برطانوي حکومت هیڅکله نه غوښتل چې هغې جنګ جاري ساتلو سره خپل مسئوولیت زیات کړي، د کوم جنګ په نتیجه کې چې د افغانستان د تجزیه کېدلو او د روسیې او بریتانیې تر مینځ د مینځګړي هیواد د نیشت کېدلو امکان موجود وه. یو ځلې بیا او په ډېر یو ښه منطق بریتانیې داسې پېښېدونکې صحنې نه ډډه وکړه. د هغې په ځای بلې انتها ته واوړېده. د هغې خلکو، چې پېړۍ په پېړۍ یې هغوی ته د کرکې په سترګه کتل، یو غېر مسئول او سرتېزه زلمي حاکم ته د هندوستان د دفاع کیلي ښېرته ورکړه، چې د هغه د مشرانو نه یې اخستې وه. دا د سیاستمدارۍ یو بل داسې مهم کار و، چې صرف د یوې اوږدې مودې کړنلارې د کامیابۍ په صورت کې یې جواز موندلی شو. خو د ناکامۍ په صورت کې به په سیاسي قمار کې د ټولو نه لوی بېجوازه شرط ګڼلی شو. هغې افغاني هیئت ته چې په جولای کې تر راولپنډۍ راغلی وه، کومه پرېکړه چې واورولی شوه چې افغانستان به "په رسمي توګه په خپلو کورنیو او بهرنیو چارو کې ازاد او مستقل وي" د بدلېدونکې نړۍ په صحیح ډول د ارزښت د سنجولو نتیجه وه. په هر حال د ښثباته حالت په استحکام راوستولو کې د سینټ پیټرسبرګ لوزنامه که هر څومره ارزښتناکه وه، خو پخپله د اداره کوونکو یا د هغو د وکیلانو د موجودګۍ نه بغېر د یو بل هیواد باندېینۍ چارې د لرې نه اداره کول تر ډېره وخته دوام نه شي ساتلی.[22]

په ۱۹۲۰ء کې د افغانستان او بریتانیې تر مینځ روابط سخت کړکېچن شو، کله چې انګرېزانو د پښتنو سیمو کې بیا خپل لاس وهنه پېل کړه، او د وزېرو او محسودو سیمو ته یې په بېساري زور سره حرکت وکړو. د انګرېزانو د تېري په خلاف د قبایلو پاڅون سخت وه:

په وزېرستان کې عسکري عملیات د تل له پاره د تېرو عملیاتو نه زیات زیانمن وي. په ۱۹۱۹.۲۰ء کې د "پولیس عمل" څه نوې خبره نه وه. د دوو غرونو تر مینځ په یوه تنګه دره کې پنځه ورځې پرله پسې پنځه زره هندي عسکر او لس زره محسود لاس په لاس نښتي وو. د هغې په

نتیجه کې د دوو زرو نه زیات انګرېزان او هندوستانیان مړه او ټپیان شو ـ د سرحدي جنګونو په تاریخ کې د امپراتورۍ له پاره دا د ټولو نه زیات زیانمن وه ـ څلور زره محسود هم په دې جګړه کې لویدلي وو.[٢٣]

هیڅ یو افغان واکمن له ډیورنډ نه وراهاخوا پښتنو سره په داسې سخت روش غلې نه شو پاتې کېدی، په تېره بیا امان الله خان سره چې د استقلال په جنګ کې دوی په نره او زړورتیا ملا تړلې وه ـ لکه چې هېله کېده، هغه دې خلکو سره اخلاقي او مادي مرسته وکړه ـ هغو خلکو چې د انګرېزانو نه تښتېدلي وو په افغانستان کې امن او استقرار وموند ـ

شاید د افغانستان د "بائېلات" د پوره کولو په لړ کې د بریتانیې چې په سرحدي سیمو کې د ارامۍ راوستلو او راغونډولو له پاره کومه کړنلاره وضع کړه هغې ته یې "ترمیم شوې مخ په وړاندې کړنلاره" ویل ـ دا ګومان دلیل لري چې انګرېزانو، چې همېشه له پاره د هندوستان ساتنې په اندېښنه کې اچولي وو، د افغانستان او هندوستان تر مینځ د قبایلي سیمې نه یوه داسې د مینځګړتوب پټۍ جوړول غوښتل چې د دوی د لاس لاندې وي او هلته خپل موقعیت په خورا ډاډ ځای په ځای کړي، ولې چې کابل کې هغې "غیر مسئوول" واکمن بې اتباري او د بریتانیې ګټو سره دښمني ثابته کړه.[٢٤]

په سرحد کې د انګرېزانو له خوا د تېري کونکې کړنلارې او د هند د لارې د وسلې وارداتو باندې د راولپنډۍ لوزنامه کې بندیز امان الله مجبور کړو چې شوروي روسیې سره نژدې اړیکي قایم کړي او وسلې له پاره هغې هیواد ته مخ واړوي ـ[٢٤] محمد ولي خان چې د لینن له خوا ومنلی شو شوروي مقاماتو سره د روسیې او افغانستان تر مینځ د یوې لوزنامې په امکان خبرې اترې پیل کړې ـ بالشوېکو افغانستان ته د عسکري او تخنیکي مرستو وعده ورکړه، او د "شوروي ترکستان د کُشك نه تر هراته پورې د رېلوی لاین په غزولو یې زور واچولو ـ دا یو داسې درخواست و چې افغانان یې په منلو راضي نه ښکارېدل ـ"[٢٥] دې خبرو پرته له دې چې د دواړو خواو ترمینځ د ښه نیت یو چاپېریال رامنځته کړي، څه خاص نتیجه ور نه کړه.

له استقلال نه پس په کابل کې د روسیې وړومبني ګرځنده مامور الېګزنډر براوېن ماسکو کې پیل شوې خبرې د ١٩١٩ء په آخر کې جاري وساتلې ـ بالشوېك په تلوسه کې وو چې افغانستان د بریتانیې نه وشوکوي او یو داسې ملګری وګټي چې په ختیځ کې د هغوی د اقتدار په ټینګولو کې ورسره مرسته وکړي[٢٦] خو د هغوی د مرستو وعدې او افغانستان سره ملګرتیا تر اوسه پورې مبهمې وې ـ دې ابهام او د شوروې روسیې په کورني حالاتو کې د بې یقینۍ

وضعې امیر هغې هیواد سره د یو لوبغاړي ترون کولو په لړ کې بې سُره کړی و. بل اړخ ته د انګرېزانو او افغانانو تر مینځ نازکو اړیکو افغانان له روسانو سره د خبرو د ختمولو نه راښکلي.

د افغانستان او شورویانو تر منځ تازه دوستۍ روسي منځنۍ اسیا کې افغانان د فعالیت نه وانه ړول. هغه وخت هغه فعالیتونه لا زیات شو څه وخت چې په ترکستان کې کمیونستانو واك تر لاسه کړو او د روسیانو اداره کمزورې شوه. د دې فعالیتونو شا ته د پان اسلامیزم یعنې د اسلامي یووالي روحیه وه، او هغه ارمان وه چې هغه افغاني سیمه، خصوصاً پنجده، چې یو څو لسیزې پخوا د زار حکومت له خوا نیولی شوې وه، واپس ونیسي. د افغانانو د اسلامي یووالي فعال کارکوونکو د امان الله خان تر مشرتابه لاندې د منځنیو اسیایي دولتونو د یو کنفدرېسیون جوړولو وکالت کولو. هغوی خپل دا ارمان پټ نه ساتلو چې د یو څو اسلامي هیوادونو د جم له خوا دې هغه خلیفه وټاکلی شي. داسې اشاره نه شته چې امان الله خان د دې مرام مخالفت کړی و. په پېل کې شورویانو د اسلامي یووالي د تبلیغاتو مخالفت نه کاو. د هغوی دا خیال وه چې دا به په ختیځ کې د بریتانیې اقتدار ته ضرر رسوي. په هر حال کله چې پان تورانزم یعنې د ترکو د یووالي فکر چې د اسلامي یووالي نه زېرېدلی و اهمیت وموندو نو هغوی سره فکر پېدا شو.

څنګه چې د راولپنډۍ د لوزنامې هغه امتحاني موده ختمه شوه، بریتانیې په یو دوستانه ترون خبرو له پاره یو افغاني هیئت هندوستان کې مېسوري ته وبللو، شاید په دې غرض چې د روسیانو او افغانانو تر مینځ د ملګرتیا مخه ونیسي. دا ګومان به بېځایه نه وي چې د انګرېزانو په نظر کې امان الله سره د ښکاره بداوي او د هغه له خوا قبایلو سره تعلقات ساتلو او د هندي انقلابیانو مرستې کولو باوجود د شمال د لورې د "سرې خطرې" اهمیت افغانستان ته د سولیزې اشارې له پاره کافي وه. د محمود طرزي تر مشرۍ لاندې افغاني هیئت مېسوري ته د ۱۹۲۰ء د اپریل په میاشت کې ورسېدو. د بریتانیې هیئت مشري د هند د حکومت د باندېنیو چارو منشي هنري ډوبز کوله.

د کانفرنس په پېل کښې، محمود طرزي د یو بامقصده ترون په لړ کې د قبایلو د چارو د حل کولو په اهمیت او ضرورت باندې ټینګار وکړو. د افغانانو په فکر دا حل په داسې صورت کې ممکن وه چې هغه سیمې یا افغانستان ته وسپارلی شي او یا ازادې کړی شي. د مسورې په خبرو کې افغاني هیئت په وړومبي ځل د برطانیې د قبضې لاندې د پښتنو د سیمو د مسئلو د حل له پاره د خپل اختیار د اصولو په کار راوستل غوښتنه وکړه. انګرېزانو د وړاندېز سخت مخالفت وکړو.

طرزي ډوبز ته د افغانستان د حکومت دا غوښتنه ښکاره کړه چې هغه خپلو انکشافي چارو له پاره د برطانیې مالي او تخنیکي مرستو هیلمن و. هغه ډوبز نه وغوښتل چې افغانستان ته د وسلې په وارداتو بندېز دې ختم کړی شي.

افغانانو د کابل او لندن تر مینځ د براه راست تعلقاتو قایمولو خواهش هم څرګند هم کړو. افغانان د خلافت او د اسلامي ترکیې په هکله فکرمن وو نو طرزي ډوبز ته یې واضحه کړه چې افغانان د پلویانو له خوا ترکیې سره د ښه سلوك ارزومند وو. هغه په پوره اطمینان دا وویل چې داسې سلوك به د انګرېزانو او افغانانو تر مینځ تعلقاتو نه کم از کم یو منفي توکی لرې کړي. خو د طرزي له خوا د ترکیې وکالت په انګرېزانو څه اغېزه ونکړه. د اروپا په کونسلونو کې د ترکیې د قسمت فېصله د پخوا نه شوې وه. "په دې دوران کې ترکو سره د امن شرایط ښکاره کړی شو. او طرزي شکایت وکړو چې داسې ښکاري چې د اسلام خلاف یو نوی مقدس جنګ کېدونکی دی، ځکه چې المان داسې ونه وېشلو شو."[۲۷]

د خبرو په دوران کښې، ډوبز په قبایلي سیمو کې د افغانستان لاس وهلو، د هند "مخالیفینو" ته پناه ورکولو، او شوروي روسیې چې په جار یې د برطانیې مخالفت کولو، پلو په قلار قلار اورېدلو نه شکایت کولو. د قبایلو د چارو په هکله د افغانانو جواب دا وه چې د هغو سپیناوي ته ضرورت نه وه. د هندي انقلابیانو په هکله طرزي وویل چې هیواد نه د هغو وېستل د اسلامي قوانینو او د مېلمپالنې د روحیې خلاف وو. هغه ډوبز ته وویل چې برطانیه پخپله خپلو هندي رعایاو سره د ډېر تحمل نه کار اخلي او د هند قومیت سره موافقت څرګندوي. د افغانستان او روسیې تر مینځ د زیاتېدونکې نزدېکت نه چې د برطانیې هیئت کومه وېره څرګنده کړې وه د هغې په لړ کې افغانانو خپل حېرانونکې موافقت وښود. "که وزیرستان وسپارلی شي نو افغانان به په خپله خوښه د بالشویکو خلاف برطانیې سره ملګرتیا او د روسیې د نفوذ نه د ترکمنو، بخارا او خیوې د راوېستلو له پاره هڅه وکړي."[۲۸] خو وزیرستان کله افغانستان ته ورکولی شو! د هغې په ضد هلته عسکري عملیات زیات شو او انګرېزانو په دایمي ډول د محسودو د سیمو د نیولو تابیا کوله.[۲۹]

د زښتو توپېرونو د ډېرې ساحو په وجه د دواړو هیئتونو دا یقین وه چې د تړون څه امکان نه و. د کال ۱۹۲۰ء د جولای په میاشت کې د افغاني هیئت د تګ نه آګاهو ډوبز یوه لیکلې خلاصه هغې ته ورکړه چې د افغانستان او برطانیې تر مینځ د راتلونکې یوې لوزنامې له پاره پکې توکي لیکلی شوي وو. په دې ضروري توکو کې یو د افغانستان نه دا غوښتل چې د سرحد نه وراسته قبایلو نه لاس واخلي او په دې سیمو کې د برطانیې په ضد فعالیتونو ته اجازت ور نه کړي. که د یو قانوني سند له پاره افغان حکومت دا شرایط مني، نو برطانیه به ژمنه وکړي چې افغانستان سره د هغې د عصري کېدلو په هڅو کې مالي مرسته وکړي او د هندوستان د لارې د وسلې واردات به نه بندوي. له دې نه پرته برطانیه به د رېلوی پټړۍ او تار غزولو کې هم کومك وکړي، او د مالونو په وړولو راوړولو به د ټېکسونو او وارداتو حقوق کمولو کښې خصوصي رعایت ومني.[۳۰]

په مېسورې کې د افغاني هیئت د غړو ځینو حېرانونکي بیانونو نه دا

څرګندېدله چې امیر امان الله په دې خبر وه چې د افغانستان سلامتیا په ختیځ کې ده او هغه د شورویانو په مقابل کې برطانیې سره تړون ته ترجیح ورکولو. [۳۱] خو څه مهم توکي داسې وو چې افغانستان سره د روغې په صورت کې برطانیې ته منل پکار وو، او هغو د امپراتورۍ زوړ روش سره چې برطانیه ورپورې لا نښتې وه سمون نه درلود. برطانیې لا په جغرافیایي او سیاسي حقیقونو اډانه د برابرۍ په اساس دوستي او د دواړوو خواو حساسیتونو او ګټو توازن منلو ته غاړه نه ایښېوه.

له برطانیې سره د تړون په نه کېدلو مایوسه افغانان یو ځل بیا شوروي روسیې سره د یو تړون په لټه کې شو. د بخارا د امیر لرې کولو او هلته د یو شوروي حکومت قایمولو د افغانستان او شورویانو تر مینځ تعلقات ډېر زیات خراب کړي وو. [۳۲] سره د دې "افغانانو په ظاهره دا محسوسوله چې برطانیې سره د تړون نه بغېر روسیانو نه لرې کېدی نه شو." [۳۳] د امان الله د اسلامي یووالي او د ترکو یووالي په لړ کې فعالیتونو شورویان ډېر پرېشانه کړي وو. هغه نه صرف د بخارا امیر سره د "زلمي بخاریانو" په ضد د هغه جدوجهد کې کومك کړی وه، بلکې باسمچیانو ته یې هم مادي، سیاسي، اخلاقي او شاید مالي مرستې هم ورکولې. [۳۴] د دې فعالیتونو نه د اړولو له پاره امان الله ته پلمه جوړولو او د خپل نفوذ دایرې ته د هغه راښکلو له پاره روسیانو په ناخواله افغانانو ته یوې مجوزه لوزنامې له پاره یو لړ "رعایتونه" پېش کړل چې افغانانو تر څه وخته تر غور لاندې ونیول.

هغه وخت شورویان په خپل هیواد کې سختو مالي مشکلاتو سره مخامخ وو. د هغې په نتیجه کې "نوې اقتصادي کړنلاره" جوړه شوه. له دې نه پرته ترکو سره د آرمینیا په وېشلو اختلاف هم د بالشوېکو مشرتابه ته مسئله جوړه کړې وه. کېدی شي چې دې مسئلو هم افغانانو سره لوزنامې له پاره شورویان ګړندي کړي وو او په انګرېزانو روب او زور اچولو له پاره امان الله خان هم په دې راضي شو چې افغانستان دې یوه لوزنامه لاسلیك کړي، چې انګرېزان څه منلو ته تیار کړي. د روسیانو او افغانانو تر مینځ د لوزنامې مسوده افغانانو د کال ۱۹۲۰ء د ستمبر په آخر کې امضاء کړه. هغه بیا ماسکو ته منظورۍ له پاره ولېږلی شوه. په پېل کې د لوزنامې د مسودې په ځینو موادو کې اختلاف وه، خو د یو څو میاشتو په تېرېدلو د بالشوېکو مشرتابه بالآخر هغه ومنله، او له څه تغییر نه رته روسانو د کال ۱۹۲۱ء د فرورۍ میاشت کې امضاء کړه.

مسوده کې د شورویانو له خوا دوه رعایتونه د لوزنامې په اتمې او نهمې فقرو کې شامل شو. اتمې فقرې دا شرط ایښی وه چې "د تړون عالي ډلې د خلکو د خوښیو مطابق د بخارا او خیوې اصلي ازادي او استقلال مني، که (هلته) د حکومت هر شکل وي" دا د حېرانتیا وړ ده چې شوروي روسیې د بخارا او خیوې "اصلي" استقلال او ازادي په داسې وخت کښې ومنل چې د هغو خلکو نه د دې حقوقو په تروړلو کې بوخته وه. د مسودې نهمه فقره داسې وه: "د انصاف او د

هغو ځایونو د استوګنو د خپل اختیار د اصولو په نظر کې نیولو سره روسیه افغانستان ته د هغو سرحدي ولسوالیو په سپارلو راضي ده چې په تېره سلېزه کې د وروستوني هیواد برخه وې (په خصوصي ډول د پنجده ولسوالي)"

نهمه فقره د شورویانو له پاره لویه ګټه وه. د هغې د مخه دواړه ډلې "مکلفې وې چې کومې یوې دریمې ډلې سره داسې عسکري یا سیاسي تړون ونکړي چې په دواړو کې د یوې عالي ډلې په زیان وي." د دې موافقت د افغانستان او برطانیې تر مینځ د تړون مخه ونیوه. د روسیانو او افغانانو تر مینځ تړون کې د یوې فرعي فقرې د مخه روسیې دا ومنل چې افغانستان ته "د یو ملیون سرو، یا د نغدو په شکل کې د سپینو روبل یا سرو په اندازه وړیا کالیزه اعانه" او "تخنیکي او نور متخصصین" ورکړي.

په دې ډول د روسیانو او افغانانو تړون د یو بل په هیواد کې د دواړو هیوادونو سفارتخانې او قونصلګرۍ قایمول هم منظم کړل. په ماسکو کې د سفارتخانې نه پرته افغانانو ته تاشکند، پېټروګراډ، قازان، سمرقند، مرو او کراسنوواډسك کې د قونسلګریو پرانستلو اجازت هم ورکړی شو. شورویانو ته اختیار و چې په کابل کې سفارتخانه او په هرات، مېمنه، مزار شریف، کندهار او غزني کې قونسلګرۍ جوړې کړي. افغانستا چې د روسیې او افغانانو تر مینځ د تړون مسوده لاسلیك کړ نو انګرېزان ډېر پرېشان شو، او بیا ولړزېدل کله چې خبر شو چې د هغې د مخه هندوستان ته ورسېلمه په کندهار او غزني کې روسیې ته د قونسلګریو پرانستلو اجازن ورکړی شو. دویې کتل چې سره خطره د دویې دروازې ته ورخوځېدله. برطانیې افغانستان ته خپل اعتراضونه پېش کړل او روسانو ته یې هم خپله ناخوښي څرګنده کړه. ۳۵

افغانستان سره د بخارا په شوروي کېدلو فکر وه، چې د افغانستان او شوروي روسیې تر مینځ یو مضبوط مینځګړی هیواد له مینځه تلو او په مینځنۍ اسیا کې چې د شوروي طاقت مخه یې نیولی شوه هغه اسلامي قوت یې کمزوری کولو. امان الله داسې فکر نه کاو چې افغانستان به د کمیونزم د تېري نه محفوظ وي. که د هغه هیواد وړومبنی هدف نه وه نو، هغه ته پته وه، هندوستان خو یقیني وه. په هغه وخت کې د هندوستان د هجرت خوځښت هم ناکامه شو. د دې وجه د افغانستان د ادارې بې کفایتي وه چې هغو زرګونو مسلمانانو ته یې چې د هندوستان نه یې هجرت کړی وه د ژوند وسایل برابر نه کړی شو او هغوی بې سروسامانه پاتې شو، او یو ګڼ شمېر محتاجه شو. هغه خوځښت چې د برطانیې خلاف عملیات ګڼل کېدل د ډېرو له پاره د مایوسۍ باعث شو ۳۶ ښېشکه چې دا امیر له پاره یوه پرېشاني وه چا چې پخوا تشویق ورکولو چې هندي مسلمانان دې د کفر د غلامۍ نه دارالاسلام افغانستان ته هجرت وکړي، او هندي مهاجرینو ته یې د افغانستان دروازې خلاصې کړې وې. پرته له دې امان الله کتل چې د اوچېند افغانستان او هندوستان تر مینځ د نزدو اړیکو په اساس د افغانستان انکشافي ودې ته د ګاونډیانو، په خصوصي ډول د برطانیې، د ښه نیت ضرورت و. امیر د

روسيې او افغانستان تر مينځ د تړون منظوري وځنډوله او کابل ته يې يو بريتانوي هيئت وبللو - هغه توازن چې روسيې ته ډېر زيات کوږ شوی و، ځای ته راوستل پکار وو -

امان الله په سيمه کښې بيا د طاقت د توازن ساتلو روايتي کړنلارې ته وروخويېدو - د دې سوبونه دا وو چې يوې خوا ته د شوروي ارادو وېره زياتېدله او بلې خوا ته شمال مغربي سرحدي صوبه کې د برطانيې حيثيت ټينګېدلو، او د هندوستان خلاف په افغانستان کې د شوروي فعاليتونو (صحيح وو که غلط) په لړ کې زوردار ډپلوماتيك احتجاج، بلکې دړکې، وې - په کړنلاره کې د دې بدلون مطلب دا وه چې لوی برطانيې سره روغه راولي - دا يو داسې فکر وه چې د ډېرو افغاناني روايت پرستو او قوم پرستو په نزد د منلو وړ نه وه -[۳۷]

د هند د باندنيو چارو منشي هنري ډوبز په مشرۍ کې د برطانيې يو هيئت کابل ته د ۱۹۲۱ء جنورۍ کې راورسېدو - د افغاني هيئت مشري يو ځل بيا د محمود طرزي په غاړه وه - د دواړو هيئتونو تر مينځ خبرې اوږدې بلکې راښکلې شوې چې تقريباً يو کال يې ونيو - ډوبز ته دا هدايت شوی و چې د مېسوري د مکتوب په رڼا کې لوزنامه وکړي - افغانانو د خپل اختيار د اصولو په اساس غوښتل چې هغه قبايلي سيمې دې هغو ته بيرته وسپارلی شي چې انګرېزانو نيولي وې، يا دې له پولې نه ورايسته پښتنو ته بشپړه ازادي ورکړی شي، او يا هغې لورې ته د فوري ګام پورته کولو په شکل کې دې هغو ته معافي ورکړی شي - انګرېزانو د افغانانو دا مهمه غوښتنه لکه د پخوا ښخي رد کړه - ډوبز غوښتل چې افغانان دې له پولې نه ورايسته پښتنو سره روابط ساتلو نه لاس راکاږي او د هندوستان پولو سره نزدې دې د روسيانو قونسلګرۍ نه پرېږدي - هغه ټينګار کاوه چې افغانان دې له برطانيې سره د ښه ګاونډيتوب کړنلاره تعقيبوي - انګرېزانو دا وړانديز هم وکړو چې په لوزنامه کې دې داسې شرط وي چې يوه ډله به هم کومې يوې دريمې ډلې سره داسې تړون نه کوي چې د افغانستان او برطانيې ګډو ګټو له پاره زيانمن وي - افغانانو په داسې حال کې چې د برطانيې د دوستۍ اقرار يې کولو، دا واضحه کړه چې د افغانستان د ختيځو او سويلي برخو نه د روسيانو د قونسلګريو د وېستلو له پاره د برطانيې غوښتنه د هغو په کورنيو چارو کې لاسوهنه وه، او دايې واضحه کړه چې د انګريزانو د دې غوښتنې منل به روسيان وپاروي - هغوی دا پښتنه کوله که افغانستان د روسيې او افغانستان تر مينځ لوزنامه لغوه کړي نو د روسيې له خوا د حملې په حال کې به برطانيه د هغه دفاع وکړی شي؟ د کوم يو دريم هيواد سره د تړون په اړوند افغانان په ډېر تذبذب کې وو چې داسې يو شرط ومني، ولې چې د هغوی په خيال داسې يو عمل د افغانستان واکمنۍ له پاره ضرري وه - په بين المللي ساحه کې افغانانو برطانيې نه غوښتل چې د ترکو په هکله دې د امن په تړون بيا غور وکړي.[۳۸]

د پښتنو قبايلو جذباتي مسئله ډېره مشکله وه - "د قبايلو مسئلې څو

واره د خبرو د شلولو ګواښ وکړو، خو د ډوبز د وینا د مخه دې ناکامۍ نه هله بچ شو چې برطانیې له روسیې سره د ۱۹۲۱ء د مارچ په اوولسم تاریخ د تجارت یوه لوزمامه لاسلیك کړه ـ"۳۹" په ظاهره ډوبز ته دا یقین و چې دې تجارتي لوزنامې افغانان د روسیې او برطانیې تر مینځ د یو پراخه مفاهمت په امکان وپویول چې هغه به افغانستان د پاڼې نه وباسي او هغه به له دې موقع څخه محروم پاتې شي چې یو طاقت د بل په خلاف ولوبوي ـ

وخت تېرېده او خبرې جاري وې ـ د روسیې له خوا په پراخه اندازه د کومك د وړاندیز او افغانستان ته د پنجده سپارلو په لړ کښې د هغې د چمتووالي باوجود امان الله په ظاهره له برطانیې سره یو ځانګړې لوزنامه ته لیواله شو ـ

امان الله دا فېصله وکړه چې له هغه کومه نوې تولنه جوړوله د هغې د تحفظ له پاره دې د هغې قسمت په بشپړ ډول لویې برطانیې سره وتړلی شي ٠٠٠ (په کابل کې د براوېن په ځای د روسیې نوي سفیر سورېتز یو ناقابل تغېر نوټ امان الله ته ولېږلو او ویې غوښته چې هغه دې فوراً لاسلیك کړي ـ د هغې په ځای امان الله طرزي ولېږلو چې له ډوبز سره ووینې او خبر یې کړي چې هغوی په څېنو خاصو شرایطو روسیې سره خپل اړیکي بېخي شلول غواړي ـ په هغو کې یو شرط دا وه چې د یو دریم طاقت له خوا د حملې په وخت برطانیې د کومې وسلې د کومك ژمنه کړې وه هغه دې په فوري ډول ورکړي ٠٠٠ طرزي ډوبز ته وویل "که ته زمونږ وړاندیز ومنې نو مونږ به هم هغه وخت امضاء وکړو او سورېتز ته به خبر ورکړو چې مونږ روسیې سره نور څه نه لرو ـ مونږ به په ډاګه خبره وکړو ـ خو مونږ د وسلې په شکل کې د برطانیې د اعانې په هکله ډېر اندېښمن یو (چې هغه د روسیې له خوا بې د څه پاروني برید سره تړلی شوې وه) ځکه چې هغه به د لرې پرتو قطبي سیمو له پاره پکار وي ـ او که روسیه ناڅاپه برید وکړي نو افغانان به هغه وسله په قطبي سیمو کې پرتو عسکرو ته په وخت ونه شي رسولی چې په کار راشي ٠٠٠ مونږ د وسلې فوري اعانې نه بغېر د یوې حملې زیاته خطره نه شو اخستلې ـ د دې فوري اعانې اخلاقي اثر به مونږ د دې جوګه کړي چې مونږ روسیې ته په ډاډه زړه په مخ څپېړه ورکړو ـ د قونسلګریانو د حثیثت د ذکر نه بغېر په بخارا او خېوه کې د روسیې عکس العمل نه د شکایت په لړ کې به زه به د روابطو شلول په سورېتز تحمیل کړم ـ"۴۰" کورني حکومت "تلقین وکړو چې امیر ته دې په پراخه اندازه وسله او پېسه ورکړې شي او دا لمسه دې ورته وشي چې روسیانو سره خپل روابط بېخي وشوکوي ـ"۴۱"

داسې ښکارېده چې امان الله د خبرو په جریان ډاډه وه، خو هغه دا ظاهرول غوښتل چې له روسانو سره د روابطو شوکولو نه مخکې وسله او مهمات دې د افغانستان قطبي سیمو کې ځای په ځای شي ـ د افغانستان دې نوي شرط

برطانیه، چې د مخکې نه د امان الله په چلونو او حرکتونو شکمنه وه، پرېشانه کړه . د شك او تردد وخت پېل شو .

په داسې وخت سورېتېز افغانان خبر کړه چې روسیان د هندوستان سرحدونو ته سېلمه د قونسلګریانو په پرانستلو ټینګار نه کوي .[42] شاید افغانان هغه وخت خبر نه وو چې برطانیې سره د تجارت په لړ کې روسیان پخپله انګرېزانو سره دې موافقې ته رسېدلي وو چې په هغو قونسلګریانو دې زیات ټینګار نه کوي .

په دې دوران کې یو څو داسې پېښې وشوې چې د امان الله تازه صمیمیت یې برطانیې سره سوړ کړ . برطانیې د هغې خبر په مقابل کې سخت عکس العمل ښکاره کړو چې یو افغاني هیئت د اروپا، اسیا او د امرېکې د متحده ایالاتو په سفر وه او له اطالوي حکومت سره د تجارتي او قونسلګرۍ روابطو په لړ کې یو تړون لاسلیك کولو ته ورنږدې شوی و . اطالوي حکومت ته په یو رسمي احتجاج کې برطانیې ښکاره کړه چې اوس هم افغانستان د هغې د نفوذ په ساحه کښې پروت دی . په هر حال اطالیې سره تړون وشو . په افغاني چارو کې د برطانیې بېځایه او کبرژنو هڅو په کابل کې غصه او خفګان وپاراوه . کله چې هیئت د امریکې متحده ایالاتو ته ورسېد، نو هلته د برطانیې د مداخلت په وجه د هغوی هرکلی سوړ شانې وه . په اخر کې د هیئت د مشر محمد ولي خان او د برطانیې د خارجه چارو منشي لارډ کرزن تر مینځ په لندن کې خبرې د لارډ کرزن له خوا هغه وخت په ناسایې ډول ختمې کړی شوې کله چې افغاني نماینده کابل کې د خبرو حواله ورکړه . د کرزن دا دلیل وه د افغانستان هره چاره د "هغه نه" بلکې د هند د دفتر کار وه . هغه د ولي خان دې درخواست ته هم غوږ نه کښېخو چې هغه پاچا ته وروپېژني . د کرزن عکس العمل نه داسې معلومېده چې هغه د افغانستان واکمني نه وه منلې .[43] یو ځلې بیا کابل د دې سپکاوي په خلاف زښت عکس العمل وښولو .

دې پېښو د افغانانو یقین پوخ کړ چې برطانیه د افغانستان استقلال سره د روغې نه وه، او لا هغه شان یې د خپل نفوذ په ساحه کې ساتل غوښتل . د انګرېزانو او افغانانو تر مینځ د لوزنامې په لور ټول پرمختګ تم شو . او امان الله، چې بېشکه د برطانیې د تربګنۍ نه مایوسه شوی وه، د روسیانو او افغانانو تر مینځ لوزنامه د کال ۱۹۲۱ء د اګست په میاشت کې لاسلیك کړه . ستیوارټ د امان الله د فېصلې په هکله داسې وضاحت کوي:

> له لارډ کرزن سره د افغانستان مخامخ کېدلو امان الله په دې قایل کړو چې هغه د دنیا قومونو کې د خپل بالغ حیثیت بایللو نه پرته د برطانیې تر سیوري لاندې تحفظ ته ورتښتېدلی نه شي . هغه فکر کاو چې د برطانیې په خیال افغانستان سره لوزنامه د مخلمنې هغه مزی دی چې مور ورپورې ماشوم تړي . هغه یو آفاقي حقیقت اورېدلی و "ته کور ته نه شي تلی" . استقلال هغه مجبور کړی و چې د دواړو طاقتورو ګاونډیو

تر مينځ توازن وساتي ـ دې له پاره هغه روسيې سره موافقت منظور کړو.[۴۴]

په هغه وخت فيوډور راسکلنيکو د روسيې د نوي سفير په حيث د يو مليون کاليزې اعانې ځخه د ورومبنۍ ورکړې له پاره پنځه سوه زره روبلو سره کابل ته رارسېدلی و ـ روسانو دوه الوتکې هم ورکړې ـ خو پنجده يې چې افغانانو ورسره ډېره علاقه لرله افغانستان ته واپس و نه سپارلو ـ وروستو شورويانو دا اعلان وکړ چې د هغه ځای خلکو روسيه کې پاتې کېدلو له پاره خواهش ظاهر کړ ـ پنجده سره اړونده فقره د روسيې او افغانانو تر مينځ نورو وروستونيو تړونونو نه په چپه خوله وغورځول شو ـ د لوزنامې د منظورۍ نه پس افغانستان په مسکو کې د سفارت نه پرته په تاشکند او مرو کې هم قونسلګريانې پرانستې ـ مسکو کې ورومبنی افغاني وزير مرزا محمد خان يفتلي وه ـ روسيې چې پخوا په کابل کې خپل سفارت پرانستی وه، په هرات، مېمنه او مزار شريف کې قونسلګرۍ هم پرانستې ـ

ډوبز چې لا په کابل کښې وه د افغانستان او برطانيې تر مينځ د يوې عمومي لوزنامې له پاره هځه وکړه چې برطانيه د ډپلوماټيکې ماتې د شرم نه وساتي ـ د وخت تېرېدلو سره افغانانو هم محسوسه کړه چې برطانيې سره څه قسم له تړوني انتظام پکار وه چې په وسلې بندېز پورته شي او د تجارت او ټرانزټ چارې مرتب شي ـ له دې نه علاوه امان الله ته دا احساس شوی وه چې ذ روسيې سره د يوې لوزنامې په موجودګۍ کې يو تړون برطانيې سره هم پکار و ـ دې له پاره دواړه خواوې په دې راضي شوې چې يو تړون ته ورسي ـ نسبتاً په کم وخت کې انګرېزانو يوه مسوده تياره کړه او افغنانو ته يې پېش کړه ـ

په عمومي ډول دې تړون د دواړو خواو کورنۍ او بهرنۍ ازادي وپېژندله او د ډيورنډ کرښه يې بيا د هندوستان او افغانستان تر مينځ د سرحد په ډول ومنله ـ د هر يو هيواد په دارالخلافه کې ډپلوماټيکي نمايندګي قايمه شوه ـ لوزنامې دواړو خواو ته د افغانستان او هندوستان په مخصوصو ښارونو (د افغانستان جلال آباد اوکندهار او د هندوستان دهلي، کلکته، بمبۍ، کراچې، پېښور او کويټه) کې د قونسلګريانو پرانستلو اجازت ورکړ ـ دې نه علاوه لوزنامې افغانستان ته د هندوستان ـه يا د هغې په لار د وسلې او مهماتو واردولو اجازت هم ورکړو ـ تړون کې د هندوستان او افغانستان تر مينځ تجارتي رواب او افغانستان ته د هندوستان د ـارې د تجارتي مالونو د وړل راوړل هم ومنلی شو ـ په تړون کې د اعانې او د امير حبيب الله خان وارثانو ته د هغې د بقاياجاتو د ورکړې ذکر نه وه ـ افغانانو داسې کوم انتظام ته غاړه کښېنخوه چې ختيځو پښتنو سره خپل اړيکي وشوکوي يا د افغانستان نه هندي مهاجرين وباسي ـ نه دوی داسې کومه يو فقره ومنله چې کومې دريمې ډلې سره د روابطو يا تړوني انتظاماتو مخه يې نيولې ـ

د مسودې په نهمې فقره کې د ډيورنډ نه ورايسته د قبايلو په حق کې

د افغنستان د اندېښنې مبهم ذکر شوی وه. د دواړو خواو "ښه نیت" او "د هغوی سرحدونو ته سپلمه پرتو قبایلو سره د مهربانۍ ارادو" ته اشاره شوې وه. د دې فقرې محتویاتو هره خوا مکلفه کړې وه چې "د ډېر اهمیت وړ عسکري عملیاتو" نه دې بله خوا خبروي چې هغه په خپله سیمه کې د ارامۍ ساتلو له پاره کوي. په دې ګومان چې دا ناکافي ده افغانانو د انګرېزانو له خوا د یو مکتوب په لیکلو ټینګار وکړو چې کم نه کم دا ومني چې "د دواړو حکومتونو تر لاس لاندې د سرحدي قبایلو حالاتو کې د افغانستان حکومت علاقه لري" او دایې وغوښتل چې دا مکتوب دې د تړون یوه برخه شي. څه وخت چې انګرېزانو ومنل نو محمود طرزي او هنرې ډوبز د کال ۱۹۲۱ء د نومبر په ۲۲مه نېټه د انګرېزانو او افغانانو تر مینځ دا لوزنامه لاسلیك کړه.

امیر د بریتانوي هیئت په موجودګۍ کې د لوزنامې اعلان وکړو. هغه په جار وویل چې دا دوستانه نه وه، صرف د ګاونډیتوب په اړیکو یوه لوزنامه وه. امیر د دوستۍ تړون ترکو او سرحدي قبایلو سره د برطانیې سخاوت او د هندوستان خلکو سره د هغوی سلوك پورې تړلی ګڼلو. د هند حکومت ته په خپل رپورټ کې ډوبز څرګنده کړه. "په هر څه کې دا لوزنامه صرف په نوم دوستانه ده، چې مونږ ته یې هغه څه د توقع نه زیات ارزان راکړه څه چې مونږ غوښتل." د اعانې بندېز سره انګرېزانو خپل څه نفوذ هلته وبایله، خو ډوبز فکر کاو چې په افغنستان د برطانیې اصلي تسلط په دې حقیقت ولاړ دی چې افغنستان د خپلو وارداتو او صادراتو او بهرنۍ نړۍ سره په تماس کې د برطانیې محتاج دی."[۴۵]

د ۱۹۲۱ء لوزنامه د افغانانو او برطانیې تر مینځ روابط اداره کول تر هغې ورځې چې برطانیه د نیمقارې څخه ووځي. لوزنامه چې لاسلیك شوه نو افغنستان په لندن کښې خپل سفارت پرانستو او برطانیې په کابل کې قایم کړو. په لندن کې د افغنستان ورومبنی وزیر عبدالهادي داوي وه. په دهلي، کراچۍ، بمبۍ، پېښور او کویټه کې د افغنستان او په جلال آباد او کندهار کې د برطانیې قونسلګریانې پرانستل شوې. د لوزنامې د محتویاتو د مخه د دواړو هېوادونو تر مینځ په ۱۹۲۳ء کې د تجارت یو تړون لاسلیك شو. دې انکشافاتو سره هم د افغنستان او برطانیې تر مینځ تعلقات کې څه ښئوالی رانه غلو. امان الله له برطانیې سره د ښو تعلقاتو مخالفت نه کولو. خو په امان الله د هغوی نااتباري، د هغه ملي موقف، د هغوی په خیال د هند په لور د هغه خواهش، او په اخر کې د افغنستان د استقلال نوبت په نیقاره کې د امپراتوري حاکمانو له پاره افغنستان سره زیات تعمیري او دوستانه موقف اختیارولو کې مشکلات پیدا کړي وو.

د انګرېزانو او افغانانو روابط په غریزه لارو روان وو او د برطانیې له خوا کومك ختم شوی وه. په شورویانو د افغانانو انحصار زیاتبدلو. سره د کورنیو

مشکلاتو روسیانو افغانستانّ ته وسله او مهمات لېږل پېل کړي وو - دو يي امير سره د يوې هوايي قواء په جوړولو کې هم مرسته پېل کړې وه - قهرژنو انګرېزانو دې ته "د افغان هوايي قوه روسي کېدل" ویل [۴٦]

امان الله ته به دا يقين وه چې برطانيې سره د يو رسمي دفاعي تړون د نيشتوالي باوجود د هندوستان دفاعي ضرورت به برطانيه مجبوره کړي چې د روسيې له خوا د برید په مقابل کې د افغانستان دفاع وکړي - په هغه وخت د روسيې عسکري او اقتصادي کمزوريانو په وجه شورويانو په افغانستان حمله نه شوه کولی - خو د نزدو اړیکو او د افغانانو او شورويانو تر مینځ د زیاتېدونکي تګ راتګ په وجه افغانستان اوهندوستان ته د کمیونستي نظریې خورونه په يقيني ډول اسانه شوې وه - دې جريان د هند حاکمان او امان الله دواړه پرېشانه کړي وو - افغانانو ته د بخارا او خېوې انجام سخته صدمه رسولې وه، او دا فکر يي هم پېدا شوی وه چې روسيې سره تازه نزديکت به دلته هم داسې حالت مينځ ته راولي - خو د برطانيې رټلي امیر له پاره روسيې ته مخ اړولو نه بغېر بله چاره نه وه -

په ١٩٢١ء کې د روسيې او افغانستان تر مینځ د لوزنامې د لاسليك کېدو نه پس دواړو هيوادونو نورې لوزنامې هم وکړې، لکه په کال ١٩٢٦ء کې د بېطرفۍ او د برید نه کولو، او په ١٩٢٧ء کې د هوايي کرښې تړون - شورويانو افغانستان ته مالي او تخنيکي مرستې جاري ساتلې، او وسله او مهمات يي هم ورکول - په دې دوران کښې چې ترکيې، المان، اطاليې او فرانسې سره تعلقات پراخېدل نو د هغو هيوادونو تخنيکي او نور کسبي مامورينو هم په افغانستان کې د روسيانو په څنګ کې کار پېل کړو - دې ټولو نه دا هيله کېده چې دافغانستان د عصري کېدلو په ګړندیتوب کې به خپل خپل صلاحيت پکار راولي - دا فکر هم وه چې د مختلفو ملتونو مامورينو شتئوالي سره به د يو خاص ملت د نفوذ د خورېدلو مخه ونيولی شي -[۴۷]

په ١٩٢۴ء کې کله چې په خوست کې بغاوت سر پورته کړو د امان الله کورني اصلاحات چې د هغه په تخت د ناستي نه پس پېل شوي وو، ښه په درز کې روان وو - داسې فکر کېدو چې دا بغاوت د امان الله د ټولنيزو اصلاحاتو، په خصوصي ډول د جینکو د تعليم او د ښځو د ازادۍ خلاف د محافظه کارو له خوا عکس العمل و - عام خلکو په دې مفکورو غوږ نه ګرولو - په دې معامله کې په برطانيې باندې تومت لګېدو چې د امان الله د غورځولو له پاره يي قبايلو نه کار اخيست -

د امان الله عسکرو هغه بغاوت چې کله کله به په زور کې و، په مشکله وځاپه - په دې کې د شورويانو له خوا اعانه شوې الوتکې چې المانيانو او روسيانو چلولې، هم په کار راوستلې شوې - برطانيې په دې هڅو کې هغو دوو کمزور الوتکو ته ګوته نيوله خو د افغانانو په نظر کې د هغوی سپيناوی په دې نه کېد د خوست د ماتې د مانځنې په لړ کې امان الله د کابل سين په غاړه يو

یادگار ودرولو او په هغې یې ولیکل "منار علم و جهل". د هغې منار انتساب د ناپوهۍ خلاف د پوهۍ په گټې پورې وشو. د امان الله له پاره اصلي هلې ځلې د برطانیې یا روسیې خلاف نه وې بلکې د هغې ناپوهۍ خلاف وې چې د هغه په فکر د افغانستان د وروستو پاتې کېدلو اساسي سبب وه. د راتلونکي وخت په فکر کې د ناپوهې ختمول پکار وو. هغې یقین، چې د سپینو او سرو مرمرو د هغې یادگار په شکل کې تمثیل شوی وه، د یو مشال په څېر هغه ته په هغې لارې راهنمایي کوله چې هغه دې له پاره غوره کړې وه چې خپل هیواد د نړۍ ازادو او خوشالو ملتونو په څنگ کښې ودروي.

په کال ۱۹۲۷ء کې امان الله د اروپا، اسیا او افریقا یو شاندار سفر وکړو. برطانیې او شوروي اتحاد ته هم لاړو. په لندن کې د باندینیو چارو د وزارت مرستیال سر آستن چیمبرلېن سره د هغه مرکه څه ښه نه وه. هغه ته یې وښودل چې د ازادو پښتنو قبایلو په زمکه د برطانیې د واکمنۍ ادعا افغانانو نه منله او هغه زمکي په قانوني ډول د افغانستان ملکیت کې راتلې. په ترکیه کې د هغه لېدنه کمال اتاترک سره وشوه، چې خورا ډېر احترام یې ورته لرلو. هغه د ایران سفر هم وکړو او د هغې هیواد د پرمختگ نه ډېر متآثره شو. د امان الله هغه دوره د هر څه نه زیاته یو قسم له د ولسي ارتباط کارنامه وه. هغه بهرنۍ نړۍ ته د افغانستان پېژندگلو کې بریالی شو او خپل هیواد یې د یوازیتوب نه راوېستو.

امان الله واپس هیواد ته د کال ۱۹۲۸ء د جولای په میاشت کې راستون شو. هیواد هغه شان نه وه لکه ده چې نهه میاشتې پخوا پرېښې وه. فضا ناارامه او بوگندېلې وه. په هر حال هغه خپله د اصلاحاتو او عصرې کولو دنده جاري ساتله. اروپا، خصوصاً په ترکئیې، کې چې هغه څه ولېدل هغې ډېر متآثر کړی وه. هغه دا غوښتل چې خپلې هڅې گړندۍ کړي چې د افغانستان او د هغو ډېر پرمخ تگ تللي هیوادونو ته چې کتلي تر منځ درځ کم کړي. د امان الله په نوې سیاسي او ټولینزو اصلاحاتو کې یو نوې او ازادۍ اساسي قانون، د ټولو باسواده بالغو خلکو په رای منتخب شوې قانونو جوړونکې جرگه، د موروثي رتبو لغوه کول. زمکني اصلاحات، او د عسکرې خدمت دوره دریو کالو ته غزول شامل وو. یوې ولسي غونډه کې پاچا د ښځو د پردې خاتمه او د ښځو اجباري تعلیم جاري کول اعلان کړ. د دې اعلان نه یو څو ورځې پس ملکې کابل کې په ولسي غونډه کې خپله پرده لرې کړل او ډېر زر د ښار ډېرو ښځو د هغې تقلید وکړ.[۴۸]

داسې زر روایتي افغانستان ډېر عصرې کېدلو ته تیار نه وه. مرتجعي خلکو ناراميې کې لړونی وهلو او د امان الله خلاف یو لوئې پاڅون پورته شو. لکه د نورو ځینوافغانانو، عبدالرحمان پژواک، چې یو افغان دپلومات، مورخ، په ۱۹۶۶ء کې د ملل متحد د عمومي اسامبلۍ رئیس وه، په زغرده وئېل چې "د باندینیو سیاسي چالبازیو توکي د دې بغاوت ښکاره علتونه وو."[۴۹]

د امان الله حکومت ته پاڅېدلو باغیانو کې یو نامعلوم سړی پورته شو. هغه د "بچه سقاو" په نوم مشهور وه. د کابل په شمال کې د کوه دامان استوگن

وه ـ یو شوکمار وه او په پېښور کې یې ځائې په ځائې معمولي کارونه کول ـ څه وخت یې په هندوستان کې د انګرېزانو په محبس کې هم تېر کړي وه ـ بچه سقاو د امان الله حکومت او د هغه روښانه کړنلارې ختمې کړې ـ

یو څو ابتدائي ګټو نه پس شاهي قواو د بچه سقاو لښکرو نه ماتې وخوړه ـ امان الله د خپل مشر ورور عنایت الله خان په حق کې تخت پرېښنو او د دارالخلافې ته ووتو ـ عنایت الله هم تخت پرېښنو او یو برطانوي الوتکه کې هندوستان ته بوتلی شو ـ بچه سقاو دارالخلافه ونیوه ـ امان الله هیواد د ۱۹۲۹ء د مئ په ۲۲مه پرېښنو او ایتالیې ته لاړ ـ

روسیانو دوستانو د امان الله کومك ونه کړو ـ د پاڅون په اخره کې، چې په هر حال وخت تېر وه، شورویانو په عاجل ډول یو لښکر جوړ کړو او افغانستان ته یې ولېږلو، خو ډېر زر یې واپس او رنګک کړو ـ "وروستو د باندینیو چارو کمیسار چیچېرین وئېل چې روسیې د امان الله د مرستې نه په دې انکار وکړو چې انګرېزانو سره شخړه مینځ ته رانه شي ـ هغه هیڅ کله د خپل مهماتي قوې د موجودګۍ اعتراف و نه کړو."۵۰

هغو بېسواده او مرتجع قواو امان الله وغورځولو چې د هغو د ختمولو لپاره هغه په خپله ټوله دوره کې مبارزه کوله ـ پوځ چې د ختیځو او سوئېلزو قبایلو خلاف په جګړه بوخت وه او کمزوری شوی وه، د بچه سقاو د لښکر مخه یې نه شوه نیولی، ولې چې د هغوی وسله "د افغاني قواو د وسلې نه ډېر ښه وو ـ"۵۱ شائد که مرتجعینو هغه یو څو قبایل چې د دې نه پخوا بغاوت ته آماده نه وو د امان الله کومك لپاره راتلو نه منع کړی نه وی ، اوکه د ډیورنډ نه ورایسته قبایل لکه اپریدي او اورکزي چې د افغاني پاچا دوستان وو، ته اجازت ورکړی شوی وی چې دې خوا خوځېدو کې یې تادې کړی وی، نو هغه ماتې به نه وه پېښه شوی ـ دا خبره په رېکارډ پرته ده چې بریتانیې اپریدي او اورکزي افغانستان ته د تګ نه منع کړي وو ـ او دې قبایلو چې د انګرېزانو حکم نه سر ورغړولو نو په اورکزو کې د شیعه او سني فرقو تر مینځه جګړه پورته شوه، او د هغوئي لخوا د امان الله د کومك پلان شنډ شو ـ۵۲

بچه سقاو ځان پاچا اعلان کړو ـ کابل کې سفارتخانې بندې نه وې، خو یو طاقت هم بچه سقاو ته د افغانستان د حکمران په حیث رسمي پېژندګلي ور نه کړل ـ د افغانستان د ټولو نه اهمو ګاونډیانو بریتانیې وروسیې د "صبر کوه او ګوره" لار خپله کړه ـ

د بچه سقاو عجیبه دوره نهه میاشتې پاتې شوه ـ جنرل نادر خان چې د افغانستان یو پخوانی سر لښکر او په پارېس کې د امان الله وزېر وه، په فرانس کې خپله جلاوطني ختمه کړه، افغانستان ته راستون شو او د هغه پاچایي یې رنګه کړه ـ جنرل نادر خان خپلو دوو ورونو محمد هاشم خان او شاه ولي خان سره فرانس نه د کال ۱۹۲۹ء د مارچ په اتمه نېټه هندوستان ته راغلو ـ قبایلي لېویز چې زیات د بریتانیې د غاړې وزېر وو او څه افغان قبایلو د بچه سقاو لښکرو ته

ماښې ورڅه. د نادر خان قبايلي لښکرو کابل د ۱۹۲۹ء د اکتوبر په ۱۰م ونيوه. بچه سقاو ځان ورکړو او د نومبر په دريم تاريخ اعدام شو. د اکتوبر په اوولسم د قبايلو د لښکر يوې جرګې نادر خان د افغانستان پاچا اعلان کړه او د کال ۱۹۳۰ء د سپمبر په مياشت کې يوې لوئې جرګې په تخت د هغه ناسته ومنله.

د امان الله په دوره کې د افغانستان او بريتانيې تر مينځ روابط ښې خونده وو. انګرېزانو په جار د هغه او د هغه د کړنلارو مخالفت کولو. "ځينو انګرېزانو فکر کاوه چې د نوې زمانې مطابق د افغانستان پرمختګ په هندوستان کې د بريتانوي حکومت لپاره خطره جوړوله او هغې پرمختګ لپاره يو مثال جوړېدو چې د اسيا آزادو خلکو يې د کولو توان لرلو ۰۰۰ داسې فکر په خصوصي ډول د بريتانيې په پوځ کې موجود وه."[٥٣] ګومان کېده چې د افغانستان د صحنې نه د امان الله لرې کېدلو باندې بريتانوي حاکمانو څه خاص خفګان ونه ښوده. افغانانو په عمومي ډول دا فکر کاو چې د امان الله د لرې کولو لپاره انګرېزانو لاره جوړه کړې وه، ځکه چې، د هغو په خيال، هغه روسيانو ته زيات ورنزدې شوی وه او د انګرېزانو د ګټو په لاره کې خنډ شوی وه. تر دې ورځې د "عېني ګواهۍ" بيانونه په زياتېدو دي چې په کابل کې او د کابل په شاوخوا کې د سقاو او د بريتانوي سفارت د عملې تر مينځ پټ تماسونه روان وو، د سقاو په مورچو کې ډېبو کې بند خوراکونه وو، او د افغانستان په کليوالو سيمو کې د يو بزرګ په جامه کې مشهور انګرېز ايجنټ ټي اي لارنس چې په "عربي لارنس" مشهور وه، ګرځېدلو او د امان الله خلاف يې پاڅون ته خلك پارول.

د پاچا امان الله غورځېدلو سره د باندېنيو چارو کړنلارې په لور د افغانستان تر څه حده نوي شان يون په ناڅاپې ډول تم شو. شائد دا هغه غېر روائتي خارجي کړنلاره وه چې هغه يې له مينځه يوړ. په هر حال داسې ښکارېدله چې د افغانستان د خارجي کړنلارې د ټاکلو لپاره څه مقصدي اصول موجود وو لکه د حاکم د خوښې ازادي. امان الله تر ډېره وخته د هغو اصولو د ماتولو په لړ کې ناقابل معافي کارونه وکړه. نادر شاه لکه چې هغه وخت په دې نوم موسوم شوی وه، دې ته پام وکړو چې د افغانستان خارجي کړنلاره چې د خپلې فطرتي لارې نه رغړېدلې وه بيرته لارې ته راواړوي. هغه يوه زياته روائتي خارجي کړنلاره ونيوله. د توازن ډنډۍ چې چپ لورې ته ټيټه شوې وه بيا په مينځ ودرېدله.

# د افغانستان د باندینیو چارو کړنلاره
# بېرته توازن ته راوستل

نادر شاه د پاچايي ټینګولو او د هیواد بیا ودانولو ته ځان وقف کړو. د بچه سقاو غلط حاکمیت او ولسي جګړې هېواد لړزولی و. هغه په دې خبر و چې افغاني ټولنه یومخیز سمون ته غاړه نه ږدي. هغه د انکشاف په لور قدم په قدم روان شو او د کارونو ترجیحات یې په داسې ډول جوړ کړل چې زیات ضروري او مهمو کارونو ته یې د افغانستان لرې شتمنۍ واچولې. د افغانستان پرمختګ ورو شو خو واپس ګرځېدلی نه وه. د پرمختګ ضرورت زیات وه. امان الله داسې یوه لاره پرانستې وه چې کوم یو وروستوني واکمن نه پرېښوی شوه او نه یې پرېښوه.

د افغانستان نوي حاکمان د بریتانیې د امپراتورۍ په چارو ښه پوهېدل او دا یې یقین وه چې د نوي رژیم د ټینګولو لپاره د شوروي اتحاد نه لرې وروستو کېده او بریتانیې سره دوستانه موقف ساتل ضروري وو. د دې یقین څرګندونه داسې وشوه چې د انګرېزانو او افغانانو تر مینځ د ۱۹۲۱ء لوزنامه او د ۱۹۲۳ء تجارتي تړون یې د ۱۹۳۰ء د مۍ په میاشت کې تازه کړ. د ۱۹۲۱ء د لوزنامې د منلو مطلب دا و چې نوو حاکمانو د ډیورنډ کرښه ومنله. نادر شاه ته شمالي ګاونډي سره د ښو اړیکو اهمیت هم معلوم و. نه صرف د شوروي اتحاد د زمکنۍ او نظریاتي لوړې د تسکین لپاره بلکې هغوی ته د افغانستان د بې طرفۍ او یو رنګوالی ډاډ هم ورکول وو. شورویانو او په افغانستان کې دننه او په سرحدي سیمو کې ځینو ملتپالو او نوښتیانو دا یقین منلو چې نادر خان سره تخت ته د رسېدلو لپاره د بریتانیې له خوا مرسته شوې وه، او د هغې په نتیجه کې هغه د امپراتورۍ وسیله شو. شوروي حکومت سره د ښه نیت نه د نادر شاه دا خواهش هم و چې د دې فکر مخنیوی وشي.

په لومړیو کلونو کې د افغانستان له واکمنو سره دا وېره وه چې یو ګاونډي به، چې د خپلو ګټو لپاره یې نوی رژیم ختمول غوښتل، امان الله سره کومك وکړي او یو ځل بیا به هغه د افغانستان اختیار ترلاسه کړي. انګرېزانو امان الله بېرته نه شو راوستلی، ولې چې هغوی د هغه نه سخت نفرت کولو. امان الله د افغانستان د هغو قبایلو په لاره هم نه شو راتلی کوم چې د هغه خلاف پورته شوي وو او د هغه په وېستلو کې یې لاس لرلو. خو داسې فکر و چې یو غېرمطمئن روسیه به وکولی شي چې امان الله سره د افغانستان د تخت په بېرته اخستلو کې مرسته وکړي. ځکه چې هغه شورویانو سره ښه روابط لرل، او اقتدار

ته د هغه ستنېدل به هغو لپاره سودمن وو ـ دا یو اضافي دلیل وه چې نادر شاه روسیانو سره روابط ښه کول غوښته ـ هغو ته یې داسې بانه ورکول نه غوښته چې د امان الله واپسۍ ته یې فکر واړوي ـ د خپلې لنډې دورې تر اخره نادرشاه دواړو زورورو ګاونډیانو سره په اړیکو کې د توازن ساتلو کوښښ کولو ـ په حقیقت کې دا جدي ځانلتوب نه پرته د عبدالرحمان کړنلارې ته ستنېدل وو ـ بدلو حالاتو او د افغانانو بدله شوي کړنلاره د هېواد ځانلتوب ساتل هم نه غوښته او زیانمن هم وه ـ

هغه وخت د افغانانو په فکر کې د افغانستان پایښت لپاره ضروري وو چې د دواړه مضبوط ګاونډي طاقتونه د هغې استقلال ساتلو کې غرضي وي ـ بریتانیې د هندوستان دفاع او د کمیونستو د عسکري او نظریاتي تېریو د مخنیوي لپاره افغانستان په نظر کې نیولو ـ شورویانو د برطانوي امپراتورۍ د ځورنده خطرې د وېرې په مقابل کې افغانستان د یو مینځګړي هېواد په څېر منلو ـ په تخت د ناستي نه پس ډېر زر نادر شاه خپل ورور محمد عزیز خان ماسکو ته د وزیر په حیث ولېږلو لکه بل ورور شاه ولي خان یې د سېنټ جېمز دربار ته لېږلی وه ـ په دې عمل د افغانستان حکومت خپلو دوو اروپایي ګاونډیانو سره د یو شان سلوك څرګندونه کوله ـ خو بریتانیې او شوروي اتحاد سره د روابطو فضا د خچنوالي نه پاکه ساتل څه اسان کار نه وه ـ د انګرېزانو او افغانانو د روابطو په صورت کې په خصوصي ډول داسې کول ډېر مشکل وه ـ دلیل یې ساده و ـ د ډیورنډ نه ورایسته د پښتنو قبایلو روایتي مسئلې لکه د پخوا په رنګ د افغانستان او بریتانیې روابط خړول ـ

په ۱۹۳۰ء کې بریتانیې په سرحد کې مخ په وړاندې کړنلاره بیا تازه کړه. د استعماري رواج د وضاحت مطابق د هغې مطلب دا وه چې عسکري سړکونه قبایلي سیمو کې تر هغې پورې وغزوي تر کومې چې تلی شي، او هلته سرحدي عسکري څوکیانې جوړې کړي ـ په روائتي ډول ازادو قبایلو چې د خدای خدمتګار خوځښت او تر څه اندازې د هندوستان د کانګرېس ډلې د پروپېګنډې نه هم متأثر شوي وو، په قبایلي سیمو کې د انګرېزانو د ننوتلو خلاف سخت عکس العمل وښودو ـ۵۴ یو وخت خو دا پاځون دومره سخت شو چې قبایل د پېښور ښار اخستلو ته ورنزدې شوي وو ـ دا حالت په هغې صورت کې وتمبولی شو چې انګرېزانو د ډېر طاقت د استعمال نه کار واخیست ـ په سرحد کې د نولس سوه دېرشمې لسېزې په پېل کې د غېرو خلکو د حکومت خلاف مقاومت ډېر سخت وه او انګرېزانو لپاره یې د ډیورنډ نه ورایسته پښتنو سره د اوږدې مودې په نښتو کې څه ډېرې بوګنونکې قبصې جوړې کړې ـ

د تېرو لسیزو په شان پښتنو قبایلو خپلې ازادۍ لپاره لاس و پښې وهل او د افغانستان د حاکمانو نه یې د کومك هېله لرله ـ د پاچا جوړېدلو نه وروسته ډېر زر نادر شاه د سرحد د پښتنو په اړه د افغانستان په روایتي موقف باندې ټینګار وکړو، وئېلې ئې: "د افغانستان استوګن او د سرحد افغانان د اسلام او

قومیت د مخه یو خلك دي .»[۵۵] دې نه پرته د بریتانیې د خوړېدنې په لاره کې افغانستان لپاره د مینځګړي په حیث د قبایلي پټي ارزښت هم هغه ته ښه معلوم وه . خو هغه چې څومره غوښتل هغه هومره کومك یې قبایلو ته ورکولی نه شو، ځکه چې د نوي رژیم د خورا کمزورۍ په وجه هغه د بریتانیې قهر پارول مناسب نه ګڼل . دا راز نادر شاه د هند د ملي ازادۍ خوځښت، چې پخوا ورته د امان الله مضبوطه مرسته حاصله وه، په بابله هم سست موقف اختیار کړ .

د ډیورنډ نه ورایسته د پښتنو او انګرېزانو تر مینځ جګړو کې د نادر شاه ښکاره بې طرفۍ د ډیورنډ کرښې په دواړو خواو قبایل خپه کړ، خو انګرېزان ترې خوشال شو، او هغه ته یې په کال ۱۹۳۱ء کې لس زره رائفلونه او یو سل اتیا زره پونډونه نغد ورکړ .[۵۶] د نادر شاه په دوره کې د خارج نه دا یواځینی کومك چې افغانستان ته رسېدلی وه .[۵۷]

نادر شاه د پولې نه ورایسته پښتنو له د انګرېزانو خلاف هلو ځلو کې کومك ورنه کړ خو د هغوی مشرانو ته یې افغانستان ته په تګ راتګ یا هلته پناه اخستلو لپاره د هرکلي دود جاري وساتلو . قبایلو سره د هغو په سلوك نادر بیا بیا انګرېزانو ته خپل نارضایت څرګندولو، او غوښتل به یې چې د هغو خلاف دې عملیات بند کړي . د افغانستان په طرف پرتو ځینو قبایلو کې د امان الله پلویانو به کله کله ناارامۍ ته لمنه وهله، خو د قبایلي چارو په هکله د نادر شاه کافي معلوماتو او د هغو ستونزو ته د هغه پاملرنې به په عمومي ډول پاڅون شنډ کړو او ډېر زر به یې ختم کړو.

د افغانستان د حکومت او د قبایلي خلکو د خواشینۍ سره سره بریتانیې په سرحد کې خپله مخ په وړاندې کړنلاره پرېنښوه . کله کله به یې د داخلي او خارجي فشار په وجه لږه نرمه کړه، خو پرېښودله یې نه . لکه مخکې ذکر شوي دي، د افغانستان د استقلال نه پس، قبایلي سیمو کې د عسکري شتوالي ټینګولو ته د انګرېزانو پاملرنه زیاته شوې وه . انګرېزانو غوښتل که چرې هغه مینځګړی هیواد چې اوس د هغوی د لاسه وتی وه، د شمال د لوړې د برید په حالت کې ناساپه وغورځېږي، نو په قبایلي سیمو کې به هغه "وحشیان" په هندوستان د برید کولو نه وتمبوي.

قبایل ختم نه شو خو په استاذۍ وتمبولی شو . د قبایلو زیاته ازاده سیمه د هند د حکومت په ولکه کې راغله . د تعجب وړ ده چې د هند حکومت بیا هم په سرحد کې خپله مخ په وړاندې کړنلاره عملي کوله . هغې نه پس هم چې د هند ازادي په نظر کې وه . او د هند د ساتنې مقصد، او یا د یو "ساینټېفك" سرحد رامنځته کول خپل انجام ته رسېدلي وو، داسې وه لکه هغه کړنلاره په عمل کې وي چې خپل پخوانی اهمیت یې بایللی وي . [۵۸]

افغانانو په ځینو دلیلونو قبایلي سیمو کې د انګرېزانو د طاقت خورونه مناسب نه ګڼله . دې د ډیورنډ نه ورایسته پښتنو ته ډېر ناوېلي مشکلات پېدا

کړي وو او هغوی يې د خپلې خوږې ازادۍ نه محرومه کړي وو . دې سره هغه مينځګړې سيمه په کرار کرار له مينځه يوړل شوه، د کومې شا ته چې افغانستان د انګرېزانو د ښکاره او پټو لاسوهنو نه نسبتاً په امن وه . دې لپاره افغانانو ته ډېر کم څه په لاس ورتله چې د انګرېزانو خلاف يې د هغوی دايمي احساسات شا ته کړي وی . د حېرت وړ ده چې ظاهري خاموشۍ سره د افغانستان او بريتانيې تر مينځ روابط کله هم صميمانه نه وو .

دې دوران کې د ۱۹۳۰ء د جون په مياشت کې د روسي پوځ يوه قطعه ترکستان نه په امو درياب افغانستان ته راواوړېده . "يا خو په دې نيت چې ابراهيم بېګ ونيسي او يا شايد د افغانستان حکومت د هغه خلاف ګام وچتولو ته مجبور کړي ."[۵۹] دا قطعه په افغانستان کې تر څلوېښتو ميلو پورې راننوتې وه .[۶۰] ابراهيم بېګ د آخري باسمچي مشرانو څخه يو وه او د فرېزر ټېټلر د وينا مطابق د بچه سقاو وفادار وه .[۶۱] هغه به په شوروي ترکستان کې کله کله فعاليت کولو او په افغانستان کې دننه د مزار شريف، اندخويي او مېمنې په سيمو کې يې هم چورچپاول کولو . شورويان د ابراهيم بېګ په نيولو کې ناکامه شو، او د افغانانو د سخت احتجاج نه پس په سرحد باندې خپل اړخ ته ستانه شو . دې پېښې افغانان نور هم شوروي اتحاد سره د ښو تعلقاتو د جوړولو په ضرورت قانع کړه . نه صرف د داسې قسم پېښو د مخنيوي په خاطر، بلکې د "ملي خپل اختيار او کلتوري خپل اختيار" په نوم شورويان د مشکلاتو پېدا کولو نه اړولو لپاره هم .[۶۲]

د کال ۱۹۳۱ء د اپرېل په مياشت کې د نادر شاه يو بل ورور شاه محمود خان ابراهيم بېګ ته ماتې ورکړه او هغه يې د امو درياب نه وراخوا کړه . هغې نه پس زر روسيانو هغه ونيوه او اعدام يې کړو . د باسمچيانو خلاف دې عمل په ظاهره روسيان خوشال کړه، ځکه چې په کال ۱۹۳۱ء کې د افغانستان او شوروي اتحاد تر مينځ د دوستۍ يو تړون شوی و چې د دواړو خواو تر مينځ يې د ګاونډيتوب ښو روابطو رده اېښودې وه .[۶۳] شورويانو سره د ښه نيت د ښکندونې په خاطر د ابراهيم بېګ د ماتې نه پس نادر شاه په شمالي افغانستان کې د شورويانو خلاف فعاليتونو ته د ځای ورکولو نه انکار وکړ . د هغه په ځای ناست افغان حاکمانو هم په هغې کړنلارې باندې په کلکه عمل کولو . سره د دې چې په هغو زرګونو مهاجرينو کې چې د شورويانو د ظلم نه راتښتېدلي د افغانستان په مختلفو شمالي سيمو کې خواره واره پراته وو د شورويانو خلاف احساسات او روسيانو ته د زورنې ورکولو جذبات په زور کې و . شوروي اتحاد سره د روابطو د ټينګولو په نتيجه کې د دواړو ګاونډيانو تر مينځ تجارت پراختيا وموندله، او وروستو د افغانستان او شوروي اتحاد تر مينځ د پوستې يوه لوزنامه هم وشوه .[۶۴]

نادر شاه ترکيې او ايران، هغه دوو هيوادونو سره، چې امان الله ورسره ډېر ښه روابط ساتل، هم دوستانه روابط غوښته .

ترکيې او ايران سره د ښو او دوستانه روابطو د ساتلو په لړ کې نادر شاه

د عام دپلوماتېکو هدفونو نه ډېر مخکې لارو. داسې ښکارېده چې هغه په شعوري ډول دا هڅه کوله چې ترکيې او ايران کې د امان الله د پلويانو لخوا د امکاني فعاليتونو مخه ونيسي، او ايران هم په هرات باندې د ادعا نه واړوي. دې نه بغېر هغه او نوښتيانو دواړو د داسې انديښنو د شنډولو فکر کاوه چې ګڼې د امان الله په رټلو افغانستان هم پرمختګ نه مخ واړولو. په دې لړ کې د ترکيې او ايران ښکاره ستاينه کافي وه.٦٥

ايران او په خصوصي ډول ترکيې سره ښو اړيکو ته وده ورکولو کې نادرشاه کامياب شو. د نادر شاه په دوره کې د افغانستان په عسکري روزنه او روغتيايي ساحو کې د ترکيې ونډه ډېره قوې شوه. د ترکيې د اساسي قانون ماهرينو د ١٩٣١ء د اساسي قانون د مسودې په تيارولو کې هم کومک وکړو. هغه اساسي قانون چې تر ١٩٦٤ء پورې يې دوام درلودلو. نادرشاه نورو اسلامي هيوادونو سره هم د نزدې اړيکو ساتلو په لور وخوځېدو، نه صرف د اسلام د ټينګتيا لپاره بلکې د سخت اسلامي افغان ملت د ډاډ لپاره هم. په ١٩٣٢ء افغانستان سعودي عرب او عراق سره هم د دوستۍ تړونونه لاسليك کړه.

د نادرشاه د چارو د ارزيابۍ نه داسې ښکاري چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد او بريتانيې تر مينځ توازن ساتلو لپاره د هغو دولتونو متابعينو ته په هيواد کې په ماموريت باندې لګېدلی و او هغوی ته د پاچاهۍ په دوديزه چارو کې د ونډې اخستلو اجازت نه وه. په دې بنديزونو په کلك ډول عمل کېدلو. د "مخصوص نوښتي" جريان په ذريعه د افغانستان د ودې په اراده، نادرشاه د هغو صنعتي هيوادونو لکه المان، فرانسې، ايتاليې او جاپان نه چې "سياسي غرض يې نه درلود" د کومك غوښتنې وکړې. درې واړو اروپايي هيوادونو د افغانستان غوښتنو ته مثبت جواب ورکړو او د افغانستان د پرمختګ عصري پروګرام کې يې خپله ونډه زياته کړه. جاپان يو څو کلونو پورې د هغو هيوادونو په صف کې ونهدرېدو چې افغانستان سره يې د هغې په نوښتي هڅو کې کومك کاو. وخت تېرېدلو سره په دې سيمه کې د المان اهميت په بيړې سره زياتېده. د دويم نړېوال جنګ په پيل کې افغانستان ته مالي او تخنيکي مرستو ورکولو کې المان د ټولو نه مخکې وه او د تجارت په ساحه کې د ټولو نه زيات مهمو ونډوالو څخه يو وه.

نادرشاه د افغانستان په وده کې د امرېکې د متحده ايالاتو مرسته هم غوښته. افغانانو لپاره په هغه هيواد کې ځيني راښکونکې ګټې وې. هغه هېواد دولتمند وه، او ډېر لرې چې په اسيا کې يې څه امپراتوري خواهشونه نه لرل. د هغې ځاني پانګه لګوونکي زړور وو او د ابتکاري ذهن مالکان وو. د هغو د تخنيکي پوهې خاصيت چا پسې په دويم نمبر نه و. خو د کلکو هڅو سره د نادر اداره په افغانستان او د هغې په انکشاف کې د متحده ايالاتو علاقه خپله نه کړی شوه. د امرېکې حکومت افغانستان په ١٩٢١ء کې په قانوني توګه پېژندلی و،

خو هلته يې په رسمي ډول ډيپلوماتيك اړيکي لا نه وو جوړ کړي ـ کېدی شي چې د هيواد د لرېوالي او په متحده ايالاتو کې د دې کورني حالاتو باندې د پوهې نيشتوالي د امريکې حکومت او د امريکې مال لګونکي په افغانستان کې د کار کرلو نه متېکور کړي وو ـ

• نادرشاه د کال ۱۹۳۳ء د نومبر په اتمه نېټه په هغه وخت ووژلی شو چې په يو سکول کې يې د جايزې ورکولو دستوره کې ګډون درلود ـ قاتل خپل ذاتي غرض لرلو ـ هغه د غلام نبي چرخي منلی زوی وه ـ چرخې د امان الله يو مشهور پلوي وه ـ او يو کال آګاهو د امان الله په حق کې په سويلي ولايت کې د قبايلو بغاوت د پورته کولو په جرم کې نادر شاه اعدام کړی و ـ محمد ظاهر شاه د افغانستان د پاچا په حيث د خپل پلار ځای ونيوه ـ محمد هاشم خان چې د نادر خان ورور او صدر اعظم و خپله رتبه وساتله، او په حقيقت کې د ظاهر شاه په نوم يې هيواد په ښه شان اداره کولو تر هغې پورې چې د کال ۱۹۴۶ء د مې په مياشت کې يې خپلې وظيفې نه استعفا ورکړه ـ

## Notes

1. For interesting accounts of the early period of Soviet overt and covert operations against British rule in India and use of the legitimate aspirations of the Asians (notably those of Indian nationalists) by the Bolsheviks to further their anti-British designs, see also Georges Agabekov, *O.G.P.U.: The Russian Secret Terror* (New York: Brentano's. 1931), and Gunther Nollau and Hans Jurgan Wiehe, *Russia's South Flank: Soviet Operations in Iran, Turkey and Afghanistan* (New York: Praeger, 1963).
2. Those reforms did not cover the Pashtun homeland of the North-West Frontier Province.
3. Charles Miller, *Khyber: British India's North West Frontier* (New York: Macmillan Publishing Co., 1977), 314.
4. Ibid.
5. Mahmud Tarzi was an Afghan nationalist and reformer. He was the founder of the newspaper *Saradj-al-Akhbar* during the reign of Habibullah Khan and a prolific writer, poet, and translator of European and Turkish works into Persian. He later became Amir Amanullah's father-in-law and foreign minister.
6. Adamec, *Afghanistan 1900–1923*, 134.
7. Ibid., 110.
8. Ibid., 110–11.
9. The information in this paragraph was gathered by me in conversations with the late King Amanullah in Montreux, Switzerland, in the summer of 1953.
10. Adamec, *Afghanistan 1900–1923*, 142.
11. *The Times* (London), 13 June 1919. Quoted in Fletcher, *Afghanistan*, 197.
12. Adamec, *Afghanistan 1900–1923*, 115.
13. Miller, *Khyber*, 324–25.
14. Adamec, *Afghanistan 1900–1923*, 123.
15. Ibid., 124.
16. Ibid.
17. Ibid., 124–25.
18. Ibid., 127.
19. Ibid., 129.
20. For the Anglo-Afghan treaties of 1919 and 1921 and their annexes, see C. U. Aitchinson, *Treaties, Engagements and Sanads* (Calcutta: 1933), vol. XIII.

21. Adamec, *Afghanistan 1900–1923*, 135.
22. Fraser-Tytler, *Afghanistan*, 196–97.
23. Miller, *Khyber*, 106.
24. Ludwig W. Adamec, *Afghanistan's Foreign Affairs to the Mid-Twentieth Century: Relations with the U.S.S.R, Germany and Britain* (Tucson, Ariz.: University of Arizona Press, 1974), 106.
25. Adamec, *Afghanistan 1900–1923*, 143.
26. Ibid., 147.
27. Ibid., 154.
28. Ibid., 153.
29. Ibid., 154.
30. Ibid., 156.
31. Ghulam Mohammad, a member of the Afghan mission, explained the position to Abdul Kayum, a member of the British delegation, in the following terms (Adamec, *Afghanistan 1900–1923*, 152):

    "We can still make a good bargain with the Bolsheviks; but we prefer to deal with Great Britain, because she is firmly established and an ancient state, and is also wealthier than the Bolsheviks. Moreover, she is our old friend and we would prefer to turn towards her first . . . but we want to know what the British will offer us. If they will not offer us enough, we must turn to the Bolsheviks. There is still time to do so. But also we require Waziristan. . . ."
32. Bukhara, completely vassalized by czarist Russia, was only nominally autonomous. The Bolsheviks did not accept even that much of a facade. The Young Bukharans was a Communist front organization that engineered the overthrow of the amir of Bukhara and, with the assistance of the Red Army, established a Soviet government there. The unfortunate amir fled for his life and settled in Afghanistan. His treasure and personal belongings were plundered by Soviet officials.
33. Adamec, *Afghanistan 1900–1923*, 157.
34. Vartan Gregorian, *The Emergence of Modern Afghanistan* (Stanford, Calif.: Stanford University Press, 1969), 236.
35. The amir, while objecting to the British démarche on the ground that it was an infringement of Afghanistan's sovereignty, responded to British sensitivities by seeing to it that the Soviet consulates did not open in Kandahar and Ghazni. (In 1938 the Afghan consulates in Tashkent and Merv and the Russian consulates in Mazar-i-Sharif, Herat, and Maymana were closed by mutual consent. Twice in 1976 Novokreshchnikov, counselor of the Soviet Embassy in Kabul, asked the Afghan Foreign Ministry to consider reestablishment of at least one Soviet consulate, namely in Mazar-i-Sharif, but the ministry did not accept his request.) For the Russo–Afghan Treaty of 1921, see Adamec, Afghanistan 1900–1923, 188–91.
36. Adamec, *Afghanistan 1900–1923*, 158.
37. Gregorian, *Modern Afghanistan*, 238.
38. Adamec, *Afghanistan 1900–1923*, 160.
39. Ibid., 161.
40. Rhea Tally Stewart, *Fire in Afghanistan 1914–1929* (New York: Doubleday & Co., 1973), 163–64.
41. Adamec, *Afghanistan 1900–1923*, 161.
42. Ibid., 162.
43. Ibid., 163–64.
44. Stewart, *Fire in Afghanistan*, 183.
45. Adamec, *Afghanistan 1900–1923*, 165–66.
46. Adamec, *Afghanistan's Foreign Affairs*, 108.
47. As could be anticipated, the interaction between this new foreign community and the Afghans was not always smooth and uneventful. As an example of these frictions, the Peperno affair, which became a cause célèbre, is worth mentioning. Peperno, an Italian, killed an Afghan policeman. He was found guilty by the Afghan courts and executed. The affair aroused great indignation in Italy and Europe and almost caused the severance of diplomatic relations between Afghanistan and Italy.
48. Fletcher, *Afghanistan*, 215.
49. Abdur-Rahman Pazhwak, quoted in Gregorian, *Emergence of Modern Afghanistan*, 292.
50. Stewart, *Fire in Afghanistan*, 562.
51. Fletcher, *Afghanistan*, 225.
52. Ibid., 223.
53. Leon B. Poullada, *Reform and Rebellion in Afghanistan, 1919–1929* (Ithaca, N.Y.: Cornell University Press, 1973), 251.
54. The Khudai Khidmatgaran (servants of God) movement was founded and led by Abdul Ghafar Khan. Adherents of this movement later became known as the Red Shirts. The Khudai

Khidmatgaran was a Pashtun nationalist reformist movement located in trans-Durand areas.

55. Quoted in Adamec, *Afghanistan's Foreign Affairs*, 195.
56. Fraser-Tytler, *Afghanistan*, 231.
57. Ibid.
58. Adamec, *Afghanistan's Foreign Affairs*, 211.
59. Fraser-Tytler, *Afghanistan*, 230.
60. Ibid.
61. Ibid.
62. Gregorian, *Emergence of Modern Afghanistan*, 333.
63. Ibid., 332.
64. Adamec, *Afghanistan's Foreign Affairs*, 203.
65. Gregorian, *Emergence of Modern Afghanistan*, 334.

# څلورم څپرکی

# دویم نړیوال جنګ
## بېطرفي
## د افغان دولت د پاره یوه فطري لاره

د محمد هاشم خان کړنلاره د نادرشاه پاچا نه لږه شان بدله وه ـ دننه په هیواد کې محمد هاشم د افغاني پاچاهۍ په ټینګولو او په ټول هیواد کې د قانون د نفاذ براېرولو او تقویه کولو کې مصروف و ـ د نوښتوالي جریان په لور یې هم په مزه او احتیاط ګام پورته کولو ـ په خارجي صحنه کې:

د نادر د باندېنیو چارو د کړنلارې هم هغو اصولو د هاشم د حکومت لاربښودنه کوله ـ شوروي اتحاد او لویې برطانیې سره صحیح روابط، ترکیې، ایران اونورو مسلمان هیوادونو سره نزدې روابط، په بین المللي سویه د پېژندګلو پراختیا او په پراخه توګه تعلقات، او د هېواد عصري کولو په لړ کې د لرې صنعتي طاقتونو نه د کومك د حاصلولو پرله پسې هڅې ـ د افغانستان د باندېنیو چارو عمده مقصد محفوظ او محتاط اقتصادي انکشاف و ـ[۱]

د افغانستان حکومت له برطانیې او شوروي اتحاد سره په "صحیح" ډول د روابطو ساتلو هڅې جاري ساتلې ـ هاشم له ډیورنډ نه ورایسته قبایل د برطانیې خلاف شور شرابې نه منع کول او هندي نامنونکو ته یې د برطانیې خلاف تبلیغاتو او فعالیتونو د پاره د افغانستان د خاورې د استعمال اجازت نه ورکولو ـ هغه وخت د افغان حکومت د قبایلو د چارو کړنلارې د ډیورنډ نه ورایسته قبایلو کې د پردیتوب احساس زېږولی و چې د افغانستان په جاري اعانو نه ارزېده ـ په زیاتو قبایلي سیمو کې دا فکر کېده چې افغانستان قبایل ټیټ واچول ـ دوه لسېزې

آګاهو د ډيورنډ نه ورايسته قبايلو برطانيې نه د ازادۍ ساتلو په جدوجهد کې د افغانستان پاچا خپل روحاني مشر ګڼلو. او ډېرو دا هېله لرله چې په آخر کې به دوی افغانستان سره بيا يو ځای شي. اوس د دوی د مشرانو په رايو کې اختلاف و چې خپل وطن يو مستقل پښتون دولت جوړ کړي او که د هندوستان لادينه يووستون کې شامل کړي![۲] دې حالت افغانستان هم د يو داسې مضبوط اړم نه محرومه کړو چې برطانيې سره د نااواره اړيکو په جريان کې د ډيورنډ نه ورايسته پښتنو جوړ کړی و.

هم دا راز د افغانستان په قطب کې باسمچيان او نور د شورويانو خلاف عناصر د شورويانو خلاف عملياتو نه منع کړی شوی وو.[۳] د روسيانو او افغانانو تر مينځ پوله په کرار کرار د روسيانو د وينا مطابق د "امن پوله" شوه. د انکشافي اړيکو په رڼا کې د شوروي اتحاد او افغانستان تر مينځ په کال ۱۹۳۵ء کې په سرحدي سيمو کې د ملخانو د ختمولو په هکله يو تړون وشو. د ۱۹۳۶ء تجارتي تړون کې د نورو توکو سره شوروي سيمو کې افغانستان ته د ټرانزټ حقوق ورکړی شو. او هم ۱۹۳۶ء کې د شورويانو او افغانانو تر مينځ تړون د ۱۹۴۶ء د مارچ پورې اوږد کړی شو.[۴] په ۱۹۳۸ء کې دواړه خواوې په دې راضي شوې چې خپلې خپلې قونسلګرۍ وتړي. د دې عمده علت د افغانستان هغه وېره وه چې په قطبي افغانستان کې شوروي قونسلګرۍ به ورانکاريو د پاره استعمالولی شي.

کال ۱۹۳۴ء کې افغانستان د "ليګ آف نېشنز" يعنې د "ملتونو د ګوند" د غړيتوب د پاره عريضه ورکړه، او پوره غړی انتخاب شول. د ګوند غړيتوب نه صرف د يو ملت حيثيت او استقلال منل بلکې دا هېله هم وه چې د تېريو نه به د کوچني هيوادونو لکه افغانستان ساتنه هم تامينوي. خو د ګوند د خبرداري او بنديزونو باوجود په ۱۹۳۶ء کې اطاليې په حبشې بريد وکړو. د تېري دې عمل چې د ملتونو د ګوند د ړنګېدلو د پاره وړومبنی ګوذار وه، ثابته کړه چې د اجتماعي ساتنې طريقه کار چې د ګوند په سند کې نظر کې نيولی شوی و د عمل وړ نه و. د غمېزې دې پېښې افغانانو ته څرګنده کړه چې د يو زورور ګاونډي لخوا د بريد په حالت کې هغوی کومك د پاره په ګوند بروسه نه شوه کولی. په هر حال انګرېزانو چې په قبايلي سيمو، خصوصاً په وزيرستان، په ۱۹۳۷ء کې کومه ناترسه بمباري کوله، نو د افغانستان د احتجاج د پاره ګوند د خدمت يوه ښه موقع ورکړه.

اسلامي ګاونډيانو سره د اړيکو ټينګولو او بين المللي سويه باندې د قد قامت برابرولو په مينه افغانستان ايران، ترکيې او عراق سره په کال ۱۹۳۷ء کې د سعدآباد تړون لاسليك کړ. د ايران او افغانستان تر مينځ د هلمند د اوبو سلګليزه کشاله لا د ډاډ وړ حل ته نه وه رسېدلې. خو په موسی آباد نومي ځای

کې د افغانستان او ایران تر مینځ د سرحدي شخړې حل کېدلو او د دواړو هیوادونو تر مینځ په یوې ناوېشلې ساحه کې د سرحدي کربنې راښکلو سره د ایران او افغانستان په روابطو کې ځینې ستونزې لرې شوې، او هغې تړون ته یې لاره اواره کړه. د سعد آباد تړون د خپل قسم وړومبنی سیمییز تړون وه چې افغانستان پکې یو فریق وه. خو داسې ښکارېدله چې د افغانستان د فریق جوړېدلو یوه وجه د هغې دا خواهش وه چې په هرات او د سیستان په ځینو سیمو د ایران سوغېدلې ادعا د وېخه ختمه کړي. دې نه پرته افغانستان د برطانیې او روسیې د فشارونو په مقابل کې د اسلامي تینګتیا د پراختیا په لړ کې یو متقابل تول هم غوښته.

امضاء کوونکو هېڅکله هم په عملي ډول د ملګرتیا د ګډو ګټو خوند وانه خستلی شو. ډېر زر په نړۍ د جنګ سیلۍ والوته او د سعد آباد هیوادونه د خپل خپل پایښت د پاره د نورو بلکې زیاتو معلومو وسیلو په لټون پېل وکړو. د دویم نړیوال جنګ نه پس حالات داسې په ډرامایي ډول بدل شو چې د سعد آباد تړون ببخي له مینځه لاړو. دا راز د یو څو ازادو اسلامي هیوادونو تر مینځ د سیمییزې سلامتیا او تعاون د ستاینې وړ دې تجربې په حقیقت کې عملي ګام هم پورته نه کړ.

په کال ۱۹۳۵ء کې متحده ایالاتو په ایران کې خپل وزیر په افغانستان کې هم د متحده ایالاتو د نماینده په حیث وګومارلو. د دواړو هیوادونو تر مینځ د ډېر وخته راسې د ضرورت وړ دپلوماتېک روابط د افغانانو د ډېرې خوښې باعث شو. ځکه چې هغوی په ډېره مینه د متحده ایالاتو اقتصادي او سیاسي مرستو ته لیواله وو. خو د امرېکې کاروبار په افغانستان کې په ۱۹۳۷ء کې پېل وکړو کله چې د هاشم حکومت د امرېکې "اِنلېنډ ایکسپلورېشن کمپني" یعنې "هیواد کې دننه اکتشافي شرکت" ته د افغانستان د قدرتي منابعو د لټون او په کارولو د پاره د ۷۵ کالو د پاره رعایت ورکړو.

په هر حال دا پروژه بارداره نه شوه. شرکت چې په قطبي سیمو کې د ابتدایي کتنې کار پېل کړو، نو د افغانستان حکومت خبر شو چې امرېکنیانو وتل غوښتل. ظاهره ده چې افغانانو ته قهر ورغلو، خو د تړکې د شرایطو د مخه د شرکت لخوا د نغدو په شکل کې د جریمې نه پرته نور هیڅ نه شو کېدلی. او هغه یې ډېر زر ومنله.

د تړکې یو مخیزه بندېز ډېرې خبرې جوړې کړې، خو د انلېنډ غوښتې یو شرکت د پاره پېل کولو نه مخکې د دې مسئلو او مشکلاتو علم ضروري و. کابل کې داسې افواګانې وې چې د افغانانو او امرېکنیانو تر مینځ د تړلو د موافقې په تړه پېژرولو کې روسانو لاس درلود. ما د باندینیو چارو د وزارت په آرشیف کې داسې څه ونه لېده چې روسیانو به افغانانو ته د انلېنډ د تړکې د

ختمولو د پاره ویېلي وو . خو د هغې وزارت یو پخواني عالي رتبه مامور ماته ویلي وو چې روسیانو براه راست امریکنیانو ته درخواست کړی وه چې په افغانستان کې د تېلو د لټون او پکارولو نه لاس واخلي . شاید افغانستان نه د انلېنډ د وتلو د ډرامایي وضاحت د څېړنې څه خاص ضرورت نیشته ٦ خو دا کېدی شوه چې راتلونکي جنګ بین المللي حالات په کوم رفتار خرابول هغې امرېکنیان ګړندي کړل چې تاوان ومني او محفوظو ځایونو ته ستانه شي .

کال ١٩٣٨ء کې افغانستان سره د المان اقتصادي او تخنیکي مرستې او د دوارو هیوادونو تر مینځ تجارتي اړیکي د اهمیت وړ تناسب ته رسېدلي وو . د افغانستان د عسکري نظام په نوښتي چارو کې هم المانان بوخت شوي وو . څنګه چې د المان طاقت زیاتېدلو او په اروپا کې د مخامخ کېدلو وېره برڅېره کېدله نو په افغانستان کې د المان علاقه ډېره زیاته شوه . دې علاقه په اصل کې د افغانستان د جغرافیایي او سیاسي موقعیت سره اړه لرله او په هندوستان کې د برطانیې خلاف د عملیاتو یو مضبوط پړاو وه . د ١٩٣٩ء د اګست په میاشت کې افغانستان او المان "یوه ځانګړې مالي او تجارتي تړون" وکړو .٧ د دې تړون د شرایطو لاندې جرمن حکومت مکلف وه چې افغانستان ته د اوږدې مودې د پاره پور ورکړي، چې د رخت او اوبو د برېښنا د فابرېکو د پاره ضروري المان سامان پرې واخلي . او افغانستان به په لسو کالو کې د دې پور په بدل کې مالوچ المان ته ورکړي .٨ دا تړون:

د نازي د ډپلوماسۍ یوه لویه ګټه وه . په داسې وخت کې چې لویه برطانیه، شوروي اتحادو فرانس او متحده ایالات یا خو راضي نه وو او یا د دې جوګه نه وو چې افغانستان ته یې د اوږدې مودې د پاره مالي ژمنه کړې وی . سیاسي ګټو نظر کې نیولو سره نازي المان "تیاروه چې یو داسې هیواد ته د اوږدې مودې د پاره پور ورکړي چې هغه یا خو ډېر لږڅه ورکولی شو او یا د پور پرې کولو هېڅ قسمه واضحه تضمین نه وه .٩

د کال ١٩٣٩ء د ستمبر په میاشت کې چې په اروپا کې جنګ پېل شو نو په افغانستان کې د المانیانو موجودیت ښه پوخ شوی وه . یو ډېر شمېر المانان ماهرین او تخنیکاران په هیواد کې په کار بوخت وو . ځنیې جرمن پروژې د تکمیل په لاره وې . او المانیانو د کار د کېفیت او افغانستان ته په پراخ مټ د کومك ورکولو په وجه د افغانانو خوښي ګټلې وه . دې سازګار چاپېریال کې المانان او اطالویان د نورو دندو په ترڅ کې د ډیورنډ نه ورایسته سیمو کې برطانیې د پاره مشکلات پېدا کولو کې مصروف وو . د دوی اېجنټانو به کله نا کله په یو ځای کار کولو او په قبایلو سیمو کې د انګرېزانو خلاف عناصرو سره روابط قایمولو

کې بریالي شوي وو. په وخت په دوی کې مشر حاجي مرزا علي خان و چې د ايپي فقير په نوم مشهور و. هغه د کال ۱۹۳۷ء نه د انګرېزانو خلاف په وزيرستان کې پاڅونونو ودرولو کې بوخت و. کابل کې المان او اطالوي سفارتونو په سرحدي سيمه کې د شر پورته کولو په لړ کې ډېرې چټکې. سره خپلو ايجنټانو د پاره د تګ راتګ او ليک راليک اسانتياوې برابرولې. کله نا کله د دې سفارتونو غړو پخپله دا غبرګې دندې کولې. د افغاني د دايرې دننه مشرتابه ته دا هر څه معلوم وو، خو هغوی په دې غرض چې برلېن او روم خپه نه شي د المانيانو او اطالويانو د تربګنيو د تمتيا د پاره څه مضبوط ګامونه پورته نه کړه. کله نا کله افغاني مقاماتو د دې پټو کارونو خلاف عمليات کول، کله به چې برطانوي حکومت د شر شدت په لړ کې د يو مخصوص جرمن يا اطالوي خلاف شکايت وکړو.[۱۰]

د کال ۱۹۳۷ء نه رااېسته په اروپا کې د سياسي حالاتو خرابېدلو د افغانستان په حکومت هم اغېزه کوله. هغې ته دا احساس وه چې په اروپا کې د جنګ نښتلو په حال کې، که المان هم په کې ګښيوتو، افغانستان کې د المانيانو په مالي او تخنيکي مرستو رواني انکشافي پروژې به ډېر بد تاثير لاندې راشي. کله چې په اروپا کې د تېري خلاف په شريکه د کومک د يو تړون د پاره په ماسکو کې د انګرېزانو، شورويانو او فرانسويانو تر مينځ خبرې په کال ۱۹۳۹ء کې ناکامې شوې، نو افغاني واکمنو د پاره د المان او شوروي اتحاد تر مينځ د روغې جريان ژوره انديښنه پيدا کړه. کابل کې دا فکر وه چې د انګرېزانو او المانيانو د جنګ په حال کې به شورويان، که ايکسس يعنې محور سره ملګري وو، څانونه ازاد ګڼي چې د افغانستان په قطبي برخو بريد وکړي او خپل قلمرو کې يې شاملې کړي. (په ۱۹۳۶ء کې د المان او اطالوي تر مينځ تړون په ايکسس يادېدو) او د المان، اطاليې او په امکاني ډول جاپان په محاصره کې ګېره برطانيه به د روسيې د داسې حملې مخنيوي د پاره توان ونه لري. څينو افغانانو سره دا وېره هم وه چې د المان او روسيې قواوې به د افغانستان د لارې په هندوستان کې په برطانيې بريد وکړي، او په دې جريان کې به دا هيواد ببخي تباه شي. له خپلو مصروفيتونو او وېرو سره صدر اعظم هاشم او نورو عالي رتبه افغاني مقاماتو سره دا انديښنه وه چې چې په افغانستان باندې د قطب د لورې د حملې په حال کې به د برطانيې عکس العمل څه وي.

د ۱۹۳۸ء د اکتوبر په مياشت کې د هندوستان د حکومت د باندېنيو چارو منشي آوبېري مېټکالف افغانستان ته راغلو. هغه سره د شامي پير[۱۱] په هکله، نورې د سرحدي چارو نااشنا قبصې، او د فقير ايپي خلاف په وزيرستان کې د انګرېزانو پرله پسې لاسوهنې باندې خبرې وشوې، خو د خبرو مرکزي موضوع په افغانستان باندې د روسيې د حملې باره کې د افغانانو وېره وه.

انګرېزانو اوس هم افغانستان د هندوستان د ساتنې يوه ضروري برخه ګڼله او د داسې امکان لټون يې کاوه چې په خپلو کې د مرستو يو تړون وکړي، او په افغانستان باندې د روسيې د حملې په حال کې د هغې د مخه برطانيه افغانستان ته عسکري کومك ورکړي. ظاهره خبره ده چې افغانان انګرېزانو سره د داسې تړون په هکله ډېر محتاط وو، ځکه چې دې سره به شوروي اتحاد وپارېږي. دا خطره به داسې حال کې اخستلې شوه چې انګرېزان پخه ژمنه وکړي چې د افغانستان استقلال به په ځاى محفوظ وي او د افغانستان د قطبي پولو ساتنه به تامينولې شي. څنګه چې په ١٩٢١ء کې د انګرېزانو او افغانانو د خبرو حال وه، انګرېزان د پخې ژمنې په لړ کې تردده وو. په آخر کې د خپل مينځي تعاون په تړون خبرې وخنډولې شو. څه خبرې وشوې، خو تړون ته ونه رسېدې، پرته د يو کوچني پروګرام څخه چې په هندوستان کې د افغان فوځ منصبدارانو ته تربيت ورکړي.

د ١٩٣٩ء د اګست په مياشت کې المان او شوروي اتحاد د يو بل خلاف د حملې نه کولو يو تړون لاسليك کړ. يو څو ورځې پس المان په پولېنډ يرغل وکړو. تړون سره د تړلې پروټوکول د يوې پټې مادې د مخه په ١٧م ستمبر سرې لښکرې هم د پولېنډ د وهلو او وېشلو د پاره "وېهرماشت" سره يو ځاى شوې. په پولېنډ باندې د المان د يرغل نه فوراً پس بريتانيې او فرانس خپلو کې د ټينګ موفقيت د مخه جرمنې سره د جنګ اعلان وکړو.

دې پېښو د افغانانو اندېښنې زياتې کړې چې په افغانستان باندې د روسيې حمله هر وخت کېدلې شي. د افغانانو په خيال په نورو منطقو کې د بريتانيې مصروفيت او شايد په اسيا کې د روسيې د غوښتنو په مقابل د هغې کمزورۍ حالات نور هم کړکېچن کړي وو. افغانانو سره دا اندېښنه هم وه که بريتانيه د روسيې خلاف د جنګ اعلان وکړي نو ږ شوروي اتحاد مخ به د افغانستان د لارې په هند حملې ته راواړوي. اروپا کې د جګړو د پېل نه وروستو افغانستان په دې شخړه کې خپله بېطرفي اعلان کړه. خو د بريتانيې په ضد د المان او شورويانو يو کېدلو او د هغې امکاني نتيجو د ١٩١٤-١٩١٨ء په مقابل کې، څه وخت چې د افغانستان دواړه اروپايي ګاونډيان ملګري وو، د بېطرفۍ ساتل ډېر مشکل کړي وو. د ١٩٣٩ء نه د ١٩٤١ء تر نيمايۍ پورې د افغانستان بېطرفۍ انګرېزانو ته ګټه رسوله ځکه چې افغانستان هغو ته تسلي ورکړې وه چې د افغانستان حکومت به پاڅون د پاره د قبايلو لمسولو نه ځان ژغوري. بېشکه خاموشه سرحد د هند استحکام ته فايده رسوله. د هغې په نتيجه کې بريتانيې هندوستان نه او سرحدي سيمو نه ډېر فوځونه نورو اهمو ځايونو ته ولېږل.

انګرېزانو د افغانستان د بېطرفۍ ارزښت په پام کې نيولو سره د هغې دوام غوښتو، بل طرف ته المان، اطاليې او شورويانو هڅې کولې چې افغانستان

خپل اړخ ته راکاږي . د جنګ د پیل کېدلو نه پخوا المانان او ایتالویان د بریتانیې خلاف فعالیتونو د پاره د افغانستان د سیمې په ارزښت پوېدلي وو، په خصوصي ډول په قبایلو کې د خرپړتیا په حال کې . هغوی د انګرېزانو خلاف د ډیورنډ نه ورایسته خلقو سره روابط هم ساز کړي وو . اوس د المان او شوروي اتحاد نوې دوستۍ افغاني سیمو ته د رسېدلو د پاره المانیانو ته ښه زمینه برابر کړه . المانیانو د پاره په هندوستان کې د انګرېزانو خلاف د عملیاتو د وړومبنۍ پړاو په حیث د افغانستان ګټورتوپ په ډراماييي ډول زیات شوی و . دې کې شك نیشته چې المانیانو د دې سازګار حالاتو نه د ګټې اخستلو اراده لرله . په هر حال دوی ته دا پته وه چې د افغانستان د حکومت د نزدې تعاون نه بغېر په سرحدي سیمو کې په سترې پیمانې د خطرناك بغاوت او د هغې د کامیابۍ امکان نه و. المان د هاشم په حکومت باندې ګومان کولو چې د بریتانیې په حق کې و . په اول سر کې یې د هغې د بدلولو په لړ کې کوښښ وکړو چې یا خو پخوانی پاچا امان الله او یا د هغه د کورنۍ کوم یو غړی راولي . د اطالیې په لمسه المان چې د "امان الله پروژه" په نوم کوم کار کاوه هغه په ١٩٤٠ء کې نیمګړې پاتې شو، ولې چې د نازي ډلې د باندېنیو چارو زورور مشر الفرېډ روزنبرګ د دې مخالف و، او شوروي اتحاد هم دې پلان کې کومك نه کاوه .[١٢] د روزنبرګ دا خیال وه چې د امان الله د راوستلو په ځای د هاشم حکومت دې د محور په طرف راکاږي . د هغه په خیال دا "یو خپلمینځي ګټور ایتلاف" وه .[١٣] افغاني قبایلو کې د امان الله په اتبار شورویان دومره ډاډه نه وو او دا وېره ورسره هم وه چې هغه که بېرته تخت ونیولو نو انګرېزان به د هغه خلاف د قبایلو اوچتولو کوښښ کوي .

المانیانو په افغان حکومت زور راوړو چې بېطرفۍ نه واوړي او د افغانستان جذباتي ادعا بیا تازه کړي . په ١٩٤٠ء کې المان سفیر "په پټه دوی یعنې افغانانو ته دا ښکاره کړه چې اګسته پورې به هټلر لندن ته ځي . ویلی شي چې هغه افغانستان ته د دراني امپراتورۍ د بیا جوړولو وړاندېز وکړو او هغې یعنې المان ته دې بلوچستان، سنده کشمیر او لویدیز پنجاب او کراچۍ بندرګاه پرېږدي .[١٤] ١٩٤٠ء کې په پولېنډ، ناروې او بېنېلوکس هېوادونو د المان د حملې او په جون کې د فرانسې د ماتې نه پس داسې ښکارېدله چې د المان به اورمرو بریتانوي امپراتوري د ښپو لاندې کړي . ډېرو افغانانو د پاره د بېطرفۍ نه اوړېدلو کې رابښکون وه . یو زیات شمېر نوښتیان او ملتیان افغانان د افغانستان د ادعاګانو د تاثیر لاندې المان ته مخ اړولو . د هغوی دا یقین وه چې بریتانیه به هیڅکله افغانستان ته خپله بایللې زمکه بېرته ورنکړي، اود المان د بریالیتوب په حال کې داسې امکان و .

داسې آرشېفي ثبوت موجود دی چې د ١٩٤١ء تر نیمایي پورې ځېنو

عالي رتبه مامورینو کابل او برلن کې الماني مقاماتو سره تماس ساتلو چې د بریالیتوب په حال کې به د ډیورنډ نه ورایسته سیمو باره کې د افغانستان ادعا ته المان څه جواب وواېي. المانیانو ته هغو افغاني مامورینو څرګنده کړې وه: که افغانان د هغې سیمې چې استعمارچیانو نیولې وې، افغانستان ته د واپس کېدلو هیله ولري، افغانستان له اوبو ته د رسېدلو ازادي ورکړی شي، او المان د شوروبانو نه د افغانستان د زمکني تمامیت د پاره ضمانت واخیستی شي، نو افغانستان به په جار له المان سره د ملاتړ اعلان وکړي او د محور د هیوادونو په ملګرتیا کې به جنګ ته ورشي، او په سرحد کې به قبایلي پاڅون هم پورته کړي ۱۵ دا نه ده معلومه چې هاشم خان د دې خبرو نه خبر وه او اجازت یې ورکړی وه که نه، خو دې کې شك نیشته چې دا خبرې جدي وې. خو کله چې المان د بریتانوي قواو په مقابل کې د عراق د رشید علي الګېلاني حکومت چې د محور یو ملګری وه، په مرسته کې پاتې راغلو. نو دا فکر پېدا شو چې په دې سیمه کې هغه د عملیاتو توان نه لري. دې پېښو المان سره د افغانانو د سیاسي تعاون په خواهش باندې پخې اوبه تویې کړې.

د المانیانو او افغانانو تر مینځ دې روابطو انګرېزان زیږ کړي وو. په یوې موقع هغوی افغانانو ته د بلوچستان په سمندرې غاړه د بندرګاه او د چمن او کندهار تر مینځ د رېلوی پټرۍ د غزولو وعده هم ورکړه چې هغوی المان سره د سیاسي نزدیکت نه رااوګرځوي. دې وړاندېزونو افغانان مطمئن نه کړه او هغه پروژه خوندي کړی شوه ۱٦

د المانیانو په فکر د هند خلاف د مخکېنۍ کربښې په حیث د افغانستان د استعمالولو د پاره دویمه لاره دا وه چې شوروي اتحاد دې په زور افغانستان ونیسي. "د المان د زمکني پوځ سر لښکر براچېش د ۱۹۴۰ء د جنورۍ په میاشت کې دا څرګنده کړه چې رېچ یعنې المان اراده لري چې افغانستان او هندوستان ته د شوروي غزونې د پاره لاره اواره کړي ۱۷ د المان او شوروي اتحاد تر مینځ د برید نه کولو لوزنامه چې لاسلیك شوې وه نو د هغې راسې المان د روسیې دې خواهش ته لمنه وهله چې د سویل په لور هندوستان او د هندوستان سمندر ته وروغزېږي. برلن کې د کال ۱۹۴۰ء د نومبر په میاشت کې شوروي خارجه وزیر مولوټوف سره د خبرو په دوران کې الماني خارجه وزیر فون رېبنتروپ داسې اشاره ورکړه: "ګومان کېږي چې د شوروي اتحاد د زمکنیو غوښتنو په لړ کې مرکزي نکته به د شوروي اتحاد پهسویل کې د هندوستان د سمندر په لور مرکوزه وي ۱۸ په هغو مخصوصو خبرو کې مولوټوف په دې موضوع د خیال څرګندولو نه ځان ژغورلو. د هغه احتیاط د پویدلو جوګه وه. روسیانو سره به ارومرو دا وېره وه چې المان نه صرف په مینځنۍ اسیا کې بریتانیه په جنګ کې بوختول غواړي، بلکې

دَ شوروي اتحاد مخه هم د اروپا نه اړوي، او په دې جريان کې د هغې طاقت کمزوري کول غواړي. په هر حال دوه ووني. وروستو مولوټوف المانيانو ته څرګند کړه چې "د باتوم او باکو په سويل د فارس د خليج په لور سيمه د شوروي اتحاد د غوښتنو مينځتون ګڼلې شوې وه."[١٩] خو د کال ١٩٤١ء د جون په ٢٢م تاريخ چې هټلر په شوروي اتحاد حمله وکړه نو د سويل په لور حرکت د پاره په روسيې باندې د المان فشار ختم شو.

داسې حالاتو کې د افغانستان بېطرفي د ستاينې وړ وه. خو د هاشم خان حکومت بريتانيې، شوروي اتحاد او المان سره يو شان پاخه روابط ساتلو کې کامياب و. په حقيقت کې دې روابطو المان چمتو کړی وه چې د شوروي اتحاد د لارې افغانستان ته سامان صادر کړي او هم په دغه لاره د افغانستان څخه اوم مواد وارد کړي. دا جريان د المان او شوروي اتحاد د جنګ تر پېله روان و. د کال ١٩٤٠ء د جولای په مياشت کې د افغانستان او شوروي اتحاد تر مينځ يوه ګټوره تجارتي لوزنامه وشوه. او بريتانيه هم وهڅولی شوه چې افغانستان ته د اساسي ضرورت سامانونو لکه رخت، بوره، د عرادو ټايرونه، او تېل لېږل جاري وساتي. پرته له دې د انګرېزانو او افغانانو تر مينځ د ډاډور روابطو د افغانستان حکومت تشويق کړو چې ودنيزو کارونو کې مرستې د پاره بريتانيې ته مخ واړوي، په داسې حالت کې چې هغې ته احساس شوی و چې اروپا کې د جنګ په وجه المان تر ډېره وخته افغانستان سره کومك جاري نه شي ساتلی.[٢٠] بريتانيې د افغانستان درخواست ونه منلو خو دې د انګرېزانو او افغانانو په روابطو کې څه ښکاره درځ پېدا نه کړو. دا د علاقې وړ ده چې افغاني حاکمه ډله کې دَ نوښت جوش داسې په چپو وه چې د روانو کړنلارو نه په اوږدلو سره دوی د افغانستان په اقتصادي وده کې هم د بريتانيې ونډې منلو ته تيار وو. خو دې ته لا تيار نه وه چې د شوروي اتحاد ته د داسې کار د پاره خواهش څرګند کړي.

په روسيې باندې د المان د بريد نه وروستو بريتانيه او شوروي اتحاد يو ځل بيا ملګري شو. دې انکشاف څه زړې وېرې رابرڅېره کړې خو د افغاني حاکمانو د پاره يې د افغانستان بېطرفي ساتل اسانه کړ. د دې په نتيجه کې د افغانستان حکومت په ډېرې صفايي. د محوري طاقتونو نه ځان رابنکل پېل کړه. المان په هيڅ حالت کې اقتصادي او صنعتي ودې د پاره افغانستان سره نور کومك نه شو کولی، او د دواړو هيوادونو تر مينځ تجارت په ټپه ودرېدلی و. له دې امله د څه خاص خبرو او خطري اخستلو نه بغېر داسې يو حرکت کېدلی شو. په دې موقع د افغانستان د باندېنيو چارو وزير علي محمد خان د جرمني سفير پېلزر ته وويل:

شوروي اتحاد او بريتانيه ملګري وو، او سياسي حالت له ببخه بدل

شوی و، نو افغانستان د خپلو ګاونډیانو د پارولو د پاره هیڅ نه شو کولی. د باندېنیو چارو د وزیر وینا وه چې: "د افغانستان حکومت په دې وخت نه د المان پلوي دی او نه د انګلستان پلوي، صرف د افغانانو پلوي دی."[21]

افغانان په اقتصادي، انکشافي او تجارتي ډګرونو کې د جنګ د زوره متأثر شوي وو، خو کله چې د هغوی دواړه اروپایي ګاونډیان د المان خلاف ملګري شو نو د سیاسي فشارونه یې کم شو.

بیا هم کله چې رضا شاه د پلویانو دا غوښتنه ونه منله چې محوریان دې د هېواد نه وباسي نو د کال ۱۹۴۱ء د ستمبر په میاشت کې انګرېزانو او شورویانو په ایران باندې ګډ برید وکړو. افغانانو د پاره دا یو ټکان وه. دا ښکاره وه چې ایران ته د انګرېزانو او روسیانو خبرداری د هغې هیواد د نیولو یوه پلمه وه، ځکه چې روسیې ته وسله او نور سامان لېږلو د پاره پلویانو ته د ایران د رېل او بندرګاه اسانتیاوې پکار وې. خو دا فکر هم جدي شو چې دا راز غوښتنه د افغان حکومت نه هم کېدلی شوه، خصوصاً په داسې حال کې چې انګرېزانو غوښتل چې د المانیانو او اطالویانو هغه ورانکاریانې چې د افغانستان د خاورې نه په سرحدي سیمو کې کېدلی، ختمې کړی شي.

حکومت لا په دې خبرو غور کولو، که چرې پلویانو داسې غوښتنه وکړه، نو هغه ومنلی شي او که نه، چې د بریتانوي او شوروي حکومتونو له خوا یو شان مکتوب هم په یو وخت یعنې د کال ۱۹۴۱ء د اکتوبر په ۲۰م تاریخ افغانانو ته وسپارلی شو، غوښتل یې چې د دپلوماتیکو تشکیلاتو نه پرته ټول المانیان او ایتالویان دې د هېواد نه وباسي. د افغانستان په بېطرفۍ دې ټېري او په کورنیو چارو کې لاسوهنې ډېر افغانان وقهرول. هغوی د پلویانو د هغې غوښتنې د نه منلو وکالت کاوه. خو کومو خلقو سره چې دا وېره وه چې د دواړو اروپایي ګاونډیانو د ملګرتیا په حال کې چې د افغانستان د مینځګړتوب ضرورت پاتې نه شي او افغانستان وېشلی شي، هغو خلکو د انګرېزانو او روسیانو د غوښتنې د منلو نه پرته بله کومه لاره نه لېده. چونکه دا د وخیمو عواقبو یوه معامله وه نو حکومت یوه لویه جرګه وبلله. هغې حکومت له واك ورکړو چې د پلویانو غوښتنه دې د غور لاندې ونیسي. هم په هغه حال کې جرګې د افغانستان جدي بېطرفي، او د هیواد د استقلال او د خاورې د تمامیت د ساتنې په لړ کې د ملت اراده تائید کړه. افغان حکومت په دې شرط د انګرېزانو او روسیانو غوښتنه ومنله چې خپلو هیوادونو ته د ستنېدلو په حال کې دې محوریانو ته په هندوستان او د پلویانو د کنټرول لاندې په نورو سیمو کې په خېر خېریت د سفر انتظام وکړی شي. او هغوی ته دې د خپل ټول ذاتي سامان د وړلو اجازت ورکړی شي. بریتانوي او روسي

حکومتونو سمدلاسه دا شرطونه ومنل ـ او د نومبر په نیمايي کې المانیان او ایتالویان له کابل نه ووتل.

افغانستان او د امریکې متحده ایالاتو د جنګ په دوران کې نېغ په نېغه دپلوماتیکې اړیکې ټینګې کړې ـ ښکاره وه چې متحده ایالات د جنګ د وخت ضرورتونو خوځولي وو، خو په هر حال دې عمل افغانان خوشاله کړل چې د ډېرو کلونو راسې دا ډول اړیکو جوړولو ته لیواله وو ـ کابل کې د امریکې سفارت د ۱۹۴۲ء د جون په ٦م تاریخ پرانستلی شو او د امریکې وړومبنی استوګن وزیر کارنېلس فان اېچ اېنګرټ کابل ته راغلو ـ هغه سره هغه "پټ امر وه چې روسیې او چین ته د متبادلې ترانزیتي لارې د پاره زمینه برابره کړي، که چېرې المان او جاپان د ایران او برما لارې بندې کړې شي ـ"[۲۲]

په کال ۱۹۴۵ء کې جنګ د پلویانو په ګټه ختم شو ـ دې کې شك نه وه چې د امریکې کومك او زور په دې ګټه کې اساسي ونډه لرله ـ دویم نړیوال جنګ د نړۍ د ټولو نه د زورور طاقت په حیث د امریکې اوچتېدل ومنل او د هغې طاقت د خاصیت له کبله یې د نړۍ په چارو کې ورته مرکزي رول وروبخښلو ـ افغانانو د امریکې دې طاقت ته د خوښۍ په سترګه کتل، او د هغې غېر استعماري او غېر اروپایي طاقت هغې رول ته زیږ وو چې د جنګ نه پس د نوې نړۍ په بیا جوړولو کې ورکړی شوی و ـ

د هر څه جاج اخستلو سره دا ګومان به بېځایه نه وي چې د ګردې نړۍ د شخړو په دوران کې افغانستان څه زیانمن ګام نه وه پورته کړی ـ د دې بېطرفي تر یوې پراخې اندازې پورې منلی شوې وه، د دې زمکنی تمامیت په ځای ساتلی شوی و، او په وارداتي شیونو کې څه خاص کمبود یې نه وه محسوس کړی ـ په هر حال ودنیز کارونه ټول ولاړ وو، خو دا د نورو ملتونو د مشکلاتو او مصیبتونو په مقابل کې ډېر لږ تاوان و ـ څنګه چې حالات سم شو نو افغانان د نوښتي چارو بیا په کار اچولو ته لیواله وو، او هېله یې لرله چې متحده ایالات به د پرمختګ په لاره دوی سره ډېر کومك وکړي ـ

د جنګ په ختمېدو د افغانستان روابط غټو پلویانو سره ښه وو ـ متحده ایالاتو سره نېغ په نېغه روابط قایمولو نه پرته افغانستان له چین سره هم، چې د مِحوَریز ائتلاف په خلاف د پلویانو ملګری و، د دپلوماتیکو ټولګیو تبادله کړې وه ـ بریتانیې ومنل چې د ډیورنډ نه ورایسته قبایلي سیمې د جنګ په دوران کې خاموشه وې، او شورویانو ته د شکایت هیڅ یوه موقع په لاس نه وه ورغلې ـ

په هر حال په هغه پړاو داسې یوه اهمه معامله وه چې د افغانانو د اندېښنې وجه ګرځېدلې وه؛ د هندوستان پرېښودلو په حق کې د بریتانیې فېصله دې فېصلې نه پورته سوالونو کې غټ سوالونه دا وو چې په منځنۍ اسیا کې د

بریتانیې د متقابل طاقت نه پرته د مینځګړي دولت حیثیت او قسمت؛ په هندوستان کې د بریتانوي راج په ځای د رژیم یا رژیمونو نوعیت؛[۲۳] او ایا بریتانیه به د نیمګاري پرېښودلو نه مخکې افغانستان سره د ډیورنډ نه ورایسته د قبایلو د مسئلې د ډاډورې حل د پاره راضي وي.

دا راز افغانانو د خپل هیواد د ګرندۍ ودې له تلوسې سره د جنګ نه پس د دورې په درشله ښپه واړوله، خو د هندوستان د پرېښودلو په هکله د بریتانیې فیصلې ورته جدي اندېښنې پیدا کړې. هندوستان کې د بریتانیې شتوالي افغانان په مختلفو لارو او تر ډېره وخته مایوسه ساتلي وو، نو دا عجیبه وه چې هندوستان نه د وتلو په وخت یې دوی د پاره یو شمېر نورې اندېښنې پیدا کړې. یوه خبره چې یقیني وه: د بریتانیې د نیشتوالي په حال کې د مینځنۍ اسیا چاپېریال هغه شان نه پاتې کېده. او په دې سوب د پایښت په غرض د افغانستان کړنلارې اساسي ترمیماتو او بدلونونو ته ضرورت درلود.

## Notes

1. Gregorian, *Emergence of Modern Afghanistan*, 375.
2. Conversations with Ali Mohammad Khan in Kabul in the early 1970s.
3. Gregorian, *Emergence of Modern Afghanistan*, 375.
4. Ibid., 375–76.
5. Ibid., 381.
6. Adamec, *Afghanistan's Foreign Affairs*, 303 (Note 75), stated that, according to accounts primarily written by Faiz Mohammad (then Afghan foreign minister) that appeared in *Islah* (Kabul's newspaper), the deal was canceled because of British pressures.
7. Gregorian, *Emergence of Modern Afghanistan*, 380.
8. Ibid. Adamec, *Afghanistan's Foreign Affairs*, 239, also stated that the Afghan government intended to buy plants for the production of textiles, cement, sugar, leather, and matches from Germany and to set up several coal mining projects and plants for the generation of electricity, with the cooperation of Germany.
9. Gregorian, *Emergence of Modern Afghanistan*, 380.
10. Conversations with Ali Mohammad Khan.
11. Pir Shami, the Holy Man from Syria, suddenly appeared in Waziristan in the spring of 1938 and declared King Zahir Shah a usurper and ex-king Amanullah the legitimate ruler of Afghanistan. With the apparent intention of reinstating Amanullah on the throne, he managed to rally the Mahsuds and the Wazirs around him and marched on Mattun, a provincial town in southern Afghanistan. For a moment it seemed that he would overrun that outpost and continue on to Kabul. But the British persuaded him to abandon his plans. He accepted a bribe of £25,000 sterling and left India for Iraq. Some observers have seen the German hand, and some the British hand, in Pir Shami's scheme. But, in all likelihood, he embarked on this adventure on his own and, surprisingly, the British services in India, to their dismay, found out about him too late.
12. Gregorian, *Emergence of Modern Afghanistan*, 385–86.
13. Ibid., 385.
14. Ibid., 386.
15. U.S. Department of State, *Documents of German Foreign Policy*, XII, 283, 729, 971–72, Weizsacker to foreign minister, 12 March, 6 May, and 6 June 1946. See also Gregorian, *Emergence of Modern Afghanistan*, 387; Adamec, *Afghanistan's Foreign Affairs*, 245–46.
16. Adamec, *Afghanistan's Foreign Affairs*, 245.
17. Gregorian, *Emergence of Modern Afghanistan*, 386.
18. R. J. Sontag and J. S. Bedle, eds., *Nazi–Soviet Relations 1939–1941: Documents from the Archives of the German Foreign Office* (Washington, D.C.: U.S. Department of State, 1948), 250.
19. Ibid., 259.
20. Adamec, *Afghanistan's Foreign Affairs*, 244.
21. Ibid., 247.
22. Leon B. Poullada, "Afghanistan and the United States: the Crucial Years" *The Middle East Journal* (Spring 1981): 181.
23. The Afghans abhorred the idea of sharing a common frontier with India ruled by a Hindu majority. Afghan distaste in this respect could not have been more adequately described than by what one Afghan official said to Sir Fraser-Tytler: "We know what the Durand Line is, but what about the Gandhi line?" Fraser-Tytler, *Afghanistan*, p. 257.

## پینځم څپرکی

# له جنګ نه وروسته دوره

د افغانانو لپاره د دویم نړیوال جنګ راښکونکې نتیجه په اقتصادي او عسکري ډګرونو کې د نړۍ د ټولو نه د لوی طاقت په حیث د متحده ایالاتو اوچتېدل و. دا په داسې نړۍ کې چې هغه نوره د بریتانیې د لاس لاندې نه و، عجیبه هم وو او هېله من هم. د نړۍ شخړو بریتانیه ښه لړزولې وه او په ښکاره ډول نوره د خپلې امپراتورۍ د ساتلو نه وه. له دې نه پرته بریتانیې د امپراتورۍ د ساتلو مینه هم بایللې وه او انګرېزان په ناڅاپې ډول یو داسې حالت سره دماغي سمون راوستلو کې بوخت وو، په کوم حالت کې چې د هغوی هیواد د نړۍ مسئولیتونه نور په غاړه نه لرل. د جنګ نه وروسته ډېر زر بریتانیه د هند د نیمې وچې نه ووتله. په هند کې د بریتانوي راج خاتمې دوه ازاد هیوادونه مینځ ته راوستل؛ یو د هند یونین او بل اسلامي جمهوري پاکستان. د افغانستان د ګاونډ نه د بریتانیې تګ داسې حالات پېدا کړل چې هېواد او د هغې د کړنلارو ټاکنې یې ډېر زښت تاثیر لاندې راوسته.

د محور خلاف د ایتلاف غړو تر مینځ د دوستانې موده لنډه وه. په جنګ پسې ډېر زر سوړ جنګ پېل شو، او پلویان په دوو مخالفو ډلو کې ووېشل شو. د یوې ډلې مشري متحده ایالاتو او د بل شوروي اتحاد کوله. چین هم چې مخکې نه کمیونسټ شوی و د شوروي اتحاد ملګرتیا کې شامل شو. د سوړ جنګ تاودېدلو له افغان واکمنو سره اندېښنه پېدا کړه چې امریکا په اسیا کې د روسیې د غزونې د مخنیوي له پاره، چې کوم تاوېل کولو هغه د دوی له هیلو سره

سمون نه خوړ . د شوروي اتحاد . او شاید د چین هم، د مخنیوي لپاره محمد ایلاتو د عسکري ترونونه وسیله وګرځول چې د هغو هیوادونو نه د ترونوالو ملګړ کرښه تاو کړي، او د نړۍ په سویه د کمونیزم خطرې لپاره ځنډ ودروي . افغانان چې کوم روایتي لارو چارو سره بلد وو دا فکر د هغې نه مختلف و . افغانستان دي ترونونو کې د ګډون نه ډډه وکړه . خو د بیا بیا درخواستونو سره سره امریکا عسکري کومك ورنه کړو .

شوروي اتحاد هم دې جنګ ښه زپلی و . بیا هم د هغې نړیوالې شخړې نه د یو ستر قوت په حیث اوچت شو، چې د نیم المان سره نیمه اروپا یې کنټرول لاندې وه، او د هغې امپراتوري دښمن یعنې بریتانیه د اسیا د صحنې نه غایبه وه . په اسیا کې روسیې د جنګ په ولجه کې په لرې ختیځ کې څه برخې او د ایران په شمال کې آذربایجان خپل قلمرو کې شامل کړي وو . دا هغې خپل حق ګاڼه . وروستو د آرمینیا او بریتانوي له فشار لاندې شورویان له آذربایجان ووېستلی شول .

# د پښتنو په سر له پاکستان سره شخړه

په ۱۹۴۴ء کې چې د پلویانو ګټه یقیني وه او له هندوستان نه د انګرېزانو وتل په نظر کې وو، د افغانستان حکومت په هند کې د بریتانیې حکومت د خپلو هېلو نه خبر کړ چې د هر ډول بدلون په حال کې باید د ډیورنډ کرښې په ختیځو او سویلیزو خواو کې د میشنه پښتنو د حالت او قسمت په هکله دوی سره مشوره وشي . په جواب کې انګرېزانو څرګنده کړه چې د ډیورنډ کرښه بین المللي پوله وه او د افغانستان علاقه هم تر دغې ختمېده . خو وروستو د هندوستان آخرني وایسرای لارډ لوئیس ماونټ بېټن څه بیانونه ورکړل او افغانانو ترې داسې مطلب واخست چې هندوستان ته د آزادۍ ورکولو نه وروسته، په راتلونکي وختونو کې، به د پښتنې سیمو د حیثیت ټاکلو په هکله د دوی نظر او رای معلومه کړی شي .

د ۱۹۴۷ء د فبرورۍ د میاشتې په شلم تاریخ بریتانوي حکومت د هندوستان د آزادۍ لپاره د ۱۹۴۸ء د جون میاشت غوره کړه . کانګرس او انګرېز وایسرای اخر مسلم لیګ سره اتفاق وکړو، چې د مسلمانانو د یو بېل دولت په تضمین دې هندوستان ته آزادي د نیمي وچې د وېش په شکل کې ورکړی شي . بریتانوي حکومت درې اړخیزه ترون ومنلو . کانګرس فیصله وکړه چې د وارث په حیث هندوستان به د هند د یونین په نوم بللی شي، خو مسلم لیګ د څه تردد نه

پس د نوي اسلامي دولت نوم پاکستان خوښ کړ . د ۱۹۴۷ء د جون په ۳مه د برېتانوي حکومت په مشوره مجلس هغه درې ارخېز ترون منظور کړو، خو دا شرط يې ورسره وتړله چې د ریاستونو نه علاوه په برېتانوي هندوستان کې دې رای واخستلی شي چې د هندوانو هندوستان او که د مسلمانو پاکستان سره شاملېږي .۱ د شهزادګانو یا محلي ریاستونو لپاره درې لارې وې: (۱) هندوستان سره شامل شي، (۲) پاکستان سره شامل شي او (۳) تر هغې وخته پورې ازاد پاتې شي تر څو چې هندوستان یا پاکستان کې د شاملېدلو فېصله يې نه وي کړې .۲

د پارلیمان هغه فېصله د وېش په ترون مشهوره شوه، او هغې نه داسې مطلب اخستلی شو چې د برېتانيې د اداري لاندې د شمال مغربي سرحدي صوبې حیثیت به د رای په اخستلو وټاکلی شي، چې په هغو دوو کې کوم يو دولت سره شاملېږي . سرحدي ایالت د اباسین له لوېدېځ نه پرته د سرحد يوه برخه ده، او زیاته زمکه يې پخوا د افغانستان ملکیت وه . د دې سیمې استوګن پښتانه دي . د افغانستان حکومت په تادۍ سره احتجاج وکړو چې هغه نور دوه شرطونه دې هم شمال مغربي سرحدي صوبې ته کېښودل شي . د هغې درخواست يو پرېکړې انکار و: او د بل درخواست جواب خاموشي .۳

د ۱۹۴۶- له اګست نه پس د مسلمانانو او هندوانو تر مينځ سوغېدلې دشمني په ډېر زور او شدت سره پورته شوه .۴ په ټول هندوستان کې ګڼ شمېره مرګونه، لوټمار او عصمت درې خوره وه . سرحدي صوبه کې هم په سوونو هندوان او سېکان ووژل شو . ځېنې هندوان او سېکان په تېښته افغانستان ته ورسېدل او هلته ورله پنا ورکړی شوه . د ۱۹۴۷ تر پایه په هندوستان کې فساد داسې بوګنونکي حد ته ورسېد چې برېتانيې دا فېصله وکړه چې خپل مسوولیت زر تر زره پرېږدي او څومره زر چې کېدی شي د نیمې وچې نه ووځي .

کلونه پس انګرېزانو دپلوماټانو ماته څرګنده کړه چې برېتانيې د عوامو د رای اخستلو په هکله د افغانستان تجویز ته مناسب پاملرنه نه شوه کوله، ځکه چې هغوی هندوستان کې پورته شوي فساد کې بوخت وو او زر تر زره د وتلو په هڅه کې وو . په هر حال هغې استعماري طاقت په تادۍ کې د برېتانيې د اداري لاندې ولایتونو کې له خلکو سره د سلا مشورې بندوبست وکړ چې هغوی په دې دوو نوو دولتونو کې کوم يو سره شاملېدل غوښتل . په شمال مغربي سرحدي صوبه کې داسې رای شمېرنه د ۱۹۴۷ء د جولای په اخرو ورځو کې وشوه .

د رای اخستلو نه يو څو میاشتې مخکې په سرحدي ایالت کې د کانګرس وزارت هندوستان سره د شاملېدلو په حق کې ووټ ورکړو . دې فېصلې د سرحدي ایالت او قبایلي سیمو د پښتنو حالت او موقعیت سره سمون نه خوړو، د نو د پښتنو زیاتو مشرانو د درېمې خوښې غوښتنې لپاره اواز اوچت کړ چې مجوزه

رايې اخستلو کې دې د "ازادۍ" د خوښې پيمانه هم وساتل شي . له دې نه پرته د هند د کانګرس ګوند د هندوستان د روغ ساتلو او د پاکستان د جوړېدلو د مخنيوي امکان نه لېده . نو د دې غوښتنې څه جواز نه وه چې د سرحد کانګرس دې د هند يونين سره په شاملېدلو ټينګار وکړي،٦ ولې چې دا ولايت به ارومرو هند نه د پاکستان د پراخې زمکې په مينځ ته راتللو سره بېلېدلو . افغانستان چرې هم د هند يونين سره د سرحدي صوبې د شاملېدلو په هکله د سرحد د کانګرس مرستې ته ښه نه وو کتلي . دوی د هغو پښتنو مشرانو ملا وتړوله چې آزادي يې غوښتله .

پښتنو چې د "ازادۍ" د خوښې د شاملولو کومه غوښتنه کوله هغې نه بغېر په سرحدي صوبه کې رای واخستل شوه . پښتنو مشرانو لکه وياړلی خان عبدالغفار خان، چا چې آزادي غوښتله، خپلو پېروېانو ته وويل چې د رای ورکولو نه دې بايکاټ وکړي . د هغې عوامي مشورې نتيجه داسې راووته:

د پاکستان په حق کې ۲۸۹،۲۴۴ او د هندوستان په حق کې ۲،۰۷۴ ووټونه واچول شو . افغانان په دې يو مخيزه نتيجې مطمئن نه وو . هغوی دا حقيقت په ګوته کړ چې د حقدارو رای ورکونکو د شمېره په سلو کې صرف ۵۵.۵ رای ورکړی شوې وې . د هغې نه يو کال مخکې په صوبايي انتخاباتو کې په سلو کې ٦٨ خلکو رای ورکړې وه . دې نه دا معلومېږي چې يو ګڼ شمېر خلکو د رای ورکولو نه ډډه کړې وه . دې نه پرته افغانستان يقين لرلو چې په هغه ملك کې بله نتيجه نه شوه کېدی، چرته چې په سلو کې ۹۸ مسلمانان وو، او په ټول هندوستان کې فرقئيزه کرکه خوره وه . خصوصاً په داسې حال کې چې د پاکستان د بکسونو لپاره د قرآن نخښه او د هندوستان لپاره د سېکانو د کتاب ګرنتھ نخښه استعمال کړی شوې وې .٧

زياتو پښتنو مشرانو په دې دليل هغه رای رد کړې وه . هندوستان او پاکستان د کال ۱۹۴۷ء د اګست په مياشت کې ازاد شو . د هغې ولسي رای په اساس صوبه سرحد د پاکستان برخه شوه . د پاکستان د جوړېدلو نه پس د کال ۱۹۴۷ء په نومبر کې انګرېزانو د قبايلي اېجنسيو خانانو يعنې قبايلي مشرانو سره يو لوی جرګې وکړې چې د قبايلي پټې د آينده حيثيت باره کې د هغوی رايې معلومه کړي چې هند سره دې شامله شي که پاکستان سره . دا جرګې په داسې حال کې کېدلې چې هندوستان کې د هندوانو او مسلمانانو تر مينځ فساد په زور کې و، او کشمير کې د هندوستان او پاکستان تر مينځ جګړه پېل شوې وه . د پاکستان د حکومت په نغوته په زرګونو قبايلو په کشمير بريد کړی و . په دې کې څه شك پاتې کېدو چې په داسې حالاتو کې په قبايلي سيمو کې د پاکستان په حق کې

جذبات پاربدلي وو.

قبايلي مشرانو وغوښتل چې قبايلي ايجنسياني دې له پاکستان سره وتړلې شي. خو په ليکلي بيانونو کې دوی ښکاره کړه چې قبايل به "پاکستان سره هغه شان تعلقات ساتي څنګه چې دوی له بريتانيې سره ساتل." [۸] بريتانيې سره په تعلقاتو کې قبايلو په کورنيو چارو کې خپل اختيار لرلو، نو قبايلي مشرانو خپلې پرېکړې سره په کورنيو چارو کې د "خپل اختيار" شرط هم شامل کړو. پاکستان سره د بريتانيې په شان د تعلقاتو ساتلو په لړ کې قبايلو به دا هم په مزغو کې لرل چې هغوی بريتانيې نه کوم پراخه کليز ماجبونه اخستل هغه به جاري وي.

د ډيورنډ نه ورايسته پښتنو سره د نسلي، ژبني او فرهنګي اړيکو په اساس افغانان د هغوی د قسمت په فېصلو غلي نه شو پاتې کېدلی. پښتنو ملي مشرانو هم د قبايلي جرګو په پرېکړو اعتراض کولو چې هغه جرګې استعماري انګرېزانو افسرانو بللې وې او دا خيال يې ساتلی وه چې صرف د انګرېزانو او د پاکستان پلويان قبايلي مشران دې پکې ونډه واخلي. دې نه پرته افغانانو او پښتنو دا دليل هم لرلو چې قبايلو بريتانيې سره جلا تړونونه کول، نو دوی ته د محلي او د شهزادګانو د رياستونو حيثيت او د درېمې خوښې حق، يعنې تر يو ټاکلې مودې ازادي، ورکول پکار وو. د دې اعتراضونو په اساس افغانستان د سرحدي صوبې عوامي رای او قبايلي جرګې بې مقصده وګڼلې او رد يې کړې، دليل يې دا وه، چې هغو سيمو ته، چې د استعماري حاکميت نه وتلې، په مناسب ډول د خپل آينده حيثيت د ټاکلو لپاره موقع نه ورنه کړی شوه. د افغانستان اساسي غوښتنه دا شوه چې د ډيورنډ کرښې نه د ختيځ او سويليز په لور پرتو پښتنو ته دې د خپل اختيار حق ورکړی شي.

په دې کې شك نه شته چې دا مسووليت د بريتانيې په غاړه وه چې پاکستان ته دولتي حيثيت ورکولو نه مخکې يې د پښتنو مسئله د افغانستان او پاکستان تر مينځ روابطو نه لرې کړی وی. بريتانيې نه پاکستان ته ډېرې مسئلې وراثت کې پاتې شوې لکه هند سره روابط او د پښتنو مسئله. خو بريتانيې د نيمې وچې د پرېښو نه مخکې افغانستان سره د څه قسم له روغې څخه ځان ژغورلو. کېدی شي چې د مسلم ليګ د مشرانو فشار لاندې بريتانيې داسې ونه کړه، خو شايد د پښتنو او د سرحدي مسئلو باره کې د هغوی پوهه پوره نه وه. هغوی دې منلو ته تيار شوي وو چې د "پاکستان نظريه" د بريتانوي راج لاندې د ټولو اوسېدونکو مسلمانانو په يو هيواد کې راغونډولو لپاره کافي وه. هغوی په دې فکر کې پاتې وو چې پښتانه په جغرافيايي لحاظ د هندوستان برخه نه تشکيلوي، او د هندوستان له خلکو سره هيڅ قسم نسلي، ژبني او فرهنګي اړيکي نه لري. يو خاصيت چې پښتانه يې د بريتانوي راج د نورو خلکو څخه به بې جلا

کړي وو دا وه چې دې خلکو چرې هم د بریتنیې حاکمیت ته غاړه نه وه اېښې. دوی تر آخره بریتانوي استعمار سره لاس او ګرېوان وو. دا راز د پښتنو مسئله د پاکستان نوي دولت لپاره یوه پخه ستونزه جوړه شوه - پاکستان هغه شان حالاتو خرابولو کې کوم تاریخي رول نه درلود.

افغانستان په رسمي ډول اعلان وکړ چې سرحدي صوبه او قبایلي سیمې د پاکستان برخې نه مني. دې ښکاره کړه چې د پښتنو د آینده ټاکلو لپاره پاکستان سره یو سیاسي اختلاف شته. دا خوښه یې څرګنده کړه چې د خپل اختیار په اساس د پښتنو حیثیت لېدل غواړي. او د دې مسئلې سولئیز حل سره کلکه علاقه لري. افغانستان په دې اساس د پښتنو سره مرسته جایزه ګڼله چې هغوی د افغانانو سره په وینه شریکه خپلولي لري او هغوی سره د نسلیو ژبني او فرهنګي مزو تړلی شوي دي. او د ضرورت په وخت کې د هغوی د غوښتنو د عملي کولو په لړ کې افغانستان هغوی سره د کومك کولو مسوولیت لري. څنګه چې د افغانستان او پاکستان تر مینځ روابط خرابېدل. نو د افغانستان رادیو پاکستان ته مخه کړه چې د سرحد عوامي رای او قبایلي جرګې غېر قانوني، او په نتیجه کې د پاکستان خپل ځان غېر فطري و. اوس چې انګرېزان د هندوستان نه تلي وو، نو پاکستان د افغانستان قهر ته یوازې پاتې شو. د پاکستان خورونو جوابي عمل کې ډېل ونه کړو. په زښت تیټ.و پاس ویناو کې دوی د افغانانو حیثیت پورې ملنډې پېل کړې او افغاني ادارو باندې، په پاچاهي او په شاهي کورنۍ هم، حملې کولې. پاکستانیانو د افغانستان د ټرانزټ مالونو وړولو راوړولو کې هم ځنډ اچولو لپاره بانې لټولې، کله به د رېلوی د ډبو کمبود و او کله د اداري چارو.... دې ځنډونو نه صرف ځینې ودانیزې چارې وځنډولې، بلکې په وخت د مال د نه اوچتولو درنه جریمه هم افغانستان پرې کوله. پېښور او چمن کې د افغاني تجارتي وکیلانو د وینا د مخه پاکستاني مامورینو د پاکستان د لارې د تېرېدلو په حال کې یا د کراچۍ، پېښور او چمن په ګودامونو کې پراته د افغاني مالونو د ورکېدلو یا غلا کېدلو د مخنیوي لپاره هیڅ نه کول، او که څه ګام به یې پورته کړو نو صرف د ښودنې لپاره.

د افغانستان او پاکستان د روابطو د خرپړتیا د زیاتېدلو په حال کې پاکستان د ۱۹۴۷ء په ستمبر کې د ملل متحد د غړیتوب لپاره عریضه ورکړه. افغانستان چې د ۱۹۴۶ - د ستمبر راسې د ملل متحد غړی وه، یوازېنی دولت و چې د هغې په خلاف یې ووټ ورکړ. د خپل ووټ د سپیناوي په لړ کې، افغاني نماینده عبدالحسین خان عزیز وویل:

افغانستان د پاکستان له خلکو سره د هغوی د ازادۍ په خوشالۍ کې شریك دی. مونږ د پاکستان خورا ډېر درناوی کوو. پاکستان دې هوسا

وي . د افغانستان هیئت نه غواړي چې په دې پیاوړي تنظیم کې د
پاکبستان د غړیتوب مخالفت وکړي، خو په ژوره خواشینی سره مونږ
اوس په دې حال کې د پاکستان په حق کې د ووټ ورکولو جوګه نه یو ۱
. د دې ناوړه حالت وجه دا ده چې مونږ شمال مغربي سرحد د پاکستان
برخه نه شو ګڼلی تر څوچې د شمال مغربي سرحد خلکو ته د هر قسمه
نفوذ نه ازاده موقع نه وي ورکړی شوې - او زه تکراروم، د هر قسمه
نفوذ نه ازاده - چې پخپله دا فېصله وکړي چې ایا دوی ازاد اوسېدل
غواړي او که د پاکستان یوه برخه جوړېدل غواړي ۹۰۰۰

دا ذکر پکار دی چې افغاني نماینده خپله بیانیه کې په قبایلي ایجنسیانو کې د قبایلي جرګو د غېر قانوني حیثیت ذکر نه و کړی، ځکه چې جرګې لا نه وې شوې. افغانستان خپل مخالفانه ووټ د کال ۱۹۴۷ء د اکتوبر په ۲۰م تاریخ واپس واخست. دې پېښې د افغانستان او پاکستان تر مینځ فضا نوره زهرژنه کړه. په ملل متحد کې د افغانستان په موقعیت کې د دې اوښتون وجه دا وه چې هم هغه کال په نومبر کې د دواړو هیوادونو تر مینځ په کراچۍ کې په ډپلوماتیکه سویه خبرې تاکلی شوې وې. هغه وخت افغانانو دا فکر کولو چې پاکستان به د کورنیو او باندېنیو ستونزو په وجه د پښتنو د مسئلې د حل لپاره په صحیح ډول کوښښ وکړي. د کراچۍ د خبرو په اخر کې داسې محسوسېدله چې د پاکستان حکومت به سرحدي صوبې ته محلي اختیار ورکولو باندې راضي شي، او افغانستان سره به خبرو ته کېني چې د ډیورنډ ختیځ او لوېدیځ خواو ته د پرتو پښتنو د ښېګړې لپاره لارې چارې ولټوي، او په آینده کې د دواړو هېوادونو قانوني تړون دې قبایلو سره منظم کړي.

خو ډېر زر هغه هېلې بې ردې ثابتې شوې. د کال ۱۹۴۸ء په جون کې د پاکستان حکومت عبدالغفار خان او یو شمېر نور پښتانه مشران ونیول. (د هغه ورور ډاکټر خان صاحب هغه وخت د سرحدي صوبې وزېراعلی و چې د کانګرس صوبایي حکومت د هندوستان یونین سره د شاملېدلو په حق کې ووټ ورکړی وه) په هغوی باندې دا تور و چې سرحد کې ورانکارو سره مرسته کوي. هغوی کې څه جېل ته واستول شو او څه په کور بند وساتل شو. له دې نه پرته قبایلي ایجنسیو کې، چرته چې آزادۍ نه فوراً پس عسکري قوت کم شوی و، پاکستان بیا خپل عسکري قوت زیاتول پېل کړل، او د مخالفو قبایلو په خلاف یې هوایي قوا هم پکار واچوله.[۱۰] د پښتنو مشرانو په نیولو د پاکستان حکومت څرګنده کړه چې د پښتنو غوښتنو ته پام ورکولو ته یې غاړه نه اېښوده. او په قبایلي سیمو کې په پراخه اندازه د قوې استعمال دې کې شك پرېنه ښو چې دا سیمې یې په مکمله توګه پاکستان کې شاملول غوښتل.

افغانستان او پاکستان د ۱۹۴۸ء د فرورۍ په میاشت کې د سفیرانو تبادله وکړه، خو د دوی روابط لا هغه شان په خرابېدو وو. د پښتنو مشرانو د نیولو او قبایلي سیمو کې د عسکري عملیاتو زیاتوالي په وجه د افغانستان حکومت پاکستان سره د پښتنو په مسئلې څه روغې ته د رسېدلو هېله بایله. افغانان چې د پاکستان د ارادو نه مایوسه شو نو هغوی د هغو پښتنو سیمو، چې پاکستان د خپلې خاورې قانوني برخې ګڼلې، د ازادۍ لپاره خپلې مرستې زیاتې کړې. د افغانانو د فکر مطابق هغه سیمې چې د پښتنو ازاد دولت، یا پښتونستان، یې تشکیلو، دا وې: سرحدي صوبه (مقبوضه پښتونستان)، قبایلي ایجنسیانې (ازاد پښتونستان) او د بلوچستان هغه څه برخې (چې پښتانه او بلوچ پکې ګډ ژوند کوي).

دې مبارزه کې دوی یعنې افغانانو له قبایلو سره ډېر تماسونه ونیول او د کابل رادیو او د افغانستان د مطبوعاتو ټولې وسیلې یې پکار واچولې. پاکستان چې په دې دوران کې دې معاملې ته څه اهمیت نه ورکولو، قبایلو ته ماجبونه زیات کړ، په سرحدي صوبه کې یې د پولېس عملیات زیات کړه او د خپلو مطبوعاتو او رادیو له خوا یې په افغانستان د خملو یو توپان پورته کړو.[11]

دا راز د دویم نړیوال جنګ نه پس د افغانستان روایتي کړنلاره چې د لاسه تللي د پښتنو سیمې یې واپس غوښتلې، د پښتونستان مسئلې ته واوښتله. دا په حقیقت کې هغه غوښتنه وه، چې د خپل اختیار د حق په اساس دې هغو پښتنو ته د یو ازاد ملت حیثیت ورکړی شي، چې د ډیورنډ کرښې نه په ختیځ او سویلیز خواو کې میشته دي. د وخت په تېرېدو سره د پښتون موقف بدلېدو او د افغانستان په کړنلاره کې هم تغییر راتلو. دا کړنلاره پښتنو ته د هغوی د حقوقو د بیا ورکولو او د هغو حقوقو تحفظ باندې مرکوزه شوه، څنګه چې پښتنو او د هغو مشرانو په خپله غوښتل. افغان حکومت دې ته غاړه کېښوده چې د خپلو حقوقو او راتلونکې سیاسي وضعې په هکله پښتانه او د هغو مشران هره فېصله چې کوي، هغه به مني.

سرحد باندې د پښتونستان د جوړېدلو حمایت زیاتېده. قبایلي پټۍ کې جرګې وشوې او د پښتونستان حمایت یې وکړو. د کال ۱۹۴۹ء د جولای په میاشت کې د افغانستان دننه په مُغُلګۍ نومې کلي د پاکستان د الوتکو له خوا بمباری حالات ډېر خراب کړل. کابل کې یوه لویه جرګه وبلل شوه چې د حکومت د پښتونستان په هکله په کړنلارې خبرې وکړي. جرګې د پښتونستان په حق کې مکمل حمایت اعلان کړو او د افغانستان حکومت ته یې اختیار ورکړو چې د دې د جوړېدلو په لړ کې دې کار وکړي. بریتانیې سره شوې په ډیورنډ کرښې او نورې

داسې لوزنامې چې د پښتنو حيثيت سره يې تعلق درلود دې جرګې په رسمي توګه منسوخ کړې.[۱۲]

د کال ۱۹۴۹ء د آګست په دولسم تاريخ د ډيورنډ کرښې نه ورايسته د افريدو د وطن په مينځتون تيراه باغ کې د اپرېدو اونورو قبايلو يوه جرګه جوړه شوه. دې جرګې د پښتونستان د جوړولو اعلان وکړو، د پښتونستان يوه ولسي جرګه هم جوړه شوه، او د دې نوي ملت لپاره يو ملي بېرغ هم غوره کړې شو. افغانستان حکومت د قبايلي جرګې د اعلان مطابق پښتونستان ته د پوره کومك ژمنه ورکړه، او دا فرمان يې جاري کړ چې په افغانستان کې به هر کال د اګست په يو دېرشم تاريخ د پښتونستان ورځ د ملي ورځې په څير نمانځلی شي. افغان پوسته به په هغه ورځ د پوستې يو خصوصي يادګاري ټکټ وباسي. په افغانستان کې د عامو خلکو خيال دا ؤ، که د پښتنو خاوره بېرته افغانستان ته ونه سپارل شي، نو ازاده خو به شي. دا ګومان کېده چې په قدرتي ډول به ازاد پښتونستان افغانستان سره يو ځای کېدو لپاره تيار شي او په خپله خوښه به افغان ملت يووستون بيا ومومي.

د پښتونستان په مسئلې د رسمي ولاړې نه پرته په افغانستان کې مخورېزو ډلو ځينې نورې اساسي دعوې هم پورته کړې. د مثال په توګه د "لوی افغانستان" بېرغچيانو د ټولو پښتنو د يووالی او د هغو د سيمو د افغاني بېرغ لاندې افغانستان کې د شموليت وکالت کولو. دوی د بلوچستان د شموليت غوښتنه هم کوله چې په وچه افغانستان لپاره د هند سمندر ته لاره خلاصه شي. په ازاد ډول اوبو ته د رسېدلو په اهميت د افغانستان خلك او حکومت دواړه خبر وو. دا نو ځکه ناشوني وه چې د امير عبدالرحمان خان په شان داسې فکر پورې نښتل صرف د "لوی افغانستان" د غوښتونکو پورې محدود وو. اروابناد امير ويل: "که افغانستان د سمندر اوبو ته لاره ومومي نو دې کې شك نه شته چې هيواد به مالدار او خوشال شي ... که زما په ژوند کې د دې مقصد د لاس ته راتللو لپاره موذون حالت پېدا نه شي نو زما زامن او جانشينان دې تل لپاره په دې ګوټ نظر ساتي، يعنې <بلوچستان>."[۱۳] خو صرف د پښتنو نه بلکې په عمومي ډول د روشنفکرانو داسې يوه پراخه ډله وه، چې هغې د پښتنو په سيمو چې استعمار د افغانستان نه شوکولې وې، په جار غوښتل چې افغانستان دې په هغو سيمو خپل حق نه لاس وانه خلي، که د ډيورنډ نه بله خوا پښتانه او د هغوی مشران هر څه فېصله کوي. په عمومي ډول پاکستانيانو دا قسم فکر د افغانستان د حکومت صحيح نمايندګي ګڼله.

د افغانانو او بلوچو تر مينځ ګډې تاريخي اړيکې شته، خو د ډيورنډ کرښې نه په سويلي او سويل ختيځ پرتې د بلوچو سيمې، بې د يو څو ورو ټوټو نه

چې پښتانه او بلوچ پکې ګډ ژوند کوي، په تېرو نږدو وختونو کې د افغانستان برخې نه وي پاتې شوې - په سویلیز افغانستان کې څه توي زره بلوچ وسېدل او د افغان ملت برخه وو - پاکستان د سرحدي صوبې او قبایلي سیمو په شان په یومخیزه ډول او په زور کلات او نور بلوچستان پاکستان کې شامل کړل - د افغانانو او بلوچو تر مینځ د لنډو اړیکو له کبله بلوچو سره هغې بې انصافي د افغانانو جذبات وپارول - هغه جذبات د افغان حکومت په اعلامیو کې ډېر ځلې څرګند شو - د افغانستان له خوا د پښتنو د حقوقو مرستې سره د بلوچو د حقوقو مرسته هم شامله شوه - د پښتونستان خلکو سره د افغانستان د مرستې علت دا وه چې پښتانه د افغان ملت برخه وه، خو د بلوچو په هکله دا د اوږدې مودې د ګاونډیتوب په اساس د خپر غوښتنې یوه جذبه وه - بلوچو ملتپالو چې هر کله د ازادۍ بېرغ پورته کړی وه د افغانستان حکومت یې مرسته کړې وه.

د افغانستان ادارو چې په وړمبنیو مرحلو کې د پښتونستان کومې نقشې تیارې کړې وې په هغو کې به یې د پاکستان سرحدي صوبه او د پښتنو قبایلي پټۍ یعنې قبایلي ایجنسیانې چې د ازاد سرحد په نوم هم یادېدلې، ټول بلوچستان یا د هغې څه برخې، کله نا کله ښودلی چې دا د پښتونستان برخې وې - ځینو لویدیزو مبصرینو ډېر زر دې وټ ته د یو ثبوت په څېر ګوته ونیوه چې یا خو افغانانو پخپله د پښتونستان په بابله په خپلې دعوې باور نه درلود! او یا د هغوی د ځمکې نیولو حرص د امپراتورۍ نه څه کم نه و - په حقیقت کې دا ابهام ارادي و - د ډیورنډ کرښې په لغوه کېدو دا ابهام ډېر ژور شو - دې کرښې په حقیقت کې پښتونستان او بلوچستان سره د افغانستان سرحد تشکیلوه - داسې ګومان کېدو چې د پاکستان د جوړېدو په اولنو کلونو کې په هغې هیواد دا یو سیاسي فشار و - هغه وخت کابل کې دا فکر و چې مسلم لیګ د یو شمېر ستونزو سره مخامخ دی نو تر دې فشار لاندې به پښتنو سره د هغوی په راتلونکي سیاسي حیثیت لږ تر لږ کم په عوامي سویه تماس ونیسي -

د وخت په تېرېدلو سره د بلوچستان په هکله د افغاني موقف سنجېدلی ابهام د حالاتو د ارزیابۍ او پښتنو او بلوچو سره د پاکستان له حکومت د کړنلارې سره سم تیتپاس کېده - په وړومبنیو ورخو کې چې هندوستان د خپل غرض او د پاکستان د زورولو لپاره په جار د یو ازاد پښتونستان حمایت کولو، نو د هندوستان خپل یو نظر وه چې د افغاني رسمي نظر سره یې ټکر خوړه - د هندوستان په نظر کې د پښتونستان په نقشه کې شمال مغربي سرحدي صوبه، قبایلي ایجنسیانې، ټول بلوچستان او ورسره د عربي سمندر په غاړه مکران، اود کراچۍ په شمول د سند یوه برخه شامله وه -

د پاکستان حکومت د پښتونستان مسئله د افغاني واکمنو یو وهم ګاڼه.

چې پاکستان نه یوه تړونه جلا او خپل هیواد سره شامله کړي . د افغانستان او پاکستان تر منځ یې د څه قسم اختلاف نه مانه . له دې امله یې د یو پرامن حل لپاره په دې مسئلې د خبرو نه انکار کولو . پاکستاني مقاماتو ویل چې صرف یو څو نامنونکو پاکستاني پښتنو د افغانستان د "پښتونستان ستهنې" وکالت کولو . شاید د افغانانو د ربړولو دپاره یې دا سوال پورته کړ چې آیا د ډیورنډ کرښې په لویدیځ پراته پښتانه به هم دې ازاد پښتونستان کې شامل وي . هغوی د خپلو ویناو په تکرار او زور کې په دې دلیل سترګې پټې کړې وې چې پښتونستان د هغو خلکو د خپل اختیار لپاره د هلو ځلو هدف و ، کوم خلك چې د افغانانو په خیال د استعماري بوختې نه پورته شوي وو او په ازادانه ډول ورته د خپل سیاسي مستقبل د ټاکلو لپاره موقع نه و ورکړی شوې . د افغانستان د پښتنو په هکله د پاکستان مخ دې حقیقت ته راګرځولی شوی و چې هغوی چرې هم بل یو هیواد کې د شامېلېدو ، او یا د یو ازاد دولت جوړولو ، خوښه نه وه څرګنده کړې ، او نه هغوی د کومې استعماري بوختې نه راوتي وو . له دې امله د هغو له پاره د خپل اختیار اصول بې ارزښته وو . په داسې وخت کې چې د پاکستان د باندېنيو چارو دفتر ناوزګاره و ، چې د باندې نړۍ (په خصوصي ډول مسلمان هیوادونو) ته د افغانستان او پاکستان تر منځ شخړه داسې وښایي چې افغانستان په غلطه وه او اسلامي پاکستان ته یې نیت ښه نه وه ، دننه په پاکستان کې امنیتي او عسکري مقاماتو په سرحدي صوبه کې د پښتونستان پلویان نیول او د هغو پښتنو مشرانو ، خانانو او ملایانو ، چې د پښتونستان د حمایت شك و پرې ، کورونه او نور جایدادونه یې بمباري کول . د افغانستان زورولو لپاره د ټرانزټ تړه په لاره خنډانو نه پرته قبایل یې د افغانستان د حکومت په ضد هم پارول .

یوه مشهوره پېښه تېره شوې ده چې د پاکستان حاکمانو د پخواني پاچا امان الله یو مېړنی ورور امین جان چرته نه راپیدا کړو او په قبایلي پټي کې یې خلکو ته وروپېژندلو . د هغو د سوري د لاندې هغه ډېر زر یو قبایلي لښکر جوړ کړو او په سرحدي سیمو کې د افغانستان په څوکیو د حملو تابیا یې کوله . خو د اېپي فقیر او د هغه پلویانو چې وزیرستان نه د هغه د اېستلو فېصله وکړه نو هغه پلمه ناکامه شوه . د پاکستان پارونکو پټکاریانو له خوا د څه رشوت په بدل کې یوې قبایلي ډلې د کال <u>۱۹۴۹</u>ء په اخرنیو ورځو کې په جلال آباد کې د عسکري ودانیو یوه برخه وسېزله . په <u>۱۹۵۰</u>ء کې کله چې د پښتنو یو لښکر "په اباسین د پښتونستان د بېرغ لګولو لپاره پخې ارادې سره" د ډیورنډ کرښې نه واوړېده[۱۴] ، نو پاکستان په دې اساس چې افغاني ټانکرونه د تحفظ پاکستاني ضروریات نه پوره کوي ، تر درېو میاشتو پورې په مکمله توګه د افغانستان د تېلو واردات بند کړه . یوه بله پېښه چې دواړه هیوادونه یې عسکري نښتې ته ورکشول

د ۱۹۵۱ء د اکتوبر (په شپاړسم تاریخ) د یو افغان د لاسه چې د هیواد نه د باندې پاکستان کې میشته و، د پاکستان د صدراعظم وژل وو. مخوربزه پاکستاني حلقو دا تور په افغانستان لګاه چې د هغې وژلو لپاره یې امر ورکړی و. بلاخر پاکستان د افغانانو انکار ومنلو او هغه مخصوصه شخړه کېناسته.

څنګه چې د افغانستان او پاکستان تر مینځ اړیکو کې ښکېل زیاتېده، او څه د هیلې رو پکې نه شو لېدی، نو افغانانو فکر وکړ چې د پښتونستان د مسئلې په اړوند باید دریو اهمو معاملو ته فوري پاملرنه ورکړي: (۱) د ترانزیټي تجارت متبادلې لارې لټول، (۲) پاکستان سره په شخړه کې د افغانستان په حق کې د بین المللي مرستو ساحه پراخول، (۳) عسکري توان زیاتول او نوو غوښتنو سره یې برابرول.

# د مرستو لټون

د بریتانوي هند د ماتې په حال کې شوروي اتحاد ته د نزدو روابطو ساتلو لپاره د افغانستان حکومت مخ واړولو، او متحده ایالاتو سره یې د افغانستان د صمیمانه دوستۍ د ټینګتیا هڅې هم جاري ساتلې. شوروي اتحاد سره نزدې اړیکې په دې ضروري وو چې د شمال د لورې د خطرې مخه واړوي. خو نورې ګټې هم ورسره وې، لکه د ترانزیټي تجارت اسانتیاوې، د تجارت پراختیا، او کومك. بل اړخ ته د افغانستان حکومت او په عمومي ډول روشن فکرانو امریکې ته جذباتي میلان درلود. د هغو دا یقین و چې واړه هیوادونه لکه افغانستان مجبور دي چې د امریکا د پیاوړتیا او دولت نه زیاته ګټه واخلي. د هغه وخت افغان واکمنانو چې د افغانستان او متحده ایالاتو روابطو کې ټینګښت غوښته، نو په دې هیلې چې د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې هم متحده ایالات ونښلوي او د افغانستان سیاسي استقلال د ساتنې لپاره هم د هغو مرسته حاصله کړي.

دا اوس د افغانستان د عمومي کړنلارې برخه وه، خو روسیې سره د روغې یون لړ ورو و. د هغې لامل دا و چې د شاه محمّود خان (چې د خپل ورور هاشم خان د استعفا نه پس د ۱۹۴۶ په مۍ کې صدر اعظم شو) او د هغه د نزدو ملګرو روزنه داسې شوې وه چې روسیې ته یې د شك په نظر کتل. هغوی داسې ګام اخستلو ته تیار نه وو، چې افغانستان دې شوروي اتحاد ته ډېر نزدې شي. ۱۹۴۵ء کې په ترکیه کې او ۱۹۴۶ء کې په ایران کې د ماتو نه پس شوروي اتحاد هم د جوزف ستالن د لاندې په اسیا کې د سیاسي او اقتصادي مسئولیتونو د پراختیا نه بوګنېدلو. د داسې جوش او جذبې نه پرته هم افغانستان او شوروي اتحاد خپلو روابطو کې څه نا څه پرمختګ وکړی شو او دوه اهم تړونونه یې

لاسليك كړه: يو ۱۹۴۶ء کې د سين د پولې او بل ۱۹۵۰ء کې د ټرانزيټ تړېه.

د سين د پولې په ټرون کې دواړو خواو د امو د سين "تلوېږ" يعنې د لويې اوبو نيمايي د دواړو هېوادونو تر منځ د سين د پولې په حيث ومنله. د شيانو د ادلون بدلون او وړلو راوړلو ټرون مهم اړخ دا و، چې "د شوروي اتحاد په هيواد کې افغاني مالونه ټرانزېټي محصولاتو نه ازاد وو"[۱۵]. په ۱۹۵۷ء کې افغانستان او شوروي اتحاد تر مينځ د سرحدي رژېم په نوم يوه بله لوزنامه هم وشوه چې د دواړو هيوادونو تر مينځ پولې سره تړلې ټولې معاملې يې منظم کړې.

شورويانو د مال د ادلون بدلون او وړلو راوړلو د ټرون په سمون په ځينې ځايونو کې د تېلو د سترو ګودامي ټانکونو د جوړولو ژمنه هم وکړه. دې به د ضرورت په وخت د پاکستان په لاړو د افغانستان د تېلو د وارداتو انحصار کمولی. د هغې ټرون له برکته افغانستان ته د باندينې تجارت له پاره، چې د پاکستاني حاکمانو خوښې او مرضۍ باندې ولاړ وه، نوې لاره خلاصه شوه. په ښکاره ډول د هغې بارتړ او ټرانزېټ ټرون د ارادې او ساحې نه ترهېدلي پاکستان د تېلو په مصنوعاتو بندېز پورته کړ او د پاکستان د لارې د مال په وړولو راوړولو کې يې هم د ناراستۍ نه لاس واخسته.

د افغانستان او شوروي اتحاد تر مينځ د ظاهري تودو اړيکو سره، شورويان د افغانستان په کورنۍ چارو کې د لاسوهنې نه نه اوړېده. دوی د يو نه زيات ځله د افغانستان په بيلابېلو پروژو کې د کارکونکو امريکايانو او نورو لويدېځو متخصصينو په شتوالي اعتراض کړی وه[۱۶] دوی په خصوصي ډول په هغو لويدېځو متخصصينو اعتراض کولو چې په شمالي سيمو کې په ځينو پروژو، لکه د ملل متحد د تېلو پروژه، کې کار کاوه. وروستو به روسانو ويل چې د افغانستان حکومت د هغوی درخواست ته توجه ورکړه او لويدېځ خلك يې په شمالي افغانستان بند کړ. آرنولډ فلېچر چې په هغو ورځو کې په افغانستان کې وسېدلو، وائي چې ټول شوروي احتجاجونه "بې غوره ساتلی شوي وو"[۱۷]

افغان حکمرانانو په ډېر مينه متحده ايالاتو سره د اړيکو ټينګولو دنده پېل کړه. د صدراعظم جوړېدلو نه پس شاه محمود وويل:

... ډاډه يم چې د وړو ملتونو د پاره د امريکې اتلواله به د تېري په حال کې زما د هيواد امنيت تامين کړي. د امريکې کړنلاره زمونږ خلاصون دی. زمونږ په تاريخ کې په وړومبي ځل مونږ د سترو طاقتونو د خطرو نه ازاد يو، چې زمونږ درو نه يې امپراتورۍ د پاره لارې جوړې کړې وې. اوس مونږ کولی شو چې خپل استعداد او وسيلې د خپلو خلکو د ژوند د ښه کولو د پاره راغونډې کړو[۱۸].

داسې غېر معمولي اوچتو هېلو هڅولي افغان واکمنان اقتصادي مرستې، د پښتونستان په مسئلې سياسي ملاتړ، او د پوځ د عصري کولو د پاره پوځي سامان تر لاسه کولو د پاره متحده ايالاتو ته مخ واړولو.

په کال ۱۹۴٦ء کې افغانستان له متحده ایالاتو څخه د اقتصادي مرستو غوښتنه وکړه، چې د اوبه خور زوړ نظام ترمیم کړي، نوي نهرونه وکني. او په سویلیز افغانستان کې د هلمند د سین په سیمه کې کار وکړي. امریکایانو هغه خواست ونه منلو ځکه چې د هغوی په خیال هغه "په اقتصادي مفکورو کې ډېر بېخونده وه".[۱۹] په هر حال افغانانو دې کارونو د پاره هغه پنګه پکار واچوله چې د جنګ په دوران کې یې د نیویارک په بانکونو کې د متحده ایالاتو د ایداهو په ایالت کې د بویسې موریسن نوډسن شرکت سره د ټېکې د پاره جمع کړې وه.

د موریسن نوډسن ابتدایي کامیابۍ افغانان تشویق کړ چې د هلمند اصلې پروژه پراخه او ځواړخیزه کړي. په هغې کې اوبه خور، د شاړو زمکو آبادول، د اوبو د برېښنا انکشاف، او په نوو آبادو زمکو د بې زمکې کوچیانو آبادول شامل کړی شو. خو د افغانانو پنګه زر په ختمېدو شوه. او متحده ایالاتو نه یې مالي مرسته وغوښته چې د اوږدې مودې یو جامع انکشافي پلان په کار واچوي. په هغې کې په هلمند پروژې باندې نور کار هم شامل و. د یو سل او اتلس ملیونو ډالرو وړمبنۍ غوښتنه ونه منلی شوه. خو په د کال ۱۹۴۹ء د نومبر په میاشت کې د متحده ایالاتو د صادراتو او وارداتو بانك افغانستان صرف د هلمند پروژې د پاره یوویشت ملیونه ډالره پور ورکړ.

دې دوران کې د ټرومېن د څلورمې نکتې د پروګرام لاندې متحده ایالاتو افغانستان ته د معارف او کرهنې د پاره یوه اندازه کومك پیل کړو. وروستو د متحده ایالاتو د بین المللي مرستو ادارې هم کومك ورکولو. د امریکې د کومك سیاسي اهمیت، د اقتصادي ګټو نه زیات، د افغاني مشرانو د پاملرنې لامل وګرځېدو، لکه د هلمند د پاره د پور په هکله ټرومېن سره خبرو کې د شاه محمود د فکر نه څرګندېږي: "د افغانستان حکومت د دې پور په هکله د دې سیاسي او اقتصادي دواړه ارزښتونه په نظر کې نیسي، کېدی شي افغانستان ته د کومك په ورکولو کې د شوروي زیاتېدونکې علاقې په رڼا کې".[۲۰]

د مرستو توکو د افغانستان او متحده ایالاتو اړیکو کې څه ډاډ پېدا کړو، خو د پښتونستان په مسئله د سیاسي مرستې په لړ کې د امریکا له خوا د افغانستان د هڅو جواب څه ارزښت نه درلود، او د عسکري کومك په لړ کې خو بېخي منفي و. امریکایانو ته د پښتونستان او هغې د عواملو څه پته نه وه. لږ ډېر معلومات که ورته وو هغه یې د بریتانیې نه زده کړي وو، د چا چې د افغانستان موقف سره همدردي نه وه. دې نه پرته امریکایان د لویدیز پاکستان د هغو مامورینو نه زیات متآثر وو چې انګرېزي یې ویله او بریتانیې روزلي وو. هغوی د بریتانیې په کومك ډېر زر په واشنګټن د پاکستان ارزښت ومنلو چې د بېطرفه او چپي طرفه هندوستان او د وروسته پاتې او نامعلومه افغانستان تر مینځ د لویدیځو مفکورو یو سنګر دې. افغانستان خو په اسانه د روسیې لاس ته ورتلی شي که "د هغې سرحدي مقاصد وغواړي".[۲۱]

په هر حال "متحده ایالاتو درې ځله د مینځګړتوب وړاندیز وکړ؛ یو ځل

پخپله مینځګړتیا ته چمتو و، او بیا یې مصر او ترکیه نامزد کړل"[۲۲] افغانستان د امریکې هر وړاندېز منلو خو پاکستان په دې اساس ردولو چې معامله کورنۍ ده او مینځګړتیا ته حاجت نه لري[۲۳] - افغانستان کامیاب نه شو چې د خپلې روغې هلې ځلې د امریکا د پاملرنې جوګه وګرځوي - په حقیقت کې د پښتونستان په مسئلې د افغانستان ټینګار امریکا خپه کړې وه، او په دې مسئلې د پویدلو او مرستو غوښتنې یې دړکه ګڼله چې "دوی به د شوروي اتحاد سوري ته وروخوځوي" که د امریکې له خوا سیاسي ملاتړ نه یې هېله غوځه شي -[۲۴] د امریکا د مرستې په لړ کې افغانستان دا هېله نه لرله، چې متحده ایالات به پښتونستان د پاکستان نه واخلي او افغانستان ته به یې ورکړي - هغوی دا غوښته چې د پاکستان او افغانستان د یو دوست په حیث متحده ایالات به د یو باعزته حل د پاره افغانستان سره دخبرو ضرورت پاکستان ته وښیي - د افغاني فکر مطابق صرف متحده ایالات دا توان لاره چې په پاکستان کې یې نفوذ او احترام و -[۲۵]

د امریکا د کومك د راجلبولو په لړ کې ټولې افغاني هڅې په تیندکونو شوې چې د کوریا د جنګ په دوران کې د کال ۱۹۵۲ء په مینځومیانه کې، دا خبره واضحه شوه چې متحده ایالاتو د کمونیستانو د خورونو د مخنیوي د پاره په باورې ملګرو کې پاکستان خوښ کړ او د هغې مطابق یې وسله ورکوله -[۲۶] داراز د پښتونستان د مسئلې په تعقیبولو کې د بین المللي ځانلتوب نه وتلو د پاره افغانستان څه خاص مرسته تر لاسه نه کړی شوه - په هغه وخت د روسیې مرسته هم په نیشت برابره وه - په دې لړ کې یوازینۍ مرسته د هندوستان وه چې هغه هم د موقع په مناسبت، بې اتباره او په تادۍ سره په ټالو وه - د دې غرض پاکستان سره د هغې خپله دشمني وه او په هغې کې یې خالصه خپله ګټه په نظر کې نیولې وه - د هندوستان نهایي غرض د هغې کومك اهمیت ختم کړو -

دویم نړیوال جنګ چې د ختمېدلو په حال کې و، د امریکا یو هیئت د جنرل پیټریك جې هورلي په مشرۍ د افغانستان په دوره راغلی وه - افغانانو د نوموړي جنرل نه پوښتنې وکړې چې ایا افغانستان ته د وسلو ورکولو څه امکان وه او د افغانستان منصبدارانو ته به په متحده ایالاتو کې تربیت ورکړي - افغانانو هغه ته د ضروري وسلو فهرست هم ورکړو، خو د هغوی غوښتنې بېجوابه پاتې شوې - د جنګ په پس افغان حکومت متحده ایالاتو ته د وسلو خواستونه کول، خو هغه به شا ته غورځولی شو - په ۱۹۵۰ء کې په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت افغانستان ته د وسلو ورکولو سفارش وکړو - د هغې سفارش لاملونه دا وو: "د شوروي نفوذ ختمول، د افغانستان او امریکې دوستې پخول، کورنی امنیت ساتل، او پاکستان سره د اختلافاتو د حل لارې چارې لټول".[۲۷] ښکاره ده چې کابل کې د امریکې سفارت د پښتونستان په اهمیت او د دې د زر حل کولو په ضرورت پوهېدلی و - او په دې هم پوهېدلی و چې په دې سیمه کې د پاکستان په حق کې د وسلې پارسنګ ټېتوله کول نه وو پکار -

د ۱۹۵۱ء د اپرېل په میاشت کې واشنګټن ته د شاه محمود د سفر په دوران کې د هغې هیواد ولس مشر ټرومین ته دولتي اداري مشوره ورکړې وه چې متحده ایالات افغانستان ته د پوځي کومك ورکولو جوګه نه وو، او تر څو چې د هغې د کورني امنیت مسئله وه نو ښه دا وو چې د ملل متحد له منشور سره سم د مجموعي امنیت په نظام باندې بروسه وساتي.[۲۸] په راتلونکو کلونو کې افغانستان د ملل متحد د کومك نه په ټولنیزو ساحو کې ښه ګټه پورته کړه، خو ډېر زر ورته دا احساس وشو چې په منشور کې ورکړی شوی د اجتماعي امنیت نظام داسې بېکاره وه لکه د هغې یو چې د لیګ آف نېشنز یعنې د ملتونو د ډلې په منشور کې و، خصوصاً په داسې حال کې چې د دوو پخوانو ملګرو او د ملل متحد د امنیتي کونسل د پخو غړو، متحده ایالاتو او شوروي اتحاد، تر مینځ ترېګني په بین المللي صحنه کې یوه مستقله شخړه ګرځېدلې وه.

د متحده ایالاتو اداري د پاره دا یو اړ جوړ شوی و چې څنګه افغانستان د خپل امنیت مسئله ملل متحد ته سپارلې وه، چې د ایالاتو حکومت پخپله د دې نړیوال تنظیم بې کفایتي محسوس کړې وه، او د شوروي خورونو مخنیوي د پاره د عسکري ملګرتیاو په لټون کې سرګردان و. بېشکه افغانانو د متحده ایالاتو استدلال کې دا وټ نظر کې ساتلی وه، خو د امریکې د دې بې اساسه شان روش په مقابل کې د دوی عکس العمل خوندي شوی نه دی.

افغانستان له متحده ایالاتو نه عسکري کومك حاصلولو د پاره هڅې نه وې پرېښې. د ۱۹۵۱ء په آګست کې یې یو رسمي خواست ورکړ، او د خپل ضرورت مطابق د وسلو جدول یې هم ورسره زنښلولو. متحده ایالاتو په نومبر کې جواب ورکړ چې د "غوښتلی شوو وسلو بیه پنځوېشت ملیونه ډالر وه، او د نغدو په شکل کې ورکول پکار وو. د متحده ایالاتو د کومك نه بغېر به د پاکستان په لاره د واردولو انتظام کولی شي. خرځلاو به په چار وي، او ښه به دا وي چې د پښتونستان ادعا نه لاس واخستل شي"[۲۹] د امریکا شرایط د منلو وړ نه وو، نو صدر اعظم شاه محمود هغه "سیاسي انکار" وګاڼه.

افغانانو ته ښکاره شوه چې د پاکستان د خوښې نه بغېر متحده ایالاتو نه هغوی وسله نه شوه اخستلی، او دا تر هغې نه شوه کېدی چې د پښتونستان مسئله یې پرېښی نه وی. دا یوه داسې مسئله وه چې هیڅ یو افغان حکومت ورته د پاکستان له خوا د څه مناسب بدل نه بغېر غاړه نه شوه اېښودی. تر څو چې افغانستان ته د امریکا د وسلو د مرستو او د افغانستان او پاکستان تر مینځ د شخړې تعلق و، واشنګټن افغانستان ته د وسلو ورکولو په حق کې چې د متحده ایالاتو سفارت کوم سفارش وړاندې کړی وه د هغې منطق د غور وړ ونه منلو. د امریکا د کرنلارو جوړونکو شاید افغانستان سره وسله ییزې مرستې د پاکستان خلاف یو عمل ګاڼه، چې په اسیا کې د متحده ایالاتو نزدې ملګری وه. هغوی دا فکر ونه کړو چې دا داسې یوه موقع ثابتېدلی شوه چې د دواړو ګاونډیانو تر مینځ سولې ته د رسېدلو امکان یې پیدا کولی شو. افغانستان سره د کومك په نتیجه

کې د دواړو ګاونډیانو تر مینځ د پوځي طاقت پارسنګ د هغوی تر مینځ د یو بل خلاف تربګني شنډولی شوه.

داسې ښکارېدله چې د متحده ایالاتو د چترۍ په سورې د افغانستان د پاره ځای نه وه. افغانان دې غلطۍ کې پرېوتي وو چې د هندوستان نه د بریتانیې د وتلو په وجه چې کومه خلا پېدا شوې وه د هغې د ډکولو مسئولیت متحده ایالاتو په خپل سر اخستی وه. په اساسي ډول په لویدیز کې دا هېله کېدله چې د دوو مخالفو بلاکونو تر مینځ د مینځګړي دولت په حیث د افغانستان د بېطرفۍ موقف به د هغې پایښت یقیني وساتي. په هر حال د داسې خوشبینه فکر په جاخو کې امریکې په دې حقیقت شاید په شعوري ډول سترګې پټې کړې وې چې افغانستان د بریتانوي کومك په زور د هغې حیثیت ساتلو جوګه وه، او روسانو ته د افغانستان د تمامیت د تحفظ په هکله د بریتانیې د ژمنې او ارادې معلومات وو.

په دې دوران کې اسلامي هیوادونو سره د افغانستان روابط په عمومي ډول ښه وو. له ترکو سره روایتي روابط مضبوط وو، او د پوځ روزنه په عمومي ډول ترکي منصبدارانو کوله. په ۱۹۵۱ء کې د افغانستان او ایران دواړو سره د دوستۍ په حیثیت کې متحده ایالاتو مشوره ورکړه چې د د هلمند د لرې غاړو د اوبو د وېش د سلیزو زړه معزله دې یو بېطرفه کمیشن ته وسپاري چې د هغې مسئلې د دوستانه حل د پاره څه رده کېږدي. دواړو خواو د متحده ایالاتو مشوره ومنله. او یو بېطرفه کمیشن جوړ شو. هغې بېطرفه کمېشن موقتي انتظام تجویز کړو (تر هغې چې د اوبو صحیح اندازه تر لاسه شوې نه وي). په عام کال کې ایران ته په یوې دقیقه کې دووېشت کیوبك میتره اوبه ورکړی شوې چې افغانستان ومنله خو ایران ترې انکار وکړ. افغانستان په یوه دقیقه کې د شپږوېشت کیوبك میتره اوبه ورکولو وړاندیز وکړ، خو هغې هیواد دا زیاتوالی هم ونه منلو. اګر چې د هلمند د اوبو په وېش لوزنامه ونه شوه خو د ایران او افغانستان تر مینځ اړیکو ته څه خاص زیان و نه رسېدو.[۲۰]

لویدیز اروپایي هیوادونو، خصوصاً فرانس، سره د افغانستان روابط ښه وو. او د جرمني راپورته کېدل چې څرګندېدل، نو افغانان اقتصادي ودې د پاره د جرمني مرستو حاصلولو کې کامیاب شو.

دا هرڅه خوشالونکي ضرور وو، خو په ظاهره او په کُلي توګه د افغانانو د اطمینان وړ نه وو. ښکاره وه چې د دویم نړیوال جنګ نه پس کوم هدفونه چې په نظر کې نیولی شوي وو هغو ته د دې کرنلارو په تعقیبولو نه شو رسېدلی. د پښتونستان په مسئله کې افغانستان په سیاسي ډګر کې ببمله پاتې وه. خپل پوځ یې نوو غوښتنو سره سم قوي نه کړی شو او په اقتصادي وده کې هغو سوییو ته و نه رسېده چې په نظر کې یې ساتلې وې. دې د پاره دې ناخوځېدونکي حالت نه د وتلو د پاره د نورو لاروچارو لټول ضروري وو.

هغه موده کې د نهرو او ناصر غوندې څېرو په لاربښودنو د افریقې او د

اسیا هیوادونه د "دریمې نړۍ" په شکل کې وچنبدل، په دې نیت چې نه به لویدیځ سره یو ځای کېږي او نه ختیځ سره. دا نوې مفکوره د شاهي کورنۍ ځوان کهول د پاره رانښکونکې وه. د هغوی دا خیال وه چې د افریقې او د اسیا د هیوادونو چې کومه بېطرفي په نظر کې نیولې وه هغې د افغانستان ګټو او غوښتنو سره سمون خوړو. د بېطرفۍ په کچ مېچ کولو د هغوی دا یقین پېدا کړو چې حکومت په سیاسي او اقتصادي ډګرونو کې د جواب نه ورکونکې لویدیځ په لور زیات تیټ شوی وه. دې د پاره هغوی متحده ایالاتو او نورو لویدیځو هیوادونو سره د افغانستان ښه روابط د زیانولو نه بغېر د دې حال اصلاح غوښتله. د افغانستان په روش کې داسې قسم بدلون د پاره د فکر او په مشرتابه کې ارومرو بدلون پکار وه. داسې بدلونونه د خطرو نه خالي نه وي. خو ډېر احتیاط داسې پړاو باندې ودرېدو چې افغانستان د هغې جریان نور نه شو زغملی.

د کال ۱۹۵۳ء د ستمبر په وروستو ورخو کې شاه محمود استعفا ورکړه او په شلم ستمبر پاچا ظاهر شاه د صدراعظم په حېث د جنرل محمد داود د ټاکلو امر اعلان کړو. داود هغه وخت د درې څلوېښتو کالو وه، د پاچا تربور او اوښی وه. هغه د دفاع وزیر، د کورنیو چارو وزیر، پارېس کې د سفیر او د مختلفو ولایتونو د والي په رتبو کار کړی وه. د صدراعظم د جوړېدو نه پخوا د مرکزي قواوو قوماندان و. خلکو محمد داود ښه پېژانده، سخت ملتپال وه، او د محنت، مشقت او دیانت له امله یې نوم ګټلی وه.

محمد داود چې اقتدار ته ورسېده نو افغان حکومت اراده وکړه چې د اداري او علمي طریقه کار بدلونونو سره د افغانستان د اقتصادي ودې یون تېزول هم پکار و. د هغې د پاره د باندینیو منابعو نه زیات نه زیات مالي او تخنیکي مرستې حاصلول پکار وو. د افغانستان سیاسي ځانلتوب چې تېر حکومتونه یې ختمولو کې ناکامه شوي وو، نه صرف د باندینیو مرستو د بندېزونو سبب شوی و، بلکې افغانستان یې د پښتونستان په مسئلې د حمایت جلبولو نه هم رانښکلی و، او د پوځ د عصري کولو مهم ضرورت ته هم خنډ شوی و. د افغانستان د ستونزو په هکله د لویدیځ د منفي روش په وجه د محمد داود حکومت د شوروي اتحاد نه د کومك او حمایت د غوښتلو فېصله وکړه. په هر حال د افغانستان حکومت فېصله وکړه چې د کرنلارې د بدلون په لور اوړېدلو نه آګاهو یو ځلې بیا انکشافي کومك او عسکري سامان د پاره متحده ایالاتو ته خواست وکړي. ښکاره خبره وه چې د امریکې نه د سیاسي حمایت هېلې ارزښت نه لرلو، نو په هغه وخت افغانانو متحده ایالاتو سره د داسې قسم معاملې پورته کولو نه ژغورنه غوره وګڼله.

د کال ۱۹۵۳ء د نومبر په میاشت کې افغانستان د یو ګڼ اړخیزه اقتصادي انکشافي پروګرام د پاره متحده ایالاتو ته د صادراتي او وارداتي بانك نه د شپږدېرشو ملیونو ډالرو د پور غوښتنه وکړه. دې کې یوه برخه کابل کې د کوڅو پخولو د پاره وه. بانك صرف د هلمند پروژې د پاره اتلس نیم ملیونه پور

منظور کړ، او نوره غوښتنه یې رد کړه. د ۱۹۴۹ . د پور په شان د دې د سپمولو دوره هم اتلس کاله او د سود نرخ په سلو کې څلور نیم وه.[۳۱] دې جواب نه ښکاره وه چې امریکایان د محمد داود سنجولي د افغانستان پراخ اقتصادي انکشاف کې ونډې اخستلو ته لا تیار نه وو.

څه وخت چې د افغانستان د اقتصادي مرستو د پاره درخواست په واشنګټن کې ځنډېدلی وه، مرستیال ولس مشر نکسن د اسیا د هیوادونو په دوره وتی وه. د کال ۱۹۵۳ء د دسمبر په میاشت کې نکسن د دوو ورځو په دوره کابل ته رااورسېدو او افغان مشرانو سره یې یو لړ ملاقاتونه وکړه. افغانستان ته د اقتصادي کومك وعدې ورکولو سره، نکسن افغانانو باندې زور واچولو چې د پښتونستان مسئله دې ختمه کړي، ولې چې د هغه په خیال د هغې څه جواز نه وه او پاکستان سره یې بېهیڅه شخړه سازه کړې وه. د افغانانو د احساساتو په ژورتیا د غور نه کولو او د هغې معاملې په هکله، کومه چې د دوی د باندېنۍ کړنلارې یو مهم توکی وه، د هغه د سرسري پوهې په وجه افغانان د نکسن نه ډېر خفه شو. د خبرو یخ چاپېریال کې افغانستان ته د متحده ایالاتو د پوځي کومك مهم سوال افغانانو پورته نه کړو.[۳۲] دا راز د داود د نوي افغان حکومت او د آیزنهاور د نوې اداري تر مینځ د اوچتې سویې وړومبنی تماس په مایوسۍ کې ختم شو او د متحده ایالاتو او افغانستان په روابطو یې پخې اوبه تویې کړې.[۳۳]

د ۱۹۵۴ء د اکتوبر په میاشت کې افغانانو بیا د متحده ایالاتو نه د وسلو غوښتنه تازه کړه. محمد داود خپل ورور او د باندېنیو چارو وزیر محمد نعیم واشنګټن ته ولېږلو چې د متحده ایالاتو دولتي منشي جان فوسټر ډلس ته یو ځانې اپیل وکړي. دوه میاشتې وروسته افغانان او واشنګټن کې د پاکستان سفیر دواړو ته خبر ورکړی شو چې "د دقیق غور نه پس، افغانستان ته د پوځي کومك ورکول به مسئلې جوړې کړي. د دې په ځای ډلس په دې زور اچولو چې د پښتونستان مسئله دې حل شي."[۳۴] د افغانانو د پاره دا د مایوسۍ خبره وه چې متحده ایالاتو ته د هغوی خفیه لیك پاکستان ته څرګند کړی شو، او هغوی ته وویل شو چې ارومرو او په یومخیز ډول دې د پښتونستان د مسئلې نه لاس واخلي، حال دا چې پاکستان هډو د هغې مسئلې شتوالی نه مانه.

په هر حال، هغه وخت څه تت شانې امکان و چې متحده ایالات به د افغانانو د وسلو غوښتنه ومني، څه وخت چې د افغانستان او پاکستان تر مینځ روابط خراب وو، او پاکستان چې امریکې په اسیا کې نزدې ملګری ګڼلو، د بغداد پېکټ یعنې د بغداد تړون او د ساوتهـ ایشیا ټریټي آرګنائزېشن یعنې د سویلي اسیا د تړون تنظیم چې په سیټو مشهور شوی وه، تر مینځ یوه کړۍ لېدی شوه. د عراق وتلو نه پس د بغداد د تړون نوم په سنټرل ټریټي آرګنائزېشن یعنې د مرکزي تړون تنظیم بدل شو، چې مخفف یې سېنټو وه. افغانستان ته د څه قسمه د متحده ایالاتو د عسکري کومك خلاف د پاکستان امتیازي موقعیت ځنډ شوی وه.[۳۵] داسې کېدلو سره نه صرف پاکستان قهرېدلو، بلکې په واشنګټن کې هم دا

وېره وه چې افغانستان ته کومه وسله ورکړې شي هغه به په پټه وي که په ښکاره د امریکې د پاکستاني ملګرو خلاف پکارولی شي . د متحده ایالاتو حکومت چې د افغانستان له خوا د وسلو غوښتنې نه منلې د هغې په هکله لوییس دوپري داسې ویلي وو .

د داود حکومت په رسمي ډول چې افغانستان ته د عسکري کومك ورکولو نه امریکې په دې سوب انکار کولو چې افغانانو د میچوېل سېکیورېټي اېګریمنټ یعنې د خپلمنځي امنیت لوزنامه لاسلیك کولو یا د بغداد تړون کې شامېلېدلو نه ډډه کوله . بغداد تړون کې د افغانستان د نه شامېلېدو په هکله د امریکې غېر رسمي فکر څه بل شان و . هغه وخت چې د امریکې کوم دپلوماتان په موقع موجود وو د هغو د وینا مطابق، ځینې عسکري منصبدارانو تړون کې شمولیت غوښتو، خو دا تسلي یې غوښتله چې متحده ایالات به یې په داسې حال کې ساتنه کوي، که د وسلو د قبلولو په وجه د روسیې له خوا حمله وشي یا دننه په افغانستان کې په لویه سویه ورانکاري وي . د عسکري اهمیت له نظره (افغانستان د ازادې نړۍ د دفاع د پاره دومره اهمیت نه لرلو)، د ترانسپورتي وسایلو په لړ کې (د هغې د جغرافیایي حالت په وجه د افغانستان دفاع کېدل ګران وو) او په دولتي سویه (لږو خلکو په شوروي طاقت دا یقین کولی شو چې افغانستان ته به د درون پوځي کومك ورکولو جوګه وي)، د دې وجوهاتو په رڼا کې د امریکې عسکري پلانګرانو د داسې قسمه تسلیانو ورکولو خلاف فېصله ورکړه ۳٦

هغه څه چې نېکیتا خروشېف په خپل یادداشت کې ویلې دي که هغه د کمیونسټو دروغ نه وي، نو داسې ښکاري چې په حقیقت کې هغه وخت داسې څه هڅه روانه وه چې افغانستان د لویدیځو ملګرتیاو نظام کې راولي .

زمونږ هلته د سفر په دوران {۱۹۵۵ء دسمبر} کښې، دا ښکاره وه چې امریکایان د یو پوځي مرکز د جوړولو په غرض افغانستان ته ننوځي

... ۳۷

دا دې هم داسې وي، خو ځېنې افغاني مخورېزې حلقې د داسې قسم عسکري تړونونو دومره مخالفې نه وي، کوم قسم چې د متحده ایالاتو دولتي منشي جان فوسټر ډللس د نارتهرن ټایر یعنې د قطبي لړۍ په نوم مفکورې کې وړاندې کړې وو . خو د افغانانو دا خیال وه چې د کمیونزم مخه داسې نه تمبېدلی چې اسیا کې یو څو وړو او کمزورو ملتونو ته وسلې ورکړې، هغوی په عسکري تړونونو کې ونښلوي، د هغو په خاوره یو څو هوایي ډګرونه جوړ کړې، او بیا ورته ووایې چې د شوروي او چین د خطرو مخې ته ودرېږې، په داسې حال کې چې د امریکې اصل عسکري طاقت په زرګونو میلونو لرې پرۍت وي . د دې په ځای دوی داسې فکر کاو چې اسیا کې کوم تړونونه کېږي د هغو په ځای د نېټو غونډې یو پوخ عسکري تړون به یو ښه بامقصده انتظام وي (چې د متحده ایالاتو د مهمو

قطعاتو په شمول خپلې قواوې ولري، او په اروپا کې پاخه میشته او چمتو وي چې د شوروي تېري مخه نیولی شي) - د هغوی په فکر د سېنټو او سیټو تړونونه د سود په ځای زیان رسوی چې اسیایي وندوال د خپل حالت نه هم کمزوري کوي.

د عسکري تړونونو په هکله د افغانستان مخالفت هغه وخت په تادۍ سره زیاتېده کله چې هغوی ته معلومه شوه چې د هغو تړونونو په ذریعه پاکستان په کومه اندازه مجهز کولی شو - دې نه پرته د بېطرفۍ مفکوره چې په کال ۱۹۵۵ء کې د اندونیشیا باندونګ ښار کې د افریقې او اسیا د هیوادونو په وړومبنۍ غونډه کې زرغونه شوې وه، په دریمه نړۍ کې اهمیت موندلو - په ۱۹۶۰ء کې د بېطرفه سرمشرانو وړومبنۍ غونډه بلغراد کې جوړه شوه (هغې کې د افغانستان نمایندګي محمد داود کړې وه) - په هغې غونډه کې د بېطرفۍ د خوځښت وندوالو ملتونو په غالب اکثریت د سوپر پاورز په تربګنۍ کې د تړوکېدلو تړونونو مخالفت په ځای وساتلو - د بلغراد سرمشریزې غونډې د عسکري تړونونو مخالفت ته د بېطرفۍ د یو اصول په حیث قانوني بڼه ورکړه - افغانستان چې سخت دریځه بېطرفه هیواد وه د هغې اساسي اصول ټینګه مرسته وکړه -

په پراخه اندازه د اقتصادي ودې بیا عملي کول نور نه شو ځنډولی، نو افغانانو د هغوی ته ورپاتې د یواځینۍ خوښې یعنې شوروي اتحاد په لور زړور ګام اوچت کړو - زیات افغانان په اقتصادي انکشافي کارونو کې د روسانو نښلولو د خطرو نه خبر وو، خو افغانستان د خپل پاریخ داسې یو پړاو ته رسېدلی و چې معنوي ترقي نوره ځنډولی نشوه -

هغوی (افغان واکمنان) خبر وو ... داسې نه کول (چې خپل هیواد ته ترقي وښایي) د کرېملن د تړلو نه زیات خطرناك عمل ثابتېدلی شو - افغانستان ته "د ختلو هیلو انقلاب" بالاخر رانښوتی وه؛ او هیڅ یو بدلون غوښتونکي او طاقتور قوم نه دا هېله نه شي کېدلی چې ګاونډیان یې په مخکې روان وي او دې دې په دې ډاډه وسي چې هېواد یې وروستو پاتې وي -۳۸

شورویان همېشه د پاره د افغانستان د روش په هکله حساس وو او اوس، د ستالن نه پس دوره کښې، دې هیواد کې د خپل موثر شتوالي تلوسه کې وو - دوی سم د لاسه د افغانستان خوښه ومنله -

د کال ۱۹۵۴ء د جنورۍ په میاشت کې روسیې دوو سېلوګانو (د دانو ګودامونو) او فلور ملز (ژرندو) د پاره افغانستان ته د درې نیم ملیونو ډالرو په اندازه وړومبنی پور ورکړو، چې یوه په کابل او بله په پل خمري کې جوړه کړې -۳۹ وړومبني پور پسې، تخنیکي مرستو سره نور روسي پورونه راروان شو چې د یو شمېر مهمو پروژو بنا کولو ته یې زمکه اواره کړه - د ۱۹۵۴ء د آګست په میاشت کښې روسانو د اسفالټ د یوې فابریکې جوړولو او کابل کې د کوڅو پخولو د پاره افغانستان ته د دوو ملیونو او سلو زرو ډالرو پور ورکړو - دا هغه پروژه وه چې د امریکي وارداتي او صادراتي بانك ورله د پور ورکولو نه انکار کړی وه - هم هغه

کال کښې، چیکوسلاویکیه د سیمټو دریو فابریکو جوړولو د پاره افغانستان ته د پنځو ملیونو ډالرو پور منظور کړو. متحده ایالاتو دا پروژه هم نه وه منلې. د افغانستان او شوروي اتحاد تر مینځ د اقتصادي تعاون زیاتوالي سره د دواړو هیوادونو تر مینځ روابط نزدې شو. د شوروي اتحاد له خوا د افغانستان د بېطرفۍ ستاینې او افغانستان سره د دوستۍ د ثرګندونې په لړ کې به کله نا کله ځینو شوروي مبصرینو په پښتونستان باندې د افغانستان د ولاړې همدردانه ارزیابي هم کوله. د افغانستان د راتلونکي وخت په اړوند چې د لویدیځ ناغرضۍ کومه خلا پیدا کړې وه د هغې د ډکولو د پاره لاره جوړېدله.

محمد داود چې اقتدار تر لاسه کړو نو هغه راسې د افغانستان او پاکستان روابطو کې ښوالی نه وه راغلی. د پښتونستان په موضوع کې افغانستان لږه ګرمي پیدا کړې وه، خو د دواړو هیوادونو تر مینځ څه مهمه پېښه نه وه شوې. سیټو کې شمولیت (یو کال پس د بغداد تړون هم کېدونکی وه) او د امریکې سیاسي او عسکري مرستو پاکستان زړور کړی وه، چې د کال ۱۹۵۵ء د مارچ په سر کې یې د لویدیځ پاکستان درې واړه صوبې او د بلوچستان سټېټس یونین (د دولتونو یووستون) د "یو یونټ" په سسټم کې ګډ کړه. ۴۰ اګر چې قبایلي ایجنسیانې د یو یونټ برخه نه وې، خو یو سیاسي، اداري او قانونساز یونټ کې د زیاتې ابادۍ، زیات ترقي یافته او زیات مالدار پنجاب سره د سرحدي صوبې د یوځای کولو نه پښتنو او افغانانو دا مطلب اخستلو چې دا د پښتنو د اصل د ختمولو په لور یو لوی ګام وه. دوی سره وېره وه چې د پښتنو د کلتور، ژبې او ملي خوبیانو رنګېدل به د پښتنو د ازادۍ موقف مرګ ته ورسوي. یو یونټ کې د لویدیځ پاکستان د راتېولولو مقاصد چې د پاکستانیانو په نظر کې هر څه وو، خو افغانانو د پښتنو د پېژندګلو د ختمولو اصلي هدف ګڼلو. د افغانستان حکومت د پاکستان حکومت ته یو رسمي احتجاج لیک ولېږلو چې د پښتنو د حقوقو او غوښتنو زورلو په لړ کې هغه عمل د پاکستان د ارادې یو بل ثبوت وه. د هغې جواب پاکستان داسې ورکړو چې دا کورنۍ معامله وه او د افغانستان ورسره څه کار نه وه.

د یو یونټ جوړېدلو سره په سرحد کې د شرشدت یوه نوې چپه پورته شوه. افغانستان کې هم جذبات په ختو وو. د کال ۱۹۵۵ء د مارچ په میاشت کې د خلکو یوې ډلې کابل کې د پاکستان په سفارت حمله وکړه او د پاکستان بېرغ یې وسېزلو. د تش په نوم "د بېرغ پېښې" په عکس العمل کې "د حکومت د اجیرانو یوې ډلې"۴۱ په پېښور او کوټه کې د افغانستان په قونصلګریو حمله وکړه، او د افغانستان بېرغونه یې هم وسېزل. د بېرغ د پېښې په سوب پاکستان یو ځل بیا "د افغانستان په ټرانزټ بندېز ولګولو چې د افغانستان اقتصاد ته یې پرېوانه زیان ورسولو."۴۲

افغانستان بیا متحده ایالاتو ته سوال وکړو چې د ایران په لاره د فارس په خلیج کې د چاهبهار بندرګاه ته د یوې نوې ټرانزټي لارې جوړولو لپاره ورسره

مرسته وکړي چې د هغې د ټرانزېټ پېټي لړ سپک شي خو دواړو ایران او متحده ایالاتو هغه سوال رد کړو چې دا په اقتصادي تول د عمل وړ نه وه.[۴۳] دې انکار نه پس افغانستان شوروي اتحاد ته مخ واړولو چې د کال ۱۹۵۰ء د مال د ادلون بدلون او وړولو راوړولو تړون تازه کړي. د ۱۹۵۵ء د جون په میاشت کې هغه شان وشو. دې نه علاوه، هم د ۱۹۵۵ء د اګست په میاشت کې روسانو او افغانانو "د مالونو د بدلون یو سند (بارټر پروټوکول)" لاسلیك کړ چې "افغانستان ته یې د وړی، مالوچو او اومو څرمنو په بدل کې د تېلو، تعمیراتي موادو (په خصوصي ډول د سیمټو) او فلزي سیخانو د واردولو ضمانت ورکولو"[۴۴]

د مصر، ایران، ترکیې او سعودي عرب په ښو کوښښونو د بېرغ شخړه د ۱۹۵۵ء په ستمبر کې حل شوه او پاکستانیانو اقتصادي بندېز پورته کړ، خو د افغانستان او پاکستان روابط هغه شان کړکېچن وو. د دواړو هیوادونو تر مینځ د وسلوالو نښتو امکان هر وخت موجود و. دې د پاره د افغان پوځ د قوي کولو ضرورت ډېر زیات شوی و. په ۱۱/اګست/۱۹۵۵ء له چېکوسلاواکیا نه د درېو ملیونو ډالرو د مالیت وسله په نغدو وپلورلی شوه[۴۵] د هغې وسلې رسېدل په اکتوبر کې د شوروي اتحاد له لارې پېل شو. په هر حال دا داسې قسم وسله نه وه چې په تادۍ کې د یو عصري پوځ په جوړولو کې په کار راتلی شوه. د محمد داود فکر کې چې د عصري پوځ کومه نقشه وه هغه د افغانستان د محدودو مالي وسایلو په اړتیا د کوم یو سوپر پاور، لکه د متحده ایالاتو یا شوروي اتحاد، د چا علاقه چې صرف مالي کټو پورې نه وه تړلې شوې، عملي کېدلی نه شوه. متحده ایالاتو څه علاقه نه لرله، نو محمد داود فیصله وکړه چې شوروي اتحاد ته د پوځي سامان او روزنې د پاره سوال وکړي. دا فکر دي نه وړاندې هم د روسانو غوږونو ته رسولی شوی و، او د داود د وینا مطابق هغو په "همدردۍ" اورېدلی و.

افغانستان چې د شوروي اتحاد عسکري کومك او روزنه منل نو دا احساس ورسره وه چې د روسیې نفوذ ته یې ځان برخېره کولو. خو له دې نه بغېر څه بله لاره وه؟ د امریکې په فکر کې وه! هغه دا چې د پښتونستان دعوې نه افغانستان لاس اخیستی وی. خو افغانانو د پاره د پښتونستان مسئله پرېښودل ممکن نه وو. د بدلې لارې د نیشت نه پرته د ځینو افغاني مشرانو دې یقین هم شوروي اتحاد نه کومك اخیستلو کې اسانتیا پېدا کړې وه، چې هغه وخت شوروي اتحاد د پاره د افغانستان په نیولو کې څه خاص راښکون نه وه. په هغو مفروضو کې د ټولو نه غټه دا وه چې اسلامي او بېطرفه ملتونو کې افغانستان څه حیثیت درلود، او د یو ازاد، وړوکي اسلامي او بېطرفه ګاونډي، او د افغانستان د لوړې ژورې زمکې د هغې هېواد نیول مشکل او په مالي لحاظ ګران کړي دي، روسانو ته دا حساسیت ورکړی وه، چې د داسې هیواد په نیولو به پرې د غاصب تور ولګي

د ۱۹۵۵ء په نومبر کې لویه جرګه راوبلل شوه، چې په پاکستان کې د یو یونټ په جوړېدو او په پښتنو د هغې په اغېزې غور وکړي. هغې په یو اواز د

پښتونستان په مسئلې د حکومت د موقف تاید وکړو او غوښتنه يې وکړه چې د هغې ځای خلکو ته دې د خپل اختيار حق ورکړی شي ـ د پښتونستان له کړنلارې منلو سره په منطقه کې د زیاتېدونکي تشنج له کبله، لويې جرګې حکومت ته دا واك هم ورکړ، چې له هر ځایه چې امکان وي د پوځ د قوي کولو د پاره دې د پوځي سازوسامان د لاس ته راوړلو او د عسکري روزنې انتظام وکړی شي ـ په هیواد کې د ټولو نه اوچتې سیاسي ادارې د روسانو او افغانانو تر مینځ نور عسکري تعاون ومانه ـ

د افغانستان او شوروي اتحاد تر مینځ چې نږدېکت راغلو نو د ۱۹۵۵ء په دسمبر کې د شوروي حکومت او د شوروي کمیونسټ ګوند مشران، نېکولايې بلګانن او نېکېتیا خروشېف افغانستان ته رسمي سفر وکړو چې د روسيې او افغانستان تر مینځ روابط نور هم ټینګ شي ـ دواړو روسي مشرانو افغانستان ته د اوږدې مودې ودانیزو چارو د پاره د سلو ملیونو ډالرو پور ومانه ـ د دې پور د سود نرخ په سلو کې دوه او د واپسۍ موده دېرش کاله وه ۴۶ د ۱۹۵۶ء په مارچ کې د داسې يو شمېر پروژو اعلان وشو، چې د هغې پور نه بودجه ورکولی کېده ـ په هغو پروژو کې د اوبو برېښناکوټونو جوړول او ښه کول، د لارو موټرو د ساتنې او ترمیم ورکشاپونه، د قزل قلا (په امو سین شېرخان بندر) نه تر کابله سړك چې درې کېلو مېتره سالنګ سرنګ هم پکې شامل وه، هوايي ډګرونه، د اوبه خور ندونه. د نهرونو نظام او يو پول شامل وو ـ۴۷ هغه وخت د شوروي سلاکارانو په مشورو او ښودنو افغانانو وړومبنی پنځه کلن پلان (د ۱۹۵۶ء مارچ نه تر ۱۹۶۱ء ستمبر پورې) جوړ کړ ـ

د داود د وینا مطابق افغانستان ته د شوروي په عسکري مرستو باندې هم د کابل په خبرو کې اتفاق شوی وه، خو د وسلو پلورلو تړون د ۱۹۵۶ء تر نیمايي پورې ښکاره کړی شوی نه وه ـ دا فېصله شوې وه چې د ۱۹۵۶ء په پېل کې به يو شوروي عسکري هیئت افغانستان ته راځي چې د عصري او پراخه افغاني قواوو د سازوسامان او روزنې ضرورت او ارزښت معلوم کړي ـ د هغې هیئت په مشوره افغانستان ته د سود په کم نرخ اوږدې مودې لپاره يو خصوصي پور ورکړی شو، چې رومي عسکري سامان وپلوري ـ په هغو کې د پیاده عسکرو د برېد رایفلونه، ماشیندارې، ټانکونه او الوتکې شامل وو ـ وخت په وخت د عسکري هیئتونو تبادله کېدله او په تسلسل سره د پوځ د قوي کېدو او عصري کېدنو ارزيابي کېدله ـ د عسکري تعاون په يونګې هغه بل ګام ډېر زر پورته شو، چې د ډېرو خلکو ترې نه وېره کېدله ـ يو ګڼ شمېر روسي سلاکاران او ښوونکي افغان منصبدارانو ته د نوو وسلو د استعمالولو چل ښودلو لپاره افغانستان ته راغله، او ځوانان افغان عسکري منصبداران، خصوصاً پېلوټان او ټانکستان، روزنې لپاره شوروي اتحاد ته ولېږل شول ـ۴۸

کابل کې د روسي مشرانو او محمد داود خبرې ایله پېل شوې وې چې شورويانو د پخوانۍ غوښتنې په جواب کې داود ته خبر ورکړ چې شوروي اتحاد

د پښتونستان په مسئله د افغانستان د ولاړې مرسته کوله. د ۱۹۵۵ء د دسمبر په شپاړسم تاریخ کابل کې چې کوم دعوت جوړ شوی وه هغې کې بلګانن وویل
مونږ د پښتونستان په مسئله د افغانستان له کرنلارې سره همدردي لرو. شوروي اتحاد د پښتونستان د مسئلو مناسب حل غواړي، خو دا د پښتونستان د خلکو د مهمو ګټو په نظر کې نیولو نه پرته نه شي کېدلی ۴۹.

د شوروي اتحاد او افغانستان مشترکې اعلامیه چې د ۱۹۵۵ء د دسمبر په اتلسم تاریخ خپره شوه، په دې موضوع پراګراف کې دې معاملې ته واضحه اشاره شوې وه:

د شوروي جماهیرو د پیوستون حکومت او د افغانستان شاهي حکومت په دې قانع دي، چې هغه خلك او ملتونه، چې لا تر اوسه پورې د ازادۍ او ملي خپلواکۍ څخه محرومه دي، دا حق لري، لکه د ملل متحد په قانون کې مشروط شوې دي، چې د خارجي وېرې نه بغېر د خپل راتلونکي وخت په هکله فېصله وکړي. ۵۰

بلګانن ماسکو کې چې د ۱۹۵۵ء د دسمبر په ۲۹م تاریخ کوم راپور لویې جرګې (سپریم سوویټ) ته وړاندې کړ، هغې کې وایي:

زمونږ په خیال د افغانستان دا غوښتنې چې په پوله پرتو د پښتونستان استوګنو ته دې په ازادانه ډول د خپلې خوښې د څرګندولو موقع ورکړې شي، جایز او اساسي دي. د سیمې خلك د خپل ملي اختیار په هکله هم د نورو خلکو پشان حق لري. د هغو خلکو په ولاړه کې څه جواز نه شته څوك چې د پښتونستان د خلکو د قانوني ملي ګټو احترام نه کوي او غور پرې نه کوي. ۵۱

داراز، څو پورې چې د پښتونستان د سوال تعلق و، افغانان نور ځانلټوب کې نه وو پاتې او د یو سوپر پاور جلبولو کې کامیاب شوی وه. شاید دا حقیقت چې د افغانستان مخالف پاکستان ځان متحده ایالاتو سره تړلی و، د شوروي اتحاد له خوا د پښتونستان په مسئلې د افغانستان حمایت یو اضافي توکی و. د افغاني حیثیت قوي کېدلو نه پرته د پښتونستان په هکله د روسیې حمایت فوري او عملي ګټه دا وه؛ چې هر کله که پاکستان د افغانستان او پاکستان تر مینځ شخړه د ملل متحد د امنیت جرګې ته وړاندې کړه، چې افغانستان د پاکستان په کورنیو چارو کې لاس وهي، نو هغه به شوروي ویټو وتمبوي. خو د پاکستان دې ګنګوسې د عمل مخ و نه لید. په حقیقت کې دا خبره شکمنه وه چې پاکستان به دا معامله ملل متحد ته وړاندې کړې وی کنه، خو بل اړخ ته د افغانستان په حق کې شوروي حمایت په یقیني ډول پاکستان داسې کار کولو ته نه تشویقاو.

په دې ډول په درېو ساحو کې: اقتصادي مرستې، پوځي مرستې او پښتونستان؛ روسان کامیاب شو چې منونکی افغانستان ځان ته د نورو هر کله نه

نږدې راکاږي. روسانو هم پوهېده چې هغو د پاره وخت سازګار وه چې د افغانانو د ضرورتونو او حساسیتونو نه ګټه واخلي. هغوی د موجوده خلا ډکولو د پاره وخوځېدل او په افغانستان کې یې ډېرې مهمې لارې پرانیستې.

د کابل په خبرو کې بلګانن او خروشېف په دې هم زور اچولو، چې د افغانستان بېطرفي او ناپېلتوب ته شوروي اتحاد څومره اهمیت ورکولو. د هغوی د دعوې مطابق هغه معامله هغوی د پاره د دومره اهمیت وړ وه، چې شوروي اتحاد افغانستان ته هر قسمه مرستو ورکولو ته چمتو وه، چې هغه د دې جوګه کړي چې خپله کړنلاره په ازاده توګه تعقیبولی شي. هغوی بیابیا ویل چې هغوی افغانستان نه د څه هېله نه لرله، خو د دواړو سوپر طاقتونو په نسبت د هغې د موجوده کړنلارې پخوالی یې غوښته. محمد داود بلګانن او خروشېف ته ډاډ ورکړ چې د افغانستان د لارې به روسیې ته هېڅکله هم څه خطره پېښه نه شي، په دې شرط چې د افغانستان په کورنیو چارو د لاس وهنې نه ډډه وشي. د داسې نېغ په نېغه او صفا وینا په جواب کې روسي مشرانو وویل، چې هغوی صرف د افغانستان بېطرفي او سوکالۍ کې علاقه لری او د هغې د واکمنۍ په چارو کې د ګوتو وهلو څه اراده یې نه وه.[۵۲] د روسیې او افغانستان تر مینځ د هغو یادګاري خبرو اخرېنی عمل د هغې یو سند لاسلیك و چې د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ د دوستۍ او په یو بل د برید نه کولو د ۱۹۳۱ء تړون یې د نورو لسو کلونو د پاره وغځاوه. د روسیې او افغانستان د دوستۍ یوه نوې مرحله پېل شوې وه. افغانان دې مرحلې ته محتاط او هیله من ورننوتل چې شوروي اتحاد سره د هغوی نوې تعمیري روابط به د افغانستان په کورنیو چارو کې د روسیې د لاس وهنې د مجبورۍ مخه ونیسي.

افغانستان ته د روسیانو بېسارې اقتصادي مرستې، د شوروي له خوا د پښتونستان حمایت، او په خصوصي ډول د روسیې او افغانستان تر منځ پوځي تړون لویدیځ ته سخت ټکان ورکړ. په لویدیځ کې ځینو هغه وخت دا ومنله چې افغانستان کمیونزم ته پرېوتو. د "ټایم" مجلې[۵۳] محمد داود ته د سور شهزاده نوم ورکړ. خو وخت تېرېدلو سره چې د ابتدایي جذباتو زګ کېناسته، نو ښکاره شوه چې افغانستان لا د خپلې بېطرفۍ ساتلو اراده لرله.

دې کې شك نه وه چې سوړ جنګ هم یو لامل شو چې متحده ایالاتو افغانستان "بیا موند"، او وخوځېد، چې د دې د بېطرفۍ ساتنه کې ونډه واخلي. د شوروي او افغانستان تر مینځ چې د وسلې تړون خور شو، له هغې نه پنځه میاشتې پس د متحده ایالاتو نېشنل سیکیورټي کونسل یعنې د ملي سلامتیا جرګې سفارش وکړ چې متحده ایالات دې هڅه وکړي چې "پاکستان سره د افغانستان شخړه حل کړي او افغانستان ته ډاډ ورکړي چې په کمیونستي بلاك د عسکري روزنې او سازوسامان انحصار کم کړي، او د عسکرۍ روزنې او سامان د پاره متحده ایالاتو او نورو د ازادې نړۍ [illegible] ته مخ واړوي"[۵۴] په هر حال دا سفارش ډېر ځنډ شوی وه، او نتیجه یې [illegible] چې په متحده ایالاتو کې د افغان

منصبدارانو د روزنې د پاره يو معمولي پروګرام وضع شو. تر ۱۹۶۲ء پورې صرف اته شپېته افغانان د امريکې پوځي تنصيباتو کې هلته تر روزنې لاندې وو.[۵۵]

۱۹۵۶ء کې د افغانستان په اقتصادي وده کې د متحده ايالاتو علاقه ښکاره شوه. د متحده ايالاتو انټرنېشنل کواپرېشن اېډمنسټرېشن (آئ سي اى ICA) يعنې د بين المللي مرستو اداره، وروستو د هغې نوم اېجنسي فار انټرنېشنل ډېوېلپمنټ (اى آئ ډي AID) يعنې د بين المللي ودو اېجنسي شو، "افغانستان سره په زيات شعوري ډول مرستې پېل کړې"[۵۶] افغانستان سره د دې پراخه اقتصادي مرستو زياتې برخې د اوږدې مودې د پاره د ښوونې ښه کولو ته واړولى شوې. (په هغو کې کليوال سکولونه، نصابي کتابونه، متحده ايالاتو کې افغان محصلينو د پاره د پوهنتون په سويه زده کړه، او وروستو کابل پوهنتون کې د اسانتياو جوړول شامل وو) نور پاخه سړکونه، د هلمند د پروژې جارې ساتل او د هوايي ډګرونو جوړول هم وو[۵۷] امريکنيانو د کرهنې او هوايي کرښو د پرمختيا د پاره تخنيکي مرستې هم ورکولې. له دې نه علاوه پان امريکن ورلډ اييروېز يعنې د امريکا د هوايي خدمتونو نړيوال اشتراك د افغانستان د ملي هوايي کرښې يعنې آريانا افغان هوايي شرکت په سلو کې يو کم پنځوس برخې واخيستې، او هغه يې د يو عصرې خدمت په ډول منظم کړ، د هغې مامورينو ته يې تربيت ورکولو او د هغې د خدماتو د ساحې پراخولو کې يې کومك کولو (سلو کې پاتې يو پنځوس برخې د افغانانو په لاسونو کې وې). دې نه علاوه واشنګټن د افغانستان د غنمو کمبود پوره کولو کې هم ډېر کومك کولو. (د شوروي کومك کې ښخرته زياتوالي نه مخکې) ۱۹۵۲ء نه تر ۱۹۵۴ء پورې امريکا په افغانستان شل زره ټنه غنم خرڅ کړي وو، د هغې په مقابله کې ۱۹۵۶ء نه تر ۱۹۵۹ء پورې يې يو سل او دېرش زره ټنه غنم د اعانې په ډول ورکړه[۵۸] په ۱۹۵۸ء کې د متحده ايالاتو صادراتي او وارداتي بانك هم په اصولي توګه راضي شو چې په کندهار او پاکستان کې د چمن تر مينځ د رېلوى پټلۍ غزولو د پاره پور ورکړي. دا پروژه د افغانستان او پاکستان تر مينځ د سياسي شخړو له امله عملي نه شوه.

په دې ډول د ۱۹۵۰ء د نيمايي نه تر آخره پورې افغانستان ته د متحده ايالاتو کومکونه ډېر زيات شوي وو[۵۹] افغان حکومت په دې ډېر خوشال وه، او دا يې يقين و چې د اقتصادي ګټو نه پرته دې سره به په افغانستان کې د شوروي د نفوذ پارسنګ هم برابر شي.

د امريکا د کومك له زياتېدلو سره د دواړو هېوادونو تر مينځ د روابطو ښه کېده قدرتي امر وه. غلط فهمياني ورو ورو لرې کېدلې، او امريکايانو د افغانستان په زمکني او سياسي موقعيت او د بېطرفۍ په اهميت کې د زياتې علاقې ښکندونه کوله. په دې ضمن کې د ولس مشر خصوصي مرستيال جېمز پي رچرډز، چې د آيزنهاور د مفکورې د وضاحت کولو د پاره د منځني ختيځ په دوره وه، ۱۹۵۷ء کې د مارچ يو دېرشم نه د اپرېل تر دريم تاريخه پورې د کابل دوره هم وکړه[۶۰] د رچرډز د دورې په ختمېدو چې کومه اعلاميه خوره شوه په هغې کې

متحده ایالاتو "د له افغانستان استقلال سره د خپل حمایت" تصدیق وکړو[61].
اعلامیه کې د دې خبرې سپیناوی نه وه شوی چې د آیزنهاور په مفکوره کې د افغانستان ساتنه وه کنه، خو دا حقیقت چې رچرډز کابل ته راغلو او متحده ایالاتو په جار د افغانستان د استقلال حمایت وکړو، ډېر سیاسي اهمیت درلود.

د افغانستان او امریکا تر مینځ د ښه کېدونکي تفاهم نتیجه کې د دواړو هېوادونو تر مینځ د اوچتې سویې د هیئتونو تبادلې وشوې. سردار محمد داود د ۱۹۵۹ء د جون په میاشت کې د امریکا رسمي سفر وکړو. هغه واشنګټن کې ولس مشر آیزنهاور، جان فوسټر ډللس نه علاوه د صادراتي وارداتي بانک رییس سېموېل سي واف سره هم وکتل. داود د جون په ۲۶م د متحده ایالاتو د کانګرېس دواړو جرګو ته وینا هم وکړه. او ډللس سره یې یو کلتوري تړون هم لاسلیك کړ.[62] د افغانستان او امریکا مشترکه بیانیې له متن نه داسې ښکارېدله چې د امریکا مشرانو د افغانستان د سیاسي موقف حمایت کاوه او له افغانستان سره په ودانیزو چارو کې د کومك د جاري ساتلو خواهشمن وو. داسې ښکارېدله چې د داود د چپلاسي مېلان په هکله د امرېکایانو شکونه بېخي ختم شوي وو.
د "نیویارك ټایمز" د یو مضمون له مخې چې د داود د سفر په دوران کې خور شوی وه، افغانستان "د دولتي اداري د مامورینو په خیال، شوروي اتحاد سره په کلي توګه ملنډیزه روش سره سره خپل استقلال په حال ساته"[63]

د کال ۱۹۵۹ء دسمبر کې ولس مشر آیزنهاور کابل ته یو رسمي مسافرت وکړ. د ښار خلکو د هغه تود هرکلي وکړ اوله هغه پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه او محمد داود سره دوستانه چاپېریال کې لیدنې هم وکړې. ولس مشر آیزنهاور افغانانو ته ډاډ ورکړ چې امرېکا به د افغانستان ټولنیزې او اقتصادي ودې د پاره کومك ورکولو کې خپله علاقه جاري وساتي. امرېکنیان او افغانان دواړه په دې متفق وو چې د ولس مشر مسافرت سره د دواړو هیوادونو تر مینځ روابط نور ټینګ شي[64]

په دې دوران کې د شوروي اتحاد او افغانستان تر مینځ روابط هم مخ په ښه روان وو. د کابل او ماسکو تر مینځ د اوچتې سویې د هیئتونو تبادلې د افغانستان او شوروي اتحاد تر مینځ د ډېرو ښو اړیکو علامت وګرځېدو. محمد داود ماسکو ته د ۱۹۵٦ء اکتوبر، ۱۹۵۹ء مې او د ۱۹٦۱ء اپرېل کې مسافرت وکړ، او پاچا محمد ظاهر شاه شوروي اتحاد ته د ۱۹۵۷ء جولای او د ۱۹٦۲ء آګست کې رسمي مسافرتونو وکړه. په ۱۹۵۷ء کې د پاچا د مسافرت په دوران کې روسانو افغانستان نه شوروي اتحاد ته د قدرتي ګاز د صادراتو د پاره افغانستان ته د ۱۵ ملیونو ډالرو پور ورکول ومنل[65]. په ۱۹۵٦ء دواړو هیوادونه په دې راضي شوي وو چې شوروي جماهیر به په قطبي افغانستان کې د ګاز د لټون او ویستلو دنده ترسره کوي. خروشېف کابل ته د ۱۹٦۰ء په مارچ کې ستون شو او د یو منبع په قول د افغانستان د ټول دویم پنځکلن پلان د پاره د مالي مرستو ژمنه وکړه، په دې شرط چې افغانستان په هر وزارت کې شوروي سلاکاران

ومني . محمد داود دا منبنته ونه منله[٦٦]

د ۱۹۶۰ء په پيل کې د شوروي اتحاد، متحده ايالاتو او فېدرالي المان په مالي او نورو مرستو يو ګڼ شمېر پروژې مکملې شوې وې يا د تکامل په حال کې وې، او په نوو پروژو مسلسل غور کېده او ارزيابي کېدلې . ټولنيزه او اقتصادي وده کې ځينې نور ختيځ او لويديځ اروپايي هيوادونه هم راوخوځېده . هندوستان هم په افغانستان کې يو معمولي شان مرستندوی پروګرام درلود . داشان د ملل متحد او هغې سره د تړلو ايجنسيانو مالي او تخنيکي مرستو نه ښه ګټه اخيستل کېده . په هغو کې ځينې پروژې لکه د نړيوال روغتيايي تنظيم له خوا د ملاريا د ختمولو پروګرام ډېر کامياب شوی و .

داسې لېدی شوه چې د هلمند ناراسته پروژه (د امريکې پروژه) هم پر مختګ پېل کړی وه . موريسن نوډسن د دوو بندونو، سړکونو، د اوبه خور د نهرونو او د اوبو د بربېښنا نظام تکميل کړه . د هلمند وادی کې د هغوی ټېکه ۱۹۵۹ء کې ختمه شوه[٦٧] . د پروژو نور کارونه د متحده ايالاتو د آئ سي ای په مالي او تخنيکو مرستو افغانانو په خپل لاس کې واخيسته[٦٨]. د هلمند وادی په انکشافي پلان کې که هر څو.خامياني او عملي ستونزې وې، خو دې کې شك نه شته چې د افغانستان په عمومي پرمختګ او د هغې سيمې د خلکو د ژوند په ښه کولو کې يې ډېره ونډه لرله .

د عنعنوي لارو په بدلون محمد داود، شايد څه لږ ډېر د سوړ جنګ په وجه، د افغانستان د باندېنيو روابطو پارسنګ په ځای ودرولو، او يو ځلې بيا د مينځګړي دولت حيثيت په حال شو؛ بېطرفه خو د دواړو سوپر طاقتونو دوست . په هر حال روايتي اندېښنه لا په ځای وه، چې مينځګړتوب تر هغه وخته پورې پاتې کېدلی شي تر څو چې دواړه سوپر طاقتونه يې غواړي . دې حقيقت نه نور څوك دومره نه وو خبر څومره چې افغانان په خپله خبر وو .

له پاکستان نه پرته نورو اسلامي هېوادونو سره د افغانستان روابط ډېر دوستانه وو . وروستو ايران سره هم خصوصي تاوده روابط قايم شو، او دواړه هېوادونه يو بل ته ورڅېلمه کېدل . د افغانستان او ايران تر مينځه تجارت په تېزی سره پراخېده، او د هلمند د درياب د اوبو د وېش شخړه په کرار کرار يخېدله . ترکيه چې په ناټو کې شامله شوه او افغانستان ته د شوروي اتحاد مرستې پېل شوې، نو د ترکو او افغانانو له مينځ نه عسکري تعاون ختم شو . دويم نړيوال جنګ نه پس په افغانستان کې د ترکو فعاليت په نورو ډګرونو کې کم شو، خو دواړو هېوادونه په ښو روابطو خوشال وو .

د افغانستان او پاکستان تر مينځ ۱۹۵۵ء پورته شوې زول چې افغانستان ته يې شوروي مرستې ګړنديې کړې وې، ختم شوی وه، خو د اصل جګړې د حل په لاره څه د ياد وړ پرمختګ نه وه شوی . دواړو خواو د يو بل خلاف تربګنوال تبليغات جاري ساتل، او په سرحد باندې ناارامي ختمه شوې نه وه . د هغو ناوړه حالاتو د جريان په لړ کې، ايران، ترکيې او سعودي عرب د افغانستان

او پاکستان د یوخلا کولو هڅې تازه کړې . د دې دوستو هېوادونو په ټینګار د پاکستان ولس مشر جنرل سکندر مرزا او پاچا محمد ظاهر شاه د یو بل د هېواد رسمي دورې وکړې . د پاکستان د صدراعظم س سهروردي په بلنه محمد داود هم د پاکستان رسمي مسافرت وکړو . د مسافرت په ختمېدو چې کومه ګډه اعلامیه خپره شوه، هغه افغانانو یو تعمیري ګام وګاڼه. د نورو موضوعاتو په ترڅ کې، په هغې کې ویلی شوي وو، چې دواړه خواوې د پرامن خبرو د لارې د پښتونستان د مسئلې په حل راضي شوي وو . دا ړومبی ځل و چې پاکستان په رسمي ډول هغه سند ومنلو چې د پښتونستان د نوم و په کې . خو د پاکستان انګرېزي ورځپاڼو کې چې اعلامیه خوره شوه نو د پښتونستان لفظ يې په قوسېنو کې بند کړی وه٦٩

د افغانستان او پاکستان تر مینځ دې تماسونو د افغانانو هېله پېدا کړې وه چې د پاکستان حکومت به د یو یونټ د رنګولو او د پښتنو د خپل اختیار د تامین په لور ګام پورته کړي . خو شاید د پاکستان دننه د سختو کړکېچنو حالاتو په وجه د هغو خیالي هېلو د عملي کېدلو لپاره څه کار و نه شو . د هغه وخت چې نسبتاً ارامي وه، یوه پخه ګټه دا وه چې د دواړو هېوادونو تر مینځ کال ١٩٥٨ء کې د ټرانزېټ ترون وشو . دا ګومان کول بېځایه نه وه چې افغانستان ته د شوروي سیاسي او عسکري مرستو هم د کراچۍ د مشرانو احساسات ساړه کړي وو، چې د افغانستان په هکله پخولا کوونکي شوي وو . په کال ١٩٥٦ء کې د پاکستان په اصرار سیټو د افغانستان او پاکستان تر مینځ د ډیورنډ کرښه د یو بین المللي پولې په حیث ومنله، خو د دې پارونکي عمل سره د ١٩٥٨ء تر آخره پورې د افغانستان او پاکستان تر مینځ تربګني خاموشه وه .

## د افغانستان او پاکستان د اړیکو نور خرابېدل

د هغه کال د اکتوبر په میاشت کې د پاکستان د پوځ سرلښکر جنرال محمد ایوب خان یوه کامیابه کودتا وکړه او واک يې تر لاسه کړو . پاکستان سره د خبرو جاري ساتلو په نیت محمد داود خپل ورور د باندېنیو چارو وزیر محمد نعیم پاکستان ته ولېږه، چې له محمد ایوب خان سره ووینې . له بده مرغه د افغاني فکر د اورېدلو په ځای د پاکستان نوي مشر نعیم ته د پاکستان په عسکري طاقت او په یو څو ساعتونو کې د کابل د نیولو صلاحیت باندې تقریر وکړو . نعیم ته محسوسه شوه چې لېدنه بې ګټې وه نو زر کابل ته ستون شو . ایوب خان پخپله پښتون و، خو د پښتنو د کشالې په اړه له خپلو مخکښانو نه زیات سخت دریځه و، او د افغانستان او پاکستان روابط يې نوي ګړنګ ته وروغورځول .

داسې ساړوبي چاپېریال کې تربګنوال تبلیغات او د یو بل په سیمو د

قبايلو تېري په زياتېدو شو - د پښتنو د ازادۍ د جنګ وياړلي مشر فقير اېپي چې د انګرېزانو او پاکستانيانو دواړو خلاف جنګېدلی و، په ١٩٥٩ء کې له دنيا نه سترګې پټې کړې - د فقير د مرګ نه پس، اګرچې په ټول سرحد کې ناارامۍ وبايې شکل اختيار کړی و، خو د پاکستان له خوا د قبايلو سيمو د رانغاړلو خلاف د پښتنو مخالفت (د ډيورنډ کرښې په ختيځ او د پېښور په شمالي لويديځ) د باجوړ په سيمه کې زيات اهميت پيدا کړو - دوه ځله - د ١٩٦٠ء د دستمبر او د ١٩٦١ء د مۍ په مياشت کې - د افغانانو لښکر او "د قبايلو په جامو کښې پوځيان"٧٠ باجوړ ته ننوتي وو چې د پاکستان د زور په ضد پښتونستان غوښتونکو سره ملاتړ وکړي - د دې تېري شاته شايد هغه عمل و چې پاکستان په کندهار کې ځينې مرتجعين هغه وخت پارولي وو چې د سردار محمد داود حکومت د ښځو د پردې اوچتولو فرمان جاري کړی و - د باجوړ په دواړو تېريو، خصوصاً په دويمه، کې افغانانو څه خاص توره و نه کړه، ځکه چې پاکستان د امريکې جوړو اېف - ٨٦ ډوله الوتکو چې پاکستاني پيلوټانو الوځولې، په ذريعه بېدرېغه بمباري وکړې٧١ د پاکستان د باقاعده پوځ قطعې (زيات په کې پنجابيان وو) چې هغه ځای ته افغانانو سره جنګ د پاره استولی شوې وې، خپله وضعه ښه ونه ساتلی شوه - د پښتنو قبايلو د زور لاندې د پاکستان حکومت د ناکامه ډېر زر هغه واپس کړې - د باجوړ پېښو بيا د افغانستان او پاکستان روابط خړ کړل - او يو ځل بيا د افغانستان د ټرانزېټ تجارت ته سخته ټکه ورسېده -

د ١٩٦١ء د آګست په درېويشتم تاريخ د پاکستان حکومت اعلان وکړ چې په افغانستان کې د جلال آباد او کندهار قونسلګرۍ بندوي او د افغانستان حکومت ته يې خواست وکړو چې پاکستان کې خپلې د پېښور، پاړاچنار، کويټې او چمن قونسلګرۍ او تجارتي نمايندګۍ بندې کړي - شايد د پنجابي ادارې تر فشار لاندې دا ناځاپي فېصله د سردار داود حکومت خلاف د ايوب خان ښکاره زوروړتيا وه، چې د باجوړ د شخړو په نتيجه کې د افغانستان خلاف د بدل اخستلو په نيت يې کړې وه - ايوب خان او د هغه ملګرو به ارومرو دا ګومان کړی وه چې د قونصلګريانو او تجارتي نمايندګيو بندېز به افغانستان وهڅوي چې له پاکستان سره تجارتي او شايد سفارتي اړيکي غوڅ کړي - دوی به دې نتيجې ته رسېدلي وو، چې د داسې حالت په رامينځته کېدلو به کورنۍ او باندېنۍ ستونزې ازغنې شي، چې د افغانستان حکومت به د پښتونستان د مرام د پاره د فعال رول نه وتمبوي - خو د پاکستان د فېصلې رسمي جواز څه نور و - د پاکستاني قونصلګرانو خلاف د افغانانو د ښکاره تربګنۍ او د افغان پولېس له خوا پرله پسې د هغو ربړولو له امله پاکستاني قونصلګريانو خپل د معمول مطابق فعاليتونه نهٔ شو کولی - پاکستان کې د افغانستان قونصلګريانې او تجارتي نمايندګۍ نورې نه وې پکار، ځکه چې هغوی په پراخه سويې د ورانکارۍ فعاليتونو کې لاس وهلو -

د آګست په دېرشم تاريخ د افغانستان حکومت پاکستانيان خبر کړل،

که دوی خپله فیصله په یوه اوونۍ کې واپس وانه خسته، نو د دواړو هېوادونو په مینځ کې به سفارتي اړیکي غوځ کړی شي. د پاکستان له خوا تر شپږم ستمبره پورې چې هیڅ جواب رانه غلو. نو افغانستان پاکستان سره سفارتي اړیکي غوځ کړه او د دواړو هېوادونو شریکه پوله باندې یې هر قسمه تګ راتګ بند کړ. پاکستان په یو مخیزه توګه د تجارت د پاره د لارې په بندیز شور پېل کړ، او اصرار یې کولو چې هغوی د ۱۹۵۸ء ترانزېټي تړون لحاظ ساتلو او پاکستان کې د تجارتي نمایندګیانو د شتوالي نه پرته هم د تجارت بهیر روان پاتې کېدلی شي. افغان حکومت دا دلیل وښیوه چې تر څو تجارتي نمایندګیو ته اجازت ورنه کړی شي تر هغې پورې د پاکستان په لاره د افغانستان ترانزېټي تجارت په ازاده او چټکه توګه د یون امکان نه لري. له دې نه پرته د پاکستان په ټاکلو ځایونو کې د افغاني تجارتي نمایندګیو شتوالی، او د افغانستان د ترانزېټي تجارت په لړ کې د اسانتیاوو برابرولو په لړ کې د هغو اساسي فعالیت، د ۱۹۵۸ء په تړون کې په خصوصي توګه څرګند شوی وو. د دې چارو سره تړلي شرطونه د تړون برخې وې، او د نور نه په هیڅ حال کې جلا کېدلی نه شوې. پاکستان که د ۱۹۵۸ء د تړون لحاظ ساتلی، لکه دوی چې ادعا کوله، نو افغانانو ویل چې هغوی د چاڼ او خوښې په حال کې د دې مراعات نه شو کولی. پرته له دې، د افغاني تجارتي نمایندګیو نېغ په نېغه د فعالیت باوجود، د پاکستان د لارې ترانزېټي تجارت زیانمن ځنډونو ته تړلی شوی وه. د هغو نمایندګیو په نیشتوالي کې د افغاني ترانزېټي تجارت د حالت اندازه لګول څه مشکل کار نه و.

په حقیقت کې پاکستان د داسې موقف د تبلیغاتو نه داسې اثر ورکولو چې هغه یو سوله دوست هېواد وه او د پولې د بندولو ټول مسئولیت یې د افغانستان په اوګو اچولو. د پاکستان له خوا د افغاني تجارتي د نمایندګیو د منلو نه پرته د پولې پرانستل نه صرف د ترانزېټ تجارت په اړه د عملي کېدلو وړ نه وو، بلکې داسې کولو د پاکستان فشار ته د ټېټېدلو مطلب هم درلود. دې د پاره دوو کالو پورې سرحد تګ راتګ د پاره بند وه. د دواړو هېوادونو تر مینځ سیاسي او قونصلګري روابط هم نه وو.

د افغانستان او پاکستان د سرحد بندیز په افغانستان کې د نورو ودانیزو پروژو په نسبت د امریکې پروژې تر زیات تاثیر لاندې راوستې. متحده ایالاتو د شوروي اتحاد په لاره خپل مواد نه شو لېږلی، لکه په نومبر کې د افغانستان او شوروي اتحاد تر مینځ د نوې لوزنامې د لاسلیك نه وروسته جرمني، ملل متحد او نورو مرستو ورکونکو موسسو چې په پراخه اندازه کولی شو. افغاني تاجرانو هم اروپا سره تجارت په هغې لاره کاوه. جاپان هم خپل مال د سایبیریا د لارې افغانستان ته لېږه. د ۱۹۶۲ء په پېل کې افغانانو لږې مودې د پاره سرحد پرانستو چې د کندهار او کابل تر مینځ د سړك جوړولو او د هلمند د ناوې د پروژې د پرمختګ د پاره د امریکا ضروري درنه مشینري پرې راتېره شي. خو د امریکې د پروژو د پاره د امریکا زیات سامان کراچۍ، پېښور او چمن کې وروست

شو .

په ۱۹۶۲ء کې د افغانستان او ایران تر مینځ یوې ټرانزېټي لوزنامې په فارس خلیج کې د خرم ښار بندرګاه پورې یوه نوې لاره پرانستله، چې د تهران او مشهده پورې رېل او د هغې نه وړاندې تر هراته پورې سړک و . دا لاره اوږده او سخته وه او د خرم ښار د بندرګاه اسانتیاوې مناسب نه وې چې د زیاتېدونکو وسایلو بوج اوچت کړې شي، خو متحده ایالاتو افغانستان ته ټول مال د ایران د لارې لېږل پېل کړه .۷۲

د افغانستان او پاکستان تر مینځ په ۱۹۶۱ء کې د سرحد د تړلو په وخت هندوستان او پاکستان ته د افغاني انګورو صادرات پېل شوي وو . دا یوه سنګینه مسئله جوړه شوه چې دا ناپایښته میوه د پاکستان د بازار نه پرته نورو بازارونو ته ځنګه ولېږل شي . هغه وخت روسیانو بې حسابه مرسته ومنله، او شوروي اتحاد ته یې تقریباً د ټولو انګورو واردولو د پاره د هوایي لارې انتظام وکړ . پاتې مېوه د اریانا هوایي کربښې په ذریعه هندوستان ته ولېږل شوه . په ۱۹۶۲ء کې یو ځل بیا شوروي هوایي خدماتو کار وکړ، او اریانا هم د ۱۹۶۱ء په مقابله کې هندوستان د پاره زیات مال اوچت کړ . په دې لړ کې متحده ایالاتو د ځلوېښتو اوونیو د پاره په یوه وونۍ کې لس د مال الوتکې هندوستان ته ورکړې چې افغانستان ته یې هیڅ زیان نه رسېده۷۳ د سرحد تړلو سره په ډرامایي توګه د تجارت او وړلو راوړلو په لړ کې د افغانستان انحصار په شوروي اتحاد زیات شو.

د سرحد د تړلو نه پورته شوې یوې بلې کشالې د افغان حکومت د ۱۹۶۱-۱۹۶۲ء په ژمي کې مصروف وساته کله چې پاکستاني مقاماتو د افغاني کوچیانو د اباسین د ګرمو غاړو سیمو ته موسمي هجرت باندې بندېز ولګولو . د پاکستان دا خوځښت ښېخي سیاسي وه، ځکه چې پاکستان دا ادعا کوله چې هر هغه کوچي چې پاسپورټ، وېزا، د روغتیاپاڼه او (د هغه د کورنۍ د غړو او د مال) د واکسین سند ولري نو هغه ته به پاکستان ته د ننوتلو اجازت ورکولی کېږي . خو یو کوچي هم دا سندونه نه لرل . بیا هم څه کوچیان ووتل او ځینې د پاکستان له ملېشو سره وډزېده، خو د هجرت زور ټپ شوې وه . د افغانستان حکومت له پاکستان سره د پوځي نښتو نه ژغورنه کوله، او د افغانستان سویلي او ختیځې پولې سره ګرمو سیمو کې یې کوچیانو ته ځایونه ورکړل . دې ماجرې کوچیانو کې د افغانستان او پاکستان دواړو حکومتونو خلاف خپګان پېدا کړ .

د افغانستان او پاکستان تر مینځ د پولې بندېز یوازې د افغانستان اقتصاد ته زیان ونه رساوه، بلکې د وخت په تېرېدلو سره پاکستان هم د هغې ډېرې ګټې نه لاس پرېمینځه چې د افغاني ټرانزېټي مال نه یې پورته کوله . پاکستاني تاجران هم کوچیانو سره د روایتي تجارت د ګټو نه محروم پاتې شول، او په لر پنجاب کې د ګنو د فصل د پاره د مزدورانو کمبود هم محسوس شو، چرته چې هر کال په هغو وختونو کې به کوچیانو نورو مزدورانو سره کار کاوه.

د افغانستان او پاکستان له اړیکو غوڅېدلو سره، د ځینو دوستانو له

خوا د پښتونستان هڅې روانې شوې. په دې لړ کې متحده ایالات او ایران مخکې وو. له دواړو هېوادونو سره د افغانستان په چارو کې د شوروي نفوذ د زیاتېدلو وېره وه چې د افغانستان او پاکستان د اړیکو د خرابېدلو نه پورته شوی و.
څنګه چې ډللس او آیزنهاور ګډله د کېنېډي د نوې ادارې د پاره پاکستان د خصوصي اهمیت وړ نهٔ و. واشنګټن له بېطرفه هندوستان سره په ښو اړیکو ورتاو شو. داسې ښکارېده چې هغه په اسیا کې د افغانستان د حساس جغرافیایي موقعیت نه زیات خبر و. پرته له دې په دې لویه وچه کې د امریکا تر سوري لاندې د عسکري تړونونو د بې ارزۍ احساس ورته شوی و. د ۱۹۶۱ء په اکتوبر کې ولس مشر کېنېډي افغانستان او پاکستان ته د امرېکې د ښو خدماتو وړاندیز وکړ، چې خپل روابط په حال کړي او خپلې کشالې حل کړي. پاکستان په دې وړاندیز څه خوښې ونه ښوده، خو افغانستان ورته تود هرکلی ووایه.
د ۱۹۶۱ء د اکتوبر د نولسم نه د نومبر تر اوولسم تاریخه پورې د ولس مشر کېنېډي خصوصي سفیر لېونګسټون ټي مرچنټ (کاناډا کې د متحده ایالاتو سفیر) د کراچۍ، راولپنډۍ او کابل سفرونه وکړل او د دواړو هېوادونو مشرانو سره وغږېد. د مرچنټ هڅې یوه خوا هم روغې ته آماده کولو کې کامیابه نه شوې. افغانانو ټینګار کاوه چې د شخړې د اوارولو نه وړاندې پکار وه چې سرحد ازاد شي، او دا تر هغه وخته نه شو کېدلی تر څو چې پاکستان د افغاني تجارتي نمایندګیو بیا په ځای کولو ته راضي شوی نه وي. پاکستان د افغانستان دې غوښتنې منلو ته تیار نه وه. افغانستان ته د پاکستان سختګیري معلومه وه، خو دا هېله یې لرله چې متحده ایالاتو چې د دواړو تر مینځ د سولې راوستلو مسئولیت په غاړه اخستی و، نو په ایوب خان به فشار راوړي چې د تجارتي نمایندګیو د بیا خلاصولو اجازت ورکړي. مرچنټ د افغانستان او پاکستان تر مینځ څند کې رو پېدا نه کړی شو، خو د هغه له لیدنو سره افغانانو ته موقع په لاس ورغله چې پاکستان سره د خپلې شخړې او د هغې د تاریخ پوره وضاحت وکړي، او دا هېله کېدله چې هغه خبرې به د افغانستان په موقف د امرېکې پوهه څه نا څه ښه کړي.
د ایران پاچا هم یو څو کاله د افغانستان او پاکستان تر مینځ د اختلافاتو د حل په لټون کې تېرکړي وو. په ۱۹۶۲ء کې چې د سرحد په بندېز حالات سخت کړکېچن شو، او د افغانستان انحصار یې په شوروي اتحاد نور زیات کړ، نو پاچا خپلې هڅې تازه کړې. افغانان او پاکستانیان دواړه ورته خوښ شو. د ۱۹۶۲ء په ګرمۍ کې پاچا د کابل او راولپنډۍ سفر وکړ، خو د دواړو خواوو نارغېدونکې موقفونو د هغه هڅې وتمبولې. په نورو چارو کې هم. پاچا د بل کوم یو ښه وخته پورې خپلې هڅې وځنډولې.
له پاکستان سره د خړتیا باوجود تر کال ۱۹۶۳ء پورې افغانستان د بېساري اقتصادي ودې یوه لسیزه ولېده. د محمد داود د ښېګړو پراخه پروګرام د افغانستان د ټولنې تقریباً هر اړخ باندې اغېز وکړ. اداره، روغتیایي خدمتونه،

زده کړه او تجارت ټولو کې ښوالی راغلی وه، او د سړي سر ګټه زیاته او د ژوند سویه لوړه شوې وه.

د افغانستان بیطرفي په فعاله ناپیلتوب بدله شوې وه. افغانستان ختیځو او لویدیځو هیوادونو سره ښه روابط ساتل. وسلوالي قواوې د وخت د غوښتنو سره پیاوړې شوې وې. د کال ۱۹۵۹ء په اخر کې ختیځ افغانستان کې د ډیورنډ کرښې په لویدیځ د منګلو پاخون او په کندهار کې ناارامي یې په ډېرې چټکتیا او کامیابۍ سره د لاس لاندې راوستې وې. او دې کې شك نه وه چې قوي زمکنۍ او هوايي قواوې د پاکستان د افغان په ضد د پلمو شنډولو د پاره موثرې موسسې ثابتې شوې.

افغاني مشرانو د پښتونستان په مسئلې د شوروي اتحاد مرسته حاصله کړه خو په دې ساحه کې څه عملي پرمختګ ونه شو. د پولې د بندیز اوږدې مودې د افغانستان اقتصاد ته زیان ورساوه، خو د پښتونستان مرام یې پرمخ بونه تلی شو. د ایران د نوې ټرانزیټي لارې په پرانستلو سره، هندوستان او دهند سمندر ته د پاکستان عنعنوې لارو بندیز په خطرناکه اندازه د افغانستان د ټرانزیټي تجارت مخه د قطب په لور واړوله. د دې نتیجه کې په شوروي اتحاد د افغانستان انحصار زیاتیده چې ډېرو مخوریزو افغانانو ته ښه نه ښکاریدو. دا ویره هم وه چې د پاکستان د عنعنوي لارو د نه استعمالو جریان به دا مطلب ورکړي چې افغانستان په خپله خوښه په هغو لارو خپل حق نه لاس واخست.

په دې کې شك نه وه چې د پښتونستان مسئله څه زیاته ګرمه شوې وه. افغان مشرتابه دې نتیجې ته ورسیده چې دې مسئلې کوم تریخوالی مینځ ته راوستی وه هغه زیانمن و، او لږ څه سوړ چاپېریال به شاید د منلو وړ یو حل ته لاره پیدا کړي شي. د افغانستان او پاکستان د روابطو د مخ ګرځولو د پاره وړومبنی او ضروري ګام سفارتي روابط په ځای کول او د افغانستان او پاکستان د سرحد پرانستل و. محمد داود له دې فکر سره اتفاق وکړو او استعفا یې ورکړه چې یو نوي حکومت ته پاکستان سره په روش کې د مناسب بدلون راوستلو موقع ورکړی شي. اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د داود استعفا منظوره کړه، او د افغاني ټولنې د ښیګړې او د جمهوریت د ترقۍ د پاره د تلونکي صدراعظم له خوا له یو لړ وړاندیزونو سره د ۱۹۶۳ء د مارچ په نهم تاریخ یې اعلان وشو.

په هر حال د محمد داود د تلو وجه صرف د افغانستان او پاکستان روابط نهٔ وو. د پاچا او د هغه په مینځ کې په افغانستان کې د سیاسي ازادۍ (چې دواړو پکیې ونډه لرله) د حدودو په ټاکلو کې اختلافاتو هم داسې چاپېریال جوړ کړ چې د داود په استعفا یې زور راوړو. د داړو څټو دا خیال وه چې د جمهوري عمل وخت راغلی وه. خو د ظاهر شاه متعلق ویلی شو چې د افغانستان سیاسي ژوند کې د پراخې ازادۍ پلوي وه، او محمد داود ښپه نیولی او ګام په ګام پرمختګ غوره کړی وه.

د مثال په توګه دا ویلی شو چې پاچا د ګنشمېره ګوندیز نظام په حق کې

و، خو داسې چې ګوندونه د اسلام او د آييني پاچايي مفکورو سره مخالف نه وي . بلې خوا ته د سردار محمد داود دا يقين و چې سياسي ګوندونو او پارليماني نظام سره د خلکو د نابلدتيا په وجه د يو ګونديز حکومت نه پېل کول پکار وو. که نه، د هغه په خيال، ګوندي اختلافات به بد نظمي جوړه کړي او هغه به پخپله دې يون ته ضرر ورسوي. يو ګوند به نه صرف حکومت جوړوي، بلکې د خلکو د سياسې روزنې مسئووليت به هم په غاړه اخلي. يو ځلې چې خلك د عصري سياسي ګونديز نظام نزاکتونو نه خبر شي او د جمهوريت پايښت يقيني شي نو بيا به سياسي تشکيل ته اجازت ورکړې شي چې ګڼشمېره ګونديز نظام ته وخوځي. په هغې حالت کې چې مخالف ګوند نه وي د داود وړانديز جمهوري نه شو بللى، خو د هغه مقصد دا وه چې صحيح جمهوريت ته په اواره او ښې طرېقې ورسي.

د دواړو تر مينځ يو بل اختلاف د هېواد په سياسي ژوند کې د شاهي کورنۍ د غړو ګډون سره اړ وه. د پاچا خيال وه چې د سياسي ازادۍ او د دولت په چارو کې د خلکو ګډون نه غواړي چې ځينې عهدې دې د شاهي کورنۍ غړو ته ورکړې شي، لکه صدراعظم، وزارت، يا د پارليمان غړيتوب. سردار محمد داود دا کړنلاره بې مقصده ګڼله ولې چې په سلو کې پنځه کم سل خلك لا بېسواده وو. او د پرمختګ د پاره د قابليت او تجربې هره ذره پکار وه.

د محد داود استعفا ډېر خلك هك پك واچول. خو هغه ته معلومه وه چې د هغه د پاره ګوښه کېدلو وخت راغلى و. هغه په ښه شان سره داسې وکړه او په راتلونکې لسيزه کې د هغه په هکله يا د هغه نه ډېر لږ څه اورېدلى شوي وو.

## د اساسي قانون لسيزه::

د محمد داود له استعفا نه پس اعليحضرت محمد ظاهر شاه د هيواد په اداره کولو کې فعال او ښېغ په ښغه کار وکړ. په دې لړ کې يو په بل پسې پنځو صدراعظمانو ورسره مرسته کړې و. په هغو کې يو هم د شاهي کورنۍ غړى نه وه[74] هغه ټول د ظاهر شاه د نوي جمهوريت پلويان وو چې د ۱۹۶۴ء د ازاد اساسي قانون په واسطه اعلان شوې و.

له بده مرغه د جمهوريت هغې تجربې د ځينو مختلفو عواملو له کبله، چې د دې تحليل د ساحې نه بهر دي، په تسلي کار و نه کړو. پارليمان يې ګوذني کړ او د دولت تقريباً په ټولو شعبو کې د انضباط نيشتوالى و. خو په جمهوريت کې د محمد ظاهر شاه هغې تجربې افغانانو ته يوه موقع ورکړه چې په خپله د پارليماني نظام د چارو کړکېچونه ووينې، او هغوى ته يې دا احساس ورکړ چې جمهوريت صرف په هغې صورت کې وده کولى شي چې ټول متعلقه خلك خپل خپل مسئووليت وپېژني.

د ۱۹۶۴ء اساسي قانون د ګوندونو جوړولو حق ورکړى وه، خو د سياسي

ګوندونو قانون په ۱۹۶۵ء کې د انتخاباتو نه پس پارلیمان منظور کړ، خو د هېلو خلاف دا قانوني سند پاچامحمد ظاهر شاه لاسلیك نه کړ چې قانوني شکل یې موندی وی. په هر حال نوی اساسي قانون په مشکله د هېواد قانون جوړ شوی و چې څینو خلکو، خصوصاً په کابل کې، غیر رسمي ډلې جوړې کړې. دوی اساسي قانون کې د منعکس تحمل او د حکومت له خوا د وینا او ډلو جوړولو ازادۍ کې نرمۍ ته اشاره موندې وه. د کال ۱۹۶۵ء د جولای په میاشت کې د مطبوعاتو د قانون، چې د ازادو مطبوعاتو اجازت یې ورکاو، د نفاذ نه پس څینو ډلو خپلې ورځپاڼې او مجلې خپرول پېل کړل.

دې جمهوري موده کې نور محمد ترکي، چې یو وخت د افغان مطبوعاتو شعبه کې مامور و، یو موټی د کمیونستي فکر چپلاسیان یوې سیاسي ډله کې راجمع کړ. د کال ۱۹۶۵ء د جنورۍ په وړومبي تاریخ دې ډلې د افغانستان د خلکو دیموکراتیك ګوند (اخدګ) چې په مخفف ډول په پي ډي پي ای مشهور شو، جوړ کړو. دا راز افغاني کمیونستي ګوند باقاعده خو غیر رسمي شکل وموند۷۵.
نور محمد ترکي د ګوند ستر منشي او یو مشهور زده کوونکي شرپسند ببرك کارمل مرستیال منشي منتخب شو. نور محمد نور، اناهیتا راتبزاد او حفیظ الله امین په هغو کې د ذکر وړ وو چې د مرکزي کمیټې غړي شو.

د غیر رسمي اخدګ څینو غړو د نوي اساسي قانون لاندې د انتخاباتو د نوي قانون په چوکاټ کې د ولسي جرګې په هغو انتخاباتو کې برخه واخیسته چې د ۱۹۶۵ء په ګرمیانو کې شوي وو. په هغو کې بابرك کارمل، اناهیتا راتبزاد، نور محمد نور او فیض الحق فیضان د پارلیمان غړیتوب وګاټه. نور محمد ترکي او حفیظ الله امین کامیاب نه شو. د اخدګ کاندیدانو د هغې غیر رسمي ګوند په حیث انتخاباتو کې برخه نه وه اخیستې بلکې ځانونه یې د اصلاحاتو مبارزین معرفي کړي وو.

د ۱۹۶۶ء د اپریل په پېل کې نورمحمد تره کي د خلق په نوم یو اخبار خپرول پیل کړل. د خلق سیاسي او نظریاتي مفکورې چې په جار د مارکسیزم، لېنینزم او د شوروي په منګ وو، حکومت زیږ کړ او هغه اخبار یې د ورانکارۍ په تور ډېر زر بند کړ۷۶.

په ۱۹۶۷ء کې اخدګ په دوو ډلو تقسیم شو، یوه د ترکي او بله د کارمل په طرف. د دې وېش ډېرې وجهې ښودلې شوې، خو اصلي وجهه یې د ترکي او کارمل په مینځ کې د ډېرې مودې نه روان ذاتي مخالفت او د کمیونستې ګوند د مشرتابه د پارد سیالي وه. هرې یوې ډلې دا ادعا کوله چې اصلي اخدګ هم هغه وه. د هرې یوې خپله مرکزي کمیټه او د ګوندي تنظیم و. او دواړه یو شانې شوروي اتحاد ته وفادارې وې.

د وېش نه واخلې په ۱۹۷۷ء کې تر یو ځای کېدلو پو ې شوروي اتحاد یوه ډله هم ونه رټله. دې کې شك نه شته چې کله به یې یوې ـ په ښه نظر کتل او کله بلې ته، خو دواړو ډلو پرله پسې د ماسکو د اخلاقي او مالي مرستو خوند

اخیسته.

ببرك كارمل او د هغه ملګرو د ۱۹۶۸ء په مارچ کې د "پرچم" په نامه د خپلې اوونیزې جریدې خپرول پیل کړل، خو کارمل د هغې رسمي خورونکی یا مدیر نه وه. د خلق په مقابله کې پرچم د آیین په مخالفت کې لږ نرم و او د مارکسېزم او لیننزم تبلیغات یې په نغبنتې بڼه کې کول. دا جرېده د کال ۱۹۶۹ء د پارلیماني انتخاباتو پورې خورېدله، کله چې یو شمېر نورو غېر دولتي جرېدو سره د مصادرې لاندې راغله. د پرچم خوروني لږ نه لږ یو عملي مقصد وګټله چې ببرك او د هغه پلویان په پرچمیانو او ترکي او د هغه پلویان په خلقیانو مشهور شول.

د ۱۹۶۹ء پارلیماني انتخاباتو کې ولسي جرګې ته صرف دوه کمیونسټ غړي ورسېدل: ببرك کارمل او حفیظ الله امین. د چپلاسو د پښنو نه څمکه تبنتېدلې وه. خلکو وپېژندل چې اخدګګ سره ځوك ملګري وو او غرض یې څه وه! په قانوني او جمهوري لارو انتخاباتو کې چپلاسو چوکۍ و نه ګټله. په روا انتخاباتو کې چې بې ثباته وو، نو چپلاسو پارلیمان کې د خنډ اچولو په چلونو پېل وکړ. هغې مشروطي دوره کې د هغې موسسې د ناکاره کېدلو یو علت دا هم و. دا راز هغوی زده کونکي مظاهرو او کارګران اعتصابونو او د کار کولو نه ډډې کولو ته پارول. د حکومت او د خلکو تر مینځ یې د ناباورۍ تخم شینده. او د حکومت ټولنیز او سیاسي پروګرامونه یې تخریبول. د کال ۱۹۶۵ء د اکتوبر په میاشت کې کارمل د زده کونکو په اوچتولو شر جوړ کړو چې د نامزد صدراعظم محمد یوسف او د هغه د کابینې په حق کې د پارلیمان لخوا د اعتماد رایې اخستلو کې خلل واچوي. کله چې د زده کونکو یوې ډلې د خورېدلو نه انکار وکړو نو د امنیتي قواوو د لاسه دوه زده کوونکي او یو بې ګونا لاروی مړ شو. هغې غمیزې، چې ټول مسئولیت یې د کارمل او د هغه د کامرېډانو په غاړه و، وروسته د "سوم عقرب" د پېښې نوم ورکړ. "د ۱۹۶۰ء په لسیزه کې د بلې هرې پېښې نه د زده کونکو شر شدت په افغانستان کې د جمهوریت د پرمختګګ په لاره کې لوی خنډ جوړ شوی و"[۷۷]

(سره زما) د ډېرو کتونکو د پاره، چا چې په افغانستان کې د نوي سیاسي ژوند د نزدې نه مطالعه کوله، او د دموکراسۍ په لسیزه کې د ظاهر شاه د تجربې هغه هیجاني دوره یې تېروله، په دې کې هیڅ شك نه و پاتې چې شوروي اتحاد داسې حالات لېدل چې د اخدګګ جوړول یې ضروري ګڼل، چې افغانستان ته د شوروي لپاره لاره خلاصه کړي. د باورې منابعو له خیال سره سم دا هم هغه وخت و چې شورویان د پوځ په خرابولو کې جدي و. د داود له تګګ نه پس، کرېملن شاید داسې محسوسوله چې افغانستان لویدیځ ته زیات کږېدلو. ایران سره د افغانستان ښه کېدونکو اړیکو، د پښتونستان په مسئلې د زور کمولو او د یو ازاد لویدیځ ډوله پارلیماني نظام ودرولو شاید د هغوی هغه مفکوره ټینګوله. بېشکه روسیانو دا هېله لرله چې د هغوی نوي چلونه به افغانستان کې په هر قسم

راتلونکو حالاتو کښې، چې د هغوی د اوږدې مودې ګټې پې تامینولی شوې، د هغوی د کار کولو صلاحیت زیات کړي.

د ۱۹۶۰ء په لسیزه کې چې څومره سیاسي ډلې جوړې شوې وې، هغو کې د روسیانو د کړنلارې د یوې وسیلې په رنګ اخدګ زیات اهمیت پېدا کړو او د کمونیستو له خوا د افغانستان په نیولو کې یې اهم رول ادا کړ. د ۱۹۶۰ء د لسیزې دوران کې د اخدګ زیاتو مشرانو د روسي ګوډاګو په څېر د اسلامي او ناپیلي افغانستان د ړنګولو د چارو مشري کوله او د افغانستان ړومبني کمونیست حاکمان جوړ شوي وو.

# پاکستان او ایران سره د اړیکو د عادي کولو هڅې

له محمد داود نه پرته د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د حکومت په بهرنۍ کړنلاره کې مهم انکشافات وشو: له پاکستان سره د روابطو ښه والی او له ایران سره تونده او ډرامایي روغه. د سردار داود استعفا له پاکستان سره خبرو ته لاره اواره کړه. د ایران د پاچا په بلنه افغانستان او پاکستان د کال ۱۹۶۳ء د مۍ په میاشت کې تهران ته هیئتونه ولېږل. د پاکستان په اصرار افغانانو د پښتونستان اختلاف د خبرو نه ووېسته. صرف په سفارتي، قونصلګري او تجارتي تعلقاتو خبرې وشوې. په حقیقت کې افغانستان دا منلې وه، چې له پاکستان سره دوه اړخیزه روابطو کې د نورو مسئلو نه د پښتونستان مسئله جلا کړي. د افغانستان او پاکستان تر منځ د شخړو زړې چې ووتو، نو په نورو مسئلو روغه نسبتاً اسانه شوه.

تهران، کابل او راولپنډۍ کې د ۱۹۶۳ء د مۍ په ۲۹م تاریخ دا اعلان خور شو، چې افغانستان او پاکستان د سفارتي، قونصلګري او تجارتي روابطو په ځای کولو او د ۱۹۵۸ء د ټرانزېټي تجارت د ټولو اصولو په مراعات کولو راضي شوي وو. دواړو خواوو د یو بل په پایتختونو کې د سفارتونو په بیا پرانستلو روغه کړې وه. افغانستان ډېر زر پاکستان کې خپلې قونصلګرۍ او تجارتي نمایندګۍ بیا پرانستلې، خو پاکستان په کندهار او جلال آباد کې، د ضرورت د احساس مطابق، د قونصلګریو د بیا پرانستلو حق محفوظ وساته.۷۸ افغانستان او پاکستان دا هم ومنله چې "ټولې خپل منځي مسئلې به د بین المللي قانون مطابق اواروي، او کوښښ به جاري ساتي چې د ښه تفاهم، دوستۍ او په خپلو کې د باور فضا جوړه کړي. دا ښکاره اشاره وه هغې هیلې ته چې د پښتونستان په مسئله به افغانان اعتدال نه کار اخلي"۷۹

د افغانستان په رسمي خپرونو کې د پښتونستان د مسئلې زور په زور

وه، خو د تهران له لوزنامې نه پس تربګنوال تبليغاتو کې سوړوالی راغلی وه، او دواړو خواوو ته قبايلي پارونې ختمې شوې وې. د کال ۱۹۶۳ء په جولای کې ظاهر شاه يو ملاقاتي ته وويل: "مونږ د پښتونستان مسئله نه شو پرېښوی، خو کولی شو او ومو کړه چې د توري څوکه پسه کړو..."[۸۰] خو د ۱۹۶۳ء په ستمبر کې د واشنګټن د سفر په دوران کې هغه دا هم ومنل چې "پاکستان سره د پوره روغې کولو هېله کول ډېره مشکله وه ... تر هغې چې د پښتو ويونکو قبايلو رېړونکې سوال د دواړو هېوادونو تر مينځ حل شوی نه وي"[۸۱]

په ۱۹۶۵ ء کې د هندوستان او پاکستان تر مينځ د کشمير په دويمه جګړه کې افغانستان بېخي بېطرفه و، چې په ظاهره پاکستانيان پرې خوشال وو. د افغانستان او پاکستان تر مينځ حالات نور ارام شو کله چې د پاکستان نوي اساسي قانون چې د ۱۹۷۰ د جولای په ړومبني تاريخ خور شوی وه، د يو يونټ نظام مات کړو او د شمالي لويديځ سرحدي ولايت سره د لويديځ پاکستان ولايتونه يې د جلا جلا واحدونو په شکل کې په رسمي ډول په حال کړل. د ۱۹۷۰ء په اساسي قانون باندې د پاکستان د هغه وخت ولس مشر يحی خان ټولو سياسي ګوندونو سره مشورې کړې وې او ولايتونو ته يې يوه اندازه اختيار ورکړی و. هغه د پښتنو او بلوڅو مشرانو هم منلې وه. دا ښکاره کېدله چې هغوی له ازادۍ نه وروسته پاکستان کې دننه خپل اختيار ترلاسه کولو ته ورخوځېدل. پښتنو چې شايد د بلوڅو نه زيات دي دا هېله لرله چې په اسلام آباد کې به اقتدار کې د ګډون موقع ومومي، په خپل وار به د پنجاب تر اثر لاندې د دولتي تشکيلاتو فشار کم شي او په صحيح توګه به په ولايتي سويه خپل اختيار حاصل شي.

په ۱۹۷۱ء کې د پاکستان او هندوستان تر مينځ په جنګ کې افغانستان يو ځلې بيا بېطرفه پاتې شو، د هغې جنګ په نتيجه کې پاکستان نه بنګله دېش جلا شو. (افغانستان د ۱۹۷۳ د فرورۍ په اتلسم تاريخ بنګله دېش په رسمي ډول وپېژندو). په هر حال افغانستان په سوونو هغو بنګاليانو ته چې د پاکستان د جبر نه تښتېدل د ايران او هندوستان په لاره بنګله دېش ته د تلو اسانتياوې برابرې کړې وې. د بنګله دېش د جلا کېدو نه پس پاکستان په ۱۹۷۳ء کې بل يو اساسي قانون جوړ کړو چې د ۱۹۷۰ء د اساسي قانون نه يې ډېر توپير نه لرلو. هغه سند هم د پښتنو او بلوڅو مشرانو، د بلوڅو يو مشر خېربخش مري نه بغېر، ومنلو او لاسليك يې کړو. د ۱۹۷۰ء او ۱۹۷۳ء اساسي قوانينو په رڼا کې چې د پاکستان په سويه کوم انتخابات شوي وو، هغو کې د پښتنو او بلوڅو مشران په هېړ منتخب شوي وو. دا هغه باور و چې د پښتنو او بلوڅو ووټرانو په خپلو مشرانو درلود.

تر څه وخته پورې ايران سره روابط مخ په ښه کېدو وو، سره د دې چې ځينو افغاني حلقو کې د ايران د خورېدلو شوق انديښنه پېدا کړې وه. دا يقين کېده چې دا شوق د محمد رضا شاه په شان غوښتنوکې کرنلاره کې برېښېده. د افغانستان او پاکستان تر مينځ د شخړو اوارولو کې د پاچا بزياليتوب دواړه هېوادونه يو بل ته نزدې کړل. له دې نه پرته د ايران په لاره ايرانيانو افغاني

ترازیتي تجارت د پاره د لارې ښه ساتلو کوښښ کاوه، او افغانستان ته یې د بازار نه په ټیټه بیه پټرولي مواد ورکول. د دواړو هېوادونو تر مینځ تجارت په نزدو تېرو کلونو کې ډېر زیات شوی و.

هغې دوستانه چاپېریال کې هغه خبرې چې د کال ۱۹۵۱ء نه غلې وې، تهران کې د ۱۹۷۲ء په جون کې بیا پېل شوې، چې د افغانستان او ایران تر منځ د هېلمند د اوبو د جګړې څه حل راوباسي. دې جګړې سره تړلې ټولې مسئلې د پرله پسې کامیابو خبرو په ذریعه حل شوې. د ۱۹۷۳ء په می کې د هېلمند د اوبو لوزنامه د افغانستان صدراعظم موسی شفیق او د ایران صدراعظم امیر عباس هوېدا کابل کې لاسلیك کړه.

د هېلمند د اوبو د لوزنامې اهمیت هېلمند دریاب نه د ایران د اوبو د برخې د ټاکلو په هکله دومره نه وه، څومره چې په راتلونکي وخت کې د افغانستان او ایران د روابطو د ښه کېدلو په هکله وه. د دې لوزنامې له برکته ایرانیانو د هغې مقدار نه زیاتې اوبه وانه خیستلې شوې څومره چې افغانستان په ۱۹۵۱ء کې وراندیز کړی وی. خو له لوزنامې سره شکونه لرې شو او د ایران او افغانستان تر منځ د جګړې پارونکي جذبات ختم شول. په نتیجه کې حالات داسې جوړ شول چې د دواړو ګاونډي هېوادونو تر مینځ اړیکي پراخه او ټینګ شول. د کمونیستو وکیلانو او د هغو خواخوږو د ازغنو هڅو باوجود، د افغانستان پارلیمان د ۱۹۷۳ء په پېل کې د هېلمند د اوبو لوزنامه ومنله. دا راز د ایران مجلس هم د ۱۹۷۳ء د جولای په ۱۷مې نېټې د هغې تصدیق وکړ. (په افغانستان کې د ژریم بدلون، چې په شپږم در کې بیان شوی دی، د منلو شوو سندونو ادلون بدلون وځنډاوه. د هغې په وجه د هېلمند د اوبو لوزنامه د ۱۹۷۷ء د جون تر پنځمې نېټې پورې عملي نه کړای شوه).

په تېلو موړ ایران سره نزدو اړیکو هغې هېواد د پاره د افغانستان ودانیزو چارو کې د برخې اخستلو لاره پرانیستله. د ۱۹۷۰ لسیزې په پېل کې ایران په دې لړ کې خپله علاقه څرګنده کړه. او د هېلمند د مسئلې ختمېدلو سره دواړه هېوادونه هغې لورې ته وخوځېدل. افغانستان د ایران کومك ته لیواله وه، خو د ریجنل کواپرېشن ډېوېلپمنټ (RCD) یعني "د سیمییزو مرستو وده (سمو)" کې د ګډون نه یې ځان ژغوره. د اقتصادي مرستو دا تنظیم ایران، ترکیې او پاکستان جوړ کړی و. ځینو مخورېزو ایرانیانو به کله کله افغانستان هغې تنظیم کې ګډون ته لمسولو. افغانستان سمو کې (چې د سینټو یوه تیغه وه) ګډون د خپل ناپېلتوب خلاف یو عمل ګڼلو. دا یاد ساتل پکار دي چې د ایران پاچا په ځینو موقعو دا ښېخې سپینه کړې وه چې د ایران کومك به هیڅکله هم په سمو کې د افغانستان په ګډون سره مشروط نه وي.

مشروطیه دروه کې اقتصادي وده ډېره ورو شوې وه. (د ایران کومك لا نه و رسېدلی) او ۱۹۶۳ء نه تر ۱۹۷۳ء پورې افغانستان د پاره د دواړو سوپر طاقتونو اقتصادي کومکونه لږ شوي وو. داسې ښکارېدله چې د سوړ جنګ

ختمېدلو سره په افغانستان کې دواړو سترو طاقتونو سيالي پرېښې وه ـ په هر حال دې منفي انکشاف سره سره افغانستان متحده ايالاتو او شوروي اتحاد دواړو سره ښه اړيکي ساتل ـ د پښتونستان په هکله شوروي حمايت لړ او بېتوله شوی و، ځکه چې شوروي اتحاد غوښتل چې پاکستان کې د چين د زياتېدونکي نفوذ د مخنيوي د پاره پاکستان ځان ته راکاږي ـ (په هغه وخت د چين د خلکو جمهوريت د روس له ګوندي نه وتی و).

د ۱۹۶۳ء په ستمبر کې اعليحضرت محمد ظاهر شاه او ملکې حمېرا د ولس مشر کېنېډي د مېلمنو په حيث د متحده ايالاتو يو رسمي سفر وکړ ـ د هغې سفر ډېره ډنډوره وغږېده ولې چې متحده ايالاتو ته دا د افغانستان د يو سر مشر ورومبنی سفر وه ـ د دوو اوونيو دا سفر کامياب بللی شو چې له افغانستان سره يې د امرېکې بلدتيا زياته کړه ـ د واشنګټن د شاهي سفر په ختمېدو چې کومه ګډه اعلاميه خوره شوه، هغې د افغانستان په اقتصادي چارو کې کومك د پاره د متحده ايالاتو تياری په ټينګار سره وښوده ـ له دې نه پرته:

دا وکتلې شول چې د افغانستان عنعنوي کړنلاره ټولو هيوادونو سره د ناپېلتوب، دوستۍ او خپلمنځي مرستو د لارو د هغې ملي استقلال تامينوي ـ په خپل ځای متحده ايالات د افغانستان د استقلال او ملي پيوستون دوام ته ډېر اهميت ورکوي[۸۲]

د امرېکې له اړخه د ولس مشر مرستيال سپېرو اېګنيو په ۱۹۶۹ء کې د افغانستان رسمي سفر وکړ ـ يو څو تماشه کوونکو د هغه د موټرونو په کاروان يو څو کلي او خوسا هګۍ وويشتې او نارې يې ووهلې چې "امريکايي امپراتوري دې د وېتنام نه ووځي" ـ خو په مجموعي ډول د اګنيو سفر ښه تېر شو ـ هغه ته د وېتنام په هکله د افغانستان نظر څرګند کړی شو (چې د هغو زياتو ناپېلي هېوادونو د غوښتنو نه بدل نه و چې د امرېکې عسکر دې وېتنام نه ووځي او وېتناميانو ته دې د خپل اختيار حق ورکړي) ـ د سفر په پای کې دواړو خواو د متحده ايالاتو او افغانستان د روابطو هم هغه عمومي توکي يو ځلې بيا تصديق کړ ـ

ټولو هېوادونو سره د افغانستان د دوستۍ او خپلمنځي مرستو کړنلاره کې يو اهم ګاونډي د چين د خلکو جمهوريت (چ خ ج) هم شامل و ـ افغانستان چ خ ج سره د هغې د جوړېدلو راسې سفارتي روابط ساتل ـ هغه ټوله موده کې ملل متحده کې چ خ ج د غړيتوب د حق نه محروم پاتې شوی و ـ افغانستان هم د زياتو ناپېلو هېوادونو سره اواز شريك کړی و چې په ملل متحد کې د چين څوکۍ د چ خ ج حق وه ـ د شوروي اتحاد او چ خ ج تر مينځه زياتېدونکی درځ، په هندوستان باندې د چ خ ج بريد، د چين او پاکستان د ښو اړيکو، او د نورو حساسو معاملو چې افغانستان ورته متوجه و، باوجود افغانستان چ خ ج سره د روابط ښه کولو ته دوام ورکاوه ـ اعليحضرت ظاهر شاه او د چين سر مشر لوچاوچي د ۱۹۶۰ء په لسيزه کې د يو بل هېواد ته سفرونه وکړل ـ د دواړو خواو تر منځ د ډاډ وړ يوې

لوزنامې لاندې پامیرونو کې لنډ خو زیږ او جګ سرحد وټاکلی شو.
د ۱۹۶۰ء د لسیزې په نیمایي کې د افغانستان ودانیزو هڅو کې چین کومك ورکول پیل کړل. د چین لویه پروژه د کابل نه څه څلوېښت میله شمال ته د پروان د اوبه خور وه. هغې د پاره د اتو ملیونو او څلور سوه زره ډالرو پور منلی شوی وه.[۸۳] د کال ۱۹۶۹ء تر اخره نورې پروژې هم تر غور لاندې وې؛ لکه د کبانو ساتنه، د وربښمو یوه تجربوي پروژه، د چایو د نالولو یوه تجرباتي پروژه، د لاجوردو د ډبرو ورکشاپ او د رخت یوه فابریکه[۸۴]. د چین کومك ډېر نه و خو د روسیانو د زیات شمېر د شتوالي پارسنګ کولو کې د هغې سیاسي اهمیت افغانانو نه شو هېرولی.
له کله راسې چې افغانستان او د جرمني فېډرالي جمهوریت تر منځ دپلوماتیك، کلتوري او تجارتي اړیکي بیا په ځای شوي وو، هغې راسې د دواړو هېوادونو تر مینځ روابط په دوامداره توګه ټینګېدل. لویدیځ جرمني په افغانستان کې نور سیاسي غرض نه لرلو، خو اقتصادي ډګر کې د هغوی علاقه زیاته وه. افغانستان ته مرسته ورکوُنکو هیوادونو کې ډېر زر هغه شوروي اتحاد او متحده ایالاتو پسې دریم ځای ونیوه. د لویدیځ جرمني زیاته پاڼګه د پکتیا ولایت په عمومي انکشاف، کابل سره نزدې د ماهیپر برېښناکوټ، د مواصلاتي نظام پراختیا او د روزنې پروګرامونو کې په مشاورت لګېدله.[۸۵]
د علیحضرت محمد ظاهر شاه د حکومت څلورمه لسیزه چې ختمېدو ته نزدې کېدله نو د افغانستان تعلقات دواړو سترو طاقتونو سره ټینګ وو. د جنګونو ختمېدلو نه فوراً پس چې متحده ایالاتو سره اړیکو کې کومه غُلغُله وه، هغه وختي ختمه شوې وه، او د ۱۹۵۰ء په لسیزه کې شوروي اتحاد ته د هغې نزدیکت هم ناڅاپي شان و. افغانستان باور لاره چې د هغې پایښت د پاره دواړو سترو طاقتونو ته تر یوې اندازې ضرورت و. د دې د پاره په افغانستان کې د هغو علاقه باید ختمه شوی نه وی. دا ښکاره وه چې د چټکې ودې ډ پاره د اقتصادي مرستو نورې وسیلې هم لټول پکار وو.
د دې فکرونو څخه د ځینو د حل لاره ایران سره تاودو اړیکو جوړ کړل. او شاید په تېلو ماړه عرب هېوادونو هم په یو وخت خپلې مرستې وړاندې کړې وی. په دې لړ کې افغانان د سیمییزو مرستو په مفهوم پوهېدلي وو. د هغو مشرانو په هغې لور خپل یون ګړندی کړی و. ښکاره ده چې د بامقصده سیمه یزو مرستو د پاره ځینې شرایط په نظر کې نیول کېږي. په داسې شرایطو کې پاکستان سره پخولاتوب نه سترګې اړل نه وو پکار. داسې دقیق تحلیل هم ضروري و چې، په هغو حالاتو کې د افغانستان د پایښت په هڅو کې په دا توکي ګټور ثابت شي یا زیانمن، که افغانستان یو قسم منظمو سیمه یزو مرستو سره وتړلی شي کومو کې چې هندوستان، پاکستان، ترکیه، او غالباً نور د منځني ختیځ هېوادونه هم وي (یو "اسیایي عمومي بازار"؛ بېشکه د لویدیځ حامي او په تېلو موړ د ایران تر سورې لاندې). له دې نه پرته د سیمه یزو اقتصادي مرستو مېلان چې په

سیاسي یورنګی کې بدلېدي، هغې ته هم مناسبه پاملرنه پکار وه .
دا قسم بحث لا روان وه چې پاچاهي په ناڅاپي ډول خو په امن سره ختمه شوه . دا بیا د نوي رژیم مسئوولیت و چې هغو پېچېده سوالونو ته یې جوابونه ویلی وای

## Notes

1. Fletcher, *Afghanistan*, 249.
2. Louis Dupree, *Afghanistan*, (Princeton, N.J.: Princeton University Press, 1973, 489.
3. Fletcher, *Afghanistan*, 249.
4. Ibid., 252.
5. There were five Tribal Agencies with 100% Pashtun inhabitants: Khyber, Malakand, Northern Waziristan, Southern Waziristan, and Kurram. To these, Pakistan later added a sixth, Mohmand.
6. In the NWFP the Congress Party of India, which was the ruling party in that province during those turbulent years, was referred to as the Frontier Congress.
7. Fletcher, *Afghanistan*, 251.
8. Sir George Cuningham, "The North West Frontier and the Tribes," *Sunday Statesman*, (Delhi), 29 May 1949.
9. *Official Records of the Plenary Meetings of the U.N. General Assembly*, Ninety-Second Plenary Meeting of the U.N. General Assembly, 30 September 1947.
10. Fletcher, *Afghanistan*, 254.
11. Ibid.
12. Dupree, *Afghanistan*, 492.
13. Quoted by Anthony Hyman in *Afghanistan Under Soviet Domination, 1964–81* (London: The Macmillan Press, 1982), 45.
14. Dupree, *Afghanistan*, 492–93.
15. Anthony Arnold, *The Russian Invasion in Perspective*, (Stanford, Calif.: Stanford University, Hoover Institute Press, 1981), 30.
16. Fletcher, *Afghanistan*, 244.
17. Ibid.
18. Quoted in Henry S. Bradsher, *Afghanistan and the Soviet Union* (Durham, N.C.: Duke University Press, 1983), 18.
19. Ibid., 17.
20. Quoted by Leon B. Poullada in "The Failure of American Diplomacy in Afghanistan," *World Affairs*, vol. 145 (3) (Winter 1982–83), 233.
21. Study prepared by the National Security Council, Index of Declassified Documents, No. 377A (Arlington, Va., 1978).
22. Fletcher, *Afghanistan*, 256.
23. Ibid.
24. Department of State, *Foreign Relations of the United States, 1950*, 5: 1, p. 448.
25. Conversations with the late Mohammad Naim, former Afghan ambassador to Washington and London, former deputy prime minister and foreign minister, and brother of Mohammad Daoud, in early 1974.
26. Conversations with Mohammad Naim.
27. Poullada, "Afghanistan and the United States," 186.
28. Bradsher, *Afghanistan and the Soviet Union*, 20.
29. Poullada, "Afghanistan and the United States," 186-87.

30. For a detailed account of the Iranian–Afghan dispute over the waters of the Hilmand River and the final 1972 agreement between the two countries, including comments on the provisions of the Hilmand agreement, see A. H. H. Abidi, "Irano–Afghan Dispute over the Hilmand River Waters," *International Studies* (July–September 1977).
31. Fletcher, *Afghanistan*, 267.
32. Conversations with a number of Afghan high officials including Abdul Samad (a former deputy foreign minister) and Abdur Rahman Popal (a former director general of political affairs) during the 1960s.
33. In connection with Vice President Nixon's stay in Kabul, this amusing episode was recounted to me by a former official of the Afghan Foreign Ministry. An ancient and elaborately decorated bed was brought for Nixon from the royal palace to the house where he was staying. In the middle of the night the boxspring fell noisily from its frame, shaking the sleeping vice president badly. The official firmly believed that Nixon's arrogant and offensive mood the following day was due to that unfortunate incident.
34. Poullada, "Afghanistan and the United States," 187.
35. Pakistan had entered SEATO in September 1954, and, in the following year, it joined CENTO.
36. Dupree, *Afghanistan*, 510–11. In case what has been reported to Dupree by American diplomats is accurate, the reader will note the interesting similarity between this Afghan demand and King Amanullah's demarche to the British in the 1920's informing them that he was willing to sever his ties with the Soviets provided the British gave assurances they would defend the northern borders of Afghanistan against Soviet aggression. The British government, as discussed in this book, decided against giving Amanullah those assurances.
37. Nikita S. Khrushchev. *Khrushchev Remembers* (Boston: Little, Brown, 1970), 560–62.
38. Fletcher, *Afghanistan*, 269.
39. According to Arnold, *Afghanistan: The Soviet Invasion in Perspective*, 34:

    The terms were generous: Afghan repayment was to be made in its natural exports, wool and cotton, and was to start only three years later, on January 1, 1957, it was to consist of five equal payments bearing an interest rate of 3 percent.

    Subsequent Russian loans generally bore the same 2% to 3% interest rate.
40. Pakistan was constituted of two parts: West Pakistan and East Pakistan. The components of West Pakistan were the provinces of the NWFP, Punjab, Sind, and the Baluchistan States Union, plus a few princely states. East Pakistan was comprised of Bengal, which years later seceded and became the independent state of Bangladesh.
41. Poullada, "Afghanistan and the United States," 189.
42. Ibid.
43. Dupree, *Afghanistan*, 507.
44. Ibid., 507–8.
45. Bradsher, *Afghanistan and the Soviet Union*, 27.
46. Dupree, *Afghanistan*, 508.
47. Ibid., 508–9.
48. According to Bradsher, *Afghanistan and the Soviet Union*, 25, by 1979 Soviet military aid to Afghanistan was roughly $1.25 billion. About 3,725 Afghan military personnel had received military training in the Soviet Union.
49. N. A. Bulganin and N. S. Khrushchev, *Visit to Burma and Afghanistan* (New York: New Century Publishers, 1956), 34.
50. Ibid., 37.
51. Ibid., 23.
52. Conversations with Mohammad Daoud in late 1973.
53. Fletcher, *Afghanistan*, 285.
54. Bradsher, *Afghanistan and the Soviet Union*, 28.
55. Ibid.
56. Ibid., 29.
57. Kandahar International Airport was built with American financial aid and technical assistance. Once completed, this project became a "white elephant." For an interesting account of [illegible] ibid., 29–30.
58. Arnold, *The Soviet Invasion*, 38.

59. Ibid., 39. According to Arnold, during "the period 1950–1959, U.S. assistance totaled $148.3 million, while Soviet assistance came to $246.2 million. While most of the U.S. assistance was in the form of outright grants, the USSR concentrated on long-term loans." Arnold gave the following assessment of U.S. aid to Afghanistan: "Although the United States did not try to match the volume of Soviet assistance, the impact of the U.S. projects was considerable, and most Western analysts seem to feel that the Afghans benefited as much from the U.S. aid as from the Soviet." According to Bradsher, *Afghanistan and the Soviet Union*, 24–25, on the other hand, up to the time of the Communist coup in 1978, the USSR had extended $1.265 billion in economic aid to Afghanistan. The American aid had totaled $532.87 million, 71% of which was in outright gifts, whereas the Soviet assistance was almost entirely in the form of loans. However, interest and repayment terms on loans by Russia to Afghanistan were more generous than those accorded to other Third World countries. East European countries had also extended $110 million in aid to Afghanistan.
60. "The Eisenhower Doctrine loosely guaranteed all the States of the Middle East American protection against Communist invasion." Dupree, *Afghanistan*, 511.
61. Arnold, *The Russian Invasion*, 40.
62. *New York Times*, 24–28 June 1958.
63. *New York Times*, 25 June 1958.
64. *New York Times*, 10 December 1959.
65. Bradsher, *Afghanistan and the Soviet Union*, 26.
66. Louis Dupree, *The Mountains Go to Mohammad Zahir: Observations on Afghanistan's Reactions to Visits by Nixon, Bulganin–Khrushchev, Eisenhower and Khrushchev*, American Universities Field Staff Report (AUFS), South Asia Series, vol. 4, no. 6, May 1960, LD-6-60, 25.
67. Dupree, *Afghanistan*, 506.
68. Ibid.
69. Conversation with Abdur-Rahman Pazhwak, who was, at the time of the visit, the director general of political affairs in the Ministry of Foreign Affairs.
70. Dupree, *Afghanistan*, 539.
71. Ibid.
72. In 1961 the Afghans once again proposed to the Americans the building of a transit route from the port of Chahbahar in Iran to Zahidan on the Afghan–Iranian border and from there to Kandahar, which would have been shorter than the Tehran–Herat route. But the Iranians and the Americans did not agree with this proposal. Instead, the Americans expressed their readiness to improve the port of Khurmashahr and build an all-weather road from Herat to Islam–Qala to link with the Iranian road system.
73. John C. Griffith, *Afghanistan: The Key to a Continent* (Boulder, Colo., Westview Press, 1981), 149.
74. Dr. Mohammad Yusuf, Mohammad Hashim Maiwandwal, Noor Ahmad Etemadi (twice), Dr. Abdul Zahir, and Mohammad Mussa Shafiq.
75. A detailed account of the adventurous history of the PDPA can be found in Anthony Arnold, *Afghanistan's Two-Party Communism: Parcham and Khalq* (Stanford, Calif.: Stanford University, Hoover Institution, 1983). This book is a useful source of biographies of leading Afghan Communists.
76. In its first issues, *Khalq* stated, among other things, that "the main issue of contemporary times and the center of class struggle on a worldwide basis, which began with the great October Socialist revolution, is the struggle between international socialism and international imperialism." Quoted in Dupree, *Afghanistan*, 608.
77. Arnold, *The Russian Invasion*, 49.
78. Dupree, *Afghanistan*, 565.
79. Ibid.
80. Louis Dupree, *An Informal Talk with King Mohammad Zahir Shah of Afghanistan*, American Universities Field Staff, July 1963, LD9-63, 6.
81. *New York Times*, 6 September 1963.
82. *New York Times*, 8 September 1963.
83. Dupree, *Afghanistan*, 631.
84. Ibid.
85. Ibid., 631, 641.

# شپږم څپرکی

## د جمهوریت پیلامه

د ۱۹۷۳ء کال د جولای په اولسم تاریخ د کابل خلك ورو ورو خبرېدل چې د شپې اخري پار کې یوه پوځي کودتا شوې وه . ډېر خلك چې د لمر ختلو نه مخکې خپلو کارونو پسې وتي وو په بیړه خپلو کورونو ته ستانه شول چې خپلې کورنۍ او ګاونډیان خبر کړي چې د ارګ په شاوخوا ، په دولتي ودانیو او اهمو څلورلارو باندې ټانکونه او پوځي ګاډي ځای په ځای ولاړ وو . د کابل رادیو چې په عمومي ډول به یې د ګرمۍ پروګرام هره ورځ د سهار په شپږو بجو پېل کولو ، د شپږو بجو او څلوېښتو دقیقو پورې غلې و ، او بیا یې عسکري او د اتڼ سازونه شرو کړه . لکه وروستو معلومه شوه ، خیالونه ډېر بره خاته چې کودتا به چا کړې وه ؛ د صدراعظم موسی شفیق او د پاچا زوم جنرال عبدالولي نومونه د عامو خلکو په خولو وو چې د بغاوت مشري یې کړې وه . دا خیال هم ټوکه نه شوه ګڼلی چې چا نامعلومه کرنېل د پاچا د نیشتوالي نه فایده اخستې او واك یې تر لاسه کړی[1] په اوو بجو او پنځلسو دقیقو د رادیو نطاق د یو اهم اعلان د خورولو خبر ورکړ ، او په اوو بجو او شلو دقیقو یې وویل چې په یو څو دقیقو کې به جلالتمآب سردار محمد داود (یو پخوانی صدراعظم او د پاچا تربور او اوښی) ملت ته خطاب کوي[2] . چا چې رادیو ته غوږ نیولی وو هغوی هم هغه وخت محسوس کړ چې داود پوځي واك تر لاسه کړی وه او په هر حال هم هغه واکمن وه .

مونږه یو څو دوستان چې رادیو ته ورټول شوي وو هك پك پاتې شو . ځکه چې په هغو نزدو میاشتو کې هیڅ داسې نخښنه نه وه ، د داود په ډېرې نزدې

حلقه کې هم، چې هغه د سیاسي واپسی د موقعې په لټه کې و، یا یې غوښتل چې خپل لسکلن خانلتوب نه راوځي . خو د یو مستحکم سیاسي نظام په داسې ناخاپي لړزان سره چې کومه ناارامي او ښکېل نل وي، هغه د هغه نوم سره په خوش آیند سکون بدل شو . د داود نامې به په عامو خلکو هم داسې رغونکې اغېزه کړې وه، ځوك چې په وړومبنو غېر یقیني ساعتونو کې د امنیت د ګډوډۍ د عواقبو نه په وېره کې وو . د دوی سملاسي استدلال به دا و چې په حال کې داود که هغې پېښې سره اړیکې لرل نو بیا د وېرې څه وجه رامنځته کېده. هېواد د هغه نه ښه لاسونه نه لیده . ډېر زر د اتبار چپو د وېرې نکان یوړو .

داود په اوو بجو او شلو دقیقو خلکو ته وینا پېل کړه او په لنډو ټکو کې یې سپیناوی وکړو چې د افغانستان د پرمختګ لپاره د ښېګړې هغه وړاندېزونه چې لس کاله پخوا هغه پاچا ته سپارلي وو څنګه تش د نامې جمهوریت له خوا تس نس شوي نن . د هیواد خوشالي او سوکالي په رېښتوني او مجاز جمهوریت اړانه وي، د کومې اساسي مقصد چې په عمومي ډول د افغانستان د ټولو خلکو خدمت وي، چې د هغو حقوق په پوره ډول تامین کړي او د افغانستان د ملي واکمنی ساتنه وکړي . هغه څرګنده کړه چې، هغهٔ چې کومه ټولنه نظر کې نیولې وه هغه له څه امتیاز نه پرته د ټولو افغانانو په ګډون جوړېدلی شوه . هغه وویل چې تېر ژریم په هغې لړ کې هیڅ ونه کړای شو . د هغه په وینا هغه تش د نامې جمهوریت په ذاتي او طبقاتي ګټو ولاړ و او په بدنیت او دروغو یې وده کوله . هغه زیاته کړه چې د هغې جمهوریت مری، چې خلکو ترې ګټه اخیستې شوه، ځانځانی خپه کړې وه . او مشروطه پاچاهي د بدترین او غورځېدلي مطلق العنان حاکمیت ښکار شوې وه . هغه وویل چې هغه ټول دروغ چې په تېر حکومت کې ویل شوي وو د افغانستان د خلکو او د باندینی نړۍ نه دې حقیقت پټولو کې کامیاب شوي وو چې د غېر مسئوول حکومت له خوا د اقتصادي، ټولنیز، سیاسي او اداري حالات په مکمله توګه له کاره لویدلي وو . هغه وویل چې په هره سویه د حالاتو خرابېدلو د افغانستان هیوادپال خلك، خصوصاً د افغانستان پوځ بې چروته کړي وو . داود وویل چې هغوی ځکه دا فېصله وکړه چې هغه فاسد حکومت ختم کړي او پلرنی هېواد د هغې د قهر نه وساتي . بیا هغه ملت خبر کړ چې زوړ نظام په یو نوي نظام، یو جمهوري رژیم، بدل شوی و، چې د اسلام له روح سره یې سمون درلود. هغه له خپل طرف نه او د خپلو ملګرو د طرف نه د افغانستان خلکو ته د افغان د جمهوري نظام په راتلو مبارکي وویله او د هغو د حمایت او مرستو غوښتنه یې وکړه.

دا راز د سهار په اتو بجو وړومبنی افغاني جمهوریت په رسمي ډول منځ ته راغلو . د دې نظام زېږون بې تکلیفه وو . د یو څو ساعتونو په لږ وخت کې د

هندوکش په هغه هېواد کې، چې د بل کوم شکل حکومت يې نه و لېدلی، د سلګونو کالو پاچاهي په جمهوري نظام بدله شوه .

د کال ۱۹۷۳ ء د جولای په اولسمه نېټه کابل کې وسېدونکي سفيران د باندنيو چارو وزارت ته وبلل شول . د سياسي چارو عمومي مدير عبدالواحد کريم هغوی ته خبر ورکړ چې په تېره شپه پوځ بې د وينې تويولو اقتدار اخيستی و او جمهوري نظام منځ ته راغلی و . هغو ته يې وويل چې خپل خپل حکومت ته د نوي رژيم ښې هيلي ورسوي، او دا خواهش يې وکړ چې هغوی څومره زر چې کېدلی شي دې هغه جمهوريت په رسمي توګه وپېژني .

هم په هغه ورځ اعلان وشو چې محمد داود د دولت د مشر خطاب ومانه، د ۱۹٦۴ ء اساسي قانون وځنډولی شو، او يوه مرکزي کمېټه جوړه شوه چې د حکومت د معمول چارې په مخ بوځي . د کمېټې رييس مُحمد داود و او زيات غړي يې چپلاسيان وو چې پوځي او ولسي خدماتو سره يې تعلق لرلو او هغه سره يې په کودتا راوستلو کې ملاتړ کړی و . د دې کمېټې باره کې نور څه وانه ورېدلی شو، او د آګست په اخره کې د وړومبنی جمهوري کابينې جوړېدلو نه پس هغه په کرار کرار تيارو کې ډوبه شوه .

د مرکزي کمېټې چپلاسي رنګ داسې فکر پېدا کړ چې داود يو ګوډاګی و چې کمونيستو اقتدار ته رسېدلو د پاره استعمال کړ . خو حقيقت داسې نه و. په حقيقت کې هغه داسې يو سړی و چې په ډېرې استاذۍ يې هغوی استعمال کړ او د هېواد واك يې تر لاسه کړ . هغه په اسانه د هغوی مرسته له ځانه ځنډلی شوه، خو د پوځ د لسو کالو ځانلتوب داود دې فکر ته اړولی و چې د هغه نوم او وقار دوره کفايت نه کولو چې د افغاني منصبدارانو عنعنوي ډله د کودتا د پاره له ځان سره روان کړي . د دې د پاره هغه دا غوره وګڼله چې روسيه کې د روزلی شوو هغو کمونستانو منصبدارانو چې ناارامي يې محسوسوله، يوه کوچنۍ ډله په کار واچوي . هغه منصبداران چې هر وختې کودتا يا پُڅ د پاره چمتو وو[3] نقادان به وايي چې په هېواد کې د کمونيسانو څه حمايت نه و، نو د هغه دا خيال وه چې هر کله د هغوی ضرورت پاتې نه شي نو په اسانه به ورتلی شي . ځکه محمد داود د هغو خدمات په ځای وساتل .

د محمد داود په کودتا کې د شوروي اتحاد د لاس په هکله ډېر څه ويلي شوي دي . خو زه چې داود او د هغه ملګرو سره په کلونو يو ځای پاتې شوی وم، په دې عقيده يم چې د ۱۹۷۳ ء د جولای د اووه لسمې نېټې کودتا کې يقينې د روسيانو لاس نه و . دا يو افغاني خوځښت ود او خالص افغاني مقصد يې درلود[4] . خو دا ګڼل جواز لري چې ښ نه لرِ يو څو کميونستانو ونډوالو، چې ماسکو سره يې وفادارۍ کې شك نه و، ماسکو د دې تياريو نه خبرولو . يو خلې داود ماته

وويل چې د هغه يقين وه چې د كودتا په ذريعه جوړ شوي د افغانستان حكومت كې د كميونستانو د زياتې ونډې په فكر كې شورويان ډېر رابنكلې شوي وو چې د دې برياليتوب ته خنډ و نيدروي. داود ته دا يقين و چې هغه كله واك تر لاسه كړي نو د كمونستانو نفوذ به وتمبوي.

زياتو افغانانو د محمد داود له خوا واك نيولو ته هركلى ووايه. قوي مشرتابه پكار وه؛ هغوى په دې پوهېدل چې هغه به دا وكړى شي. د پاچا د صدراعظم په حيث د هغه لسكلنه دوره كې د اقتصادي پرمختګ ګړنديتوب په هېواد باندې ښه او دوامداره نخښنه پرېښې وه. دا هېله كېدله چې د هغه واپسي به مړژواندي اقتصاد ته حركت وركړي او د هغه چټكتيا او پېرزوينه به حكومت بيا په نيغه لاره واچوي. انتهوني هايېمن د داود د اولنۍ لسيزې په هكله خپل خيال داسې څرګند كړى دى:

> د ۱۹۵۳ء نه تر ۱۹۶۳ء پورې د داود د اقتدار په لسيزه كې افغاني ټولنه او اقتصاد كې ښه بدلونونه راغلي وو. د داود ناقدين همېشه داسې وايي چې هغه ټولنيزو ښېګړو نه بغېر صرف په اقتصادي وده كې علاقه لرله، خو د لسيزې تر اخره په هغه ډګر كې هم ډېر څه شوي وو^٥. دې ټولنيزو ښېګړو كې د پردې اوچتول او د ښځو ازادي څه لږ ارزښت نه درلود.

د افغانانو له پاره محمد داود هغه سړى و چې د ۱۹۵۰ء په لسيزه كې يې افغانستان په خپل تدبر له تېارو نه وېستى و او كومك او دوستۍ د پاره د نړۍ د لويو طاقتونو جلبولو كې برياڼى شوى و. د داود د صدارت عظمى په دوره كې افغانستان باندونګ كې د افريقايي او اسيايي هېوادونو په كانفرنس كې ګډون كړى و او افغاني نماينده د هغې مشهورې اعلاميې په جوړولو كې فعال رول لوبولى وه. هم د هغه په دوره كې د ناپېلتوب د خوځښت رده كښېخوى شوه او افغانستان د هغې يو اساسي غړى شو. دې كې هيڅ شك نه و چې د داود د صدارت عظمى دوره په كورنۍ ساحه كې ډېره ګټوره وه، خو د باندې هم هېواد ښه نوم ګټلى و. دا نو څكه د پوهې وړ ده چې خلك، د داود د تېر وخت په قضاوت سره، د هغه واپسۍ ته خوښ وو.

جمهوريت صرف د محمد داود په خوښه منځ ته راغلى و. هغه دا فكر كړى و چې د افغانستان د ترقۍ او په هغه وخت د هغې د پايښت تامينولو د پاره دا ډېره مناسبه لاره وه. په هر حال هغه په ډېر څه كولو كې پاتې راغلو. د يو څو كالو په لنډه موده كې د افغانستان وړومبنى جمهوريت شوروي غرضونو ته پرېوتو، او د ۱۹۷۸ء د اپرېل په اته ويشتمه نېټه كمونستانو د شورويانو په ملاتړ كودتا وكړه او د هغې جمهوريت موسس، سره د خپلې كورنۍ او يو شمېر نزدې ملګرو،

يې په ډليېزه توګه ووژل ـ د افغانستان د ورومبني جمهوريت ړنګېدلو سره د
افغانستان مستقل حيثيت هم ختم شو ـ

## Notes

1. King Zahir Shah had gone to Italy for medical treatment.
2. It was the last time that Mohammad Daoud was referred to as His Royal Highness or *Sardar*. Subsequently, in the media and in all official correspondence and acts his name was preceded only by *Shaghalay*, which in Pushto means mister.
3. Conversations with Mohammad Daoud and Waheed Abdullah in October 1973.
4. As corroboration of this view, see, among other sources, the narrative by former KGB major Vladimir Kuzichkin, *Time Magazine*, 22 November 1982, 33; and the article by former Afghan diplomat Abdul Madjid Mangal, *Sunday Telegraph (London)*, 24 June 1984. Mangal's assertions are especially credible because of his close association with the Communist rulers of Afghanistan during their first years of rule. This association must have given Mangal ample opportunity to ascertain certain facts.
5. Anthony Hyman, *Afghanistan Under Soviet Occupation, 1964–81* (Hong Kong: The Macmillan Press, 1982), 51.

# اووم څپرکی

## د جمهوریت بهرنۍ اړیکي

د ۱۹۷۳ء د جولای په اوولسمه نېټه د افغانستان خلکو ته محمد داود په خپله وېنا کې د خپلې باندېنۍ کړنلارې د عمده کړنلارې داسې اعلان وکړ:

د افغانستان د باندېنيو چارو کړنلاره په بېطرفۍ، نظامي تړونونو کې په نه ګډون او د مسئلو په هکله د خلکو په خپل ازاد قضاوت ولاړه ده - زمونږ د ملي هېلو نه جوړه کړنلاره داسې ده چې د خلکو مادي او روحاني غوښتنې پوره کړي - د دې غوښتنو پوره کول د نور هر څه نه زيات د سولې يوې نړۍ ته اړه لري - هيڅ يو هېواد د پرامن حالاتو نه بهر خپلو جايزو ملي هېلو ته عملي شکل نه شي ورکولی - مونږ چې افغانستان کې دننه د خپل هېواد پرمختګ ته ليواله يو، نو د دې د پاره په نړۍ کې د سولې او امنيت ټينګښت غواړو - د افغانستان د ناپيېلتوب کړنلارې قوي ستنې په هغې رېښينولۍ او اخلاص باندې ولاړې دي چې د افغانستان د خلکو د ملي او ازادو غوښتنو نه زرغونېږي - له نورو هېوادونو سره به د افغانستان دوستانه اړيکي په خپلو مضبوطو ردو ولاړ وي - او د دپلوماتيکو، ذاتي سفرونو او بېن المللي مرستو په ذريعه به هڅې کولی شي چې دا اړيکي نور هم قوي شي - دا زمونږه هېلې دي چې دا هڅې به مثبتې او عملي نتيجې ورکړي ... رژيم د ملګرو ملتونو د منشور اصول تعقيبوي او احترام ورته لري، د کومو عمده هدف چې د بنيادم ښېګړه او نړيواله سوله ده[۱] -

محمد داود چې په خپله وېنا کې کومې کړنلارې بيان کړې وې، هغه يې

د افغاني دولت د عصري کېدلو او پايښت د پاره د خپلو پلانونو ضروري توکي ګڼل. د افغانستان ګاونډيانو، په خصوصي توګه عرب هېوادونو او متحده ايالاتو سره روابط ښه کول او پراخه کول د جمهوريت مهم هدفونه وو.

## پاکستان

محمد داود په خپله وينا کې ويلي وو: "پاکستان يوازينی هېواد دی چې زمونږ سياسي اختلاف ورسره شته، د پښتونستان مسئله. د دې د حل د پاره به زمونږ پرله پسې هڅې روانې وي"[۲] يو څو ورځې پس په يوې مطبوعاتي مرکه کې چې زيات په کې خارجي ژورنالستان وو، سردار محمد داود بيا د افغانستان او پاکستان په روابطو وغږېد:

د پښتونستان قضيه يو داسې حقيقت دی چې له هغې څخه انکار نه شي کېدی. هيله لرو چې په دغه حقيقت باندې په پوهېدلو او د دواړو خواو په ښه نظر سره دغه مسئله يوه ورځ د پښتنو او بلوڅو خلکو او د هغوی د مشرانو د هيلو او آرزوګانو سره سمه د دوستی او روغې جوړې له لارې شرافتمندانه حل او فصل ته ورسي[۳]

د جمهوريت په پيل سره چې سردار محمد داود د افغانستان او پاکستان تر مينځ د جګړې په شتوالي زور اچولو، د هغې لوی دليل داوه چې د مسئلې له حل ته يې مخه اړوله. د هغه په خيال د هغې حل زر نه زر ضروري وه چې نوی رژيم خپله پاملرنه په ډاډه توګه ټولنيزو او سياسي ودو ته ورکړی شي. په هر حال له پاکستان سره د افغانستان اختلاف په اړه د سردار محمد داود اشارې پخولا کوونکې وې، خو په اسلام آباد کې د هغې اغېزه ښه ونه شوه. د پاکستان مشرتابه چې صدراعظم ذوالفقار علي بهټو يې په سر کې و، د افغانستان د دولت د مشر د وينا په جواب کې سخته غصه څرګنده کړه. د دې په ځای چې موقع يې نيولې وی او د مسئلې د حل د پاره نوې هڅې پيل شوی وی، د پاکستان حکومت سم له لاسه هغه رژيم وغانده چې د پاکستان هم د اسلام او هم د هغوی مخالف وه. اسلام آباد د پروپاګند يو پراخ ډګر پرانيست چې پاکستان يې يو بې وسيلې ښکار ښودلو او داود يې يو شوم داړه مار، چې د پاکستان ړنګولو ته يې متې نغښتې وې. ډېر وخت نه وه تېر چې په هغه يې دا تور هم پورې کړ چې بلوچستان کې د بغاوت، چې د ۱۹۷۳ ء په پيل کې پورته شوې و، او په شمالي لويديځې سرحدي صوبه کې د ورانکاريو په شا ولاړ و.

د افغانستان نوی رژيم د پاکستان له خوا د ۱۹۷۳ ء د جولای په ۲۲مه نېټه پېژندلی شوی و، خو دا ښکاره وه چې د داود اقتدار ته له رسېدلو سره د

پاکستان مشرتابه بې سره شوي وه . د پښتونستان د مخالفت په سیاست کې، هغوی همېشه دا فکر کولو چې افغان مشرانو کې محمد داود د ټولو نه زیات سخت دریځه و . اسلام آباد داسې خیال پیدا کاوه چې د پاچاهۍ په اخرنۍ ورځو کې د "پښتونستان ستینټ" (لکه پاکستان بللو) بندې هغوی خپل اواز ټیټ کړی و او اخر هغه یې تاخچې ته رسولی و ، دا اوس خطرناك او غېر مسئول محمد داود و چې بې د څه ضرورته د خپلو بېخایه غرضونو د پاره دا تشه د نامې مسئله بیا ژوندۍ کوي .

د پاکستان ډېرو لږو خارجي دوستانو پښتونستان باندې د افغانستان د تېرو اعلانونو د ریکارډ کتلو او د داود وېناو سره د هغې د مقابلې کولو زحمت ګاللو ته غاړه اېښې وه . که دوی داسې کړی وی نو ورته به معلومه شوی وی چې د محمد داود د جمهوریت د کرنلارې په بابله اولنۍ وېنا د هغو وېناګانو نه زیاته سخته نه وه کومې چې پخوا پاچا او د هغه وزېرانو کولې . د دوی تسلي به شوې وی چې د پاچاهۍ په دوران کې افغانستان د پښتونستان مسئله نه وه پرېښې . هغه دوران کې، کله چې سردار محمد داود د دولت په چارو کې خبره نه شوه کولی، داسې یو انکشاف شوی و، چې افغانستان د پښتونستان مسئله "بین المللي" سویې ته خېژولې وه او پاکستان د پاره یې یوه لویه اندېښنه جوړه کړې وه . په ۱۹۶۸ء کې د ملګرو ملتونو د عمومي شورې په درېویشتمې باقاعده غونډه کې، ملګرو ملتونو کې د افغانستان مستقل نماینده عبدالرحمان پژواك د پښتونستان مسئله د نړۍ هغې موسسې ته وړاندې کړې وه او خبرداری یې ورکړی و چې دا هغه یوه مسئله وه چې که د حل نه پاتې شوه نو په اسیا کې به امنیت او سولې ته خطره جوړه شوې وی۴ . هغې نه پس د پښتونستان مسئله به افغانانو اکثر په عمومي شورۍ کې اوچتوله، چې پاکستان د پاره یوه لویه اندېښنه جوړه شوې وه . پاکستان هغه کچه او احمقانه کار بللو . سردارمحمد داود یو" زوړ زخم نه و خیرلی" لکه د لندن "ټایمز" ویلي و، بلکې هغه زخم خو چرې نه و ورغلی.

پښتونستان باندې د سردار محمد داود د کرنلارې د څرګندونې نه پس، د پاکستان خورونو او دپلوماتېکو وسیلو هڅې کولې چې هغه چا ته چې د سویلیز لویدیځې اسیا په هکله یې معلومات نه لرل، دا یقین ورکړي چې افغانستان (د هندوستان او شوروي اتحاد په ډاډ) د پاکستان د تجزیه کولو خواهش لرلو . هغو بیا ویل چې افغان واکمنو د پښتونستان کیسه جوړه کړې وه چې د خپلو خلکو مخ د هغو د ورځني مشکلاتو نه واړوي . هغوی په دې زړو اچولو چې پاکستان کې د پښتنو د خپل اختیار د جامې لاندې ، چې پاکستاني بلوچ ورسره هم یو ځای ترلی شوي وو . افغاني حاکمان په حقیقت کې د پاکستان ازاد شته والی ختمول غوښتل.

پاکستاني مامورینو هر هغه چاته چې د اورېدلو حوصله یې لرله دا

وضاحت کولو چې په ۱۹۷۱ء کې پاکستان نه د بنګله دېش د بېېلولو منصوبه هندوستان جوړه کړې وه. اوس افغانستان غوښتل چې پاکستان ټوټې ټوټې کړي. پاکستاني حاکمانو د خپل هېواد کمزورئ ته هم اشاره کوله چې د مختلفو او اکثرو مخالفو خلکو نه جوړ یو چیټ و چې د اسلامي عقیدې سیمټو یوځای کړي و. هغو مامورینو د خپلو خلکو او د ګردو مسلمانانو د وېرې سندرې ویلې او د راتلونکي وخت یو غمژن عکس یې جوړولو. په هغې کې د افغانانو د چل ول په نتیجه کې به صرف پنجاب پاکستان کې پاتې کېده، هغه هم تر هغې وخته چې د هندوانو د خورونې لوږه یې ونغاړي. لکه د پاکستان د جوړېدلو په وخت شوي وو، پاکستاني مشرانو بیا د اسلام نوم استعمالولو چې خپل موقف د پاره مرسته، خصوصاً په تېلو مړو عربو هېوادونو کښې، وګټي.

د افغانستان د جمهوریت د جوړېدلو نه پس، پاکستاني مشرانو به اکثر خپل هېواد د دغو دښمنانو په نرغه کې یو وړوکی سوله دوست ملت ښودلو کومو چې د هغې رنګولو ته بدې وهلې وې. په داسې غمژنو بیانیو کې د صدراعظم ذوالفقار علي بهټو نه بل کوم یو پاکستاني مشر وړاندې شوی نه و. د باندې نړۍ ته د "جنګ ځپلې" او "ښکار شوي" پاکستان عکس پېش کولو کې هغه استاذ و. د افغانستان خلاف د بهټو سخت انتقاد داسې فکر ورکولو چې د اسلام دښمنه خلکو د دسیسو په نتیجه کې د پاکستان تجزیه په نظر کې وه، او د پاکستان نسکورېدلو سره به ټوله اسلامي نړۍ هم نسکورېږي. دې عجیبه تورونو ځینې عرب او اسلامي هېوادونو ته داسې یقین ورکړ. د افغانستان په ودانیزو چارو کې کومکونو د پاره ایران او یو شمېر عرب هیوادونو سره د افغانستان تماس کې افغانانو ته دا څرګنده شوه چې هغه هیوادونه افغانستان ته مالي مرستو ورکولو ته تیار وو، خو دا یې غوښتل چې افغانستان دې د پاکستان د حقیقي یا خیالي وېرې د کمولو د پاره کوښښ وکړي. د هغو مالي مرستو سره څه داسې شرطونه نه وو تړلی شوي، خو دا ښکاره وه چې پاکستان سره د افغانستان په شخړه کې د کمی په صورت کې هغو پنګو ورکولو د پاره به چاپېریال سازګار شي. په نازکې ډپلوماتیکې ژبه کې یو ډېر صفا پیغام و: پاکستان سره د اړیکو د ښه کولو په لور ګام پورته کړه.

هغه دوران کې پاکستان اکثر داسې اندېښمن بیانونه ورکول چې له پولې سره سره افغاني عسکر په حساسو سیمو کې ځای په ځای شوي وو، او پاکستان باندې یې د حملې تیاری نیولو. په هر حال د افغانستان یوه قطعه هم داسې ځای ته نه و خوځېدلې چې پاکستان ته ترې خطره پېدا شوی وی. د ۱۹۷۴ء او ۱۹۷۵ء په یخنۍ کې د ننګرهار په ولایت کې د ختیځو نظامي قطعاتو تاکلې مانورې عملي شوې وې، خو هغه صرف جنګې لوبې وې، او د پاکستان د عکس العمل

د پاره څه جواز نه جوړېدو . دا ښکاره وه چې د افغاني نظامي حرکتونو په هکله انتقاد د پاکستان د عمومي هڅو يوه برخه وه چې د پاکستان "صورتحال" او "کمزوري" په لور د اسلامي دولتونو همدرديانې جلب کړي او لويديځو هيوادونو د پاره د اندېښنې لامل شي . د خپل وس مطابق د افغانستان خورونو د افغانستان خلاف د پاکستان د پرپاګند د جنګ جواب کاوه . د وخت په تېرېدلو سره ورانکارۍ زياتېدلې او ډېرې زيانمنې شوې وې .

د ۱۹۷۴ء په پېل کې له پاکستان سره د افغانستان روابط ډېر زيات خراب شوي وو . د دې لويې وجهې بلوچستان کې خورېدونکې بغاوت او سرحدي صوبه کې زياتېدونکې ناارامي وه . د هغې نتيجه دا شوه چې بلوچستان کې ضمنه جنګ شرو شو چې هغه ولايت تر غلامۍ لاندې راولي او په سرحدي صوبه کې د پاکستان زورونکي عمليات وو . د رژيم خلاف د ميوندوال دسيسه کې (اتم څپرکي وګورئ) په پاکستان د لاسوهنې تور هم د افغانانو مشکلاتو کې زياتوالی راووست . د جمهوريت په ړومبنو ورځو کې د افغانستان د پخولاکونکي رسمي بيانونو، او ارادتاً د افغانستان د دعوو ذکر نه کولو وخت تېر شوی و . د باندېنيو چارو مرستيال وزير وحيد عبدالله، د افغانستان د وياند په حيث، د افغانستان او پاکستان تر مينځ موجوده اختلاف په ښه تفصيل او سخته لهجه کې څرګند کړی و:

د باندېنيو چارو مرستيال وزير د ۱۹۷۳ء د نومبر په پنځمه نېټه په يوه مرکه کې وويل: افغانستان د پاکستان له خوا د پښتنو او بلوڅو پر خلاف "د پوځ او وسلې استعمال" باندې سترګې نه شي پټولی . او افغانستان دا (د پښتنو او بلوچو قسمت) "يوه ملي مسئله ده" ګڼي . هغه زياته کړه چې د هغه هېواد د ډيورنډ کرښه پاکستان سره د پولې په حيث نه مني، ځکه چې هغه په هندوستان کې د بريتانيې د حکومت په دوران کې راښکلی شوې وه . د يوې پوښتنې په جواب کې، چې د پاکستان په شمال لويديځ سرحدي ولايت کې د پښتنو ملتپالو د مستقل پښتونستان د غوښتنې په هکله د حکومت څه فکر دی، هغه وويل: "مونږ د پښتنو او بلوڅو خلکو د خپل اختيار حق غواړو." د دې پوښتنې په جواب کې چې آيا د دې مطلب يو جلا دولت يا دولتونه او يا لوی افغانستان څو نه دی، هغه وويل: "دا خلکو خپل کار دی چې د خپل راتلونکي وخت فيصله وکړي"[٦]

بهټو پخپله د اورنيو بيانونو په ذريعه اور ته تېل اچول . په قبايلي سيمو کې د ۱۹۷۳ء او نومبر په نيمايي کې په يو پارونکې بيان کې هغه په افغان رژيم پاکستان کې د لاسوهنې تور لګولو نه پس، بهټو قبايلو ته وويل "ځينو خلکو هغه

ته مشوره ورکړې وه چې لرې کړی شوی پاچا محمد ظاهر شاه ته د پاکستان د قبايلي سيمو د سفر بلنه ورکړي. خو دا څنګه کېدی شي چې پاکستان د خپلو ګاونډيانو په کورنيو چارو کې ګوتې وهل نه غواړي؟" بهټو زياته کړه: "که پاچا ظاهر شاه پاکستان ته د يو مېلمه په حيث راتله وغواړي، نو مونږ به ورته هرکلی وواېو. ځکه چې ښاغلی عبدالغفارخان په افغانستان کې اته کاله پاتې شوی دی"[۷] بيا هغه د پلرنۍ مينې په لهجه کې وويل چې افغانستان سره اړيکي "د تجارت او نورو ساحو کې ښه کېدلی شي، که افغانستان هم داسې وغواړي او د نورو په نغوته بې لارې نه شي"[۸]

محمد داود پخپله داسې بيانونه بې جوابه پرېښول نه غوښته. له "لې مانډې" سره په يوه مرکه کې چې د ۱۹۷۴ء د فبرورۍ په پېل کې خوره شوې وه، هغه پاکستان ته خبرداری ورکړ چې هرکله حالات خرابېدو ته پرېښوی شي، نو افغانان څنګه ځېل نيولی شي. هغه وويل چې د پاکستان شمالي لويديځه سرحدي صوبه د همېشه راسې د افغانستان يوه پخه برخه وه او بريتانيې د داسې بېتوله لوزنامو چې حکومت ته منظورې نه وې، دا سيمې د افغان د حاکميت نه وېستې وې[۹].

هغه وخت داود د مرکزي کمېټې د کمونيستو غړو تر فشار لاندې وه چې پښتنو د پاره د خپل اختيار د حق په هکله د افغانستان روايتي غوښتنې په ځای نېغ په نېغه په هغه سيمه ادعا وکړه. اګرچې د پاکستان د جوړېدلو نه پس د افغانستان موقف کې تسلسل نه و خو د پښتنو په سيمه د هغې ادعا په تاريخي لحاظ زيات جواز لرلو. خو داود په هغه وخت دا مناسب نه ګڼل او د خپل اختيار په هکله د افغانستان موقف يې وساته.

د بلوڅو او پاکستاني ادارې په مينځ کې سوغېدلی اختلاف چې کله نا کله به ترې د فساد لمبې پورته شوې، هغه وخت سر ته وختو، کله چې بهټو د ۱۹۷۳ء په فبرورۍ کې د بلوچستان صوبايي والي لرې کړ، او د هغې صوبې حکومت يې ختم کړ (چې په اساسي ډول د اساسي قانون لاندې د نېشنل عوامي پارټۍ يعنې نېپ د غړو نه جوړ و)، او ورپسې د بلوچو مشران يې محبس ته واچول[۱۰] په هغې پسې ډېر زر د صوبه سرحد د نېپ والي ارباب سکندرخان خليل يې هم لرې کړ او د هغه په ځای يې اسلم ختك، چې يو وخت کابل کې سفير پاتې شوی و، کېناوه. د دې پېښو په نتيجه کې د مولانا مفتي محمود تر مشرۍ لاندې د صوبه سرحد د نېپ او جمعيت العلماء اسلام يعنې "جعا" ايتلافي حکومت په هغو دوو صوبو کې د بهټو د عملياتو خلاف احتجاجاً استعفا ورکړه.

د بنګله دېش د بېلېدو په وجه او د هغې نه پېدا شوې غېريقينې حالت کې بهټو په ۱۹۷۲ء کې به دې راضي شوی و چې بلوچستان او صوبه سرحد کې

به د انتخابي نتيجې په بنياد ګوندونه صوبايي حکومتونه جوړوي . بلوچستان کې د نېپ خلاف د عملياتو د جواز په لړ کې هغه وويل چې د بلوچستان حکومت فېدرالي اساسي قانون کې ورکړی شوې صوبايې اختيار نه خطرناکې ارادې سره وراوړېدلی دی او د نېپ بلوڅ مشران د عراق او شوروي اتحاد په لمسون د پاکستان او ايران د ړنګولو دسيسې جوړوي . عجيبه ده چې کله بهټو د پاکستان او ايران دواړو نومونه په يوځای اخيستل، نو افغانستان يې په هغو ورانکارو کې ياد نه کړو چې د هغو دوو پلوي هېوادونو په ړنګولو کې يې څه لاس درلود . کېدی شي چې هغه د پنجاب او د ايران د پاچا تر فشار لاندې د صوبايې خپل اختيار د عملي کولو په باره کې بل فکر ته مجبور شوی و او داسې بانه يې لټوله چې د بلوڅو او پښتنو هغه ملتپالنه ښنې ښنې کړي، کومې چې د ۱۹۷۰ء په انتخاباتو کې د نېپ د ګټې نه نوی ژوند موندی و . بلوچستان کې د حالاتو د انکشاف کوم تاويل چې هغه وکړ هغې ورته داسې دا موقع هم برابره کړه . بېشکه بهټو ته معلومه وه چې د بلوچستان د حکومت ړنګولو پسې به د صوبه سرحد ايتلافي حکومت استعفا ورکوي . په داسې کولو سره هغه په يو کانړي دوه مرغی وويشتې.

د بلوڅو خلاف چې د پاکستان پوځ کوم وحشيانه جنګ ونښلاو د هغې په نتيجه کې افغانستان ته د تښتېدونکو بلوڅو شمېر زياتيده . هغوی د کندهار او کلات په ولايتونو کې پنا وموندہ . د دې نه وړاندې د ايوب خان د رژيم خلاف پاڅون کې هم هغوی هغو ځايونو ته اوړېدلي وو . افغانستان هغه بلوچ د ازادۍ مبارزين ګڼل، او د پاکستاني حکومت په خيال هغوی د انصاف نه تښتېدلي وو . بهټو په سپينه سترګه افغانستان باندې تور لګاو چې د بلوچستان په اړيګړي کې لاس وهي . د هغه د وېنا مطابق د افغانستان د ملاتړ نه بغېر داسې کېدی نه شو . هغه چا د پاره چې پاکستاني اداري سره د بلوچو د روابطو د تاريخ نه خبر وو، د دې تورونو اتبار نه و پاتې . دا ښکاره وه چې پاکستان يو ځلې بيا د خپلو غلطيو دپاره دقربانۍ ګډوری لټولو . اوافغانستان ورته په فطري ډول تيار ولاړ و.

د تېرو وختونو غوندې افغانستان په وينه شريکو پښتنو او بلوڅو باندې راغلي آفتونو نه سترګې نه شوې اړولې . بلوڅو ته چې کوم کومك ورکول کېدو هغه ببخي د افغانستان د پخې کړنلارې له اصولو سره سم و، چې د پاکستان حکومت ترېنه ښه خبر و . کله نا کله به جنګيالي بلوڅ قبايل افغانستان ته ننوتل چې سا واخلي، ځان راټول کړي يا د پاکستاني ګزمې نه پټ شي . هغه ډلې به عموماً بلوچستان ته واپس کېدلې چې د پاکستاني فوځ خلاف جنګ کې بيا برخه واخلي . د افغانستان حکومت نه غوښتل او نه يې کولی شو چې د پولې پورې راپورې تګ را تګ ته مشکلات پيدا کړي .

د بلوڅو د بګټي قبيلې مشر سردار اکبر بګټي د بلوچستان والي وټاکل

شو خو د ۱۹۷۳ء په نومبر کې په صوبه کې د پاکستان له خوا د روانو ظلمونو خلاف هغه استعفا ورکړه. ځرنګه چې يو بلوڅ والي هم د اسلام آباد په هېلو پوره نه ختو، نو مرکزي حکومت د صوبې واك په خپل لاس کې واخيست. پاکستاني پوځ سره په جنګ کې بوخت قبايلو د پاره د بهتيو لخوا بيا بيا د عام بخښنې اعلانونو څه نتيجه ور نه کړه. بلوڅو په مرکزي حکومت څه اتبار نه درلود. دي نه پرته د هغو هلوځلو فوري مقصد دا و چې د بلوڅو مشران دې خوشې کړی شي، د ۱۹۷۰ء د انتخاباتو په اساس دې صوبايي حکومت په حال کړی شي او صوبې ته دې خپل اختيار ورکړی شي. ښکارېدله چې مرکزي حکومت يو موضوع ته هم جدي پاملرنه نه ورکوله. د بلوڅو مشرانو مقدمه اوږدېدله، په هغه حال کې چې بهتيو او د هغو ملګرو له هغوی سره په محبس کې پټې کتنې هم کولې او هغوی ته يې دړکيزه مشوره ورکوله چې باغيانو ته د وسلې کېښودلو د پاره ووايي. خو څه لوزنامه نه شوه کېدلی. مشران په محبس کې وو، کله نا کله به چا مجسترېټ ته پېش کړی شو، او بلوچستان کې جنګ روان و.

ايران چې په هغو وختونو کې پاکستان ته د درېو مليونو ډالرو په اندازه کليز کومك ورکاوه، د ۱۹۷۴ء په نيمايي کې د بلوچستان د جنګ د پاره د متحده ايالاتو جوړ هويي کوبرا (Huey Cobra) هېليکوپټرونه هم لېږلي وو. ايران سره د افغانستان روابط په ښه ډول پر مخ روان وو، خو د افغانستان حکومت ايران ته په يو دپلوماتيك ليك کې په هغو پېښو خپله خواشيني ځرګنده کړه. د ايران جواب چې څنګه هېله کېدله هم هغه شان و. هغې ويل چې بلوچستان کې بغاوت د کمونستانو دسيسه وه او ايران چې بهتيو ته بلوچستان کې جنګ د پاره هر څه ورکول، د هغو مقصد داوه چې په هغه ولايت کې او له هغه ځايه سويلې ايران ته د کمونيزم خورېدنه وتمبوي. د بلوڅو منابعو مطابق د هويي کوبرا کيسه پاکستان ته د ايران له خوا د نظامي مرستو د نورو ډېرو کيسو څخه يوازې يوه هغه وه. هغو منابعو دا باور درلود چې په بلوچستان کې د بغاوت د پېل نه پاکستان باقاعده ايران څخه نظامي مرستې تر لاسه کولې. اګرچې کابل د هغو خبرونو په صحت کې اشتباه نه کوله، خو داسې څه پوخ ثبوت نه و مخې ته راغلی چې د هغو تصديق يې کړی وی.

د ۱۹۷۶ء له نيمای نه مخکې د ايران پاچا په ولسي بيانيو او مرکو کې د پاکستان د خاورې د تماميت په هکله د خپل حکومت ژمنه په زورورو ټکو کې تکراروله. خو له افغاني مشرانو سره په خصوصي خبرو اترو کې کله هم پاچا داسې اشاره نه وه ورکړې، چې د افغانستان له خوا د پاکستان د رنګولو د هڅو په هکله بهتيو څه ويل هغه رښتيا وو، يا دا چې د پښتونستان په هکله د افغانستان ادعا د هغې هېواد شته والي ته خطره پېښوله. د ايران او پاکستان تر مينځ د نزدو

اړیکو په اړه د افغانستان د موقف په باره کې د هغه پوهه او د هغه ظاهري اعتدال د ذکر وړ وو. یوه خبره چې پاچا پرې همېشه اصرار کولو د افغانستان او پاکستان تر مینځ زر تر زره د اختلاف د حل ضرورت و، چې شورویانو ته خپلې ګټې د پاره د هغې حالت شاربلو موقع ور نه کړي.

دا ایرانیانو دا مېلان په رېکارډ راوستل مهم دي، نه صرف دې د پاره چې افغانستان او پاکستان دواړو سره یې دوستي وه بلکې د افغانستان او پاکستان تر منځ د اختلاف د حل په لټولو کې یې لوی رول لوبولو او خپلې هغه هڅې یې جاري ساتلې. دا راز د افغانستان او پاکستان تر منځ د اختلاف په عکس العمل کې د دوو نورو اسیایي هېوادونو ذکر هم پکار دی؛ وړومبنی هېواد د پاکستان یو نزدې ملګری چین دې، او دویم په سیمه کې د پاکستان لوی دښمن هندوستان دی.

افغاني مامورینو ته داسې محسوسېدله چې په ۱۹۷۳ء کې د جمهوریت په جوړېدلو چین خپه و. د هغې له خوا د هغو پښتنو او بلوڅو، چې د هغې د نزدې پلوي د پاکستان دننه سرحدي سیمه کې اوسېدل، د خپل اختیار د حق حمایت خو پرېږده. خو د ولس مشر داود وروړ او د باندېنیو چارو وزیر محمد نعیم چې د ۱۹۷۴ء په پېل کې د چین سفر وکړ او خپل زوړ رنځور دوست چو اېن لایي یې ولېد، نو د جمهوریت په هکله د چین په روش کې تحمل پېدا شو. هغې نه پس چین هغه نوی رژیم د روسیانو د چلول پېداوښت نه ګڼلو. او د پښتونستان په هکله د افغانستان خبرو ته یې غوږ کېښنود.

هندوستان د پاکستان په هکله خپله دوېی ځان له شاربله. په خصوصي ډول د پښتونستان د مسئلې باره کې د هغو حمایت او په ولسي سویه د هغو غرضي خاموشی افغانانو نه خوښول. د هندوستان او افغانستان په مشترکه اعلامیو کې هم هندوستان د افغانستان او پاکستان تر مینځ جګړې او په سوله یزه توګه د هغې د حل ضرورت ته د ښکاره اشارې کولو نه تېرېده. کله به چې افغانانو پرې زور واچولو چې د افغانستان د موقف په حمایت کې په ولسي سویه خپل موقف زیات واضحه کړي، نو هغوی به خپل تل تکراره دلیلونه پېل کړل چې په جار ولسي څرګندونې د هغو له طرفه د هندوستان د استقلال د ۱۹۴۷ء د قانون د منلو او د هغوی له خوا د پاکستان په موجوده صورت کې پېژندلو سره سمون نه خوري. افغانانو داسې ګومان کاوه چې د کشمیر مسئله، چې پاکستان د خپل اختیار د حق یوه مسئله ګڼله او هندوستان ټینګار کاوه چې هغه د تجزیې غوښتنې یوه معامله وه، هم هندوستان په ولسي سویې د افغاني ادعا د حمایت نه راښکلو، ولې چې هغې هم پښتنو او بلوڅو د پاره د خپل اختیار د حق تامینول غوښتل.

هندوستان د افغانستان د موقف حمایت ته غاړه نه کېښوه، خو دوړ
هېوادونو، پاکستان سره د راښکلو روابطو په اساس، سیاسي غرضونو د پاره به
کله نا کله خپلې دوستۍ کې د مبالغې نه کار اخیست. دې د پاره هغو لیکنو ته
زیات اهمیت ورکول نه وو پکار چې د هندوستان او افغانستان په مشترکه
اعلامیو کې شاملېدل، د مثال په ډول: "دواړه هېوادونه په "سیاسي"، اقتصادي
او په سیمه کې په نورو انکشافاتو په نزدې تماس ساتلو اتفاق کوي"[11] د داسې
قسم ژبې نه مراد د پاکستان نارامه کول وو. د محمد نعیم او د سرون سنګهـ (د
هندوستان د باندېنیو چارو وزیر) په مینځ کې په ۱۹۷۴ء کې چې کوم تش د نامې
تفاهم شوی و د هغې په هکله هم داسې وه. د هغې په لړ کې د هندوستان د
باندېنیو چارو ځینو مامورینو دا ګنګوسه خوروله چې هغه د پاکستان خلاف
فعالیتونو کې د هندوستان او افغانستان تر مینځ د همکارۍ په لور یو لوی ګام
و. په حقیقت کې هغه "تفاهم" نور څه نه و خو د دوو سرو تر منځ خبرې اترې وې،
او هغوی دا خواهش ظاهر کړی و چې افغانستان او هندوستان به یو بل پاکستان
سره په خپل خپل سرحد د پاکستان د پوځي مانورې او نورو د ورانکاریو
فعالیتونو نه خبروي. زما د پوهې مطابق د هغې خاص نتیجه نه وه ترلاسه شوې.

په دې هڅه کې چې پاکستان د اسلام اتل وښايي او عربو ته ځان نزدې
کړي، بهټو د ۱۹۷۴ء د فرورۍ په ۲۱مه نېټه په لاهور کې د اسلامي سر مشرانو
یوه غونډه جوړه کړه. پاکستان کې په یو څو کالو کې د داسې قسم دا دوییمه
غونډه وه. لاهور ته د اسلامي دولتونو سر مشرانو کې محمد داود هم بللی شوی
و. هغه ته بلنه د پاکستان د خارجه او نظامي چارو وزیر عزیز احمد د جنورۍ په
اخر کې سپارلې وه. د جمهوریت د جوړېدو نه وروسته هغه د پاکستان وړومبنی
د لوړې رتبې مامور و چې افغانستان ته یې رسمي سفر کړی و. یوه لنډه کتنه کې
سردار محمد داود عزیز احمد ته وویل چې هغه به لاهور ته د تګ هڅه کوي خو،
کېدی شي، د دولت چارې هغه د داسې کولو نه وساتي.

پاکستان سره د اړیکو په رڼا کې او بلوچستان کې د روان جنګ په وجه
سردار محمد داود لاهور کې د سرمشرانو غونډه کې خپل ګډون مناسب ونه ګڼلو.
معتبر افغان دپلومات عبدالرحمان پژواک غوره کړی شو چې د دولت د رییس د
خصوصي استازي په ډول نمایندګي وکړي. (زه هم د افغاني هیئت غړی وم) تقریباً
د ټولو اسلامي هېوادونو سر مشران د لاهور غونډې ته راغلي وو، خو د ایران د
پاچا نیشتوالی څرګند و. د غونډې ریاست بهټو کاوه.

غونډې ته په خپل مخصوص خطاب کې پژواک اسلامي نړۍ ته په
عمومي ډول د پېښنو مسئلو په هکله د خپل حکومت د کړنلارې او حیثیت د
وضاحت نه پس، د برخه والو پام بلوڅستان کې پاڅون ته وګرځاوه، او لږ څه

تفصيل سره يې د افغانستان او پاکستان تر منځ د موجوده سياسي جګړې وضاحت وکړ . هغه دا خواهش څرګند کړ چې د اسلامي ملتونو هغه جرګه به په سيمه کې سولې او امن ته پېښېدونکو خطرو باندې پوه شي . هغه هېله ښکاره کړه چې اسلامي هېوادونه به د هغو مسئلو د پرامن حل په لټون کې مرسته وکړي . د هغه د وينا په ختمېدو جرګه کې د ناستو خلکو د مخونو د تأثر نه داسې ښکارېده چې افغانستان که هغه معاملې نه وې اوچتې کړې نو هغوی به ډېر خوشال وو .

لاهور ته د افغاني هيئت د روانېدلو نه يو څو اوونۍ مخکې افغاني مشرتابه د لاهور د سرمشرانو غونډه کې بلوڅستان کې د جنګ او د پاکستان او افغانستان تر منځ د موجوده جګړې د ذکر په مناسبت غور کړی و . هغې غونډو کې د ځينې افغاني مامورينو دا خيال و، ښه به دا وي چې د کوربه هېواد د احترام او د عربو او نورو د پاکستان دوست اسلامي هېوادونو د خوشالولو په خاطر، دوه اړخيزه معاملې هلته اوچتې نه کړی شي . د حکومت نورو مخورېزو غړو په دې زور ورکړ، که اسلامي مضبوطوالی څه مقصد لري نو د سرمشرانو غونډه ډېر موزون ځای و چرته چې د بلوڅستان او د افغانستان او پاکستان د اړيکو مسئلې پورته کول پکار وو . که د اسلامي سر مشرانو غونډې د پاره د اسلامي بلوڅستان او دوو اسلامي ګاونډيانو تر مينځ جګړه څه مسئله نه وي، نو دا به د نور چا مسئله وي؟ دې نه پرته هغوی په دې ودرېده چې داسې اهمې اسلامي غونډه کې د بلوڅستان په حالت خاموشي به دا مانا ورکړي چې د ازادۍ د هغو بلوڅو مبارزينو په حق کې د افغانستان حمايت کمزوری و، چا چې هغه وخت په سختو مشکل حالاتو کې ژوند کاوه . دې د پاره د دې عمل د ګټورتيا په هکله لږ څه تردد سره دا فېصله وشوه چې د لاهور غونډه دې د دې مسئلو نه او د هغو نه چې د دې سيمې امن ته خطره پېدا کوي، خبر کړي . د جمهوريت له زېږون نه پس دا رومبنی کوښښ نه و چې په يو بين المللي غونډه کې دا مسئلې اوچتې شوې . افغانانو مخکې هم بلوڅستان کې جنګ او د افغانستان او پاکستان تر مينځ شخړې سره تړلې مسئلې ډېر زور سره د کال ۱۹۷۳ء د ستمبر په مياشت کې په الجزاير کې د ناپيېللو هېوادونو د دولتونو او حکومتونو د مشرانو په څلورمه غونډه کې (هغه وخت پاکستان د هغې خوځښت غړي نه و)، او هم هغه کال د اکتوبر په مياشت کې د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله کې هم پېش کړې وې .

په لاهور کې د افغاني بيانيې پر خلاف څه ښه يا بد سملاسي عکس العمل څرګند نه شو . کېدی شوه چې زياتو منسوبينو نه غوښته چې کوربني حکومت ته پرېشاني پېدا کړي يا يو ملګري له اسلامي دولت سره په داسې مسئله کې ونښلي چې د هغې باره کې ورته ډېر معلومات نه وو . د الجزاير ارواښاد ولس مشر بومېدين، چې همېشه به مشورې ورکولو ته چمتو و، وينا ته ودرېد او برخه

والو ته يې سوال وکړ چې د سرمشرۍ په هغه غونډه کې دوه اړخيزه مسئلې دې نه اوچتوي، هسې نه چې د خپل اصلي هدف يعنې د عربو او اسرايلو تر مينځ شخړې او نورو ترلو مسئلو نه ورغړي . د پاکستان د نماينده په حيث، بهټيو د افغاني بيانيې د جواب خپل حق په مختصر ډول ادا کړ، او هغې له يې د پاکستان په کورنيو چارو کې د افغانستان د لاس وهنې د يو مکمل ثبوت رنګ ورکړ . هغه غونډې ته وويل چې د هغو دوو هېوادونو تر مينځ هيڅ قسم له سياسي اختلافات نه وو، او په بلوچستان کې حالات دې نه پخوا چرې هم دومره ښه نه وو . عربو نمايندګانو دا خواهش څرګند کړ چې افغانستان دې اختلافي دوه اړخيزه مسئلې لاهور کې نه اوچتوي . افغانانو عربو ته ډاډ ورکړو چې هغوی په هغه ځايې کې هغه معامله نوره نه تعقيبوله .

د افغانستان د بيانيې منفي جواب د هېلې خلاف نه وه، خو دا ټوله معامله که د افغانستان د عمومي ډيپلوماتيکو هڅو په رڼا کې وکتل شي چې د بلوچستان جنګ او د افغانستان او پاکستان تر مينځ موجوده شخړې ته د باندې نړی پام وګرځي، نو بيا د افغانانو د ډاډ څه جواز يې درلود .

د افغاني بيانيې نه پس د سرمشرېزې غونډې په دوران کې پاکستانيانو په افغاني هيئت باندې توره ټاپه ولګوله . د غونډې سېکټرېټ (ليکتون) چې د پاکستانيانو په واك کې وه په ناڅاپي ډول د افغانستان هيئت ته مناسبو اسانتياو برابرولو کې سانيولی شو . افغاني هيئت ته سندونه په وېش کې باقاعده نه ورکولی کېده، او د هغو مهمو سندونو مسوده به، چې افغانانو به ورسپارله چې دوباره جوړه او يوې مخصوصې غونډه کې ووېشلی شي، د غونډې په اخر کې وېشلی شو . ليکتون به د سيمه يزو ډلو د رسمي غونډو هغه وختونه افغانانو ته نه ښودل، چې د کانفرنس په تنظيم کې يې ډېر اهميت درلود . پاکستان چې کوم دعوتونه ورکول هغو ته به يې هم افغانان نه بلل .

د هېلې سره سمه په لاهور کې د افغاني بيانيې څنګيزه نتيجه دا وخته چې د افغانستان او پاکستان تر مينځ د شخړې ختمولو په لړ کې معمرالقذافي ناڅاپه خپله علاقه وښوده . د افغاني بيانيې د اورېدلو د دريو ساعتونو نه وروستو د لېبيا ښتوله مشر لاهور کې د خپل استوګنځي نه د شپې دوه بجې محمد داود وغوښته . زه چې د راولپنډۍ نه واپس شوم نو سردار محمد داود هغه نااشنا کيسه ماته وکړه . هغه په ډوب خوب ورغلی وه چې ټېلېفون ولړزولو . اول خو د هغه دا خيال وه چې لاهور نه کوم يو افغاني وکيل څه هدايت غوښتلو د پاره ټېلېفون کړی وه . هغه چې پوهېدلو چې په بل سر بل څوك نه وو بلکې قذافي وه، نو دوه دقيقې به تېرې شوې وې . په ماته ګوډه انګليسۍ کې چې سردار محمد داود پرې په مشکله پوهېدی شو، قذافي دا خواهش څرګند کړ چې د افغانستان ولس مشر دې

په بله ورځ لاهور ته ورشي او ورته يې وويل چې د لاهور سرمشريزه غونډې ته د هغه راوستلو د پاره به هغه خپله الوتکه ولېږي. قذافي زياته کړه چې افغاني وکيل کومې معمولي شخړې پېش کړې وې د هغو نه د اسلام ټينگتيا زياته ضروري وه .ټېرته له دې پاکستان د اسلام يو قوي سنگر و او د ټول اسلامي هېوادونو د مينې حق يې درلود. د سردار محمد داود په خيال قذافي دا ويل غوښتل، هغه ته دا يقين وه چې هغه که لاهور ته لاړ شي نو افغانستان به راضي کړی شي چې پاکستان سره خپلې جگړې نه لاس واخلي، ځکه چې هغه معامله په حقيقت کې دومره مهمه نه وه.

په گډه وډه انگليسۍ او عربۍ کې سردار داود قذافي ته سپينه کړه چې د ځينو ټاکلو ناوزگارتياو په بنا لاهور ته د هغه تگ ممکن نه و. له پاکستان سره د جگړې په لړ کې سردار داود هغه ته وويل چې لاهور ته په يو لنډ سفر کې د يو داسې مسئلې حل مشکل و چې د پاکستان د عمر نه زړه وه. خو هغه خپل يقين په اشارو کنايو کې څرگند کړ، چې د قذافي غونډې اسلامي مشرانو که هغې معامله کې جدي او بېطرفه دلچسپي واخستله نو کېدی شي چې د موجوده بوختې نه د وتلو لاره ومونډلی شي. سردار محمد داود قذافي ته ډاډ ورکړ چې هغه د پاکستان خلکو سره ډېره زياته مينه لرله او هغو ته د افغانستان له خوا د وېرې ترهې څه ضرورت نه و. د ټېلېفوني تماس نيولو د پاره سردار داود د قذافي نه مننه وکړه او هېله يې څرگنده کړه چې په راتلونکي وخت کې به يوه ورځ راشي چې هغوی په کابل يا په ترېپولي کې ووينې. د دې هيڅ پته و نه لگېده چې قذافي د سردار داود په جواب څومره پوهېدلی و. خو سردار داود د هغې غېر معمولي ډپلوماتيك تماس د ملنډې په چروت کې داسې لنډ کړ: "زه صرف دا هېله کولی شم چې هغه به داسې فکر و نه کړي چې زه په خوب کې غړېدلم"

د سرمشرېزې غونډې ختمېدلو سره په دې معامله کې د قذافي علاقه ختمه نه شوه. په راتلونکو مياشتو کې هغه اول خپل د باندېنيو چارو صلاکار علي توريکي او بيا خپل سر مرستيال عبدالسلام جالود کابل ته ولېږه چې د افغانستان او پاکستان تر مينځ د روغې راوستلو په لړ کې د لېبيا د ښو هڅو د پاره لارې ولټوي. په هر حال د پاکستان په حق کې د قذافي اورنۍ پلوتيا د افغانستان او لېبيا د ايلچيانو په مينځ د څه قسم جدي خبرو په لاره کې خنډ شوه.

د اسلامي کانفرنس د هغه وخت د پوخ ليکتون سر منشي حسن التوهامي هم د کال ۱۹۷۴ء په جون او ستمبر کې د مسئلې د روغې راوستلو په هڅو کې پاتې راغلو. دې ناکاميو نوره واضحه کړه چې د افغانستان او پاکستان تر مينځ د جگړې زړې داسې يو نوغې و چې د هغې پېښنيز حل د دريمې ډلې مينځگړتوب نه منلو. بېشکه يوه داسې سياسي هڅه پکار وه چې د دواړه

هېوادونه مخ په مخ خبرو ته کېنوي .

د مخامخ خبرو په لاره کې لويې خنډ د دواړو هېوادونو تر مينځ موجوده اختلاف نه د پاکستان انکار وه، چې د افغاني فکر مطابق د پښتنو او بلوڅو د حقونو ورکولو او تامينولو سره تړلی و . د پاکستان په خيال له افغانستان سره د سياسي حل د منلو به دا مطلب وو چې پاکستان کې د اوسېدونکو پښتنو او بلوڅو د قسمت فېصله په حتمي ډول لا نه وه شوې او افغانستان سره خبرو ته خلاصه وه . داسې موقف په پښتنو او بلوڅو باندې د پاکستان د حاکميت سره بېجوړه وه . پاکستان دا دليل ورکولو چې د دواړو هېوادونو تر مينځ تجارتي، ټرانزېټي، د کوچيانو، او هم د افغانستان له خوا د ډيورنډ کرښې د پېژندلو "اختلافونه" وو . خو هغه د پښتنو او بلوڅو د حقونو په اړوند په اساسي مسئلو هيڅ قسم له خبرو منلو ته چمتو نه وه، ولې چې هغه يې په پوره ډول د خپل کورنۍ واکسيمې په چوکاټ کې ګڼلې . افغاني مشران په دې ولاړ وو چې هغوی له پاکستان سره د يو نه پرته بل څه اختلاف نه درلود؛ او هغه د پښتنو او بلوڅو د حقونو ورکول او تامينول وو . د دې حل ممکن وه، خو په هغه حال کې چې دواړه خواوې حساسيت د ځانه وښندې او مسئلې ته په مناسبه توله تحمل، ارت زړه او پراخه نظر سره وروخوځي . د افغانستان دا خيال وه چې تر څو د پښتنو او بلوڅو مسئله په ډاډه توګه حل شوي نه وي، د دواړو هېوادونو تر مينځ د اړيکو ښه کېدلو امکان نه وه . پاکستان هم منله چې د دواړو هېوادونو تر مينځ د اړيکو په لړ کې مخ په ځوړ فکر سرچپه ګرځول يو ضرورت وه، خو حالات د پاکستان د عملياتو په سبب نه بلکې دافغانستان لخوا خړپړ شوي وو .

د افغانستان د جمهوريت د زېږون نه د پاکستان حکومت د سردار داود رژيم مسئول ګڼلو چې د بلوڅو د پاڅون د مرستې او په سرحدي صوبه او د پاکستان په نورو ځايونو کې د بمونو د چاودنو او ورانکاريو مسئوليت يې په غاړه لرلو . د کال ۱۹۷۴ء د اکتوبر ۲۴م نه تر ۲۶مه پورې، بهټو شوروي مشرتابه ته هم خپل يقين څرګند کړ، چې افغانستان د بلوچستان په پاڅون کې فعاله ونډه لرله او د نېپ په سلا په سرحدي صوبه کې د فساد د چېې شاته ولاړ وه . په دې ګومان چې شوروي اتحاد په کابل کې ډېر نفوذ لرلو، هغه په شوروي مشرانو زور واچولو چې افغانستان د پاکستان په کورنيو چارو کې د لاسوهنې نه منع کړي . اګر چې د اکتوبر په ۲۴م دعوت کې شوروي صدراعظم کوسيجين د خپل حکومت په دې خواهش زور واچولو چې پاکستان دې "زمونږ دوستانه افغانستان"[۱۲] سره اړيکې عادي حالت ته راوګرځوي، خو د سفر په اخر کې چې کومه ګډه اعلاميه خوره شوه داسې ښکاربدله چې د افغانستان او پاکستان تر مينځ د "سياسي اختلاف"، چې د افغانستان اساسي موقف وه، پر ځای د "اختلافاتو" ذکر د پاکستان موقف ته

مناسبه پاملرنه ورکړی شوې وه . اعلامیې دا هېله هم څرګنده کړې وه، چې د افغانستان او پاکستان تر مینځ به دا جګړه "په امن د ګډ ژوند تېرولو د اصولو په اساس"[۱۳] د امن د لارې حل کړي . دا ذکر د ضرورت وړ نه دی چې څنګه بهتو هېله لرله هغسې شوروي په افغانستان زور وانه چولو چې د پاکستان په مقابله کې د خپل موقف نه وخوځي . دا هم کتل پکار دي چې هغه وخت د شوروي او افغانستان په ګډه اعلامیه کې د افغانستان او پاکستان تر مینځ روسیانو د "یو سیاسي اختلاف" شتوالی منلی و، چې د افغانستان له موقف سره جوړېده .

کال ۱۹۷۴ء چې ختمېدو نو په سرحدي صوبه کې د فساد یوه غلغله پورته شوې وه . د عنایت الله خان ګنډه پور صوبایي حکومت پښتانه مطمئن کړي نه وو، بلکې له بلوچستان سره یې د هغوی د پښتون خوځښت، چې په سرحد کې یې هم سر پورته کړی و، نور تینګولو . (د ګنډه پور حکومت د عبدالقیوم خان د پخواني مسلم لیګیانو او د بهټو د پاکستان د پیپلز پارټۍ یعنې د پاکستان د خلکو ګوند یو ایتلاف وه) . د بمونو چاودنو د ورانکارۍ کارونه او د رېل ګاډي د اوړېدلو پېښې زیاتېدلې . د وېرې دا چپه د سندهـ صوبې ته هم ورسېدله، چرته چې د سندهو دېش په نوم د ازادۍ یو خوځښت د جوړېدلو په حال کې وه . پنجاب هم بچ نه وه . هلته هم چاودنې کېدلې . د پاکستان حکومت دا تور په افغانستان لګولو چې د نېپ په مرسته یې حالات خرابول .

د یو شمېر کودتایي هڅو باوجود د سردار محمد داود د حکومت ټینګتیا (اتم در وګورئ) شاید بهټو ته غصه وروستې وه . هغه افغاني منحرفینو ته چې زیاتو د اخوان المسلمین سره تعلق لرلو وسله ورکول پېل کړل او افغانستان کې دننه په مختلفو ځایونو بریدونو ته یې ولمسول . د هغوی د عملیاتو مینځتونونه پاکستان کې وو . دا بریدونه په ۱۹۷۴ء کې پېل شول او د ۱۹۷۵ء په ګرمۍ کې بام ته وخاته، چې ځینې اخوانیان د کابل په قطبي ختیځ کې د پنجشېر ناوې دننه په بریدونو کې بریالي شوي وو . اګرچې پنجشیر ته ننوتلو کې هغوی ډېر بد بد ناکام شول . خلك په خپله د امنیتي قواو د رسېدلو نه مخکې د برید کونکو په ختمولو کې بریالي شوي وو . خو دې پېښو د سردار محمد داود د ارادو خلاف د پاکستان وسوسه برخېره کړه .

افغانستان کې د اخوانیانو د بریدونو نه پرته، پاکستاني الوتکو به اکثر وختونو کې د افغانستان هوایي سیمو ته ننوتلې . د ۱۹۷۴ء په اګست کې د پاکستان یو نظامي هېلېکوپټر چې تېل یې ختم شوي وو د ننګرهار په یو لرې پروت کلي ناړۍ کې کوز شو او افغاني پولیسو ونیولو . هغه سندونه او نقشې چې هغې هېلېکوپټر نه لاس ته راغله، ثابتوله چې هغه د جاسوسۍ په وظیفه وه . او د ننګرهار او لغمان ولایتونو کتنه یې کوله . د دوو میاشتو د تحقیقاتو نه پس

هېلېکوپټر او د هغې د عملې نفر پاکستاني مقاماتو ته واپس وسپارلی شول خو سندونه او نقشې ایساري کړی شوې. پاکستانیان تر آخره په دې خبره ولاړ وو چې هېلېکوپټر د پاکستان دننه په کتنه ټاکلی شوی و. د هغې تېل ختم شوي وو او د ناکامه د افغانستان په حدودو کې کوز شوی و. پاکستاني مقاماتو نه د دې تصدیق چرې هم و نه شو چې د هغې تېل که واقعي د پاکستان په هوایي سیمه کې ختم شوي وو نو د ګرمۍ په یوه رېه ورځ هغه هېلېکوپټر د افغانستان دومره دننه ولې کوز شوی و. د سندونو او نقشو په هکله پاکستانیانو داسې اشارې ورکولې چې هغه افغانانو پخپله په ډېر هنر جوړ کړي وو او د هېلېکوپټر د نیولو نه پس سم د لاسه یې په کې ځای په ځای کړي وو. دې پېښو نه پس د افغانستان او پاکستان تر مینځ اړیکي نور خرابېدل. دواړه هېوادونه د نښتې په لور روان وو.

د ۱۹۷۴ء په آګست کې د ایران د باندېنیو چارو وزیر عباس علي خلعتباري د کابل سفر وکړ. هغه دا سلا ورکړه چې د دواړو هېوادونو تر مینځ که په ټیټه سویه، عن په غېر رسمي ډول، خبرې پېل شي، نو هغه به حالات نور خرابېدلو نه تمبولو کې مرسته وکړي. د هغه دا یقین و چې نه تماس نه لږ څه تماس ښه دی، او قسمت که یاري وکړي نو وخت په وخت د ټیټې سویې خبرې به یوې لوړ رتبه غونډې ته لاره جوړه کړي. د ترکیې د باندېنیو چارو وزیر ایشان صابري چېلیانګېل هم داسې نظر پېش کړ. د هغې مشورې په هکله شاید د بهټو خوښه لټولی او اخستې شوې وه. بلوچستان کې چې پاکستان د پاره حالات کړکېچن وو نو بهټو د افغانستان او پاکستان تر مینځ ساډوبی ختمول غوښته. افغانانو ته هم دا مشوره ښه ښکاره شوه. هغوی فکر کاو چې هغو غېر رسمي خبرو کې، پاکستان به لږ نه لږ دې ته وهڅولی شي چې بلوچستان کې عملیات کم کړي. له دې نه پرته د باندېنیو چارو په وزارت کې داسې محسوسېدله چې د دې غېر رسمي غونډو په صحیح ډول رهنمایي کولو سره به، لکه چې افغانانو فکر کاو، هر قسم له معامله اوچتېدلی شوه چې په یو وخت کې د دواړو هېوادونو تر مینځ سیاسي روغې ته رسېدلی شوه.

افغانستان ایران او ترکیه خبر کړه چې هغوی به د ټیټې سویې غېر رسمي خبرو یوه تجربه وکړي، په دې شرط چې هغو سره څه شرطونه نه وي. په عارضي توګه ومنلی شول چې وړومبنی تماس دې د افغانستان د باندېنیو چارو د وزارت مرستیال او د پاکستان د باندېنیو چارو منشي په مینځ کې په کابل کې د کال ۱۹۷۵ء په مارچ کې وشي. د پاکستان ډپلومات به کابل ته په غېر رسمي سفر کوي او د پاکستاني سفیر مېلمه به وي چې بېځایه تبلیغات و نه شي.

د کال ۱۹۷۵ء په پېل کې د ملګرو ملتونو سناتور چارلس پرسي هم د پاکستان د اېلچي محمد نعیم او عزیز احمد په مینځ کې یوه غونډه په کتهمنډو

کې جوړه کړه. هغه درې واړه د نیپال د پاچا د مړینې آخري رسمونو کې د ګډون د پاره تللي وو. نعیم او عزیز دوستانه خبرو کې په دې راضي شوي وو، چې د اړیکو د ښه کېدلو په هکله هغوی به خپل خپل حکومت ته مشوره ورکړي چې په رادیو د پروپاګنډ اواز لږ ټیټ کړي. دواړو حکومتونو د خپلو نمایندګانو مشورې ومنلې.

د ۱۹۷۵ء د فرورۍ په اتمه نېټه د صوبه سرحد د کورنیو چارو وزیر حیات محمد خان شېرپاو چې د بهټو ذاتي دوست او د مرکزي حکومت یو غړی هم پاتې شوی و، د بم په یوه چاودنه کې ووژول شو، کله چې هغه د پېښور پوهنتون په یوې رسمي غونډه کې ګډون کولو. اتلس نور نفر چې زیات پکې زده کوونکي وو ژوبل شوي وو، په هغوی کې یو مړګونی و[۱۴]. د شېرپاو د وژلو په لړ کې د پاکستان حکومت چې کوم ګامونه پورته کړل هغې د افغانستان او پاکستان تر منځ په کابل کې ټاکلې غونډه ناممکنه کړه او افغان حکومت یې مجبور کړ چې د پاکستان خلاف د پروپاګنډ د ټیټولو په هکله فېصله واپس واخلي.

د پاکستان په هغو ګامونو کې دا شامل وو: په سوونو د نېپ د غړو نیول او محبسونو ته لېږل. په هغو کې د نېپ رییس خان عبدالولي خان هم شامل وه. په نېپ باندې بندېز او د هغې د خپرونو او شتمنیو مصادره. سرحدي صوبه د مرکزي حاکمیت لاندې راوستل. د خلکو د نیولو اختیار زیاتول. او د اضطراري حالت اعلان. درون پښتون مشر او د ولي خان پلار خان عبدالغفار خان هم ونیول شو، حال دا چې هغه د نېپ غړی نه و، او کابل کې له څه مودې جلاوطنۍ وروسته پېښور ته ستون شوی و. د پاکستان حکومت په نېپ تور ولګاو چې د شېرپاو په وژلو کې یې لاس درلود او هغه عملیات یې جایز ګڼل. د دې په هکله بل جواز یې دا وه چې یو "ګاونډي خارجي طاقت" په سرحدي صوبه کې امنیت ګډوډ کولو او داسې حالت یې پېدا کولو چې د "صوبایي حکومت د کنټرول نه بهر" وي. دې اعلان زیاته کړه چې د پاکستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنې په لړ کې هغه خارجي حکومت "په مکمله توګه د خود مختاره دولتونو د امن په فضا کې په یوځای د ژوند کولو د اصولو نه سرغړوي"[۱۵]

هغې وړومبنې رسمي اعلامیه کې د افغانستان نوم نه وه، خو د پاکستان د کورنیو چارو وزیر عبدالقیوم خان دا سپینه کړه چې نوموړی خارجي طاقت کوم یو وه کله چې هغه د فرورۍ په ۱۷مه نېټه یوې خپره شوې مرکه کې په افغانستان تور ولګاوه "چې پاکستان د ټولو ورانکاریو عملیاتو کې نېغه په نېغه مسئولیت لري" او وې ویل چې بلوچستان کې د خپلو غرضونو تر لاسه راوړلو کې ناکامۍ نه پس یې خپل ټول وس سرحدي صوبه کې ورانکاریو ته واړولو. هغه زیاته کړه، که افغانستان "د پاکستان په کورنیو چارو کې خپله پرله پسې لاسوهنه" ختمه نه

کړه "نو پاکستان به مجبوراً جوابي کاروايي وکړي"[١٦] . پاکستاني عملياتو د پښتنو او بلوڅو د يو موثر تنظيم په حيث د نېپ توان کم کړ . د نېپ خلاف د عمومي عملياتو هېله کېدله څکه چې هغه د يو لوی مخالف ګوند په حيث اوچت شوی و او د پاکستان په سويه بهتيو او د هغه ګوند ته ترې وېره پېدا شوې وه . پرته له دې د پاکستان انتظاميې به د نېپ غتېدونکی قدقامت چې د پښتنو او بلوڅو د ملتپالی جذبه يې يوې سويې ته لوړه کړې وه، زغملی وی، خو د شېرپاو وژنې بهتيو ته يوه ښه بانه ورکړه چې د نېپ خلاف وخوځي .

د افغانستان حکومت د نېپ د مشرانو په نيولو او د هغې ګوند په ړنګولو سخت عکس العمل وښود . د باندېنيو چارو وزارت په يو بيان کې د نېپ خلاف د پاکستان په "يومخيزه عملياتو" د افغانستان "ژوره خواشيني او اندېښنه" څرګنده کړه او وې ويل چې پاکستان "د نېپ او د هغې د مشرانو خلاف د کوم ثبوت نه بغېر" هغه عمليات پېل کړی و . د باندېنيو چارو بيان الزام ولګاو چې د پاکستان عمليات په سياسي غرضونو اډانه وو، او دا يې تکرار کړه چې د مسئلې يوازېنی حل د بلوڅو او پښتنو د غوښتنو په احترام کې پروت دی[١٧] .

سرحدي صوبه کې اړيکړي د افغانستان او پاکستان تر مينځ اړيکي زيات خراب کړل . اسلام آباد کې د افغانستان د سفارت د باندې تظاهرات يو معمول جوړ شو . يوې داسې مظاهره کې د هغې مشرانو کې يو سفارت ته يو مکتوب ورکړ . په هغې کې "ورانکارو سره د افغان حکومت مېينه مرسته او اجمل ختټک ته، چې په هغو ورځو کې کابل د يو جلاوطن په حيث وسېدلو، پنا ورکول" غندلی شوي وو[١٨] . د افغان سفارت غړو سپينو جامو کې د پوليس يو شمېر مامورين پېژندل چې مظاهرو کې يېګډون کولو او هغې نه مخکې په سفارت باندې يې د څارنې عمومي وظيفه اجرا کوله . افغاني وزير مختار ته د پوستې او ټېلېفون په ذريعه د نامعلومه خلکو له خوا د مرګ دړکې رسېدلې او دا غوښتنه به ترې کېدله چې افغانستان دې په رسمي ډول د پښتونستان د ادعا نه لاس واخلي او اجمل ختټک دې پاکستاني مقاماتو ته وسپاري . افغان حکومت هغه غوښتنې نه منلې .

بلوچستان او سرحدي صوبه کې د اسلام آباد د عملياتو خلاف سخت قهرېدلي پښتانه ملتپال د پاکستاني حکومت خلاف په سخت عکس العمل ښودلو ګرم نه وو . د نېپ د مشرانو بندي کول او د ګوند مصادرې لاندې راوستلو سرحدي صوبه او قبايلي سيمو کې په خصوصي توګه پښتانه په قهرکړي وو . افغانستان په هغو پېښو سترګې نه شوې پټولی، څکه چې قبايلي سيمو نه نمايندګان او جرګې د کومك او لارښودنې د پاره پرله پسې کابل ته راروانې وې . لکه د پخوا هغوی ته افغانانو ښې اخلاقي او مادي مرستې ورکولې . تر څو چې

د لاربښودنې تعلق و نو حکومت دا سپینه کړې وه چې هر څه د پښتنو او بلوڅو مشرانو د خپل راتلونکي وخت د پاره وپیېله، افغانستان به هغه مني او حمایت به یې کوي.

د سردار محمد داود یو شمېر ملګرو چې په هغو کې د هغه د کابینې پاتې پرچمي وزیران ښکاره وو او ځینو مخوربزو پښتنو مشرانو غوښتل چې افغانستان په صوبه سرحد کې د بهتیو د عملیاتو خلاف انتهایي قدم پورته کړي؛ پاکستان سره سفارتي اړیکي غوڅ کړي او د پښتونستان په بابله خپله عنعنوي کړنلاره نبغ په نبغه د سیمې په ادعا بدله کړي. هغه فشار حقیقي او مقصدي و. په هر حال داود خان خپلو ملګرو کې هغه بازان په دې قایل کړل چې د دې کار د کولو د پاره وخت مناسب نه و. دا صرف هم د هغه کارنامه وه چې د افغانستان او پاکستان تر مینځ روابط یې پرمخې لاندې غورځېدلو نه وساتل، او د هغو پیښو د عواقبو په تمبولو یې د افغانستان او د عربو او نورو اسلامي هېوادونو تر مینځ روابط په شا له ګرځولو نه وساتل.

د داسې اړیکړي په وخت کې هم د افغانستان او پاکستان مشترکه دوستانو ایران او ترکیې د دواړو ګاونډیانو تر مینځ د خبرو اترو د تشویقولو په لړ کې خپلې هڅې پرې نښودې. په هر حال په داسې کړکېچن بحران کې د افغانستان او پاکستان تر مینځ خبرې نه شوې کېدلی، چې د نېپ د ځپلو په نتیجه کې راپیدا شوی و. افغانستان دا موقف نیولی و، تر څو چې د نېپ مشران خوشي شوي نه وي او د ګوند نه بندېز لرې شوی نه وي، نو په دوه مخیزه تماس پیل کول ممکن نه وو. اسلام آباد جواب ورکولو چې د نېپ رنګول او د هغې مشران بندي کول د پاکستان کورنۍ معامله وه او افغانستان خبرو د پاره پخواني حالت ته د ګرځېدلو شرط په هیڅ حالت کې نه شو وړاندې کولی. د عبدالولي خان او د هغه د ځینو ملګرو مقدمې عدالتونو کې وې، او د پاکستاني مقاماتو په خیال دا د عدلیې کار و چې د هغوی په اړه فیصله وکړي، فکر نیشته هر څومره وخت چې واخلي. دا راز افغانستان او پاکستان یو ځلې بیا (د چېندرو) ورومبني کور کې وو.

د ۱۹۷۴ء د ستمبر نه پیل شوي، او ۱۹۷۵ء په دوران کې، محمد داود د ملګرو ملتونو ستر منشي کورټ والډهایم ته ډېر مکتوبونه لېږلي وو. په هغو کې د پاکستان په اړه د افغانستان د موقف سپیناوی و او بلوچستان، سرحدي صوبه او دننه افغانستان کې د پاکستان په عملیاتو ملامته ویلی شوې وه. هغه مکتوبونه او د بهټیو جوابونه، د لیکوالو په درخواست د ملګرو ملتونو د سندونو په ډول وېشلی شوي وو. هغو سندونو کې د هغو سختو حالاتو ښه عکاسي شوی ده. د مثال په توګه د ۱۹۷۴ء د ستمبر په ۲۵مه نېټه د والډهایم په نوم مکتوب

کې محمد داود په بلوچستان کې په بشري حقونو د تېرې کولو په بابله پاکستان ملامته کولو نه پس "په بین المللي سویه بلوچستان کې د حالاتو د حقیقت د څېړنې په بابله پاکستان کې د بلوڅو د ازادۍ د مبارزینو د غوښتنې" مرسته څرګنده کړې وه[۱۹]. بهټو په جواب کې د حالاتو د څېړنې په لړ کې هغه مرسته "د پاکستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه" ګڼله، افغانستان یې "د منځنۍ تاریخې دورې یو دولت" یاد کړی و چرته چې د بشري حقونو احترام هډو وه نه، او دې ته یې اشاره کړې وه چې د بشري حقونو د خبرې کولو نه مخکې دې خپل کور سم کړي[۲۰] په راتلونکو میاشتو کې دواړو هېوادونو نور ډېر تراخه مکتوبونه والډهایم ته ولېږل.

کال ۱۹۷۵ء کې یوه ورځ داود ما ته وویل، ستا څه خیال دی د مکتوبونو دې لېږلو څه ډېره موده وانه خسته! ما مثبت جواب ورکړ. هغه وویل؛ "مونږ پېل کړی و او دا زمونږ کار دی چې یې ختم کړ" دا راز د بهټو آخرنی لیک بې جوابه پاتې شو او هغه قضیه تقریباً یو نیم کال نه پس په ناڅاپې ډول ختمه شوه.

د کال ۱۹۷۶ء د مني نه مخکې له پښتنو او بلوڅو سره د افغانستان د مرستې او د دواړو ګاونډي هېوادونو تر مینځ د روابطو تیتوالي موضوعات به افغانستان د ملګرو ملتونو د عمومي جرګې په غونډو او په نورو داسې ځایونو کې پورته کول چې د افغانستان او پاکستان د هیئتونو تر مینځ به یې خبرې تودولې. افغانستان به یو بل موضوع په موذونو بین المللي غونډو کې پورته کولو چې د پاکستان د ډېرې زیاتې وار خطایې لامل جوړېده. هغه د اوچښ.و هېوادونو سمندر ته په ازاده او بېخنده لاره د رسېدلو حق و. پاکستان هغې کې د افغانستان شرارت لېدو چې په سرحدي صوبې او بلوچستان د خپل اختیار سوال یې په غېر مستقیم خو په شعوري ډول اوچتولو، په هغو صوبو کې د افغانستان تجارتي لارې رواني وې، او هغو صوبو کې د سمندر د لارې د باندې نړۍ سره ارزان او محفوظ تجارت جاري ساتلو کې د پاکستان بېځایه موجودګی افغانستان ته مشکلات جوړول. پاکستانیانو به خپل ټول زور په دې لګیا و چې د اوچښدو هېوادونو حقونو سره تړلي وړاندېزونه دې په رسمي سندونو کې نه شاملېږي.

پاکستان باندې د وسلې د خرڅلاو فېصله چې متحده ایالاتو وکړه نو افغانانو ته د اسلام آباد خلاف د اواز اوچتولو یوه بله موقع په لاس ورغله. د باندېنیو چارو د وزارت د یوې بیانیې نه پرته، په داسې وخت کې "چې پاکستان د بلوڅو په وینه تویولو بوخت دی" د متحده ایالاتو لخوا پاکستان باندې د وسلو د بندېز د اوچتولو باندې په هند کې یو رسمي دعوت کې د ۱۹۷۵ء د مارچ په لسمه نېټه محمد داود د افغانستان ژوره خواشیني څرګنده کړه.

هغه خبرداری ورکړ چې دا به په سیمه کې پارسنګ ګډوډ کړي او د وسلې منډه به تېزه کړي ... افغانستان هیله لري چې د متحده ایالاتو حکومت به لکه چې اعلان یې کړی دی په حقیقت کې د هغو پرامن هڅو مرسته وکړي چې مقصد یې په سویلي اسیا کې استحکام راوستل وي، چې د دې سیمې خلك، په وسلو باندې د خپلو محدودو وسیلو د صرفولو په ځای، خپل پام خپل پرمختګ او اقتصادي پروګرامونو ته واړوي...[۲۱]

د وخت په تېرېدلو سره، په ۱۹۷۵ء کې د پنجشېر او د نورو پېښو په وجه د پاکستان د دښمنانه ارادو نه تنګ راغلی، او په کور او د باندې د حالاتو د سمون په خاطر تلوسې اخستی چې اقتصادي پرمختګ تېز شي (هیله کېدله چې عرب او نور اسلامي هېوادونه چې د پاکستان ډېر دوستان دي، مالي کومك ورکړي)، د افغانستان حکومت د دواړو هېوادونو تر مېنځ بحران کمولو ته مخه کړځوله. دا راز بهټو هم چې بلوچستان کې په ناختمېدونکي جنګ کې بوخت و او په سرحدي صوبه کې ناارامۍ خپلې و، د راپورونو له مخه، د افغانستان او پاکستان تر مینځ د حالاتو نور خرابوالي نه غوښتو. د ۱۹۷۲ء په جولای کې د شملې د لوزنامې سره هندوستان نه د پاکستان روایتي وېرې هم زورولو چې په دواړو جبهو دښمنۍ نه ځان وژغوري. له دې نه پرته بهټو پاکستان کې عمومي انتخاباتو کولو ته هم تیار وه، او د نېپ په چقولو یې شاید دا باور پېدا شوی و چې په ډېر پرسکونه حالاتو کې به په ټولو صوبو کې د خلکو د ګوند د کاندیدانو هیلې تېنګې شوې وي، او په دې لاره به د خلکو ګوند د خپل براه راست امر له لاندې د پاکستان په سویه حاکمه ډله وګرځوي.

د ۱۹۷۵ء په وروستیو ورځو کې ایران او ترکیې یو ځل بیا د پردې تر شاه افغانستان او پاکستان خبرو ته د رابلکلو هڅې پیل کړې. خو اسلام آباد سره د خبرو د پاره د افغانستان شرط د چارو د کار په طریقه کې مشکل پېدا کړ. هغې کې د نېپ د مشرانو په خوشي کېدلو زور اچولی شوی و. بهټو د ښه نیت د ښودلو د پاره یو یا دوه مشران خوشي کولو ته غاړه ایښې وه، خو په دې نه وه راضي چې دا عمل دې خبرو سره وتړلی شي.

بیا د څه ناڅاپي زهرژن چاپېریال د جوړېدلو نه د ساتنې په غرض د دواړو خواو ګټه په دې کې وه، چې په جوش سره پر مخ وخوځي. په دې فکر د باندېنیو چارو وزارت د مشکل نه ګرېز وکړ چې د خبرو ټول غرض د پښتنو او بلوڅو د حقونو بیا ورکول و او په هغې کې په یو مخیزه ډول د بندي کړی شوو مشرانو خوشي کول او د هغو مشرانو د پاکستان د سیاست لوېې لارې ته بیا وتل وو. زما هغه الفاظ په یاد دي چې یو ملګري په ټوکه کې ویلي وو:

ټول پښتونستان د پاکستان بندي دی، که نه وي نو څه د پاره ورته مونږ محکوم پښتونستان وایو - ولې د خبرو د پاره په عمومي ډول د پښتونستان د ازادۍ شرط وړاندې نه کړ؟ په هغه حالت کې که مونږ اصرار وکړ او پاکستان ومني نو مسئله به حل شي او بیا به د خبرو هډو ضرورت پاتې نه شي -

داود د وزارت خیال ومانه - کابل ته داسې خبرونه راتله چې د نېپ ځینې مخوربز مشران هم د افغانستان او پاکستان تر مینځ د خبرو په حق کې وو، چې هغه به د انتخاباتو نه مخکې د هغوی خوشي کولو کې ګټور ثابت شي - د شېرپاو د وژلو نه پس اګر چې یو قانون پاس شوی و چې هغوی د یو خاص مودې د پاره انتخاباتو کې برخه نه شوه اخیستل، خو هغوی غوښتل چې په هغه وخت باید هغوی خپلې انتخابي ساحه کې موجود وي - ایرانیان او ترکان خبر کړای شول چې افغانستان په خپل شرط نور اصرار نه کولو - خو هغوی ته سپینه کړی شوه چې پاکستان دې هم خپل شرط واپس واخلي - پاکستان همېشه دا ټینګار کولو چې د هغه کورنۍ چارې د اسلام آباد نه اداره کېږي - د پښتنو او بلوڅو د قسمت هم داسې یوه قضیه وه، او په هیڅ وخت به په خبرو کې افغانانو سره اوچته نه کړی شي - یوې رادیویي وینا کې بهټو د ۱۹۵ء د اکتوبر په یو دېرشمه نېټه وویل: "هغه ولس مشر داود سره خبرو د پاره د کابل تګ ته تیار دی، په دې شرط چې خبرې صرف د دواړو هېوادونو تر مینځ روابطو سره اړه ولري او نه د پاکستان کورنیو چارو سره"[۲۲] د افغانستان د باندېنیو چارو ویاند د هغې جواب د نومبر په دریمه نېټه ورکړ چې "د بهټو سفر به د هرکلي یوه نخښه وي، په دې شرط چې د دواړو هېوادونو تر منځ د هغې حقیقي مقصد چې دواړه یې لرې ساتلو په لړ کې دې د نړۍ د عامې رایې د ګډوډلو د پاره پکار رانه وستلی شي"[۲۳] داسې ښکارېدله چې د دواړو هېوادونو خبرو ته د ناستې په لور لا اوږده لاره پرته وه - بغېر د څه خاص وجهې د کال ۱۹۷۵ء نومبر په ۲۹مه نېټه د بهټو دې وینا معامله نوره پېچلې کړه چې "افغانستان خپلو نظامي قطعو ته د خوځېدلو امر ورکړی دی" او اعلان یې وکړ چې "پاکستان د هر قسمه حالاتو مقابلې ته تیار دی"[۲۴] د خبرو په لور یون یو ځلې بیا ټپ ودرېده -

یخني راغله او لاړه - د خان عبدالولي خان او نورو مشرانو مقدمې ترینګلې شوې - د افغانستان او پاکستان مشترکه دوستانو خپل وړاندیز بیا تازه کړ چې دواړه هېوادونه دې د یو بل خلاف پروپېګنډه ختمه کړي - د هغوی خیال و چې، داسې کولو سره به خبرې کول ممکن شي او د دواړو هېوادونو تر مینځ چاپېریال به سکون ومومي - اګرچې افغانستان هغې وړاندیز ته پاملرنې ورکولو ته خوښ نه و، ځکه چې په هغه وخت هغې فېصلې صرف پاکستان ته ګټه رسوله، او

د پښتنو په خاوره او بلوچستان کې د افغانستان راډيو او خپرونو نفوذ ماتولو ورته سخته کشاله پيدا کړې وه . او دا احساس کېده چې د پاکستان له خوا د موذون بدل نه بغېر د داسې موثرو وسيلو د لاسه ورکول مناسب نه وو . په هر حال پاکستان افغانانو ته خبر ورکړ، چې هغه په يو مخيزه توګه پروپګنډې کمولو ته چمتو و، او ډېر زر يېهم داسې وکړه . په يو څو هفتو کې د پاکستان راډيو او خپرونو د افغانستان خلاف ډېر زهر کم کړي وو . د پاکستان د فېصلې مطلب ښکاره و چې افغانستان هم مجبور کړي، او اسلاميت په نظر کې ونيسي، هغه حرکت بې جوابه پاتې نه شو .

کابل او اسلام آباد کې د سفارتونو په ذريعه افغانانو او پاکستانيانو ډېر زر د دواړو هېوادونو د خپرونو د کار اصول ښکل کړل . د هغو هدف دا و چې د يو بل خلاف پروپګنډه کمه کړي او بالاخر ختمه کړي . دا "د شريفانو لوزنامه" له کابل او اسلام آباد نه په يو وخت خپره شوه، او تر ډېره حده د دواړو خواو د ډاډ وړ وګرځېده . دا د کال ۱۹۷۶ء د اپرېل په مياشت کې په هغه وخت وشو چې بهټو په شمالي افغانستان کې د سېلابونو او زلزلې ځپلو خلکو د پاره افغانستان ته کومک (غله، خېمې او کمبلې) وړاندې کړې . اګر چې د پاکستان د کومک څه لږ مخالفت وشو خو سردار محمد داود هغه اعتراضونه رد کړ او د هغې د منلو امر يې ورکړ.

د ۱۹۷۶ء د مې په مياشت کې سردار محمد داود وحيد عبدالله او ماته وويل چې هغه د افغانستان د سفر د پاره بهټو ته د رسمي بلنې ورکولو فېصله کړې ده، ځکه چې د هغه په خيال د بهټو په ښه نيت د ښه حرکت مناسب جواب د پاره حالات موذون وو . داسې زر فېصله به د يو نااشنا د پاره حېرانوونکې وه، خو زمونږ د پاره، چې په وزارت کې مو کار کولو او د ۱۹۷۵ ء د اخرنې کلونو راسې د سردار داود او بهټو تر مينځ د يو ملاقات د امکاناتو څېړنه مو کوله، د حېرانتيا په ځای د ډاډ وړ وه.

د پاکستان صدراعظم د سردار محمد داود له خوا بهټو ته بلنه ډېره زر ومنله او فېصله وشوه چې هغه سفر د ۱۹۷۶ء د جون د اوومې نه تر لسمې نېټې پورې وشي . دواړو خواوې په دې پوهېدلې وې چې هغوی خپل خپل شرطونه شا ته کړي وو . کابل ته د سفر نه مخکې بهټو د ښه نيت د يوې نخښې او د پخولاتوب په توګه پښتون مشر خان عبدالغفار خان د جېل نه خوشې کړ . بهټو د کابل په بين المللي هوايي ډګر د کال ۱۹۷۶ء د جون په اوومه نېټه کوز شو .

داود او بهټو، له يوې کتنې نه پرته، مخامخ خبرو ته کښېناسته . په هغې کې هم څېنې مرستيالان ورسره ناست وو . زه چې هغه وخت د باندېنيو چارو وزارت کې د سياسي چارو لوی مدير ووم په هغو ټولو خبرو کې شريك ووم او د

سردار محمد داود ترجماني مې کوله.

د پاکستان صدراعظم سره په خبرو کې د افغانستان د دولت رییس پاکستان سره د خپل اختلاف په اړه د افغانستان موقف څرگند کړ، هم هغه چې د افغانستان حکومت به په رسمي ډول وړاندې کاوه. داود بهټو ته وویل چې هغه د زړه د اخلاصه غوښتل چې هغه جگړه چې د ډېرې مودې پورې یې د دوو اسلامي هېوادونو تر مینځ چاپېریال خړ کړی و د ډاډ وړ حل ته ورسي، هسې نه چې د حالت خړپړتیا د دواړو افغانستان او پاکستان د ښېگړو او امنیت د پاره د زیانمنې نتیجې سبب شي. داسې هېوادونه وو، نوم یې وانه خستو خو اشاره یې شوروي اتحاد ته وه، چې د افغانستان او پاکستان تر مینځ د روابطو سمون یې نه غوښتلو. ضروري وه چې هغو حوزو ته موقع ورنه کړو چې د افغانستان او پاکستان د روابطو خړپړتیا ته خوښ شي. داود په جغرافیایي، تاریخي او نورو ناخوښېدونکو اړیکو، او د اسلام ناغوښېدونکي تړون باندې زور واچاوه، چې هغه د دوو گاونډیانو تر مینځ بېشمېره روحاني رشتې زیاتوي، او ویې ویل چې افغانستان او پاکستان دواړه خپلې اقتصادي ودې د پاره امن او کراري ته ضرورت لري. هغه د اشارې په ترڅ کې زیاته کړه چې د افغانستان د حکومت وړومبنۍ خوښه د اقتصادي حالت ښه کول و. هغه زیاته کړه چې د گړندي او مطلبي پرمختگ نه بغېر د یو ازاد وجود په حیث د افغانستان پایښت به په خطر کې وي.

داود وویل چې په یو وخت نااوزگارتیاوې افغانان او پاکستانیان دواړه، چې گاونډیان هم دي او مسلمانان هم، مجبوروي چې د خپلو مشترکو گټو د پاره په یو ځای کار وکړي. د افغانستان او پاکستان تر مینځ د اقتصادي تعاون موقعې دومره پراخه او تلوسناکې دي چې دواړه حکومتونه ښه په اخلاص هڅې وکړي او د هغو نه گټې واخلی او په خپلو کې د پوهېدلو ښه چاپېریال ساز کړي. هغه وویل چې هیڅ وجه نه وه چې یو ځلې د دوی تر مینځ موجوده اختلاف په حقیقت او عزت حل شي نو افغانستان او پاکستان دې نزدې دوستان نه وي. هغه زیاته کړه چې د افغانستان او پاکستان تر مینځ نزدې دوستي به نه صرف دواړو هېوادونو لره گټوره وي بلکې د سیمې استحکام لپاره به هم سودمنه وي.

داود وویل چې پاکستان کې د ځینو حوزو د خیال په خلاف افغانستان هیڅ اراده نه لرله چې د پاکستان بربادۍ او کمزورۍ ته وگوري. د یو مستحکم پاکستان وجود د افغانستان په گټه و، خو د پاکستان تېرو حاکمانو د افغانستان د غرضونو باره کې د انتهایي اشتباه په وجه هیڅ کله هم د افغانستان په جغرافیایي او تاریخي موقعیت د فکر او پوهېدلو زحمت نه و گاللی. په دې نزدې موده کې د هندوستان او پاکستان تر مینځ دوو جنگونو کې افغانستان د حالاتو نه گټه اخیستې شوه او "پاکستان یې د شا نه په چاړه وهلی شو". په هرحال د

ډېرو په خیال هغه حالت لمسوونکی و، او د ځینو حوزو له خوا د تشویق باوجود حکومت د پاکستان خلاف عملیاتو ته ژغورنه وکړه. آیا داسې روش د دښمنۍ او ورانکارۍ کېدلی شو! داود بهټو ته وویل: "کله چې تاسو د پاکستان د ریاست چوکۍ ونیوله او د ۱۹۷۲ء په جنورۍ کې د کابل په سفر راغلي، نو تاسو پخپله پاچا ته د پاکستان خوښي څرګنده کړه چې افغانستان د ۱۹۶۵ء او ۱۹۷۰ء په جنګونو کې صبر نه کار اخستی و، او هغو مو د دواړو هېوادونو تر مینځ د ښو روابطو قایمولو د پاره د خپلې ارادې نه خبر کړ". داود بهټو ته وویل چې پاکستانیانو د افغانستان په ادعا باندې د پوهېدلو هڅو کوښښ نه کاووه، او هغه به یې سم د لاسه به یې د پاکستان د سلامتیا د پاره نقصاني ګڼله او رد کوله. د هغه یقین و که داسې څه هڅه چرې شوی وی نو د دواړو حکومتونو تر مینځ د لوزنامې ساحې به معلومې شوی وی. داود بهټو ته وویل چې د حد نه د زیاتې وطنپالنې تنګ نظري پرېښودلو د پاره یو زړور او نوی فکر پکار و، او د بهټو غوندې د نظر خاوند پرې بلآخره بری ومونده.

داود ښکاره کړه چې د پښتنو په ښېګړه او د هغو د پېژندګلو د حقونو په ساتنه کې افغانستان خپله علاقه نه شوه پرېښوداى. د هغې علاقې نه جاروتل افغان ملت د پاره بېخوندي وه. داود وویل: له بلوڅو سره چې څه کېږي هغه د هغوی په بابله د افغانانو د ښه ګاونډیتوب احساساتو ته درد رسوي. هغوی غواړي چې پاکستان هلته جنګ بند کړي او بلوڅو خلکو ته د هغوی د حقونو ورکولو لارې ولټوي.

په دې ځای بهټو د داود خبره واخیسته او په ټینګه یې وویل: "د پاکستان حکومت پاکستان کې د اوسېدونکو پښتنو په ښېګړه او د هغوی د حقونو په ساتنه کې د افغانستان جایزه علاقه مني". بیا په موسکا کې یې زیاته کړه: "مونږ غواړو چې د ټول پاکستان د خلکو په ښېګړه کې هم علاقه ولري، نه صرف د پښتنو په ښېګړه کې" د هغې جواب کې داود بې له خنده وویل: "اجازه راکړئ چې اول د خپلو غم وکړم، هغې پسې به د نورو پاکستانیانو وار راځي".

داود مشوره ورکړه چې پاکستان دې د افغانستان د خوږېدونکو چارو نه وېره نه کوي ځکه چې هغه داسې څه خواهش نه درلود. د پاکستان د پاره وېره په دې کې وه چې پښتانه او بلوڅ ترې خپه وي، ځکه چې هغوی په ښه طریقه د پاکستان سیمییزې سلامتیا ته نقصان رسولی شي. داود وویل: داسې ښکاري چې پاکستاني مقامات د پښتنو او بلوڅو حقونه تر پښو لاندې کولو سره د پاکستان د ړنګېدلو مخه نیول غواړي. خو هغه کړنلاره واپس ګرځېدلی او هغې نتېجې ته رسېدلی شي چې پاکستانیان یې نه غواړي.

داود ذکر وکړ چې د نېپ په مشرانو د بېلېدلو د فکر او هڅو تور وه.

"هیڅوك د چا د زړه نه دي خبر، خو زمونږ چاسره چې خبرې شوې دي، هغوی کې یو هم، سره د ولي خانه د پاکستان نه د بیبلېدلو خوښي نه ده ظاهره کړې" د و بهټو ته وویل؛ د پاکستان د اساسي قانون منلو او د پاکستان ملي انتخاباتو کې ګډون کولو سره پښتنو او بلوڅو خپله خوښه څرګنده کړې ده چې د پ کستان په چوکاټ کې دننه خپل حقونه غواړي. هغه زیاته کړه چې په صوبایي انتخاباتو کې د پښتنو او بلوڅو د مشرانو بریالیتوب ښیي چې دوی سره د خپلو خلکو مرسته او اتبار شته. داود وویل؛ افغانستان خپلې څرګندې کړنلارې ته وفادار دی، او د نېپ هره هغه فېصله، چې پښتنو او بلوڅو ته منظوره وي، مني به. هغه په دې خبره خواشیني څرګنده کړه چې یوې خوا ته د پښتنو او بلوڅو تر منځ د روابطو د ښه کېدلو هیله منی پېل، او بلې خوا ته د پاکستان حکومت، د نېپ د ټولو مشرانو په نیولو سره په شا وګرځولی شو، او ورپسې داسې چارې وشوې چې د پښتنو او بلوڅو ازادي او حقونه یې نور تر پښو لاندې کړل. داود بهټو ته وویل چې د پښتنو، بلوڅو او د پاکستان د حکومت تر منځه روغه ضروري وه، او د د ټولو متعلقه ډلو په ګټه وه. که هغه ډلې وغواړي، افغانستان د روغې په لاره کې مرستې ته چمتو وه. هغه زیاته کړه؛ "په هر حال مونږ په تاسو زور نه اچوو. ت سو پخپله خبرو د پاره خپل وخت او خپل کار طریقې ته ګورئ. مونږ ته خو داسې نتیجه پکار ده چې زمونږ ورونو ته منظوره وي". داود زیاته کړه؛ د هغه یقین دی چې د پاکستان صدراعظم د افغانستان او د هغه د هیواد په منځ کې ښو روابطو ته ډېر اهمیت ورکوي، او تر خپله وسه د پښتنو او بلوڅو د غوښتنو د منلو او د هغوی د شکایتونو د لرې کولو د پاره د لارو چارو لټولو کوښښ کوي.

صدراعظم بهټو افغانستان ته په خپل سفر خوښي څرګنده کړه او وېو یل چې د کابل په لاره هغه پېښور کې ایسار شوی و، د پښتنو یوې دړنې غونډې ته یې خطاب کړی و، او هغوی ته یې اطمینان ورکړی و چې د هغه د سفر مقصد دا وه چې د پاکستان او افغانستان تر مینځ اړیکي ښه شي. بهټو وویل چې د پاکستان او افغانستان تر مینځ د روابطو د ښه کولو په لړ کې هڅې کول هغه خپل مسئوولیت ګڼلو. خو په دې خبره یې افسوس ښکاره کړو چې کابل ته د هغه د پخواني سفر نه را په دېخوا، چې ظاهر شاه ته یې د هندوستان او پاکستان د جنګ په دوران کې د ستاینې وړ بېطرفي باندې خپل اطمینان څرګند کړي و، د دواړو هېوادونو تر منځ روابط نور خراب شوي وو. دا د خصوصي پرېشانۍ خبره وه چې په ډېرو اړیکو پېوند دوه داسې هېوادونه چې ډېر څه یې شریك لرل په داسې خطرناکه توګه په بېلو لارو روان وو. بهټو وویل؛ هغه منل چې ناسازه پوهو اکثر وختونو کې د پاکستان په فکر باندې خړه راوستې وه، خو د هغه دایقین وه چې داسې خبرې او تماسونه به د وېرې او اندېښنې کمولو د پاره موذون حالات

جوړ کړي . هغه د افغاني دولت د رييس دې خبرې سره اتفاق وکړ چې د افغانستان او پاکستان تر مينځ دوستي به نه صرف دواړو هېوادونو ته ګټوره وي، بلکې د سيمې امن به هم قوي او مستحکم کړي . هغه وويل: "په کومه خطرناکه نړۍ کې چې مونږ ژوند کوو هغې کې د دواړو هېوادونو په مينځ کې د ښو روابطو د پاره هڅې پکار دي" .

د بلوڅستان او سرحدي صوبې د پېښو په لړ کې بهټو وويل چې پلوچ مشران د خپل اختيار آييني برېدونو نه ډېر وراوړېدلي وو . هرکله چې په هغوی زور واچولی شو نو هغوی د خپل روش بدلولو نه انکار وکړو . په دې لړ کې د پښتنو مشرانو او په سرحدي صوبه کې د نېپ او جويي ايتلافي حکومت هغو ته نغوته ورکوله . بهټو وويل چې هغه په اساسي قانون کې د ورکړی شوو اصولو په رڼا کې خپل اختيار ته د حقيقي عملي بڼې ورکولو په خواهش کې مخلص و، خو د بده مرغه د نېپ مشران انتهايي بې مسئووليته وختل، ځکه هغه مثبت ګام په شا وګرځېده .

بهټو وويل چې بلوڅستان کې حالات دومره پېچلي وو چې "د ايران پاچا هم مونږ نه وغوښتل چې خپل عمليات نور سخت کړئ چې حالات زر معمول ته وګرځي،"او مونږ د هغه تسلي کوله" . بغاوت چې زيات شو نو مجبوراً پوځ ولېږلی شو . په ځينو ځايونو کې پوځيان د ښودلي شوو حدونو نه وراوړېدلي وه او بلوڅو سره يې ډېره سختي کړې وه . اګر چې بغاوت ختمېدو ته نزدې کېده، خو جنرالان بلوڅستان نه د پوځ د واپسۍ په لړ کې ټينګ وو او د پښتنو او بلوڅو د نېپ د مشرانو د خوشي کولو مخالفت يې کولو . بهټو په موسکا کې وويل: "پاکستان کې مونږ لپاره د جنرالانو د چروت په هکله ډېر احتياط پکار دی . خو زه هيله لرم چې په مناسب وخت به په دې مشکل برې ومومم" . بهټو دا دليل ورکړ چې پاکستان کې ځينې مخورېزو حوزو د صوبايي خود مختارۍ سخت مخالفت کاوه . د بنګله دېش بېلېدلو سره هغې (مسئلې) ته نور زيان ورسېد . وې ويل چې هغه پخپله د صوبايي خود مختارۍ په حق کې و، چې د پاکستان غونډ پاتې کېدلو د پاره مناسب انتظام و، په دې شرط چې د مرکز او صوبايي حکومتونو په مينځ کې د حقونو او مسئووليتونو يو پارسنګ ودرولی شي، او صوبايي مشران په هغې نظام کې وجدان او خلوص سره تعاون کولو ته تيار وي .

بهټو وويل: هغه منله چې د نېپ د مشرانو نيولو سره چې کوم بحران پيدا شوی و د هغې جريان پاکستان لپاره زيانمن و . د هغې ختمول ضروري وو. هغه د نېپ مشرانو سره، چې ځينې لا په جېل کې وو، په خبرو پېل کړی و چې د هغوی د شکايتونو څه علاج کېدلی او هغه روان بحران ختمېدلی شو . خو هغوی سره سودا کول ډېر مشکل وو . "يوه ورځ هغوی په يوه خبره راضي شي، او په بله

ورځ د خپل لوز نه واوري" ـ هغه وویل چې جېل ته د تلو نه مخکې ولي خان هم، کله چې په اسامبله کې د مخالفو ډلو مشر و، په روغه کولو د موافقې څه اشاره نه وه ښودلې ـ بهټو په پښتنو مشرانو تور ولګاو چې د هغوی روش منفي او خنډیز و، او، د هغه په خیال، د پښتنو په سیمو کې د "غیرعادي او ناوړه حالت" وجه وه ـ د پښتنو او بلوڅو مشرانو او د پاکستان حکومت تر مینځ د روغې لپاره د داود په وړاندیز د رای ورکولو نه په ډډه کولو، بهټو زیاته کړه چې هغه به تر خپله وسه هڅه کوي چې پښتنو او بلوڅو مشرانو سره څه روغې ته ورسي، "په خصوصي ډول اوس چې زه په هغې اندازه پوه شوم چې ستاسو د عالي جناب حکومت د هغوی خوشي کولو ته څومره اهمیت ورکوي ـ او د هغوی فکرونو باندې غور کول" ـ بهټو وویل چې د پاکستان حکومت به عدالتونو ته ووایي چې د ولي خان او نورو سیاسي بندیانو عدالتي چارې ګړندۍ کړي ـ

د پاکستان صدراعظم وویل؛ اګر چې د هغه یقین وه چې افغانستان د پاکستان په سیمو څه ادعا نه لرله، خو هغه د افغانستان د دولت د رییس د خولې د هغې پخوالي نور ډاډه کړ ـ هغه وویل؛ هغه خوشاله وه چې افغانستان به د هغه حکومت سره د پښتنو او بلوڅو هر قسم له روغه مني ـ محمد داود د بهټو په رای زر ورزیاته کړه؛ "هغه روغه چې پ[illegible]زاد چاپېریال کې وشي او هغوی یې په ښکاره ومني" ـ بهټو جواب ورکړو؛ "با[illegible]" ـ هغه بیا په خپل پخواني بیان زور واچوه، ویلې؛ "دې حقیقت نه پرته چې پښتنو او بلوڅو سره د روغې لارې چارې لټول زما وظیفه ده، مونږ لپاره افغانستان سره دوستې ځان له یو داسې اهمیت لري، چې ما فېصله کړې ده چې دا ازغی د هغې لارې نه همېشه د پاره لرې کړم، کومه چې د دواړو هېوادونو تر مینځ سمون ته رسي" ـ په هغې نکتې، لکه سوچ یې جګ تلی و، بهټو وویل چې وخت راشي نو ولې دې پښتنو ته اجازت ور نه کړی شي چې خپلې خاورې ته پښتونستان ووایي لکه پنجابیان، سندیان او بلوڅ خپلې خپلې صوبې ته پنجاب، سنده او بلوڅستان وایي ـ داود بې د ح[illegible]کې جواب ورکړ چې دا د پښتنو خپل کار وه چې خپل وطن د پاره یې کوم یو نوم خوښاوه.

د هغې وړومبنۍ غونډې په پای کې بهټو د خپل جېب نه د کاغذ یوه پاڼه ووېسته او داود ته یې وړاندې کړه ـ په غور سره له لوستلو نه پس، داود هغه پاڼه ما ته راکړه ـ ما وکته چې هغه د ګډه اعلامیې مسوده وه ـ زه لږ حېران شوم ولې چې مونږ کابل کې د یو لږ خبرو په ختمېدو هیڅ یوه ګډه اعلامیه نظر کې نه لرله: د افغانستان او پاکستان د جګړې څه خاص ذکر په کې نه و ـ داود په ښه چروت کې بهټو ته وویل چې، د هغه په خیال، ټوله ورځ خبرو هغوی صرف په یو اختلاف بحث کړی و چې د افغانستان او پاکستان تر مینځ د نزدو اړیکو وده یې تمبوله، او هغه د پښتنو او بلوڅو مسئله وه ـ داود زیاته کړه؛ "تاسو خپلې مسوده

کې د ,هغوی د اختلافاتو, د حل د پاره د دواړو خواو بحثونو ته اشاره کړې ده. آیا دا ښه به زیاته صحیح نه وي ,د هغوی سیاسي اختلاف, یا ,د هغوی یواځېنی اختلاف,؟" بهټو موسکی شو او وې ویل: "که دا دواړه سره ګډ کړو، چې ,د هغوی سیاسي اختلاف او نور اختلافونه, . تاسو ته به پته وي چې مونږ پاکستان کې د افغانستان او پاکستان روابطو سره د یو "اپس" په زیاتولو ,اختلافاتو, سره بلد شوی یو، او مسوده کې د دې نیشتوالی به زمونږ بیوروکراټانو (ولسي مامورینو) د پاره د مایوسۍ سبب شي (په انګلیسۍ کې له نوم سره په پای کې د اپس د توري زیاتوالی واحد نه جمع جوړوي) . د دې نکتې په هکله داود بهټو سره اتفاق څرګند کړ او په خندا کې یې وویل: "ښکاري چې تر اوسه خو صرف یو وه، خو اوس مونږ قسماقسم اختلافونه لرو" . بیا یې بهټو ته وویل د هغه د منظورۍ نه آګاهو د باندېنیو چارو وزارت باید هغه مسوده وګوري . بهټو سم د واره د داود خبره ومنله .

بهټو چې خپل استوګنځي ته لاړو، نو ما محمد داود ته وویل: ښکاري چې هغوی (داود) په اصولي توګه د ګډې اعلامیې خورول منلي وه . هغه جواب راکړ؛ "که په ګډه اعلامیې پاکستانیان خوشالېږي، نو یوه ګډه اعلامیه دې وي . مونږ د مخکې یون په هڅو کې مخلص یو . اوس چې مونږ د مسئلې حل غوره کړی دی، نو زمونږ په روش کې دې هیڅ قسم له اشتباه نه وي" . چې د "شوخ" اپس ("naughty" s) ، لکه د باندېنیو چارو په وزارت کې بللی شو چې افغانانو د difference یعنې اختلاف په اخر کې منلو نه، او پاکستانیانو د لفظ نه بېلولو نه، اوږده مسئله د داود او بهټو په لاس داسې زر او ډاډه حل شوه، نو د افغانستان او پاکستان د هیئتونو غړو د مسودې نور متن د پاملرنې لاندې ونیوه .

افغانانو د متن په ژبه مخالفت څرګند کړ . د هغې څه داسې مطلب وه چې افغانستان او پاکستان هدف لرلو چې په داسې ړاو د ګډژوند تېرولو د پنځو اصولو په اساس دې خپل سیاسي اختلاف حل کړي . د هغو دلیل دا وه چې د حل په کوم یو لټون کې د پنځو اصولو حواله ورکول د وخت نه مخکې یو عمل و . ولې چې پاکستان د پښتنو او بلوڅو د ګېلو د لرې کولو په لور لا یو ګام هم نه و پورته کړی، د نېپ یو مشر یې لا نه وه خوشی کړی، او د پاکستان پوځ په بلوڅستان کې لا جنګ جاري ساته . افغانانو غوښته چې له دواړو خواو داسې یوه عمومي ژمنه کافي وه چې هغوی به خپله مسئله د خبرو د لارې په امن سره حل کوي . خو پاکستانیانو اصرار کاوه چې د پنځو اصولو حواله دې وساتلی شي . پاکستانیانو همېشه داسې غوښتل چې هر کله یو متن کې افغانستان سره د مسئلو د حل حواله ورکولی شي، نو د پرامن ګډژوند د اصولو مراعات دې په کې ذکر کولی شي . هغوی شاید داسې فکر کاوه چې په یو متن کې د هغو اصولو ذکر به کافي

وي چې د هغوی په کورنيو چارو کې لاسوهنې نه افغانستان منع کړي، لکه هغوی يې مطلب وېستلو، او که افغانستان څه سيميېزه ادعا لري هغه به باطله کړي. دا فېصله وشوه چې متن کې د ګډژوند د پنځو اصولو سوال دې يو څنګ ته پرېږدي. په هغې دې د هيئتونو مشران غور وکړي.

د پاکستان د مسودې اخرني نه مخکېنی پرګراف داسې و: "د موجوده سازګار او دوستانه چاپېريال د ساتلو او نور ښه کولو په نظر کې نيولو سره، او د دې اختلافاتو مکمل حل ته د رسېدلو په غرض، دواړه خواوې موافقت کوي چې د مطبوعاتو او راديو د لارې به د يو بل خلاف تبليغات نه کوي". افغانانو وړانديز وکړ، که حل مکمل وي نو باعزته دې هم وي. پرته له دې، پښتونستان او بلوڅستان کې د افغان راديو او مطبوعاتو د نفوذ په نظر کې نيولو سره، افغانانو ويل که په مناسب وخت کې د ډاډ وړ کوم يو حل راونه وځي، نو هغوی ناټاکلي مودې د پاره د "مخاصمانه تبليغاتو" د ځنډولو وعده نه شوه کولی. دې د پاره دا ضروري وه چې "ژغوري" نه مخکې دې داسې الفاظ "د وخت د پاره" شامل کړی شي. پاکستانيانو د افغانستان دواړه وړانديزونه ومنل.

د باندېنيو چارو مرستيال وزير وحيد عبدالله تللی و چې د متن په مسودې د دواړو هيئتونو د بحث نه داود خبر کړي. د سهار دوو بجو نه پس هغه د باندېنيو چارو وزارت ته راغلو. ماته يې وويل چې داود د افغاني وړانديزونو په رڼا ترميم شوې مسودې سره موافقه کړې ده. هغه پنځو اصولو ته د پاکستان اصلي حواله هم منله. داود هغه ته ويلي وو چې د پرامن ګډژوند د پنځو اصولو مراعات کول دواړو خواو د پاره يو شان و، او حکومت کې يو نفر هم نه "غوښتل چې پاکستانيان دې زمونږ په خاوره د تېر کال غوندې تېری بيا وکړي". دې نه علاوه هغه وحيد عبدالله ته وويل:

> هغه څوک چې پښتونستان د پاکستان برخه نه مني، زمونږ له خوا د پښتنو د مرام په حق کې لاسوهنه د پاکستان په واکمنۍ باندې تېری نه ګڼي، که مونږ پنځه اصوله ومنو هم. په حقيقت کې پنځه اصول مونږ د پاره څه ارزښت نه لري تر هغې چې مونږ د ډيورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان تر مينځ پوله نه وي منلي. په هر حال، پکار دې چې مونږ خپل فکر او نظر کې حقيقت نه کار واخلو، ولې چې مونږ پاکستان سره د خپلې مسئلې پرامن حل ته ژمن يو. زمونږ د پاره بله لاره شته، خو داسې قسم چارو نه ځان ژغورو چې د پاکستان خلك، چې پښتونستان د خپل هېواد پخه برخه ګڼي، هغه خپلو کورنيو چارو کې لاسوهنه وګڼي؟ بله لاره که نيسو، نو پښتونستان د پاکستان برخه منو که نه، د حل لاره به بنده شي، او مونږ شايد دې خبرو ته هم آماده شوی نه وی.

دې حالاتو کې څه پکار دي، تر ممکنه حده د پښتنو د حقونو ساتنه. مونږ ته هېڅ ول نه دي پکار چې ولي خان ويلي وو چې هغه پاکستاني دی، او د هغه پلار غفار خان هم ځان د هغې هېواد استوګن ګڼي. اوس چې څه دي، نو په دې وجه هغه په متن کې د پنځو اصولو په شاملولو زمونږ د مرام د پاره زيانمن نه دي. داسې کولو سره به پاکستانيانو ته د خپل خلوص يقين ورکړو. دا به د هغو کار وي چې د خپلو وعدو په پوره کولو خپل ښه نيت ثابت کړي.

مونږ ته په کرار کرار د خپلې جګړې د اخرني حل د پاره زمينه برابرول پکار دي. د افغانستان خلك بايد هغه ومني. پکار دي چې مونږ د افغانستان او پاکستان د روابطو د نورو اړخونو او د نوو حقيقتونو نه چې اوس برڅېره شوي دي، خپل خلك خبر کړو. مونږ به پاکستان سره د پل جوړولو په دې دنده کې ډېرو مشکلاتو سره مخ کېږو، کورني هم او باندېني هم، خو مونږ ته مخکې يون پکار دی چې بالآخر برياليتوب ته ورسو. په دې سيمه کې او په ټوله نړۍ کې داسې حالت جوړ دی چې مونږ خپلو روابطو کې نور ځنډ نه شو زغملی. د افغانستان مهمې ګټې په دې کې دي چې پاکستان سره مو روغه راشي.[٢٥]

ګهيځ مال د باندېنيو چارو وزارت د پاکستان هيئت ته خبر ورکړ چې په متن کې د ګډژوند د پنځو اصولو په شاملولو افغانستان ته څه اعتراض نه شته. وروسته د داود او بهټو په يو مجلس کې، دواړو مشرانو په رسمي توګه ګډه اعلاميه تصويب کړه. د بهټو په واپسۍ د کابل او اسلام آباد نه هغه په يو وخت خوره شوه[٢٦].

د دولت له خوا جوړ شوي دعوت کې داود او بهټو رسمي بيانونو د هغوی د خوشبينه فکر او په دوستانه چاپېريال کې په خبرو د خوښي عکاسي شوې وه. خپلو بيانونو کې دواړو مشرانو د مسئلې د ډاډ وړ حل موندلو پورې د خبرو جاري ساتلو اراده څرګنده کړه.

کابل کې د ورومبي لړ خبرو نه پس د دواړو هېوادونو تر مينځ اړيکي په ډرامايي توګه ښه شو. د افغانستان ټرانزټي تجارت د پاره د پاکستان د رېل ګاډو کمبود نه وه. پاکستاني الوتکو نور د افغانستان په هوايي سيمه تېری نه کاوه. دا راز منډ مات شو او هغه څه چې "د کابل روحيه" بللی شوه مينځ ته راغله. دا بيا د هغو دوو ډلو کار وه چې نه صرف د هغې سا ساتنه وکړي، بلکې لاره ورکړي چې هغوی ته د حل لټون ته ولمسوي او لارښودنه يې وکړي.

افغانستان او پاکستان د خپلې اوږدې جګړې د حل کولو انتهايي ضرورت محسوساوه. هغې نه پرته د دواړو خواو په موقفونو کې ځينې بدلونونو

په اول سر کې د خبرو کولو او بیا د هغو د جاري ساتلو زمینه برابره کړه . پاکستان دوه داسې فېصلې وکړې چې د کابل د خوښې وې، او خبرو ته یې ور پرانستو . هغه فېصلې دا وې: (۱) د دوو هېوادونو تر مینځ د جګړې شتوالی پاکستان ومنلو، او (۲) دایې ومنل چې افغانستان د ډیورنډ کرښې په سویل او ختیځ د اوسېدونکو پښتنو د قسمت د فکر ساتلو حق لرلو، او د هغې په نتیجه کې د پاکستان حکومت سره د هغوی د هېلو په عملي کولو باندې خبرې کېدلی شوې.

د پښتنو مشرانو چې کومه فېصله وکړه چې د پاکستان د ۱۹۷۰ء او ۱۹۷۳ء اساسي قانون یې ومنلو، پاکستان کې دننه یې خپل اختیار غوښتلو، او د پاکستان په سویه یې انتخاباتو کې ګډون وکړو، او د پاکستان سیاستمدارانو هم، د پښتونستان په موضوع د افغانستان موقف کې نرمي پیدا کړه . د افغانستان هدف دا پاتې شو چې له پاکستان سره د خبرو د لارې هغه خپل اختیار تقویه کړي، د کار کولو جوګه او پوخ یې کړي چې د پښتنو کلتور او پېژندګلوي وساتلی شي او د هغوی د ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي حقونو تحفظ وکړی شي . دا هېله کېده چې پاکستان به د پښتنو خپل اختیار ته صحیح رعایتونه ورکړي، ځکه چې هغه فېصله کړې وه چې افغانستان سره دوستي وکړي، او په دې پوهېدل چې هغه دوستي تر هغې ممکنه نه وه تر څو چې پښتنو خلکو ته ډاډ نه وي ورکړی شوی . یو ځلې چې پښتنانه "په ازاد او څرګند ډول" د خپل اختیار د انتظاماتو سره خپل ډاډ څرګند کړي، نو د هغوی د سیاسي حقونو په لړ کې د افغانستان هڅې به پای ته ورسي . دا په نظر کې ونېول شول چې په هغه پړاو افغان حکومت به معامله لویې جرګې ته وړاندې کړي او د پښتنو د فېصلې خیال ساتلو سره به بلآخر د پښتونستان په ادعا او د ډیورنډ کرښې په حیثیت د افغانستان موقف وټاکي . په دې دوران کې به افغانستان بلوڅو خلکو سره په انصاف کولو هم زور اچوي . دا ګومان کېده چې په بلوڅستان کې د پاکستان په کنټرول کې نرمي به چاپېریال نور هم صفا کړي، او د افغانستان او پاکستان تر مینځ اختلاف ته به د حل ګرندۍ لاره پرانستل شي .

سري لنکا کې د ناپېلي دولتونو د سرمشرانو په کانفرنس کې د افغانستان د دولت د رییس د ګډون نه پس، د داود او بهټو تر مینځ د خبرو دویم لړ پاکستان (اسلام آباد، لاهور او مري) کې د ۱۹۷۶ء د آګست د ۲۰مې نه تر ۲۴مې نېټې پورې دوام وکړ .[۲۷] داود فکر کاوه چې پاکستان ته د سفر بلنه د کابل خبرو پسې جوخته ورکړی شوې وه، او پاکستان د حل په لور لا کوم یو اهم ګام نه وه پورته کړی، بیا هم هغه د تلو فېصله وکړه ځکه چې هغه کابل کې پېل شوې خوځښت جاري ساتل غوښته .

دوه میاشتې پخوا افغانستان ته د بهټو د سفر تشریفاتي اړخ تت او تیټ

و ـ داود چې د راولپنډۍ په هوای ډګر کوز شو نو ولس مشر فضل الهي چودهري او صدراعظم بهټو ورته تود هرکلی ووایه ـ د هرکلي هغې ننداري ته يې په خلاص مټ خوند او رنګ ورکړی و ـ پاکستان کې هر څومره دعوتونو ته چې هغه لاړو د هغو انتظامات او شان شوکت د هغه د رسېدلو په وخت د شانداري ننداري نه کم نه وو ـ داود يو ساده سړی او بېځایه خرڅ يې نه خوښولو ـ هغه د شان شوکت او مال دولت داسې ننداري ته ښه نه کته، خو ښه په حوصله به ورتلو ـ صرف د هغه يووښکيزي موسکا هغه چا ته د هغه د فکر غمازي کوله چې هغه يې ښه پېژنده.

لاهور نه بهر شاندار شاليمار باغ کې چې پاکستانيانو کوم ولسي دعوت جوړ کړی و، چرته چې د لاهور په زرګونو خلك داود ته عزت ورکولو د پاره جمع شوي وو، بېشکه د هغوی د خوشالونکو، يا د مېلمه د حېرانونکو، هڅو بام و ـ داود د شاليمار غونډې ته وېنا وکړه، او د هغه وېنا، چې کله کله به وجداني شوه، د لاهور خلکو ښه په جوش واورېده ـ هغه وويل چې هغه څومره خوشال و چې د پاکستان خلکو ته د افغانستان د خلکو ښې هېلې نېغ په نېغه د وړاندې کولو جوګه شوی و ـ

...(افغانان) هغه ټول ورونه ګڼي... دا وروروليي صرف دنياوي وروروليي نه ده چې د نزديکت نه زېږېدلې ده، يا د وخت غوښتنو زرغونه کړې ده، بلکې دا په روحانيت کې پرته وه ... چې د اسلامي وروروليی د د اسلام د سپېڅلو ښودنو نه الهام اخلي ... د افغانستان د حکومت او زما خپل دا خواهش دی چې زمونږ سياسي کشاله دې اواره شي، او زمونږ اړيکي دې د وروروليی او دوستیی په ردو او په ښه نيت پاخه اډانه وی ... د افغانستان حکومت او د پاکستان حکومت د دې اختلاف د حل وسيلې لري ... د دې د عملي کولو په لړ کې د پوهې او په سولييزه طريقو جدي او نېغ په نېغه د خبرو نه پرته مونږ بله لاره نه لرو ... زما يقين دی چې په دې لاره به د خدای پاك مهرباني مونږ سره وي ... ټول اختلافونه په يوه غونډه يا ډېرو غونډو کې حل کېدلی نه شي، خو په ښه نيت او جديت د خبرو اترو هرې دورې نه دا هېله کېږي چې مونږ خپل مرام ته يو ګام ورنږدې کوي [29]

که نور څه نه وو، دا وېنا داود د پاره ولسي اړيکو کې يو بهترين تمرين و، چې د پنجاب په زړه کې يې وکړه، چرته چې د دريو لسيزو نه زياتې موده کې هغه د پاکستان د يو دشمن په تور او رنګ ښودلی شوی و.

د داود او بهټو په مينځ کې بيا ډېرې خبرې په خصوصي ډول وشوې ـ په هغو خصوصي خبرو کې به صرف زه د افغانستان د دولت د ريس د ترجمان په حيث حاضر وم ـ د پاکستان په خوښه د هيتونو تر مينځ يو څو غونډې لاهور او

مري کې هم وشي. په پېبل کې بهټو داود خبر کړ چې په کابل کې د هغو د لېدنې نه پس هغه هڅه کولې چې پښتنو او بلوڅو سره څه مفاهمت ته ورسي خو لا بریالی شوی نه و. بهټو وویل چې بلوڅستان کې حالت ډېر ښه شوی و، او په سرحدي صوبه کې د امنیت حالت هم ډېر ښه و. خو بهټو وویل چې جنرالانو فکر کاو چې بلوڅستان کې لا داسې کراري نه وه راغلې چې پوځ ترې واپس کړی شي، او هغوي تر اوسه پورې د سیاسي بندیانو د خوشې کولو مخالفت کوي. "په هر حال، که عدالت د هغوي د پرېښودلو فېصله وکړه، نو دا به مشکله وي چې جنرالان د هغې مخالفت وکړي". بهټو زیاته کړه چې هغه مشران په خپلو غوښتنو کې تېروځي، او هغو سره موافقه کول څه اسان کار نه و. داود خپله رایې ورکړه:

زه تاسو نه دا پوښتنه نه کوم چې د پښتنو او بلوڅو په هکله ستاسو وړاندېزونه څه وو، او ولې د هغوي پرې تسلي نه کېږي. دا ستاسو خپل کار دی. خو زه چې په څه باندې زور اچول غواړم هغه د ډاډ وړ یوه موافقه ده، او د موجوده حالاتو خاتمه، چې هغه د هیڅا په ګټه نه دي. د پاکستان په حکومت باندې د پښتنو او بلوڅو بې اتباري څه خیالي نه ده. حکومت ته پکار دي چې د اتبار د جوړولو په لور ګام پورته کړي. زما یقین دی چې تاسو به د داسې یوې هڅې ګټورتوب ومنې. مشران په محبسونو کې دي. هغوي هر وخت ویلی شي، او څرګنده به وي، چې د سیخونو شاته حکومت هغوي سره هرې موافقې ته که ورسي، هغه به د جبر د لاندې وي. زما مشوره ده چې ستاسو حکومت، د خپل ښه نیت ښودلو په غرض، هغو پښتنو او بلوڅو مشرانو ته موقع ورکړي چې هغې سره د ازادۍ او برابرۍ په تول خبرې وکړي.

بهټو هغه وینا سره موافقه څرګنده کړه، خو غوښتل یې چې داود دې هغه مشکلات په نظر کې ونیسي چې د تفاهم په لور یې پرمختګ ورو کړی و. "په هر حال" بهټو وویل؛ "دا مشکلات عارضي دي، او بلوڅستان کې د امن په راتلو به تر ډېره حده ختم شي".

کابل کې له افغانستان سره د روابطو ښه کولو په لړ کې بهټو چې څه ویلي وو، په هغې یې ټینګار وکړ. هغه وویل؛ په هغه لړ کې هغه ته پوره احساس و چې پښتنو او بلوڅو سره موافقې ته رسېدل څومره مهم وو. هغه زیاته کړه چې هغه د پاره به هغه د خوشالۍ ورځ وي چې هغو سره د یوې رښې او بې ابهامه روغې نه افغانستان ته خبر ورکړي. بیا بهټو وویل؛ اګر چې داود هر څه پاکستان او د پښتنو او بلوڅو مشرانو ته پرېښې وو چې یوې روغې ته ورسي، د هغه حکومت به د هغې روغې په لړ کې د افغانستان د منلو په لټون خوشاله وي. داود جواب ورکړ؛ افغانستان د ټولو متعلقه ډلو خېرخواه و. پښتانه او بلوڅ چې د

روغې د منلو ښرګندونه وکړي نو افغانستان به په ښکاره ډول د هغې د منلو اعلان وکړي، یا، که هغه ډلې وغواړي، نو هغه د منلو یوې درې اړخیزه اعلان کې شمولیت کولی شي.

څنګه چې ګومان کیده د هیتونو په سویه غونډو کې، پاکستان په ترخ شان د ډیورنډ کرښې سوال پورته کړ. د پاکستان د جوړېدلو نه راپه دې خوا پاکستان په دې موقف ولاړ و چې تر څو نورو هېوادونو افغانستان سره د پاکستان د بین المللي سرحد په ډول د ډیورنډ کرښه پېژندله، نو د افغانستان منفي روش هغوي نه پرېشانه کول. خو په حقیقت کې، د ځان د راستۍ او بې غرضۍ د ښېرې په شا، هغوي د افغانستان منل د زړه له کومي غوښتل. په اصلي شرایطو کې د ټولو هېوادونو په هېر د ډیورنډ کرښې د منلو نه هغو د پاره دا زیات وو. افغانستان که د ډیورنډ کرښه ومني نو د پاکستان حاکمیت به تکمیل شي، او د هغې سیمیز تمامیت ته به پوره معنا ورکړی شي. د هغې د پېژندلو نه بغېر څه ورك و. او پاکستانیان تر هغې بې ارامه وو تر څو چې هغه سست سر غوټه شوی نه و. کله به چې پاکستاني مامورینو افغانانو سره خبرې کولې نو هغه زورلې مایوسي به اکثر برڅېره شوه، ان که هغه به غېر سیاسي خبرې وې.

د دواړو هیتونو په وړومبنۍ غونډه کې د پاکستان د دفاع او د باندېنیو چارو د دولت وزیر عزیز احمد وړاندیز وکړ چې په هغې پړاو باید دواړه خواوې د یو غونډکي په شکل کې په خبرو موافقه وکړو، چې، د هغه په خیال، دا مانا یې لرله چې افغانستان او پاکستان دواړه دې د روابطو د عادي کولو په لړ کې په یو وخت ځیني جوابي ګامونه پورته کړي. د افغان د بادېنیو چارو د وزارت مرستیال وحید عبدالله ماته وکته او موسکی شو. مونږ دواړه پوهېدو چې هغې پسې څه وه! احمد وویل چې په داسې غونډکۍ خبرو کې به دا شامل وي، د مثال په توګه: د پاکستان له خوا د سیاسي بندیانو خوشي کول او د افغانستان له خوا د بین المللي برید په ډول د ډیورنډ کرښې پېژندل. هغه ځیني نورو وظیفو ته هم اشاره وکړه چې هغه هېوادونه یې سر ته ورسوي، که هغه غونډکی ومنلی شي. په هغو کې لوي موضوع د افغانستان له خوا د پښتونستان د مسلې نه د لاس اخستلو رسمي اعلان و. هغه اعلان به هغې روغې سره سم وي چې د پاکستان د اساسي قانون په چوکاټ کې دننه د پاکستان د حکومت او د پښتنو او بلوڅو مشرانو تر منځ د پښتنو او بلوڅو د سیاسي حقونو د تامین په لړ کې وشي، ځکه چې هغو مشرانو اساسي قانون منلی و.

وحید عبدالله عزیز احمد ته جواب ورکړ: تر څو چې افغاني هیئت پوهېدلو، د دواړو هیتونو مشرانو د هغو یو شان وظیفو په غونډکي بحث نه و کړی چې دواړه خواوې به یې په یو وخت تر سره کوي. تر هغې وخته چې د خبرو

نه څه نتیجه وتلی شوه هغه د بهتو هغه اراده وه چې افغانستان سره د ښو اړیکو په لور وخوځي، او هغې مقصد د پاره، د هغه خواهش و چې د پښتنو او بلوڅو غوښتنو ته ځاې ورکولو د پاره لارې چارې ولټوي - د سیاسي بندیانو د خوشي کېدلو د اهمیت په لړ کې، بهتو خپله رضات څرګند کړی وو چې د هغې مسلې به د یو مهم ګام په ډول د حل کولو کوښښ کوي - په ظاهره عزیز احمد په هغې جواب خوشال نه و، خو غلی پاتې شو - دواړو خواو ته اندازه وشوه چې غونډه بېخونده کېدله، نو هغه یې بل وخت ته وځنډوله.

د هیتونو په بله غونډه کې، پاکستانیانو خپل وړاندیز کاغذ ته خېژولی و - د هغې کارنده کاغذ، لکه چې هغوي بللو، نقلونه یې په مونږ ووېشل - په هغې کې د خبرو د غونډکي توکي وو - احمد وویل چې د پاکستان صدراعظم د پښتنو او بلوڅو مشرانو د پرېښودلو په فېصلې ګړندي عمل کولو کې مخلص و - هغه زیاته کړه چې بهتو مناسب ګامونو پورته کولو ته چمتو و، خو محبس نه د هغو وېستلو کې څه پېچلتیاوې وې - صدراعظم د پاره عدالت او قانون جوړونکې موسسې ته په خپل وکالت کې کامیابی د پاره د خلکو مرسته پکار وي - او د رحم نه کار اخستلو د پاره داسې مرسته هله امکان لرلو که د افغانستان حکومت د ډیورنډ کربښې د پېژندګلو په صورت کې د روغې جوړې په لور پوخ ګام واخلي - د پاکستاني کاغذ د محتویاتو د وضاحت په لړ کې احمد وویل؛ د پښتنو او بلوڅو د شکایتونو لرې کولو د پاره د بهتو کار به ډېر اسان شي که افغانستان په رسمي ډول د پښتونستان د موضوع نه لاس واخلي - داسې ګامونه به، د ذهنه په خیال، چاپېریال صفا کړي.

اګرچې په کارنده کاغذ کې د بندیانو د پرېښودلو موضوع د افغانستان له خوا د ډیورنډ کربښې پېژندلو سره، او د پښتنو او بلوڅو مشرانو سره د پاکستان د حکومت روغه د افغانستان له خوا د پښتونستان د موضوع نه لاس اخستلو سره برابر اچولی شوي وو، احمد په خپلو خبرو کې وویل چې افغانستان له پکار دي چې داسې اولني ګامونه پورته کړي چې "چاپېریال روڼ" کړي - په نورو الفاظو، د پاکستان د کوم یو متبادل حرکت نه مخکې.

د بحث مخه چې کومې خوا ته وګرځېده هغه یقیناً هغې لارې سره سمه نه وه کومه چې داود او بهتو نیولي وه - د احمد د اورېدلو نه پس ما هغه ته وویل چې په هغه وخت افغانستان کوم موضوع د انتهاي اهمیت وړ ګڼله هغه د پښتنو او بلوڅو مشرانو خوشي کول او د پاکستان د سیاست لوې لارې ته د هغوي وتل وو - افغانستان چې دې معاملې ته څومره اهمیت ورکاوه، د هغې په نظر کې نیولو سره بهتو په ډېرې مهرباني د هغو خوشي کولو ته راضي شوی و - داسې په یومخیز ډول د چاپېریال روڼول غېر حقیقي وو - که چرې دواړه هېوادونه د یوشان

وظيفو په يو وخت اجرا کولو ته پابند شي لکه په دې کارنده کاغذ کې تجويز شوي دي. بيا هم د هغې نتيجه به ښځې مسليزه وي. د مثال په توګه د هغو د حوسي کېدلو نه پس، که بيا په کومه سياسي بانه هغوي ونيولی شي، نو د غونډکې سودا هغو وظيفو فهرست نه به څه جوړ شي. آيا په هغه صورت کې به افغانستان د ډيورنډ کرښې د منلو فيصله، چې د سودا د يوې برخې په ډول يې منلې وه، واپس اخلي. ما پاکستانيانو ته هغه مشکلات وریاد کړ چې د دواړو هېوادونو د متبادلو وظيفو غونډکي سره محدودولو نه پورته کېدلی شو.

ما ورزياته کړه چې د پاکستان له خوا د پښتنو او بلوڅو د حقونو لاندې کونو دواړه هېوادونه بېل ساتل. اوسنی خنډ لرې کول او مخکې تګ د پاره څه مثبت کار کول پکار وو. او هغه صرف د پاکستان حکومت کولی شو. داسې يو ګام به نه صرف د افغانستان نا باوري ختمه کړي، بلکې د پښتنو او بلوڅو هم، چې هغه ډېره ضروري وه. کله چې د پښتنو او بلوڅو حقونه ورکړی شي، او که بيا هم ټولې ډلې راضي او مخلصې وي، نو د اخرني حل ټولې ډکرې به ورو ورو خپل خپل ځای ونيسي. افغانستان چې څه غوښته هغه د دواړو هېوادونو تر مينځ موقتي نه وو، بلکې اراده يې کړې وه چې اختلاف په کُلي توګه ختم شي، او پاکستان سره د امکان تر حده نزدې اړيکې وده وموومي. آيا د افغانستان او پاکستان تر مينځ نزديکت به، لکه بهتو پخپله ګڼل، د دواړو هېوادونو تر مينځ د تعاون ډېرې حوزې پرانه نځي، او هغه به د پاکستان حکومت پښتنو او بلوڅو سره د ښه نيت او تفاهم د پاره قوي حرکت ته آماده نه کړي.

احمد ووېل چې د دواړو خواو له خوا د برابرو وظيفو په فهرست موافقه مناسب و. که نه پاکستان به خپل ځان باندېني فشار ته مخامخ وګڼي. هغه زياته کړه؛ که ازادو مشرانو د قانون خلاف ورزي وکړه، نو دوي به ارومرو لکه د نورو پاکستانيانو جېل ته ځي. په دې وخت عبدالله جواب ورکړ؛ "تاسو مونږ (د ډيورنډ کرښې د منلو) يوې اساسي فيصلې سره ژمنې ته برابروي، په داسې وخت کې چې د پښتنو او بلوڅو د حقونو د ساتنې په لړ کې به هيڅ نتيجه ونه وځي. تاسو به دا ومنئ چې د برابرو وظيفو په يو وخت د اجراء کولو سوال په دې موجوده حالت کې غبر موذون دی" . د خبرو په دې انداز عزيز احمد خوشاله نه ښکارېد.

د پښتنو او بلوڅو مشرانو د خلاصون سوال په مخ بوتلو د پاره، ما ووېل چې يو ځلې هغه مشران خوشي شي، نو د هغوي د بې خنډه سياسي او ټولنيزو فعاليتونو ضمانت هم پکار دی. ما زياته کړه:

افغانستان دې مسووليت ته غاړه کېږدي چې هر هغه څه چې د پښتنو او بلوڅو د حقونو لازمي سوال مخې ته راولي، هغې ته د نور هر څه نه اول پاملرنه پکار ده. دا د معاملې زړی دی لکه د منځني ختيځ د پاره

د فلسطین مسله . که زه صحیح پوه شوی یم، د پاکستان صدراعظم د دې حقیقت اهمیت منلی دی او فیصله یې کړې ده چې د پښتنو او بلوڅو هیلو ته د ډاډ وړ جواب ورکولو په لړ کې به تر خپله وسه هڅه کوي . ښاغلی بهټو د افغانستان د دولت ریس سره په دې هم موافقه کړې وه چې په هغې لور به د بندي مشرانو خوشي کول وړومبنی ګام وي . خو د افغانستان دا مشوره ده چې د هغوي ازادي به، چې څنګه د اهمیت وړ ده، دومره ارزښت ونه لري که هغوي په کوم یو وخت د خپلو خلکو د خدمت نه منع کړی شي .

احمد جواب ورکړو چې د ضمانت په حواله به د پاکستان ځیني قوانینو کې بدلون پکار وي . هغه زیاته کړه چې دا کورنی معامله وه او صرف پاکستان سره یې اړه لرله . په دې ډګر کې که څه وعده کول وي، هغه وویل، نو هغه به صرف په ښه نیت ولاړه وي او، د افغانستان له خوا د متبادل نیشتوالي په صورت کې، به د هغې پرځای کول ډېر مشکل وي.

په هغې موقعې وحید عبدالله پاکستانیانو ته وویل چې د پاکستان صدراعظم خپله اراده څرګنده کړې وه، چې افغانستان او پاکستان یو بل ته نزدې کړي، او، د داسې کولو لپاره، هغه د دواړو هېوادونو مینځ کې د دوستۍ مخې ته پراته خنډان لرې کول غوښته . وحید عبدالله زیاته کړه چې که بهټو د افغانستان او پاکستان د دوستۍ په لاره د خنډانو لرې کولو په لټون کې فیصله وکړي چې ځینې پاکستاني قوانین به بدلول پکار وي، یا څه نوي آیني انتظامات کول به پکار وي، نو هغه به شاید دا فیصله هم کوي چې آیا د دواړو هېوادونو تر مینځ د روابطو ښه کول په هغو اقداماتو ارزېدل کنه! که هغه غوښته، د داسې اقداماتو د پاره وخت تاکل په پوره توګه د بهټو خوښې ته پرېښودلی شوي وو .

داسې محسوسېده چې د هیسونو په سویه د غونډو نه څه تعمیري نتیجه نه شوه وتلی، نو مونږ پاکستانیانو ته وویل چې په تفصیلاتو بحث ته لا ډېر وخت وه، او په هغه وخت ضروري وو چې د خپلو مشرانو نه لارښودنه وغواړو چې خبرې په کومه مخه واړولی شي . عزیز احمد هغه سلا ومنله .

کله چې مونږ داود د خبرو جریان نه خبر کړ، هغوي داسې راې ورکړه چې پاکستانیان د ضروري چاپېریال جوړولو د فکر کولو نه بغېر د یو حل په لور بیړې اخستي وو، په داسې یوه لاره چې هغه نامناسبه او زیانمنه ګنله . کله چې هغوي بیا خبرې پیل کړې، نو داود بهټو سره په هغه خبرې وکړې . بهټو سم د واره موافقه وکړه او وې ویل چې بیړه مناسب نه وه . هغه زیاته کړه چې د دواړو هېوادونو تر مینځ دشمني د ډېرې مودې راسې روانه وه، او دواړو د پاره وخت پکار وه چې یو حل منلو د پاره خپل خپل خلک آماده کړي . بهټو وویل؛ د هغه یقین وه چې د

اړیکو د ښه کولو جریان واپس د ګرځولو نه وه، او هغه څه چې په حقیقت کې ارزښتناك وو د باور او ښه نیت هغه چاپېریال ساتل وو. هغه وویل چې موجوده خبرې "د هغو روانو خبرو اترو چې دواړو مشرانو په نظر کې نیولې وې، یوه برخه جوړېدله". او په مناسب وخت او د دوستۍ په یو صحیح چاپېریال کې به یقیناً هغه اختلافونه خپل اصلیت بایلي او ورو ورو به پخپله ختم شي.

پاکستان ته د داود د رسمي سفر په ختمېدو یوه ګډه اعلامیه خپره شو. په هغې کې دواړو خواو په هغو اصولو ټینګار وکړو چې پخوا د کابل په اعلامیې کې خواره شوي وو، او ژمنه یې وکړه چې یو حل ته رسېدلو د پاره به خپلې خبرې "د کابل د روحیې" سره سمې جاري ساتي. په تېر ماسخوتن چې د محمد داود په ویاړ کوم رسمي دعوت شوی وو، هغې کې بهټو ویلي وو:

لطفاً زمونږ په اخلاص باور ولري، او لطفاً یو حل ته رسېدلو د پاره هغه هڅې چې مونږ یې ستاسو په ملګرتیا کې کوو ومنئ، ځکه چې یو ځلې زمونږ اختلافونه، یا اختلاف لکه تاسو ویل غواړئ، حل شي، نو، مونږ ته معلومه ده، چې زمونږه د خلکو ښوالي ته به ډېرې درېځې خلاصې شي او د افغانستان او پاکستان خلك به ترې په ګډه سره ګټه اخلي.

د کابل په لاره واپسۍ کې، ما ناڅاپه داود نه پوښتنه وکړه چې د بهټو په هکله د هغوي څه خیال و. هغه سملاسي جواب راکړو؛ "دې کې شك نیشته چې بهټو یو سیاستمدار دی او ډېر زیات ځیرك سړی دی، خو زه نه پوهېږم چې په هغه څومره باور کېدای شي".

پاکستان ته د داود له سفر نه پس د دواړو هېوادونو روابط نور هم ښه شو. تېرېدونکی تجارت اوار روان وه. د هندوستان د فصل نه د اضافه غنمو په هکله هم اجازت ورکړی شو چې هندوستان نه افغانستان ته د زمکې د لارې تېر شي. د ١٩٧٧ء د مارچ په دویمه نېټه افغانستان او پاکستان د هواي خدمت بیا اجراء باندې موافقه وکړه. دا خدمت د ١٩٧٤ء د پېل نه ځنډولی شوی و.

بل وار مونږ بهټو د ١٩٧٧ء د جون په نهمه نېټه لیدلی و (هغه وخت زما د باندېنیو چارو د مرستیال وزیر رتبې ته ترفیع شوې وه). تهران نه په واپسۍ هغه د داود لیدو د پاره یوې شپې ته ایسار شوی و. بهټو د ١٩٧٧ء عمومي انتخاباتو کې درغلۍ کړې وه او په سیاسي جبو کې ژور بوخت وه. داود سره په غیر رسمي او د ماسخوتن د ډوډۍ په وخت مرکو کې، هغه هڅه کوله چې د هغه له خوا انتخاباتو کې د ګوتو وهلو په نتیجه کې چې پاکستان کې کومې مظاهرې روانې وې او ناارامي وه هغه کمه وښیي. هغه وویل چې مخالفین هغو تش د نامې نېرونو ته ډېره زیاته هوا ورکوله۳۰. هغه تآسف ښکاره کړ چې پاکستان کې د داسې غیر عادي حالت راپیدا کېدلو سره هغه سیاسي بندیانو خوشي کولو کې

بریدلی شوی نه وه . داود ورته غوږ ایښې وه او په آخر کې یې ورباندې زور راوړو چې د پښتنو او بلوڅو مشرانو په خوشي کولو کې دې ځنډ نه کوي . بهټو جواب ورکړ چې هغه د ټولو نه اهمه موضوع هغه هېره کړې نه وه، او ځنګه چې هغه ناارامي عادي حالت ته وګرځي، نو هغه به هغې ته اولیت ورکوي.

له بده مرغه چې د بهټو لپاره حالت عادي نه شو . د ۱۹۷۷ء د جولای د پنځمې نېټې په شپه پوځ په هغه تخته واړوله . د پاکستاني پوځ لویې درستیز جنرال ضیاءالحق د چیف مارشل لاء اېډمنسټرېټر (د نظامي قانون ستر مدیر) په حیث د حکومت واګې په خپل لاس کې واخستې . پاکستان کې نظامي قانون اعلان شو او سیاسي فعالیتونو باندې بندېز ولګېد .

د پاکستان تېرو نظامي رژیمونو سره د تېرو افغاني حکومتونو مشکل وختونه مونږ ته یاد وو .هغې نظامي بدلون ته زمونږ اولنی عکس العمل ښه نه وه . خو وخت تېرېدلو سره او د ولس مشر داود او جنرال ضیاءالحق تر مینځ تماس وشو، نو مونږ په دې معلوملو خوشاله شو چې تر هغې وخته ځومره د پاکستان مشران چې مونږ لیدلي وو هغو ټولو نه هغه زیات درونخویه، رونمخی، او د پراخه نظر خاوند وه .

پاکستان کې د نظامي رژیم د پېل نه پس ډېر زر جنرال ضیاء ولسمشر داود ته خبر ورکړ چې د هغه حکومت د پاکستان او افغانستان دواړه ګډه اعلامیې منلې وې، او غوښتل یې چې نه صرف د "کابل روحیه" په ځای وساتي بلکې هغې ته نوره وده او توان ورکړي . هغه داود سره د لیدلو خواهش ځرګند کړ، او هغه ورته بلنه ورکړه چې ځومر زر کېدلی شوه کابل ته سفر کولی شي . هغه وخت داود نور احمد اعتمادي پاکستان کې سفیر ټاکلی و، چې یو پخوانی صدراعظم او یو ډېر قابل او ویاړلی افغان سیاستمدار وه۳۱ . هغې ټاکنې هغې اهمیت ته اشاره کوله چې پاکستان سره د روابطو عادي کولو په لړ کې افغانستان لرلو، او پاکستانیانو هم داسې فکر کاوه .

جنرال ضیاء د ۱۹۷۷ء په اکتوبر کې د افغانستان سفر وکړ . د تشریفاتو د مخه په هوای ډګر ضیاء ته ولس مشر داود هرکلی ونه وایه، بلکې د کابینې یو عالي رتبه غړي، او د دواړو په خوښه هغه هرکلی ډېر ټیټ وساتل شو۳۲ . کابل کې د داود او ضیاء دوه خصوصي لیدنې وشوې؛ زه یوازینی نفر وم چې په هغو کې ناست وم .

داود ته جنرال پاکستان کې د هغو انکشافاتو معلومات ورکړ چې پوځ یې د بهټو حکومت رنګولو ته هڅولی و . هغه د پاکستان د راتلونکي وخت د پاره خپل پروګرام هم په عمومي ډول واضحه کړ . داود د افغانستان او پاکستان د اړیکو په باب بهټو سره د خپلو مرکو لنډیز وړاندې کړ، او هیله یې ځرګنده کړه

چې دواړه خواوې به د یو ویاړلي حل په لور یون نه دوام ورکړي . د افغانستان د موقعیت او حیثیت باره کې د ښې پوهې د څرګندولو په ترڅ کې، جنرال د افغانستان او پاکستان د ګړندي روغې د لارې نه خنډانو لرې کولو د پاره ژمنه وکړه . هغه وویل چې ډېر اجباري توکي وو چې دواړه مسلمان ګاونډیان یې د ورورولۍ ژوند ته هڅول . جنرال زیاته کړه چې د پاکستان او افغانستان رواني دښمنۍ دواړو هېوادونو ته ډېرې خطرې ودرولي دي .

کابل کې د خبرو له هغې غیر رسمي لړۍ څخه دا هېله نه کېدله چې څه اهم پرمختګ به وشي، خو د دواړو مشرانو د پېژندګلو او د یو بل د کړنلارو او هېلو نه خبرېدلو د پاره ګټوره ضرور وه . دا ښېخي سپینه وه چې د هغو دوو سرو تر مینځ یې یوه بهترینه رابطه جوړه کړه . ولس مشر داود او جنرال ضیاء د راتلونکي کال په پېل کې پاکستان کې خبرو ته په دوام ورکولو موافقه وکړه . ګډه اعلامیه څوره نه شوه .

دې دوران (١٩٧٧ء) کې بلوڅستان کې جنګ ختم شو او د ١٩٧٨ ء په پېل کې هلته حالت تقریباً عادي شوی و . کابل ته د جنرال ضیاء د سفر نه پس یو څو میاشتو کې، سفیر اعتمادي هغوي سره او د هغوي حکومت سره ښه روابط قایم کړي وو، او جنرال ته به یې یادونه کوله چې د خبرو د بل لړ نه آګاهو د پښتنو او بلوڅو په هکله څه ښکاره قدم پورته کړي . هغه وخت چې داود د دویم رسمي سفر فېصله کوله، جنرال ضیاء هغه ښکاره قدم پورته کړی وو او ټول پښتانه او بلوڅ مشران یې پرېښي وو . دا راز د دواړو هېوادونو د روابطو عادي کولو په لور وړومبنی پوخ ګام پورته شو . ازاد شوي مشران د پاکستان د سیاست لوې لارې ته نه وو وتي، ځکه چې د نظامي قانون د مخه ټول سیاسي فعالیتونه بندیز لاندې وو، خو هغوي د مشرۍ او د خپلو خلکو د نمایندګۍ حیثیت واپس وګټلو .

ولس مشر داود د یو شمېر هېوادونو د رسمي سفرونو نه پس د ١٩٧٨ء د مارچ په پنځمه نېټه دهلي نه راولپنډۍ ته ورسېدو[٣٣] . جنرال ضیاءالحق او نورو پاکستاني سپین روبو هغه ته هرکلی ووایه . په هواي ډګر هرکلي درون خو ساده وه . هغې افغان ولس مشر څوشال کړ .

د دواړو مشرانو تر مینځ دا خبرې هم خصوصي وې؛ یوازې زه به ورسره وم . جنرال ضیاء د پاکستان د پښتو، د هېواد د راتلونکي وخت د پاره د هغه د منصوبو، د روغې په لړ کې د هغه د هڅو، او د هغو توکو د ښېخه وېستلو چې، د هغه په خیال، د پاکستان ټولنه یې مفسده کړې وه، په باب مفصل ذکر وکړ . هغه خوشالي څرګنده کړه چې پښتانه او بلوڅ مشران یو ځلې بیا ازاد وو، او د ولي خان او نورو خلاف د عدلیې هغه چارې چې په سیاسي تحریك بنا وې، ځنډولی شوې وې .

جنرال ضياء چې پاکستان کې د انکشافاتو کومه جامع خاکه وړاندې کړه، داود د هغې په لړ کې هغه نه مننه وکړه، او د پښتنو او بلوڅو مشرانو چې خوشې کولو یې ورته خپله خوښي څرګنده کړه. هغه وویل چې دا د اسلامي ورورولۍ یوه نخښه وه، او د افغانستان خلکو، او پښتنو او بلوڅو د ستاینې وړ وه. هغه هېله څرګنده کړه چې په مناسب وخت به د خپلو خلکو په ګټه مشران سیاسي فعالیتونه بیا پېل کړي. هغه وویل چې د پښتنو او بلوڅو راتلونکی وخت په کلي توګه د هغو خپل کار دی، په دې لړ کې افغانستان د هغوي د فېصلې پابند دی. داود ذکر وکړو چې داسې هېوادونه شته چې هغوي د افغانستان او پاکستان په روابطو کې چې کوم رو پېدا شوی دی هغې ته خوشاله نه دي، او د نظامي اهمیت په دې سیمه کې خطرناکې پټې څپې وې چې د دواړو هېوادونو استحکام ته یې زیان رسولی شو. بیا داود د شوروي اتحاد د نوم اخستلو نه بغېر هغې ته اشارې وکړه. هغه زیاته کړه چې په پیوستون او ورورولۍ کې دواړه هېوادونه د خپل استقلال د ساتلو په غرض په ښه ډول د هغو خطرو مخې ته ودرېدلی شو. داود وویل چې د افغانستان او پاکستان د ښو روابطو ساتل د اساسي اهمیت لرونکي دي.

داود په دې خبره زور واچاوه چې کله پاکستان جوړېده، نو د پښتنو د اوږدې شخړې د اوارې په لړ کې افغانان ډېر هیله من وو. د هغوي دا خیال وه چې د بریتانیې په نسبت اسلامي پاکستان سره یوې روغې ته رسېدل به اسان وي. خو له بده مرغه د وخت په تېرېدو سره هغه هېلې تس نس شوې. روابط غوڅېدلو ته وسپارلی شو. پوړ په پوړ اشتباه، غلط تاویل او غلطې پوهې نسبتاً ساده موضوع پېچه کړو. په دې دوران کې افغانستان او پاکستان بېلې بېلې لارې خوښې کړې بېشکه، د مشرانو د ضرورتونو د احساس د مخه پاکستان ځان د لوېدیځ انډې ته واچاوه. افغانستان، په سیمه کې د ځانلتوب د نظره، په بله لاره روان شو، چې هغې د پاکستان ناارامۍ کې اضافه وکړه. خو، داود وویل، که پاکستان سره دا اختلاف نه وی، نو افغانستان به هغه لاره نه وی نیولی (د داود اشاره شوروي اتحاد سره د افغانستان نزدېکت ته وه). د افغانستان ناپېلتوب ته د اشارې په ترڅ کې داود زیاته کړه چې د هغوي سیاسي موقف د افغانستان د هېلو سره موافقت درلود. په هر حال د اسلامي ګاونډیانو سره د افغانستان ټینګ اړیکي، که هغوي لوېدیځ سره ملګري وي هم، د افغانستان د پایښت د پاره سیاسي ارزښت لري. او د افغانستان حکومت د هغو اړیکو نیشتوالی همېشه راسې محسوس کړی دی. داود وویل: "خو مونږ دلته د تېرو غلطیو، غلط تاویلونو او شکونو په لړ کې په چا تور لګولو د پاره نه یو. که مونږ د خپل یووستون په ټینګولو کې بریالي شو، نو د دې ګټې به د تېرو او د لاسه ورکړو کلونو او موقعو تلافي وکړي". هغه

مخکې وویل؛ "اوس چې افغانستان او پاکستان خپل حساسیتونه پرېږدي، او د خپلې مسلې په حل کې مخلص دي، نو دا ضروري ده چې دوی داسې بل یو دریځ پرېنږدي چې بیا دواړه سره بېل کړي" - داود وویل چې اخرني حل ته لاره د مشکلاتو نه خالي نه وه، خو د هغه یقین وه چې افغانستان او پاکستان به، په یو ځاې په اخلاص کار کولو سره، هغه ټول خنډان لرې کړي - هغه وویل چې دا ضروري ده چې اخرني حل ته هر یو ګام په احتیاط او په خپلمینځي تعاون واخستلی شي، چې د کامیابي او عوامي خوښي یقیني کړي -

ولس مشر داود وویل؛ د ښه نیت دا اوسنی چاپېریال چې په دوستۍ او ښې پوهې بدل شي، نو پکار ده چې پاخه او قوي ګامونه پورته شي لکه اساسي اقتصادي او کلتوري تعاون - هغه وړاندیز وکړ چې د لوړې رتبې یو ګډ اقتصادي کمیسون دې جوړ کړی شي چې د دواړو هېوادونو تر مینځ اقتصادي تعاون ته وده ورکړي او ګډې اقتصادي مؤسسې هم جوړې کړي - نور هغه وویل چې د دواړو هېوادونو باصلاحیته مقامات دې په ګډه د کلتوري راشه درشه امکانات وڅېړي او هغې د پاره دې یو پروګرام جوړ کړي -

جنرال ضیاء ولس مشر محمد داود ته وویل چې د دوو اسلامي ګاونډیانو تر مینځ د نزدو اړیکو په هکله د هغوی نظر یوشان و - ضیاء ذکر وکړ چې د دواړو هېوادونو تر منځ د تعاون په ګټه د پاکستان حکومت ښه خبر و - هغه وویل چې تعاون دواړو ملتونو ته خوشالي ورکوي، او دا پیوستون د هغوی شریك توان سېوا کوي - جنرال ډاډ ځرګند کړو چې پښتانه او بلوڅ مشران خوشي شوي وو، او وې ویل چې هر کله پاکستان کې حالات اجازت ورکړي، نو هغه هیڅ داسې وجه نه وینې چې پښتانه او بلوڅ نمائندګان دې د پاکستان سیاسي ژوند کې نورو سره برابر برخه وانه خلي - ضیاء وویل چې هغه پښتنو او بلوڅو مشرانو سره په هغه لړ کې خبرې کړې وې او هغوی سره یې خپل تماس جاري غوښته -

جنرال ضیاء د ولس مشر هغې وړاندیز سره موافقه ځرګنده کړه چې دواړه حکومتونه دې د اخري حل په لاره کندو کپرو ته ګوري او په احتیاط او بېدارۍ دې په مخکې قدم اخلي - پاکستاني مشر وویل چې د دواړو هېوادونو تر مینځ مکمله پوهه پکار وه - د هغه په خیال هغه راغلې وه او د روغې جوړې جریان واپس د ګرځېدو نه و - هغه وویل چې اخري حل به په مناسب وخت او ښو شرائطو کې راټوکېږي - هغه د سردار محمد داود هغې وړاندیز ته هم هرکلی ووې چې د اقتصادي او کلتوري د تعاون په ساحه کې کوم اقدامات کول پکار وو، او هغه خوځښت یې ډېر ګټور وباله چې د افغانستان او پاکستان د خلکو تر منځ پوهه سېوا او دوستي پخه شي -

ولس مشر سردار محمد داود د جنرال ضیاء په وضاحت د هغوی نه مننه

وکړه او ورته یې وویل چې دا د هغه نازولې هېله وه چې پښتانه، د جګړې د سبب جوړېدلو په ځای، د پاکستان او افغانستان د پیوستون راوستلو کړی شي. ولس مشر داود او جنرال ضیاء په دې موافقه وکړه چې په راتلونکې اوړې کې به د دوه اړخیزه خبرو بل لړ په کابل کې وشي.

پاکستان ته د ولس مشر داود په دویم رسمي سفر کې یوه ښکاره پېښه پښتنو او بلوڅو مشرانو سره د هغه لېدنه وه، چې په هغو کې عبدالولي خان، غوث بخش بزنجو، عطاءالله منګل او خېر بخش مري شامل وو. په دې خاطر چې هغې غونډې ته سیمه ایز رنګ ور نه کړي، او دا هم څرګنده کړي چې پښتانه او بلوڅ د پاکستان د سیاست د لویې لارې سیاستمداران دي، کوربه حکومت د نورو ژبو او پاکستاني سیاسي ډلو مشهور سیاسي مشران هم بللي وو. ولس مشر له هر یو سیاسي مشر سره روغبړ او خبرې وکړې او دعا یې کوله چې د خپلو خلکو په خدمت کې دې بریالی شي. په نژدو ورځو کې د محبس نه وتي ځینې پښتانه مشران د هغه زاړه یاران وو. هغه خوښي څرګنده کړه چې هغوی یو ځلې بیا ازاد او روغ ویني، او ورسره یې څه زاړه یادونه تازه کړل. هغه غونډه چې جنرال ضیاء هم په کې شامل و، تقریباً ټوله ورځ واخیسته. داسې ښکارېده چې ولس مشر هغه اوږده غونډه خوښه کړې وه. وروستو یې مونږ ته وویل چې هلته د بیان شوو رایو نه هغه ګټه پورته کړه او خوشاله وه چې زاړه دوستان یې ولید.

د پاکستان له خلکو سره د لېدنې ارزومن سردار محمد داود د جنرال ضیاء هغه بلنه په خوشالۍ ومنله چې یو ځلې بیا د لاهور شالیمار باغ کې یو ولسي دعوت ته خطاب وکړي. د تود هرکلي په حالت کې هغه د پاکستان خلکو ته وویل:

ستاسو توان زمونږ توان دی، ستاسو ښېګړه زمونږ ښېګړه ده، او ستاسو استحکام زمونږ استحکام دی ... راځئ چې د ورورولۍ او اخلاق په ګرمه ملګرتیا کې لاس په لاس روان شو او زمونږ مخې ته پروت مزل غوځ کړو. دعا کوم چې هغه ورځ زر راشي چې زمونږ د ورورولۍ موجوده اړیکي په یو پاخه ... حقیقت بدل شي. هېله لرم چې د پاکستان او افغانستان دوستي په پخه او پایداره وي[۳۵]

له څه وقفې نه پس هغه د پاکستان ملي شاعر علامه اقبال یو دري نظم واورولو چې یو څو کاله مخکې لیکلی شوی و:

آسیا یك پیکر آب و گل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
از فساد او فساد آسیا
در کشاد او کشاد آسیا

د شعر داسې في البديهه وېنا زه حېران کړم ولې چې دې د سردار داود خاموش فطرت سره بېخي سمون نه خوړ. هغه وخت زما دا خیال و چې د حاضرینو جوش و خروش او د هرکلي تودوخې به اورمړو هغه ځان سره په مخه اخیستی وه. په هر حال، د تېرو حالاتو په رڼا کې، دا خیال د فکر نه غورځولی نه شو چې سردار محمد داود، چې په ناڅاپي ډول ځان په شالیمار کې خلکو سره داسې نږدې ولېدو او راتلونکو وخیمو پېښو بوی پرې لګېدلی وه، وغوښته چې افغانستان ته د ځوړنده خطرې زنګ ووهي او، شاید، خپل ختیځ ګاونډي ته. په هر حال د هغې یادوړ مازیګري نه یو څو ورځې پس روسي امپراتورۍ د سوویل په لور خپل پرمختګ بیا پیل کړو.

هغه ماښام په دولتي دعوت کې په خپله وېنا کې سردار داود وویل چې په دوه اړخیزه اړیکو خبرې، په خصوصي توګه د دواړو هېوادونو تر مینځه په سیاسي اختلاف چې "دېرشو کالو راسې یې په روابطو د شك او شبهې وریځ خوره کړې وه، ډېرې ګټورې او ښېرازه ثابتې شوې وي"[٣٦] د خبرو په تازه کېدلو او د هغې په نتیجه کې د ښه نیت او پوهې د یو نوی دور په پرانستلو هغه خوشالي څرګنده کړه. دې نه آګاهو، ضیاء په خپله وینا کې د ګډو خوشالیو د پاره د دواړو هېوادونو په یو ځای د کار کولو په هېلو خوشبیني څرګنده کړې وه.

کابل ته د سردار محمد داود د روانېدلو په وخت، چې ډېر ناوخته وه، د پاکستان د باندېنیو چارو وزارت د افغان هیئت غړي په بیړه یوې جوړې شوې غونډې ته وبلل. ځنګه چې مونږ هلته ورسېدو، د پاکستان د باندېنیو چارو وزیر آغا شاهي مونږ ته د ګډې اعلامیئې یوه مسوده راکړه چې پاکستان تیاره کړې وه. په متن د ځغلنده نظر نه معلومه شوه چې هغه په حقیقت کې ګډه اعلامیه نه وه بلکې د یو تړون مسوده وه. پاکستانیانو غوښته چې مونږ یې ومنو او لاسلیك یې کړو. د متن د مخه: افغانستان به ډیورنډ کرښه د دواړو هېوادونو تر مینځ د بین المللي پولې په حیث مني، او د پښتونستان مسئله به پرېږدي؛ دواړه خواوې به د یو بل په کورنیو چارو کې د لاسوهنې نه کولو ژمنه کوي؛ دواړه خواوې به د یو بل خلاف د مخاصمانه پروپګنډې بیا د نه پیل کولو مسئولیت په غاړه اخلي؛ او دواړه خواوې به د اقتصادي او کلتوري تعاون پهٔ یو پراخه پروګرام موافقه کوي.

وحید عبدالله پاکستانیانو ته وویل چې افغانستان د هغې ژمنې حمائت کوي چې د یو بل په چارو کې به لاسوهنه نه کوي، او د دواړو هېوادونو تر مینځ اقتصادي او کلتوري تعاون ته هرکلې وائي، نه صرف د یو ضرورت د مخه بلکې دې د پاره هم چې افغانان او پاکستانیان روغې ته تیار کړي. افغانان دې ته هم تیار وو چې مخاصمانه پروپګنډه بیا پیل نه شي. خو، وحید عبدالله وویل، افغانستان په دې پړاو د پاکستان د متن وړومبني دوه توکي نه شو منلی، د

ډيورنډ کرښې پېژندنه او د پښتونستان د مسئلې پرېښوده. هغه پاکستانيانو ته وويل چې دې نه انکار نه شو کېدلی چې هغه چارې به بلاخر د ډاډ وړ حل ته ورسي، خو تر هغې وخته د خبرو مقصد د زمکې وتره کول وه، او دواړو مشرانو د خپل خپل عقل سره سم د هغو سوالونو اوچتول مناسب نه وو ګڼلي. هغه زياته کړه چې د پښتنو او بلوڅو خوشي کول د ښه نيت يوه ښکاره نخښه وه، خو دا ذهن کې ساتل پکار دي چې افغانستان همېشه د پاره د هغو په خوشي کولو او د پاکستان د سياست لوئې لارې ته د بيا وتلو په غوښتنه زور اچولو. وحيد عبدالله ښکاره کړه چې د معاملې هغه اړخ لا فېصله شوی نه وه. وحيد عبدالله وويل: پاکستانيان همېشه د پاره د ډيورنډ کرښې سوال پورته کولو ته تلوسې اخستې وو، خو آيا هغوی ته دا احساس وه چې هغه کرښه يوې لوئې جرګې باطله کړې وه، او صرف هغه لويه نمائنده جرګه خپله شوې فېصله واپس اخستلی شي؟ نه خو د افغانستان ولس مشر او نه بل څوك چې دلته حاضر دی دا اختيار لري چې د ډيورنډ کرښې يا د پښتونستان په هکله څه فېصله وکړي. داسې فېصله د افغانستان خلکو سره تعلق لري او صرف هغوی داسې کولی شي.

وحيد عبدالله د پاکستان د باندېنيو چارو وزارت مامورينو ته وويل: زما د معلوماتو د مخه د پاکستان د حکومت او د پښتنو او بلوڅو مشرانو تر مينځ د هغوی د راتلونکي وخت باره کې لا څه موافقه نه وه شوې، هو، افغانستان منې چې داسې تفاهم د پاکستان د اساسي قانون په چوکاټ کې راتلو. د جنرال ضياء په وېنا هغوی ايله هغو مشرانو سره خبرې پېل کړې وې او هغه يې جاري ساتل غوښته. شائد د اساسي قانون د سره بيا رغول پکار وه چې د بهټو په دور کې پښتونستان او بلوڅستان کې شوې پېښې بيا تکرار نه شي. شائد دواړه خواوې (پښتانه او بلوڅ او پاکستانيان) به په څه نوې شان لارې موافقه وکړي. د دې بيان مشکل دی چې د انتظاماتو نوعيت به څنګه وي. د داسې قسم مهم اقداماتو نه مخکې کوم چې د پاکستان د باندېنيو چارو وزارت وړاندې کوي، افغانستان ته مناسب يقين ورکول پکار دي چې په څه روغه شوې وه، خصوصاً د پښتنو باره کې چې هغوی څه منلي وو. وحيد عبدالله د احتياط او ډېر زغم مشوره ورکړه. لوړرتبه پاکستاني مامورين چې هلته موجود وو، او د افغانستان باره کې د شك او بې اتبارۍ په چاپېرياڵ کې روزلی شوي وو، ښکارېدل چې قهرېدلي وو. هغوی په ظاهره د مسئلې د ډاډ وړ او وياړلي حل ته رسېدلو د پاره د افغانستان د اخلاص دعوو باندې شك کاو. مونږ داسې ګنګوسې اورېدلې چې هغوی د افغانستان ښکاره ارادې ته "د افغانستان چل ول" ويل چې خبرې دې د دواړو هېوادونو تر مينځ د مسئلې تر حله پورې جاري وساتلی شي. په هغې غونډه کې د هغوی د مخونو نخښنو دې کې شك پرېښښو چې هغه صرف ګنګوسې نه وې.

مونږ پاکستانیانو ته وویل چې مونږ به د یوې ګډې اعلامیې خپرول ومنو. خو هغه دې دې نه ساده او په عمومي انداز کې وي، چې دا وښائي چې څه خبرې شوې وې او په کومو خبرو موافقه شوې وه. خو پاکستانیان زمونږ مشورو منلو کې سانیولي وو. دې د پاره مونږ ورته وویل چې مونږ به هغه معامله ولس مشر ته مخکې کړو او د هغوی لارښودنه به وغواړو.

کله چې د اخرنی انکشاف نه خبر شو، نو ولس مشر ارواښاد محمد داود د هغې سخت مخالفت وکړو او مونږ ته وویل چې د پاکستان منن ونه منو. مونږ ته یې وویل چې هغه به سهار هغه معامله جنرال ضیاء ته وړاندې کړي. بله ورځ سهار د ولس مشر او جنرال ضیاء تر مینځ یوه ناټاکلې لیدنه ترتیب شوه. یو څو ساعته پس چې دواړه مشران یو ځای شول، سردار محمد داود، چې په ظاهره ښه پرسکون وه، ضیاء ته وویل چې د پاکستان د باندینیو چارو وزارت د افغان هیئت غړو د پاره مشکلات پیدا کول. ضیاء وخندل او وې ویل: هغه ته معلومه وه چې د هغه بیوروکراټان بې د ضرورته په جوش کې وه. هغه ولس مشر ته وویل چې هغه دواړه خبر وه چې څومره زمکه وهلې شوې او پرمختګ شوی وه، او، کله چې وخت راشي، دواړه خواوې به نور مناسب اقدامات وکړي. ضیاء زیاته کړه چې د دوو ورونو تر مینځ د متن یا سندونو هیڅ ضرورت نه وه. مونږ نور څه د ګډې اعلامیې باره کې وانه وریدل.

پاکستان کې د استوګنې په ختمیدو، ولس مشر محمد داود د مارچ په اتمه نیټه یوې مطبوعاتي مرکې ته وویل، چې د هغه سفر "د دواړو هیوادونو تر منځ د روابطو ښه کولو په لور یو مهم ګام وه"[37] هغوی نه پوښتنه وشوه: "آیا جنرال ضیاءالحق سره ستاسو په لیدنه کې د دواړو هیوادونو تر مینځ په سیاسي اختلاف هم خبرې وشوې؟" ښاغلي سردار محمد داود وویل: "هر څه باندې خبرې وشوې، او وخت تیریدلو سره به هر څه په خپل خپل ځای شي، او وخت به د هر څه خیال وساتي"[38]. د یو بل سوال په جواب کې محمد داود وویل: "مونږ (افغانستان او پاکستان) د یو بل په موقف پوره پوهیږو او ... تر کومه حده زمونږ راتلونکی وخت به شریك وي"[39]. هغه په مطبوعاتي مرکه کې زیاته کړه چې دواړه خواوې د یو ګډ اقتصادي کمیسون په جوړولو او د کلتوري تعاون د ساحې په پراخولو موافقه کړې وه. هغه حاضرین په دې هم خبر کړل چې د ضیاء او د هغوی تر منځ د خبرو بل لړ به راتلونکي اوړي کې په کابل کې وشي.

کابل د پاره الوتکې ته له ختو نه مخکې ولس مشر محمد داود په ظاهره ښه چروت کې و. ما ترې پاکستان ته د سفر او د جنرال ضیاء باره کې پوښتنه وکړه چې د هغوی څه خیال وه. هغوی وویل: "په مجموعې ډول زه د سفر نه مطمئن یم. جنرال یو دیانتدار سړی دی. زما خیال دی چې هغه سره مونږ پر مخ

تلې شو" زما هم دا خیال وه ـ له بده مرغه، د هغو دواړو بله لېدنه ونه شوه ـ اسلام آباد ته په واپسۍ یو څو اوونۍ وروسته. د کمیونستانو برید محمد داود او د هغه رژیم له منځه یوړ!!! ـ

د جمهوریت په دوره کې د افغانستان او پاکستان خبرو سره زه ډېر نږدې پاتې ووم، زما په ذهن کې څه شك نه شته چې د دواړو هېوادونو مشران به، په هغې عجیبه لارې چې هغوی جوړه کړې وه، ارو مرو د افغانستان او پاکستان د اختلاف په یو ویاړلي حل کې کامیاب شوی وی ـ د حل وخت د پاره ځینو مختلفو توکو ته ضرورت وه، خو زما یقین وه، او دا اټکل بېځایه نه وه، چې په دریو څلورو کالو کې به د افغانستان او پاکستان اختلاف نه وی پاتې شوی ـ د افغانستان او پاکستان د خبرو د ذکروړ اړخ هغه نرمه لاره وه چې هغو نیولې وه ـ هغې د پاره ډېره حوصله او پوهه پکار وه، چې شاید صرف د نظر او پراخ فکر خاوند خپلولی شوې. د افغانستان او پاکستان د جګړې فطرت دومره نازك و او دومره تېز جذبات یې پارول، چې هغو بیوروکراټانو سملاسي نیتجو د پاره چې کوم مخامخ برید خوښاوه هغې د عادي کولو جریان واپس ګرځولی شو او د طرفینو موقف یې نور سختولی شو ـ د دواړو هېوادونو د حل په لاره د ټولو نه مهم توکی د پخې دوستۍ په مخ یون د پاره د طرفینو اراده وه ـ هغه اراده د هغې احساس پیدایښت و چې په دې بحراني نړۍ کې چې هغوی ژوند کاو هغوی ته د یو بل ضرورت و، او د هغوی دشمني د دواړو خواو د پاره زیانمنه وه ـ د افغانستان او پاکستان مشران په چپه خوله دې موافقې ته رسېدلي وو چې په خپلمینځي اتبار او د ټولنې په ګټو لا پخه دوستي به داسې چاپېریال جوړ کړي چې د دواړو هېوادونو تر مینځ د اختلاف حل به په خپله او پرامن چاپېریال کې راوټوکېږي ـ

د ولس مشر محمد داود او ذوالفقار علي بهټو او بیا جنرال ضیاءالحق سره کومې خبرې چې شوې وې هغو خپل اوچت ذوق او اعلا ظرفیت د لاسه نه و ورکړی ـ هغوی به هغو موافقو نه په کلکه څنګ کولو چې نورو فریقېنو ته یې زیان رسولو ـ سېلیګ هریسن په خپل کتاب "د افغانستان په سوري" 'In Afghanistan) Shadow) کې خپل حېرانوونکی یقین داسې بیانوي:

"په کال ۱۹۷۸ء کې د وژل کېدو نه لږ مخکې هغه (داود) اسلام آباد سره د یو تړون په ژۍ ولاړ و چې بلوڅ "مهاجر" په زور پاکستان ته ستانه کړي"[۴۰] ـ

زه هغه ته ډاډ ورکوم چې د داسې قسم څه پېښ شوي نه و، او د هغه وینا بېخي غلطه ده ـ داراز داسې اشاره هم ورکول شوې ده چې په دوه اړخیزه خبرو کې د افغانستان موقف نرم شوی و چې پاکستان سمندر ته د ازادې او بېخنډه لارې، او په کراچۍ یا د پاکستان په بلې یوې بندرګاه د اسانتیاو، وړاندیز وکړ. بېشکه د افغانستان سمندر ته د ازادې لارې او هغې سره تړلو مسئلو د حق سوال

به بحث د پاره په مناسب وخت وچتولی شو، شاید په ګډ کمیسون کې، خو هغه هیڅکله د افغانستان او پاکستان د مشرانو د اوچتې سویې په لېدنو کې نه وه پورته شوی.

د کال ۱۹۷۶ء د مني نه را په دېخوا، د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبله او نوي بین المللي غونډو کې د افغانستان نماینده وېناګانو د افغانستان او پاکستان په روابطو کې د مثبت روش عکاسي کوله[۴۱]. د تېر وخت جنګیالی لهجه په یو خوشبین چاپېریال بدله شوې وه. د پاکستان د حساسیت د احترام په خاطر د پښتونستان د کلیزې چې د آګست په دېرشمه نېټه نمانځلی شوه، نمانځنه ډېره ټیټه کړی شوې وه، او په هغې موقعې وېناګانو کې د جنګ جګړې خصلت نه وه. په هغه موقع افغان، پښتون او بلوڅ وېناوالو د افغانستان او پاکستان د روابطو په ښه کېدلو ډاډ څرګند کړی و او هېله یې کوله چې هغه ښه والی به پښتنو او بلوڅو ته د خپل اساسي حقونو ورکولو کې مرسته وکړي.

له بده مرغه، د ۱۹۷۸ء په اپرېل کې د کمونستانو کودتا د روغې په لاره هغه بېسارې هڅې په ټپه ودرولې، چې د جمهوریت په وروستیو کلونو کې سردار محمد داود او د هغه پاکستاني هم منصبانو له خوا پېل شوې او د دوو ګاونډیانو تر مینځ د اوږدې جګړې حل ته ورڅېلمه شوې وې. کېدی شي چې د هغې جګړې د روغې قوي امکان د افغانستان نیولو ته د کمونستانو ګړندي کولو یو مهم سبب و.

# ایران او د عربو ستر هېوادونه

د جمهوریت په ټوله دوره کې، سردار محمد داود د افغانستان له پاره اقتصادي منابعو کې تنوع او پراختیا لټوله، او هڅه یې کوله چې خپل استقلال، ناپیلتوب او اسلامي بڼه وساتي. دې هدفونو ته د رسېدو د پاره هغوی ایران او د عربو سترو هېوادونو سره د اړیکو د ښه کولو او پراخولو ډېر زیات زیار وګالهٔ.

د ۱۹۷۴ ء په جولای کې محمد نعیم او وحید عبدالله ایران، عراق، لیبیا، الجزایر، مصر، سعودي عرب او کوېټه ته سفرونه وکړل. هغو ټولو د اقتصادي کومك په لړ کې همدردانه، په ځینو ځایونو ډېر صمیمانه، جواب ورکړ. خو د هغو څخه ډېرو څرګنده کړه چې د افغانستان او پاکستان د روابطو ښه والی به د کومك لاره نوره اسانه کړي. هغو هېوادونو د افغانستان په استقلال ساتلو او ټینګولو کې علاقه ښکاره کړه، او د هغې د ناپیلي او اسلامي بڼې ستاینه یې

وکړه . د وخت په تېرېدو سره، ایران، سعودي عرب، کوېټ او عراق غوندې هېوادونو افغانستان ته د مالي کومك د ورکولو پخه ژمنه وکړه .

د جمهوریت په دوره کې د افغانستان او ایران روابط ډېر نږدې شوي وه . د جمهوریت په وړومبنیو میاشتو کې د زمکې د یوې ټوټې په ملکیت د افغانستان او ایران د سرحدي قطعو په مینځ کې یوه نښته وشوه . دا ټوټه څه وخت مخکې د هېلمند دریاب مخې بدلېدو سره د هېلمند په لره سیمه کې جوړه شوې وه . دوه افغانان او یو ایراني مړه شوي وو . په هر حال دواړو حکومتونو چې دوستانه اړیکو ته لېواله وو، ډېر زر هغه مسئله ونیوه او د هغې د دوستانه حل د پاره یې خپلو کې تعاون وکړ . له هغې نه پس، د اسلام کلا په سرحدي سیمه کې یوه سرحدي تیره غبېه شوه . د هغې د صحیح ځای په هکله د افغاني او ایراني تخنیکي ماهرینو د پاره یوه کشاله جوړه شوه . د هغې څه اهمیت وه، چې د نوې تیرې اېښودلو سره د زمکې د یوې درېګوټیزه ټوټې د ملکیت مسئله پیدا کېدله چې هغه د افغانستان وه او که د ایران . یوه مشوره دا وه چې معامله دې یوې دریمې ډلې یعنې د ترکو مینځګړتوب ته وسپارل شي . خو د افغانستان او ایران حکومتونو فېصله وکړه چې په خپلو کې یې حل کړي، او د دواړو د ډاډوړ حل راوتلو پورې به هر قسم هڅه کوي . افغانانو او ایرانیانو لا په هغې کار کولو چې د کمونستانو کودتا هغه هڅې په ټپه ودرولې . دا دواړه پېښې دومره مهمې نه وې، خو دواړو حکومتونو چې په کومې طرېقې هغو باندې کار کاوه هغې د هغوی د ارادې غمازي کوله چې د ښو اړیکو هیله من وو .

د ۱۹۷۵ء په اپرېل کې سردار داود د تهران سفر وکړ . د هغې سفر په دوران کې ایران افغانستان ته د دوو بلیونو ډالرو د پور ورکولو موافقه وکړه؛ ۱.۷ بلیونه ډالره د هرات نه کندهار او کابل پورې د رېل پټلۍ غزولو د پاره (د ایران د رېلوی نظام سره به یې نښلولو)، او درې سوه زره ډالره د افغانستان د اووه کلیز پلان نورو پروژو د پاره . د رېلوی د کرښې د اهمیت، چې اوچبند افغانستان ته د ایراني سمندري بندرو پورې یې لارې پرانستلې، او افغانستان ته د ایران اقتصادي کومك اهمیت، چې په منځنۍ اسیا کې یې یو نوی اقتصادي او سیاسي جوړښت راوست، د هیچا نه پټ نه و . په مارچ کې محمد داود ولس مشر احمد حسن البکر سره په بغداد کې هم ولیدل، او عراق ته یې په شط العرب د شخړې اوارولو د پاره خپل خدمت وړاندې کړ، لګه چې هغې نه پس یې ایران ته هم وکړ . دواړو هېوادونو په اول سر کې هغه منښته ومنله، خو څه وخت پس ایران هغې کې خپله علاقه پرېښوه .

د ۱۹۷۷ء په اخر کې د ایران پاچا د ۱۹۷۸ء په جولای کې افغانستان ته د یو رسمي سفر بلنه ومنله . هم په ۱۹۷۷ء کې د هېلمند د تړون د منلو سندونه

دواړو هېوادونو يو بل سره بدل کړ، چې قانوني بڼه يې خپله کړه او د هېلمند د اوبو د وېش جګړې د تل د پاره ختمه شوه.

ايران نه د پراخه اقتصادي او مالي کومک نه پرته، د افغانستان او پاکستان د اړيکو ښه کولو په لړ کې د هغې هېواد لاس د ايران او افغانستان په دوستۍ هم مثبته اغېز کړې و. د جمهوريت د جوړېدلو نه پس افغاني مشرانو انګيرله چې ايران د افغانستان او پاکستان نژدو کولو کې مهم رول لوبولی شو. د دې له پاره هغوی پاچا او د هغه حکومت د افغانستان او پاکستان د حالت نه پوره خبر ساتل. په دې غرض چې د دواړو هېوادونو د روغې په لټون کې د ايران د خوځښت ازادۍ کې خلل پېښ نه شي، افغانانو هېڅکله هم ايرانيانو نه نه غوښتل چې د شخړې په لړ کې د افغانستان د موقف په حق کې رسمي اعلان خپور کړي. د دې روحيې سره، د مثال په توګه، د محمد داود د تهران د سفر په پای کې چې د ايران او افغانستان کومه ګډه اعلاميه خپره شوه، افغانانو هغې کې د افغانستان او پاکستان د اختلاف او د هغې د ګړندي حل په ذکر کولو اصرار و نه کړ.

د کال ۱۹۷۷ء په دوران کې د ايران پېښو د افغان حکومت پام ډېر زيات راواړوه. داسې ښکارېده چې د تېلو خپه راغله او لاړه، او اوس د ايران د پاره، چې خپلو زياتو وخيمو اقتصادي مسئلو سره مخ و، دا مشکله وه چې له نورو هېوادونو سره د کومک په ژمنې وويارې. د ايران پاچا د ۱۹۷۷ء په پېل کې محمد نعيم، وحيد عبدالله او ماته وويلي وو، چې افغانستان د ايران د کومک حاصلونکو په فهرست کې په سر باندې وه خو په کابل کې دا فېصله وشوه چې په اووه کلن پرمختيايي پلان کې څه ترميمات پکار وو، که چرې د ايران ژمنې عملي نه شوې. په دې سبب د اسلام کلا او کابل تر مينځ د رېلوی کرښې غزولو کار وځنډول شو. سره د دې چې يو فرانسوي شرکت د ايران د لسو مليونو ډالرو د ورکړې په بدل کې د هغې د سروی کار پوره کړی و. د ځينې نورو مرتندويو لکه سعودي عرب او کويټ پخې مالي ژمنې او د شوروي د ډېرې رواني مرستې په سبب د ايران د نه ورکولو په صورت کې د پلان نورو اړخونو باندې اثر نه غورځېد. د ايران د کومک کمېدل، چې يو حقيقت جوړ شو، څه نامناسبه فکر پېدا نه کړ، ولې چې د پاچا او د هغه د خلکو په مينځ کې زياتېدونکی ښکېل صحيح معنو کې پرېشانه کوونکی و.

د سردار محمد داود او محمد نعيم دواړو دا خيال و، چې د پاچاهۍ خلاف هڅو کې د شيعه روحانيونو په سر کې پورته کېدل د ايران د پاچا د پاره ښه شګون نه وه. د هغوی دا خيال وه چې د محمد رضا شا منځلاريتوب او اصلاحات ډېر ځنډ شوي وو، او د دې په حق کې د حالاتو د اړولو د پاره کافي نه وو. په هر

حال د دوارو ورونو دا يقين وه چې د پاچا حالت كه نازك شو نو متحده ايالات به ايران كې مداخله وكړي چې پهلوي خاندان په اقتدار كې پاتې شي ـ هغوى دا هم فكر كاوه چې دا به د سي آئي اى د عملياتو په شكل نه بلكې، د ضرورت مطابق، د نظامي عملياتو په ذريعه به سر ته رسولى شي ـ

محمد داود نه غوښتل چې ايران د الغاو تلغاو ګړنګ ته ولوېږي ـ له هغه سره دې نه هم زيات غوره فكر دا وه چې كرېملن هم كه د امريكا د داسې عمل فكر وكړي، نو په دې سيمه كې به د زورور روسي عكس العمل سبب وګرځي ـ هغه ماته وويل چې روسيان به هيڅكله خپلو بريدونو سره دومره نږدې د امريكا د عسكرو ځاى په ځاى كولو ته اجازت ور نه كړي، نه يوازې د امنيت بلكې د سوپر طاقتونو د سياست په خاطر هم ـ سردار محمد داود ژر زياته كړه چې د هغه په خيال روسان چې څه وخت فيصله وكړي چې د هغوى عمل د پاره وخت راغلى و، نو هغه وخت به دې سيمه كې په ډېره ګټوره طريقه ځايونه ونيسي، چې يا خو په خپله وراندې شي او يا په موثره طريقه د امريكا د خوځښت مخه ونيسي ـ محمد داود وويل چې روسان به داسې قدم هم پورته كړي كه هغوى ته دا فكر ورغى چې د ايران د اړيكړي ساحه او ټينګتيا د هغوى د سوويلي غاړې سكون ته خطره جوړېده ـ هغه د باندېنيو چارو د ځينې عالي رتبه مامورينو دې فكر سره اتفاق كاوه چې په هغو حالاتو كې كه روسيان په افغانستان راساً ځيتيه اچول وغواړي نو هغه به د هغو د پاره د ټولو نه زياته منطقي خوښه وي ـ د ګردو امكاناتو سره به هغه د لږې خطرې عمليات وي چې د شوروي ګوذار به ډېر درون كړي او هغه به د فارس خليج او د اوبو په غاړه ايران سره نږدې اقتدار ته راولي ـ په حقيقت كې داسې خوځښت به روسي امپور ته ايران ونيسي ـ د افغاني مشرتابه دا فكر وه، نو دې د پاره دا د پوهې وړ وه چې هغه دې د ايران ښكاره كېدونكې بحران ته په دقيق نظر ګوري، او په هغې لړ كې دې د افغانستان د راتلونكې وخت فكر كوي ـ

د ١٩٧٨ء په پېل كې د رژيم په ضد په قم او تبرېز كې ډېر تظاهرات وشول ـ په سوونو ايرانيان پكې د امنيتي قواو له خوا مړه او ټپيان شول ـ روسي سفير الېګزنډر پوزانوف د باندېنيو چارو په وزارت كې ماته ايران كې په هغو انكشافاتو د شوروي حكومت ژوره اندېښنه څرګنده كړه. په بله موقع يې راته وويل چې په ايران كې كه جګړه بين المللي بڼه ونيسي نو شوروي اتحاد د پاره به ډېره مشكله شي چې بېعلاقې پاتې شي ـ هغه وضاحت و نه كړ چې مونږ دوارو ته څه معلوم وو او د هغه مطلب څه و!

هغه وخت چې د ايران پاچا په كورنيو شخړو كې ګېر و، په ډېرو وختونو كې يې محمد داود ته د افغانستان او پاكستان د اړيكو په مثبت پرمختګ خوښې

ثرګنده کړې وه، او دا یقین یې ښکاره کړی و چې هغه ښه شوی حالت به ارومرو د دریو وارو ګاونډیانو، ایران، افغانستان او پاکستان تر منځ په ټولو ساحو کې په نږدې او ټینګ تعاون بدل شي.

د سردار محمد داود د پاره د ۱۹۷۸ء وړومبنۍ میاشتې د سخت ډیلوماټیک فعالیت وخت و. لیبیا، یوګوسلاویا، هندوستان، پاکستان، کویټ، سعودي عرب، او مصر ته د هغه سفرونه په سیاسي لحاظ خورا ډېر کامیاب وو، او هر کله چې د افغانستان د اووه کلن پرمختیایي پلان د پاره د مالي مرستې ذکر راغلې و، نو ډېر زیات مناسب جواب یې موندی و. سعودي عرب او کویټ د مخکې نه هغې پلان د پاره غټې ژمنې کړې وې، لیبیا داسې نه وو کړي، او هغې کې یې هغه وخت د خپل شرکت اعلان وکړ. دا فېصله وشوه چې د لیبیا یو اقتصادي هیئت به ډېر زر د کابل سفر کوي او د افغانانو په تعاون به د لیبیا د مرستې اندازه معلوموي.

یوګوسلاویا، هندوستان، مصر او سعودي عرب د سردار محمد داود فکر ته تود هرکلی ووایه چې ناپیلتوب به د امکان تر حده صحیح ساتي. مونږ چې لیدلي وو، د ناپیلتوب د نورو مشرانو په نسبت د یوګوسلاویا ولس مشر ټیټو او د هندوستان صدراعظم مرارجي ډېسایي په دې زیات ټینګ وو، چې خوځښت کې د غړیتوب د قواعدو سره د ناپویلتوب اصلي فکر دې نرم نه شي چې خوځښت د امن د پاره د یو روغ طاقت په څېر کار وکړی شي.

د مصر له ولس مشر انور سادات سره په خبرو کې سردار محمد داود د هغه د حوصلې، یروشلم ته د تګ په پرېکړې، او په منځني ختیځ کې د امن په لټون کې د یو نوي دور پرانستلو په هکله ستاینه وکړه. خو دا خبرداری یې ورکړ چې داسې قسم خوځښت نه دې ډېره کوي چې د عربو پیوستون ته ترې زیان رسي. هغه سادات ته وویل چې د عربو پیوستون د فلسطین د مسئلې، چې د منځني ختیځ زړی دی، د حل کیلي ده، او د دې له پاره په هر قیمت د هغې ساتل پکار وو. وروستو داسې ګنګوسه خپره شوه چې محمد داود سادات نه پوښتنه کړې وه چې هغه په خپل هېواد کې د روسانو او د هغو د نفوذ نه څنګه ځان خلاصولی شو. شاید د سادات تجربو نه څه زده کولو د پاره. خو سردار محمد داود داسې څه ذکر نه و کړی. حال دا چې سادات د روسیانو خلاف شکایتونه شمېرل، او ویل یې چې د ۱۹۷۰ء په پیل کې خو هغوی د مصر واکداران جوړ شوي وو، او په نظمي او ولسي چارو کې یې حکم ورکاوه.

د هغو ګرماګرم سفرونو نه پس مونږ د باندېنیو چارو وزارت کې د ناپیلي وزیرانو غونډې د پاره د تیاري پوره کولو ته خپل پام وقف کړو. هغه غونډه کابل کې د ۱۹۷۸ء په مې کې ټاکلې شوې وه. خو و نه شوه، ولې چې هغه وخت د افغانستان جمهوریت نه وو.

# د امریکا متحده ایالات

د دویم نړیوال جنګ له ختمېدو نه پس متحده ایالاتو د افغانستان په اقتصادي او ټولنیزه وده کې غوره ځای نیولی وه. او له ټولو ارادو او غرضونو سره داسې ښکارېده چې امریکا په سمه توګه د افغانستان په استقلال او ځمکنۍ تمامیت کې علاقه لرله. تر څو چې د افغانانو تعلق و د هغوی یقین و چې له متحده ایالاتو سره ښه او فعال اړیکې نه یوازې د اقتصادي او ټولنیزې ودې د پاره بلکې د هغوی د پارسنګ ساتلو د کړنلارې د پاره هم اهمیت درلود. د واکمنې ډلې د زیاتو غړو دا خیال وو چې د افغانستان او متحده ایالاتو اړیکې به د افغانستان د ناپېلتوب کړنلاره هم ورسره تقویه کړي او د هغې په بادېنیو چارو کې به نرمي پېدا کړي. د متحده ایالاتو د دوستۍ او مرستې په جواب کې افغانستان سره د ورکولو دومره څه نه وو، خو دا هیله کېدله چې د هغې هېواد جغرافیائي او سیاسي موقعیت او د هغې روان ناپېلتوب به په افغانستان کې او د هغې په راتلونکي وخت کې د متحده ایالاتو د علاقې ساتلو دپاره مناسب راښکون پېدا کړي.

د جمهوریت په منځ ته راتلو سره، د افغانستان او متحده ایالاتو اړیکې څه وخت د پاره بېخونده شان وو. د دې موقتي بېخوندۍ دوه غټ علتونه وو؛ وړومبنی، د نورو ډېرو لویدېځو هېوادونو او چین په شان متحده ایالاتو هم افغانستان سره د روش د مخې ټاکلو نه مخکښې د نوي افغان رژیم د سیاسي او اقتصادي دریځ په هکله د "صبر کوه او ګوره" روش خپل کړ. دویم، سردار محمد داود امریکایانو ته غصه و، شك یې پرې کولو چې (د پاکستان په ملګرتیا یې) د مېوندوال په دسیسه کې لاس درلود (در اتم وګورئ). د هغه شکونو ته د کورنیو چارو وزارت هغو کمونستانو کارکونکو پوکي وهل چې د دسیسې د څېړنې هیئت سره یې کارکاوه، او هغې معامله کې یې دامریکالاس لرل ښودلوته بډې وهلې وې.

په هر حال د افغانستان او متحده ایالاتو په اړیکو کې دا کړکېچ د لږ وخت د پاره و. سردار محمد داود او محمد نعیم دواړو د شوروي اتحاد د شته والي په مقابله کې پارسنګ ساتلو د پاره د امریکا په معنوي شته والي یقین درلود. هغوی ډېر زر د افغان جمهوریت په هکله د متحده ایالاتو د فکري یا حقیقي روش سره په تړلو اندېښنو ورواورېده. محمد نعیم افغانستان کې د امریکا نوی سفیر تهیوډور ایل اېلیټ جونیئر ته ډاډ ورکړو چې افغانستان له امریکا سره د ډېر دوستانه روابطو ارزومن و، او افغانستان کې د امریکا د قوي اقتصادي شته والي په ضرورت یې زور واچولو، نه یوازې د هېواد اقتصادي ودې د پاره بلکې د افغانستان سیاسي مرستې د پاره هم. هغه سفیر ته وویل چې افغان حکومت د حکومت په رغاونه کې او د هغې نه بهر "د هغو ځوانانو چې چپلاسي

منځ... ...ـه" او د افغانستان او متحده ایالاتو تر مینځ ښکېل لړلو ته یې بهې وهلې وې. هڅې له بېخه ختمول غوښتل[۴۲].

د ۱۹۷۴ په پېل کې سفیر ایلیئټ ما ته وویل، چې د هغه حکومت د افغانستان استقلال او ناپېلتوب ته ډېر اهمیت ورکاوه. د هغه دا خیال و چې په سیمه کې د متحده ایالاتو د کړنلارې د ګټو ښه خیال ساتلی شو تر داسې حده پورې چې هغه حالات یو مستحکم افغانستان کې محفوظ ساتلی شول. هغه واشنګټن خبر کړی و چې د متحده ایالاتو پرېمانه مرستې د شوروي اتحاد له خوا د ناژغورونکي فشار په مقابله کې له افغان حکومت سره د خپل استقلال، ناپېلتوب او اقتصادي اختیار ساتلو کې اهم رول لوبولی شو. هغه خپل حکومت ته سفارش کړی و چې افغانان د متحده ایالاتو په جاري اقتصادي او سیاسي شته والي د بروسې کولو قابل شي.

دا افتخار د سفیر ایلیئټ په برخه شو چې هغو د افغاني دولت نوغی راڅرګند کړ او د جمهوریت په پېل کې د نوي رژیم د چپلاسي رنګ باوجود د افغانستان ساتلې ملي او ناپېلي بڼې ته یې د واشنګټن پام وروګرځاوه. زر د افغانستان او متحده ایالاتو روابط په ښه کېدو شول او د دواړو هېوادونو تر منځ مرسته بیا پیل شوه.

د افغاني جمهوریت د یو کال نه څه زیات وخت به شوی و چې د متحده ایالاتو د دولت منشي هنري ای کسنجر د ۱۹۷۴ء د نومبر په وړومبی ورځ د کابل یو رسمي سفر وکړ. کابل کې هغه له یو شمېر لوړرتبه مامورینو او سردار محمد داود سره ولیدل، او هغوی سره یې د خپلمنځي علاقو وړ معاملو باندې دوستانه چاپېریال کې خبرې وکړې. سردار محمد داود په هغو کلونو کې افغانستان ته د متحده ایالاتو د ارزښتناك کومك د پاره د کسنجر نه مننه وکړه، او هېله یې څرګنده کړه چې په اقتصادي، تخنیکي او معارفي ساحو کې به هغه مرستې نه صرف روانې وي بلکې نورې به پراخه شي. سردار محمد داود د منشي پام په خصوصي ډول د هېلمند پروژې د تکمیل او هغې مقصد د پاره د زیاتو مالي او تخنیکي مرستو ضرورت ته وګرځولو. په مینځني ختیځ کې د امن راوستلو په هڅو او د روغې په ټینګولو کې د هغه د رول په نسبت داود خان د کسنجر ستاینه وکړه.

کسنجر سردار محمد داود ته وویل چې متحده ایالتونه افغانستان سره دوستي ارزښتناکه ګڼله او د هغې استحکام، استقلال او سخت درېځه ناپېلتوب ته یې ډېر اهمیت ورکولو. په هر حال تر څو چې افغانستان په خپله په سیاسي او اقتصادي ساحو کې توانا نه وي د دې تحفظ نه شو کېدای. هغه وویل چې متحده ایالاتو فیصله کړې وه چې تر ممکنه حده له افغانستان سره په ټولنیزو او اقتصادي ودو کې مرستې وکړي. د دې مقصد د پاره به په راتلونکو نږدو ورځو کې هغه د متحده ایالاتو "اېجنسي فار انټرنېشنل ډېولپمنټ" یو لوړ رتبه مامور کابل ته لېږي چې د نوو پروګرامونو په سنجولو او د موجوده پروژو لکه د هېلمند پروژه د

زر تکمیلولو د پاره د لارو په لټیون کې افغاني مقاماتو سره مرسته وکړي.

محمد داود افغانستان د پاره له روس سره د ښو اړیکو او د دواړو هېوادونو تر مینځ روان پراخه تعاون اساسي اهمیت کسنجر ته بیان کړو. هغه د دولت منشي ته ایران او عرب دولتونو سره د اړیکو د پراختیا په مخ د افغانستان خوځښت او د افغانستان په اقتصادي وده کې برخې اخستلو د پاره هغو ته د بلنې نه هم خبر ورکړ. محمد داود د افغانستان او پاکستان اړیکو ته هم د حوالې په ترځ کې هغه "په تآسف سره ډېر بد" بیان کړل. کسنجر له ایران او عربو دولتونو سره د افغانستان د اړیکو په پراختیا اطمینان څرګند کړ. هغه وویل چې متحده یالاتونه د افغانستان په باندېنیو کړنلارې باندې قدغنونه نه خبر و او دا ګومان یې کاوه چې له شوروي اتحاد سره د افغانستان د تعاون او ګاونډیتوب اړیکې په ناڅرګندو حقیقتونو ولاړ وو. هغه زیاته کړه چې افغانستان ته د کومك په ورکړه کې متحده ایالتونو احتیاط نه کار اخیستلو چې د افغان جمهوریت د پاره مشکل پېدا نه شي؛ دا پخپله د افغانانو کار دی چې د خپلې باندېنۍ کړنلارې د ضرورتونو له مخه د هغې د تعاون ساحه وټاکي.

د دولت منشي د پښتونستان د مسئلې نه ښه خبر و او افسوس یې څرګند کړ چې د افغانستان او پاکستان اړیکي ښه شوي نه و. هغه ویل چې صدراعظم بهټو هم ډېر مایوسه و او هغه ته یې شکایت کړی و چې افغانستان د پاکستان منحرفین ساتل او د پاکستان خلاف یې چریکان روزل. بهټو ویل چې هغه چریکان پاکستان ته ننوتل او په سرحدي صوبه او پنجاب کې یې ورانکاري کوله، او بلوچستان کې نظامي قطعاتو سره جنګېده. سردار محمد داود جواب ورکړ: د افغانستان حکومت بېشکه پښتانه او بلوڅ منحرفین ساتل چې هغوئې د پاکستان د ظلم او جبر نه افغانستان کې یو محفوظ ځای موندلی و، او هغوئې چې تر څو غواړي هلته په خوشالۍ اوسېدلی شو، ځکه چې افغانستان د هغوی خپل هېواد و. خو هغه زیاته کړه چې افغانستان د پاکستان خلاف چریکان نه روزل. بلوڅستان کې د روان جنګ په وجه په سوونو بلوڅ مهاجرین هغې هېواد ته ننوتي وو او هغه وخت د افغانستان په سویلي او سویلي ختیځو برخو کې په کېمپونو کې وسېده. سردار محمد داود زیاته کړه چې له ارام او روغتیا نه پس د هغو مهاجرینو ځوانان جنګیالان باقاعده بلوڅستان ته ځي چې د پاکستان د تېریو نه د خپلې خاورې دفاع وکړي. هغه کسنجرسته باندې واضحه کړه چې افغاني مقامات بلوڅ ستنول نه غواړي او نه هغه بلوڅ خپل وطن ته د ستنېدلو نه منع کولی شو. سردار محمد داود کسنجر ته وویل چې په سرحدي صوبه او د پاکستان نورو حصو کې ناکراري د پاکستان د غلطو کړنلارو په نتیجه کې پورته شوې وه. د هغو سیمو خلك د حکومت په ظالمانه عملیاتو غصه وو او اسلام آباد چې د هغوی د حقونو ورکولو نه انکار کولو نو د هغې عکس العمل کې هغوی د تشدد نه کار اخست.

محمد داود وویل چې بلوڅستان کښې څه روان وو هغه ډېر د فکر وړ

وو ـ د بلوڅستان په خلکو چې کوم ظلم کېږي هغې نه پرته، هغه وویل، چې دا یوه داسې کیسه و چې ډېرو خواو ته یې مداخلت د پاره بلنه ورکوله او د دې سیمې استحکام او امن ته یې خطره پېښوله ـ دې د پاره پاکستان په بلوڅستان کې د ورانکارۍ جنګ ختمول او بلوڅو مشرانو سره د خبر اترو کوښښ پکار و ـ هغه وویل چې امریکا پاکستان ته بیا د وسلې ورکول اجراء کړې وه هغې افغانستان اندېښمن کړی و ـ ولې چې هغه نه یوازې پاکستان تشویقولو چې بلوڅستان کې جنګ جاري وساتي بلکې په سیمه کې د وسلو پارسنګ یې هم خراباوه ـ

محمد داود وویل چې افغانستان پاکستان ته ورانکاري او پارونکي ایجنټان نه لېږل، بلکې دا هغه هېواد و چې په داسې قسم عملیاتو کې بوخت و ـ د پاکستان د ایجنټانو او نظامي الوتکو لخوا د افغانستان په زمکنۍ او هوائي سیمو روان تېري یو ته محمد داود د بیان په ترځ کې یو څو میاشتې مخکې د افغانستان دننه د یو پاکستاني هېلېکوپټر د نیولو حواله ورکړه ـ سردار محمد داود کسنجر ته ډاډ ورکړ چې افغانستان د پاکستان د حکومت د خرابولو هیڅ غوښتنه نه لري ـ هغه ته یې وویل چې افغانستان د روانې جګړې پرامن حل غواړي، خو پاکستان د داسې حل د پاره افغانستان سره د خبرو په هکله هیڅ مېلان نه ښیي ـ محمد داود وویل؛ داسې ښکارېده چې پاکستاني مقامات په دې انتظار کې وو چې افغانان به د پښتنو او بلوڅو د حقونو حمایت پرېږدي ـ په هر حال، هغه وویل، افغانان به هیڅکله د هغو خلکو، چې په وینه ورسره شریك دي، د روا هېلو د عملي کېدلو په لړ کې حمایت نه لاس وانه خلي ـ داسې حالاتو کې د دواړو هېوادونو مشترکه دوستانو ښې هڅې شاید پاکستان خبرو ته چمتو کولو کې ګټورې شي ـ

کسنجر په دې ډاډ څرګند کړ چې افغانستان له پاکستان سره د یو پرامن حل غوښتونکی و او هېله یې څرګنده کړ چې د دواړه هیوادونه به زر د هغې اوږدې کشالې د اوارولو جوګه شي ـ هغه وویل چې د افغانستان او پاکستان دوستي د نړۍ دې مهمه سیمه کې د استحکام او امن ټینګولو د پاره ګټوره وه، او د متحده ایالاتو حکومت به داسې انکشاف ته تود هرکلی ووایي ـ

د کسنجر د سفر په پای کې د متحده ایالاتو او افغانستان یوه ګډه بیانیه خوره شوه ـ هغې سند د متحده ایالاتو او افغانستان ښه اړیکي ښوده او د متحده ایالاتو ژمنه یې تکرار کړه چې اقتصادي انکشافي هدفونو ته رسېدلو د پاره به افغانانو سره مرسته کوي[۴۴] ـ

د ۱۹۷۵ء د جنورۍ په پېل کې د ای آئي ډي (AID) مرستیال مدیر رابرټ نوټر افغانستان ته راغی او د افغانستان د پلان وزیر او نورو افغاني مامورینو سره یې لېدل وکړ ـ دا فېصله وشوه چې یوه مشترکه کمېټه جوړه شي چې د هېلمند ناوې د پاره یو غښتلی پروګرام ترتیب کړي ـ افغان ماهرینو هغې ناوه کې د اوبو یو مناسب نظام تکمیلولو ته ډېر اهمیت ورکړ ـ امریکایان له هغې معاملې نه پوره خبر وو ـ خو بیا هم نوټر ته د هغې وضاحت ورکړی شو ـ هغه افغانانو ته وویل چې

ای آیي ډي به د ناوې د اوبو موجوده نظام د ساتلو د پاره تخنیکي مرسته ورکړي، او. که واشنګټن ومني او افغان حکومت د ناوې په اداره کې څه ښه والی راولي، د پروژې تاکلې ساحه کې به د اوبو د نظام تکمیلولو د پاره مالي مرسته هم ورکړي . د هغې معاملې په لړ کې د یو ګام په توګه، په هېلمند دریاب د کجکي بند نه تر کندهاره د برېښنا د تارونو غزولو د پاره نوټر له افغانانو سره د دوو ملیونو ډالرو د اضافي پور یوه پرېکړه لیك لاسلیك کړ.

د ۱۹۷۵ء د جنورۍ په ۲۳م او ۲۴م د ای آیي ډئ رئیس دانیال پارکر افغانستان ته راغی او له لوړ رتبه مامورینو سره یې کتنه وکړه. د پارکر خبرو د افغانستان په وده کې د متحده ایالاتو د زیاتې برخې اخستلو امکانات نور روښانه کړل، او په خصوصي ډول د هېلمند ناوې پروژې تکمیلولو کې یې د هغوی د علاقې پخوالي وکړ.

د وخت په تېرېدو سره، د ښوونځیو د نصابي کتابونو ورکولو، د کابل پوهنتون د انکشاف، کلیوالې ودې، د کلیوالي ښوونځیو، کلیوال روغتیایي مرکزونو، او د هېلمند په ناوه کې د ویالو کنستلو د پاره د افغانستان د جمهوریت او د متحده ایالاتو تر منځ یو شمېر لوزنامې وشوې. د متحده ایالاتو کومك دومره نه و، خو د هغې بیا په کار اچولو افغاني مشرتابه خوشال کړ. کال ۱۹۷۸ء پورې متحده ایالاتو افغانستان ته د اقتصادي مرستو په لړ کې ۵۳۲.۸۷ ملیونه ډالره خرځ کړل چې په هغې کې په سلو کې یو اویا د اعانې په شکل کې وو[۴۵].

د دولت منشي د کسنجر په بلنه، محمد نعیم، د افغان دولت د مشر د ځانګړي استازي په توګه، د ۱۹۷۶ء د جون د ۲۹مې نه د جولای تر وړومبۍ نېټې پورې د واشنګټن یو رسمي سفر وکړ. زه سردار نعیم سره وم. هغه کسنجر او ولس مشر جېرالډ فورډ سره خبرې وکړې او د کابینې یو شمېر غړو سره یې هم لېدنې وشوې. د اداري چارو لوړرتبه مامورینو سره خبرو نه پرته، نعیم د "سېنا جرګې" د باندېنیو چارو کمېټې او د هاوس (کانګرېس یا ولسي جرګې) بین المللي اړیکو کمېټې له غړو سره هم لېدنې وکړې. دې لېدنو سردار نعیم د دې جوګه کړ چې امریکایانو ته د افغانستان د باندېنیو او کورنیو کړنلارو او د جمهوریت د هېلو او هدفونو په هکله معلومات ورکړي. واشنګټن ته د محمد نعیم رسمي سفر د ښه نیت یو سفر و، خو بیا هم د افغانستان او متحده ایالاتو د تعاون د نورې پراختیا د پاره د شرایطو نور قوي کولو کې یې مهمه ونډه لرله.

د نعیم د سفر په دوران کې، د متحده ایالاتو مامورینو او د سنا او کانګرس غړو افغانستان کې د مخدره موادو د قاچاق معامله هم تر بحث لاندې راوستې وه. دا څه نوې خبره نه و. د متحده ایالاتو د کانګرس په اپیل، په ۱۹۴۷ء کې افغانستان د کوکنارو په کر، حاصلاتو او تجارت باندې بندېز لګولی و. خو هغه قانون، چې د بین المللي تعاون په خاطر جوړ شوی و، د ځینو مشکلاتو په وجه عملي نه کړی شو. یو مشکل خو دا و چې په ډېرو سیمو، لکه د افغانستان په شمال ختیځ کې بدخشان، کې اپیم یوازینی فصل و چې مالي ګټه

ترې اخستل کېده، او هلته اپيم کرلی شو . بې د څه متبادل مالي فصل يا اقتصادي فعاليتونو (د مثال په ډول کورنی صنعت يا مالداری) نه د ژوند دې يوازينی وسيلې ختمولو به هغو کروندګرو ته ډېر مشکلات پېدا کول . د افغان حکومت يقين و چې د مجموعې انکشاف د پروګرام د يوې برخې په شکل د بدخشان غوندې سيمه کې کروندګرو د پاره د نورو ګټو وسيلې پېدا کول يوازينی لاره وه چې په مزه مزه يې د مخدره موادو مسئله ختمولی شوه. دويم مشکل د هغو امنيتي قواو کمزوري وه چې د اپيمو د ناجايز پېدايښت او قاچاق د مخنيوي دنده ورسپارلی شوې و . د مخدره موادو د موثره کنټرول د پاره د پوليس پراختيا ، د هغې د سره نوي تشکيلات او هغوی د پاره نوې وسلې او سامان ته ضرورت و. دې هر څه د پاره دومره مالي وسيلې پکار وې چې د افغانستان د وس نه بهر وې.

سردار محمد داود چې اختيار تر لاسه کړی و هغې نه را په دېخوا ، د اپيمو د قاچاق کمولو د پاره افغان حکومت خپلې هڅې زياتې کړې وې . نوي حکومت د متحده ايالاتو هغې پانګې ته، چې پخوا يې د مخدره موادو د کنټرول د پاره جوړه کړې وه، تېنګه پُښتې ورکړه . دې پانګې ته متحده ايالاتو، د المان فېډرالي جمهوريت او افغانستان، او يو شمېر نورو هېوادونو اعانې ورکولې . هغې د قاچاق په ضد د امنيتي مقاماتو هڅې پياوړې کړې وې . د افغان صلاحيت لرونکو مقاماتو په تعاون، بدخشان او نورو د اپيمو د کروندې په سيمو کې د متبادلو عائداتو د پوره کولو د پاره د وسيلو د کتنو او سفارش کولو فېصله هم شوې وه .

محمد نعيم دا هر څه خپلو امرېکايانو کوربنو ته بيان کړل . هغه زياته کړه چې افغان جمهوريت، سره د دې چې له ډېرو انکشافي مسئلو سره مخ وه، چمتو وه چې بين المللي ټولنې سره خپلې اخلاقي ژمنې سر ته ورسوي، خو د افغاني وسيلو کمبود او د مسئلې حجم د مخدره موادو د قاچاق په مسئلې قابو موندلو د پاره په صحيح معنو کې بين المللي هڅو ته اړد لرله . ښکاري چې د متحده ايالاتو قانون جوړوونکي د افغانستان د حالت نه او د هغو مثبتو ګامونو نه چې د اپيمو د قاچاق د کمولو په لور پورته شوي وو، پوره خبر نه وو . نعيم چې په دې لړ کې څه ويل، هغوی په ډېر شوق اورېدل، او ډېرو په کې وعدې وکړې چې د افغانانو هڅو کې به ورسره مرسته وکړي .

د باندېنيو چارو وزارت ډېره علاقه لرله چې د اپيمو د کر، د هغې نه د جوړو شوو موادو او د هغې د قاچاق په ختمولو کې حکومت رښې او مثبتې نتيجې لاس ته راوړي . دې مقصد د پاره د باندېنيو چارو وزارت د مخدره موادو د مخنيوي د چارو د پاره د وزارت يو لوړرتبه مامور کوارډينېټر (ناظم) وټاکلو . د هغه دا مسئووليت وه چې د مختلفو افغاني شعبو چې دې چارو سره يې تعلق وه، فعاليتونه په ملي او بين المللي سويه منظم کړي . هغې ناظم په دې مشکل کار کې ډېر ښه پېل وکړو، خو زر د کمونستانو کودتا د اپيمو د کر، او پېدايښت، او د هغې د قاچاق د مخنيوي هغه هيله من پروګرام پر ځای ودراوه .

د افغان حکومت په بلنه، کسنجر د ۱۹۶۷ء د آګست په ۸مه نېټه افغانستان ته دویم رسمي سفر وکړ ـ تر هغې وخته افغانستان او پاکستان د اړیکو ښه کولو په لور یو لوی ګام اخستی و ـ محمد داود د دولت منشي ته هغه انکشاف لړ په تفصیل بیان کړو او د هغو د نتیجو په هکله یې خوشبیني څرګنده کړه ـ کسنجر د افغانستان او پاکستان په روغه خپله خوښي وښووده، او د دواړو هېوادونو د اړیکو په عادي کېدلو کې یې د خپل حکومت د ژورې علاقې پخلی وکړ ـ سردار محمد داود د افغانستان په ټولنیزو او اقتصادي ودو کې د متحده ایالاتو د ونډې اخستلو په رفتار کې تېزۍ ته هرکلی ووایه ـ هغه په خصوصي توګه د هېلمند پروژې پرمختګ کې د امریکا د هڅو ګړندیتوب یاد کړ ـ کسنجر د افغانستان په وده کې د خپل حکومت له خوا په ونډه اخستلو کې د روان خواهش پخلی وکړ ـ دواړو خواو د افغانستان او متحده ایالاتو په تاودو اړیکو باندې ډاډ څرګند کړ او هغو اړیکو ته نور تقویت ورکولو د پاره یې اراده ښکاره کړه. د دولت منشي په هغې لېدنه کې متحده ایالاتو ته د افغانستان د دولت د مشر د یو رسمي سفر خیال وړاندې کړ. هغه زیاته کړه؛ که داسې یو سفر د موافقې وړ و نو ولس مشر فورډ به هغوی ته رسمي بلنه ورکړي ـ سردار محمد داود کسنجر ته وویل چې ولس مشر فورډ ته د هغه له خوا مننه ورسوي، او زیاته یې کړه چې د هغوی د سفر معامله به په دپلوماټیکو لارو وسنجولی او فیصله شي ـ د منشي په واپسی د افغانستان او متحده ایالاتو یوه ګډه بیانیه خوره شوه؛ هغې کې د سیمې په دولتونو کې د روابطو د ښه والي په لور چې کوم ګامونه پورته شوي وو، "متحده ایالاتو" له هغو سره د خپل ټینګ ملاتړ پخلی وکړ؛ د افغانستان په ناپېیلتوب باندې د متحده ایالاتو پوهېدل او د افغانستان د استقلال حمائت ښکاره شو؛ او د افغانستان اقتصادي او ټولنیزو ودو کې د "متحده ایالاتو" د ونډې اخستلو د ژورې علاقې پخلی وشو[۴۶] ـ

نه خو کابل ته د کسنجر د سفر په دوران کې، او نه امرېکایانو سره په نورو تماسونو کې، داسې کومه اشاره وه چې واشنګټن به په بهتیو زور اچولی وه چې افغانستان سره د پخولاتوب روش ښه کړي ـ په هر حال دې کې شك نه وه چې د سیمیزې هم آهنګۍ په خاطر متحده ایالاتو د افغانستان او پاکستان پخولاتوب کې سمه علاقه لرله ـ د دې د پاره افغانانو فکر کاو چې متحده ایالاتو به پاکستان باندې کله نا کله زور اچولو نه ډډه نه وه کړې، چې پاکستان دې له افغانستان سره په خپلو روابطو کې منفي روش نه د ګرځېدلو هڅې وکړي ـ دا نه وه معلومه چې امرېکایانو تر کومه حده په دې لړ کې نفوذ درلود، خو داسې هر رنګ وړاندیز که هغوی پاکستانیانو ته کړی و، هغې به د افغانستان او پاکستان د مشترکه دوستانو، لکه ایران او ترکیې، نفوذ کې مهم زیاتوالی کړی وی، چې د دوو اسلامي ګاونډیانو تر منځ د ښکېل کمولو تلوسې اخستي وو ـ

افغانستان ته د خپلو اقتصادي او تخنیکي مرستو د پراخنیا له هڅو نه پرته، امرېکایانو افغانانو ته سپینه کړې وه چې هغوی په تېلو مړو عرب هېوادونه

هم برابر تشویقول چې افغانستان ته د اقتصادي ودې د پاره مالي مرستې ورکړي ـ سفیر اېلیئټ ماته ویلي وو، چې په مختلفو سویئو داسې دوستانه تشویق روان و، او هغه هم دا خپل عادت جوړ کړی و، چې په کابل کې د عربي هېوادونو، خصوصاً د سعودې عرب، سفیرانو پام دې ته وګرځوي ـ

د ۱۹۷۷ء په ګرمۍ کې ولس مشر جمي کارټر داود ته د متحده ایالاتو د رسمي سفر بلنه ورکړه ـ سردار داود ته په خپل لیك کې کارټر د افغانستان ناپېلتوب ستایلی وو، د افغانستان او پاکستان اړیکو ښه کولو کې د افغان ولس مشر مثبتو هڅو ته یې هرکلی ویلی و، او هېله یې څرګنده کړې و چې داود سره به زر ووینې او د مشترکه ګټو په چارو به بحث وکړي ـ سردار محمّد داود د کارټر بلنه ومنله، خو په ۱۹۷۷ء کې د یو شمېر نورو دولتونو د ټاکلي سفرونو په وجه هغه د پاره مشکله وه چې په هغه کال کې متحده ایالاتو ته هم لاړ شي ـ دا د باندېنیو چارو د فکر خلاف و ـ هغې غوښته چې د سیاسي اهمیت د نظره هغه سفر باید زر نه زر وشي، خصوصاً د افغانستان او پاکستان تر منځ د روانو خبرو او دننه په افغانستان کې د کمیونستي قواو د تقویه کېدلو په وجه (اتم در وګورئ) امرېکایانو هم د سفر د پروګرام په جوړولو کې څه مشکلات لرل چې په ۱۹۷۷ء کې د محمد داود د سفر د ځنډولو لامل شوله ـ د ۱۹۷۸ء په پېل کښې، واشنګټن ته د یو سفر نه په ستنېدو، سفیر اېلیئټ د باندېنیو چارو وزارت خبر کړ چې دولتي شعبې په موقتي ډول سپتمبر کې د محمد داود د سفر اټکل ټاکلی و، تاریخونه به د دواړو خواو په سلا وروستو ټاکل کېده ـ محمد داود هغې جدول سره موافقه وکړه ـ د باندېنیو چارو وزارت دا فکر و چې په سپتمبر کې هغه سفر دې د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د غونډې وړومبنیو ورځو سره برابر وي، چې داود هغې نړیوالې جرګې ته هم وېنا وکړی شي ـ ما د امرېکې سفیر ته د باندېنیو چارو وزارت هغه فکر ورساوه ـ هغه ما ته ډاډ راکړ چې په واشنګټن کې پلان جوړونکي به هغه اړخ په نظر کې ونیسي ـ

د سردار محمد داود سفر د ډېرو په نظر کې د افغانستان له خوا د پارسنګ ساتلو د کړنلارې د پخوالي یو مهم ګام و ـ خو هغه د کمیونستو د برې په وجه و نه شو ـ دا ویلی شي چې واشنګټن ته د محمد داود ټاکلی سفر او د ۱۹۷۸ء په جولائي کې د ایران د پاچا کابل ته سفر هغو توکو کې شامل وو چې د محمد داود په لرې کولو کې یې تېزې راوسته ـ په داسې حال کې چې د دې تصدیق هیڅکله نه شو کېدلی، دا یقیني وه چې هغو کې یوه پېښه هم د روسیې نه وه خوښه ـ

# شوروي اتحاد:

شوروي اتحاد د جمهوريت راتګ ته هركلي ويلي و او وړومبنی هېواد و چې د ۱۹۷۳ء د جولای په ۲۰مه نېټه يې نوی رژيم په رسميت وپېژانده . روښانو محمد داود د افغانستان او شوروي اتحاد د دوستئ معمار ګڼه، او هغې حقيقت چې هغه د چپلاسي منصبدارانو په ملاتړ اقتدار ته رسېدلی و، چې په هغوی کې د زياتو روزنه په شوروي اتحاد کې شوې وه، ماسکو د پاره يقيناً د زياتې خوشالئ سبب و . د جولائي په ۲۶م شوروي مشرتابه محمد داود ته په يو پېغام کې خپل باور څرګند کړ چې "د ښه ګوانډيتوب ښه دوستانه روابط او د شوروي اتحاد او افغانستان تر منځ هراړخيز تعاون به نوره وده هم ومومي"[۴۷] . کابل کې شوروي سفير الېګزنډر پوژانوف وحيد عبدالله ته، چې هغه وخت د باندېنيو چارو وزارت مرستيال و، په ړومبنيو ليدنو کې په يوې موقعه (زه هم هغه وخت حاضر وم) وويل چې کابل کې د رژيم په بدلون د کرېملن مشرتابه ښه خوشاله و .

د جمهوريت د جوړېدلو په اولنيو يو څو مياشتو کښې، په دې خيال چې د نوي رژيم عمومي بڼه په ښکاره ډول چپلاسي و، او د افغاني مشرتابه مېلان هغو د پاره بېخي موذون و، شوروي اتحاد افغانستان ته د خپلو کومکونو هڅې ډېرې زياتې کړې . هغوی شايد دا فکر کاوه چې يوې قوي د روسيې د پلوي چپلاسانو بدرګه کې د محمد داود بيا اقتدار ته واپس راتګ په سويلي لويديځه اسيا کې د هغو د ګټو پر مخ بوتلو د پاره يو مهم ګام و . دا نو ځکه ضروري و چې د نوی "چپلاسي" رژيم نه صرف حمايت وکړي بلکې دا هڅه هم وکړي چې په شوروي اتحاد د افغانستان انحصار زيات شي، چې د نوو غېر متوقع او ناڅاپي منځ ته راغلي حالاتو نه زياتو نه زياتې ګټې واخلي .

کله چې له نورو خواو نه د اقتصادي او مالي کومکونو لټون په اولني پړاو کې و، نو جمهوري حکومت نه شو کولی، چې روسي خېرات منلو نه انکار وکړي، او بې ضرورته د روس مشهور حساسيتونه وپاروي . پرېکړه وشوه چې د زياتې مرستې شوروي وړانديز ومني، خو د نورو لارو لټون دې هم جاري وساتل شي، چې افغانستان د اقتصادي مرستو منابعو کې تنوع پېدا کړي . د نورو منابعو نه د مرستو لټولو فيصله محمد داود او د هغه د غېر کمونستو ملګرو ورې ډلي کړې وه چې د مرکزي کمېټي غړو په نه زړه ومنله . مرکزي کمېټه په دې فکر ټينګه وه چې د يو پرمختللي افغانستان عصري کولو او جوړولو د پاره يوازې په شوروي اتحاد انحصار کافي و .

د ۱۹۵۰ء په لسيزه کې شايد محمد داود دا فکر کړی و چې شوروي

اتحاد د پاره په راتلونکې نږدې وخت کې د افغانستان په نیولو کې څه قوي راښکون موجود نه و، او د افغانستان استقلال ته له څه خطر نه پرته د روس په هراړخیزو کومکونو سره د افغانستان ګرندۍ وده تکمیل ته رسېدلی شو ـ خو په دویم سفر روانېدو نه یو څو ورځې مخکې چې ما هغه لېدلی و نو هغه وخت هغه یقیناً خپل فکر بایللی و ـ داسې ښکارېده چې هغه د روسانو په باره کې د افغانانو فطري اشتباه سره موافقه کړې وه، او هغه په دې ساده او بېرونقه یقین ټینګ و چې په دې سیمه کې د شوروي اتحاد اخري هدف د هند سمندر پورې خورېدل و ـ زه حېران شوم کله چې محمد داود د شوروي د ارادې په باره کې خبرې کولې او ناڅاپه افغانستان ته د هغوی د اقتصادي او تخنیکي مرستو د مقصد په هکله د یو روسي فکر وریاد شو، چې ډېر کلونه مخکښې هغه د "لائف" مجله کې لوستی و ـ په موسکا کې چې څه محمد داود وویل د هغې روسي د ناکراره لیك صحیح ترجماني وه ـ هغه روسي (شاید څوك متخصص و چې افغانستان کې یې د ۱۹۵۰ء لسیزه کې کار کړی و) کابل کې یو امریکایي ته په راز کې ویلي وو چې د شوروي له خوا زیاتېدونکې مرستې او د تګ راتګ اسانتیاوې "به زمونږ نظامي قواو د پاره کله چې حرکت وکړي ګټورې وي"[۴۸] ـ

هغې مرکې نه ما ته معلومه شوه چې د افغانستان له پاره د روسانو مخ په سویل حرکت، چې حالت اجازت ورکړي، نتیجې د داود د نظره نه وې لوېدلې ـ که مخکښې چرې هغه د شوروي حرص په تول کې بېغوره و نو اوس یقیناً روسي خطرې ته بېدار و ـ

وروسته له محمد داود سره له نورو مرکو نه ما ته معلومه شوه چې هغه په دې یقین نه کاوه چې افغاني ټولنې ته ننوتلو د پاره به شوروي اتحاد اقتصادي مرسته وسیله وګرځوي، او هغه به وېره پېدا کړي ـ یو ځلې هغه وویل چې شوروي اقتصادي مرستو خلك ماړه کړي وو؛ دې د پاره مرستو کې پراختیا په حقیقت کې هغه طاقتونه قوي کول چې د هغوی د نظرېې د خورېدلو مخالفت وو ـ د داود په خیال یوه مړه اسلامي ټولنه د کمونیزم د خورېدلو په لاره کې یو طاقتور خنډ دی ـ د هغه دا خیال و چې د کمونیزم د نظرېې د خورونکو په حیث روسي اقتصادي او تخنیکي کارپوهان چې د افغانستان سختو اسلامي خلکو سره په ورځني ژوند کې په تماس کې شول، نو هغوی ډېر موثر نه وو ـ د هغوی په نفوذ د روسي مرستو د مادي نفوذ نه اخستی شوې ګټې درنې وختې ـ د سردار محمد داود د پاره چې د ډېرې اندېښنې لامل و هغه په نظامي قطعاتو کې د شوروي اتحاد منظم ننوتل وو ـ هغې معلوماتو او د خلکو دېموکراتیك ګوند سره، اګر چې تړم شان و، د هغې هېواد مسلسل تماس، هغه وخت هغه پرېشانه کړ کله چې هغه د خپلې کودتا تیاري نیوه ـ د محمد داود په خیال، هغو شوروي عملیاتو نه صرف د افغانستان د غېر کمیونست رژیم په لور د شوروي اتحاد خاموشې ارادې برڅېره کړې، بلکې د کرېملن د مشرتابه هغې یقین ته یې هم سخت زیان ورساوه، چې وخت په وخت به یې هغه ته او پاچا ته تازه کولو چې روسیې د افغانستان په کورنیو چارو کې

د لاسوهنې هیڅ خواهش نه لارد.

له شوروي اتحاد سره د ! فغانستان د تماس په هکله د محمد داود د کتنو خلاصه، چې يو څو مياشتو کې نوټ کړی شوې وې. څه داسې وه: د ۱۹۴۰ء په دويمه نيمايي کې چې د پښتونستان مسله گرمه وه د يو عصري پوځ ضرورت محسوس شو. د پښتونستان ملي مسئله پرېښودلی نه شوه. پاکستانيانو د افغاني رژيم کمزورې کولو ته متې نغښتې وې. په دې لړ کې کال ۱۹۴۹ء کې په وزيرستان کې د پخواني پاچا امان الله مېرني ورور امين جان ښکاره کېدل او د ډيورنډ کرښې په لويديځ د ساپيو قبيلې پاڅون د هغوی د روانو هڅو ښکاره مثلونه وو. افغانانو دې نتيجې ته ورسېدل چې يو عصري نظامي قواء، خصوصاً د هغې هوايي برخه، به د افغانستان خلاف د پاکستاني عملياتو د مخنيوي د پاره په اساسي توگه کار کولی شو.

د شوروي نظامي مرستو په منلو روسي نفوذ ته د بوځ برخېره کولو کې پرتو خطرو باندې افغانان پوهېدل. خو بله لاره نه وه. ولې چې متحده ايالاتو پخوا وسلو د پاره د هغوی درخواست رد کړی و. پرته له دې، دوو نورو توکو افغانان لمسول چې نظامي مرستو د پاره شمالي گاونډي ته مخ واړوي. ورومبی: دا خبره سپينه وه چې روسيانو ډېرې اقتصادي مرستې ورکولې نو هغوی له بل کوم طاقت سره د افغانستان نظامي تړون نه شو منلی. په نورو الفاظو کې که شورويانو معنور اقتصادي کومك ورکاوه او افغانستان بيا هم د يو عصري پوځ ضرورت انگيره، نو يوازې روسيې به هغه ضرورت پوره کاوه. دويم: له اوچېند افغانستان سره د شوروي اتحاد نزديکت هم روسيې ته د وسلو اخيستلو په حق کې و، په خصوصي ډول هغه وخت چې افغانستان زر نه زر د يو عصري پوځ د جوړولو اراده ولري. د پاکستان د لارې د لويديځ نظامي سامان. په خصوصي ډول درنې وسلې، تېرولو کې د سياسي او لوژستيکي مشکلاتو اندازه لگول اسان وو.

پاچا محمد ظاهر شاه او محمد داود دواړو پوره زړورتيا سره ورومبی په کال ۱۹۵۵ء کې خروشيف او بلگانن او بيا له نورو شوروي مشرانو سره افغانستان ته د هغو خطرو په هکله د خپلو روا وېرو څرگندونه کړی وه، چې د روسيانو د ژوند طريقو او کمونستي نظريې ته ورسېلمه کولو کې ځوانانو نظامي منصبدارانو ته پرتې وې. روسي مشرانو په تکرار سره پاچا، محمد داود او نورو افغاني مشرانو ته ډاډ ورکاوه چې شوروي اتحاد به د داسې قسم عمل نه ځان ژغوري چې د افغان دولت په نظر کې مخاصمانه وه، او هغوی به دا گوري چې افغاني منصبداران او نور پرسونل، که په روسيه کې روزلی کېده يا په افغانستان کې. نظرياتي زده کړې ته ورسېلمه نه شي. هغوی افغانانو ته ډاډ ورکاوه چې هغه شان ډسپلن به سختۍ سره ساتلی شي. روسي مشران. خروشيف نه تر برېژنېوف

پورې. په دې ولاړ وو چې هغوی صرف د افغانستان په ناپېلتوب او استحکام کې علاقه لرله، نه د هغوی د افسرانو په تخریبولو کې او نه هېواد کښې د کمونیزم د راوستلو د پاره زمکه اوارولو کې. له بده مرغه روسانو د خپل لوز وياړ و نه ساتله. هغوی په مزه مزه خو په څنګوڅڼ کې کوښښ کاوه چې د افسرانو ډله د روسیې د کړنلارې په وسیله کې بدله کړي. په هر حال دا خبره د حیرانتیا وړ وه چې په کومه اندازه شورویانو ته په نظامي قواو کې د کار کولو موقع وه او د هغوی د وفادارۍ بدلولو د پاره د منظمو هڅو په نسبت د کمیونستو اجیرانو شمېر ډېر ټیټ و.

افغان حکومت د روسیانو باور ګټولو د پاره په ډېر اخلاص هغوی ته د دوستۍ لاس ورکړ، چې هغوی ته د افغانستان حکومت اړولو د پاره د افغاني قواو شوروي کولو حاجت پاتې نه شي. دا هېله کېده چې له له روسیي سره د افغانستان دوستي به د هغوی د نظامي مرستو نه د پورته کېدونوکو خطرو په مقابله کې پارسنګ وساتي. خو د کلونو په تېرېدلو هغه هېله یو سراب نه پرته بل څه نه وه. روسانو د ځوانانو نظامي منصبدارانو نه چاڼ او استخدام کول جاري ساته. روسانو صلاکارانو ځیني نان کمېشنډ افیسرز (د ټیټې رتبې منصبدارانو) ته هم ست کاوه، او خپل اړخ ته د هغوی اړولو کې کامیاب شوي وو. دا خبره رښېدله چې روسانو په سیمه کې د عادي حالت د لنډتنګ بریدونو نه وراخوا نظر ساته، کڅ نه هغوی به افغاني قواو ته د ننوتلو او په یو دوست هېواد کې، چې څه وېره ترې نه کېدله، د ورانکارۍ د شبکې غزولو د هڅو مشقت کې بوخت شوی نه وی.

دې اندېښنو سره افغانستان دا هېله لرله چې د روسانو علاقه به تر ډېرې مودې شورویان و نه لمسوي چې مخ په سویل خوځښت بیا پېل کړي. دا هېله هم وه چې په راتلونکي وخت کې به د افغانستان او شوروي اتحاد دوستۍ ته څه خاص زیان رسېدلو نه پرته، افغانستان له روس سره د نظامي تعاون نه په شا شي، په داسې حال کې چې د لویدیځ بېداري به زیاته شي او شورویان به مجبور کړي چې خپلې تېرې کونکي تلوسې تر کنترول لاندې راولي. خو د افغانانو په فکر په هغه وخت کې د روابطو د ساتلو په نسبت د شوروي نظامي پېوستون نه په شا کېده زیات خطرناك وو. احتیاط پکار و چې روسان ونه لړزوي، او زیات احتیاط پکار و چې هغوی ونه پاروي.

دا همېشه یاد ساتل پکار دي چې افغانستان او شوروي اتحاد یوه اوږده پوله لري. په دې لامل افغانستان ته بله لاره نه وه خلاصه، چې د مصر غوندې ګام یې پورته کړی وی، لکه سادات چې له مصر نه ټول روسي نظامي او ولسي سلاکاران ویستي وو. او د روس او مصر د دوستۍ هغه تړون یې چې په کال

۱۹۷۱ ء کې شوی و، منسوخ کړی و . په دې نه پرته افغانستان ته د شورویانو د دوستۍ ضرورت و او خامو او نیمګړتیاو سره یې د هغوی اقتصادي مرستو ته په ښه نظر کتل . په قواو کې د شوروي نفوذ ختمولو یا کمولو سره د اقتصادي مرستو کمېدل لازمي وو . هغې یوازې هغه وخت امکان درلود چې د پښتونستان مسئله پاتې نه وی او د افغانستان او پاکستان تر مینځ روغه راغلی وی . یوازې هغه شان انکشاف د یو قوي نظامي تېري مخنیوی او د روسي مرستو ضرورت تمبولی شو . خو دا ګومان کول مشکل وو چې هر کله د هغوی د نظامي مرستو د ختمولو یا کمولو فېصله شوی وی نو د اقتصادي او تخنیکي مرستو د جاري ساتلو په هکله به د روسیې څه فکر وی . له دې نه پرته دا اټکل لګول هم مشکل وو چې د نورو شوروي ګوند هېوادونو د ډېرو او اساسي اقتصادي او تخنیکي مرستو په هکله به د روسیې د منفي عکس العمل اثر څه وی .

د روسانو د حساسیتونو په نظر کې نیولو سره د دې سوالونو جوابونه لټول او تلل پکار وو . شوروي کړنلارو کې د امپراتورۍ تلوسې نه څوك خبر نه وو، خو افغانستان د پاره دا یو سوال و چې خطرې ته مخ کړي او که په ځای ولاړ پاتې شي . بالآخر فېصله وشوه چې په مخه دې ګړندی روان شي، ځکه چې په ځای ودرېدل د ملت پایښت د پاره زیانمن وو . په دې جریان کې د افغاني مشرانو د پاره شوروي ته مخ اړولو نه پرته بله لاره نه وه، هر څه نتیجه که وتی .

روسیانو به چرې هم افغانستان ته مرستې نه وی ورکړی که خپله ګټه یې نه لېدی . وروسته شاید هغوی خپل صمیمانه روش بدل کړی وی . افغانستان د روسیې له حرص نه ګټه اخسته، ډېر ښه اقتصادي کومك یې راجلب کړ، او هغه په ښه ځای مصرف کېده . پوځ عصري هم شو او قوي هم . راتلونکي وخت کې څه پراته وو، د هر چا خپل خیال وه! افغانانو لره د هېواد جوړولو ته پام ورکول ضروري وو . د شوروي اتحاد د حرکت وخت که راغلی وی، نو، د امرېکې د فکر د بدلو ن نه پرته، بل چا څه کولی نه . د محمد داود د کتنو دې لنډېز افغانستان ته د شوروي اقتصادي او نظامي مرستو په هکله د افغاني مشرانو د اندېښنو ښه غمازي کوله .

د جمهوریت له پېل نه پس ډېر زر، شوروي پلټو ښکاره تعصب، د حکومت په بېلابېلو شعبو، مرکزي کمېټې او کابینه کې د چپلاسیانو زیاتیو، بې کفایتۍ، او نافرمانۍ محمد داود پرېشانه کړی و . هغه وخت داسې یوه ټوکه شوې وه چې محمد داود د مرکزي کمېټې یوه غونډه په قهر کې ځنډولې وه کله چې یوې پروژې د پاره د کومك په دوو وړاندېزونو بحث روان و ؛ یو د متحده ایالاتو او بل د شوروي اتحاد، ولې چې زیاتو غړو د روسي وړاندیز په منلو اصرار کولو سره د دې چې د هغې خرڅ زیات وه او نیمګرتیاوې یې لرلې .

دا وجهې هم وې چې محمد داود د دولت په رغاونه کې د کمونستو د نفوذ زیاتوالی ختمول غوښته. کمونستو دا فکر کولو چې په حکومت او اداره کې د هغوی پښه ټینګه شوې وه. قواوې د ناوړه نفرو نه په سملاسي توګه پاکې نه شوې، خو داسې یو فرمان خپور شوی و چې په مشکوکو نفرو او د روسي ایجنټانو په ننوتلو دې په احتیاط نظر ساتلی شي.

د ۱۹۷۴ء په جون کې کله چې محمد داود د اقتدار نیولو نه پس په ړومبي ځل د ماسکو په سفر روان شو، نو د هغه د نیت نخښې، چې کورنۍ کې ځان د کمیونستېو نه وساتي، ښکاره شوې وې. د کورنیو چارو وزارت کې ادلون بدلون روان و. یو کمونست وزیر له مخکې نه لرې کړی شوی و، او بل یو بلغاریې ته د سفیر په حیث لیږلی شوی و. تر چپلاسي نفوذ لاندې مرکزي کمیټه پر شاه تمبول شوې ود، او هغه ورو ورو د نااوزګارتیا او بېغورۍ له کبله ختمه شوه.

کابل کې د بنې په بدلون سره د شورویانو د قهر نخښو ته د افغانانو سترګې وې، خو نه یې ماسکو ته د محمد داود له سفر نه مخکې او نه یې د هغې په دوران کې څه ولېدل. له کرېملن کې د دولت له خوا ترتیب شوې د غرمې د ډوډۍ په موقع د ولس مشر پوډګورني د وینا یوې برخې نه د پېښنو په رڼا کې ځینو تجزیه کونکو دا نتیجه وېستې وه چې محمد داود یې سکونډلو چې اخدګ سره دې څنګ په څنګ کار کول جاري وساتي[۴۹]:

(د سیاسي، اقتصادي او کلتوري ژوند د نوي کولو د پاره) لویې او پېچلې چارې به کول غواړي ... خو تجربه راښیي، هغه به په کامیابۍ سره حل شي که ټاکلي لاره پخه ونیولی شي، او د نوي ژوند جوړولو ته پراخه او عامې پرګنې راکاږي، او هغه اخلاصمنې قواوې د نوي نظام د قوي کولو د پاره په زور شور او غښتلي یووستون سره کار وکړي[۵۰]

په هر حال افغانانو ته هغې داسې فکر ورنه کړ چې د چپلاسیانو په هکله د روش په بدلون یې د روسانو مایوسي ښوولې. یقیناً د جمهوریت موسس او نوي رژیم ته چې په کومه پراخه اندازه عمومي او خصوصي هرکلی ویلی شوی و او افغانستان ته چې شوروي اتحاد د اقتصادي او مالي مرستو په شکل کې کوم خیرات ورکولو، د داسې قسم ګومان د پاره ځای نه وه پرېښې. خو د پوډګورني هم د هغې وینا یوه بله بر ـه افغانانو ته عجیبه ښکاره شوه:

دا هېله کول پکار دي چې د بین المللي تماسونو د پراختیا د پاره ... او هغې ته تعمیري ملاتړ ورکولو له پاره ... د منځنی ختیځ او جنوبي اسیا په شمول، د بین المللي مسئلو د حل د پاره، د افغانستان جمهوریت به حقیقي معنو کې اسیا کې یو پرامن چارسو جوړ شي[۵۱]

روسي مامورینو د هغې بیان له سپیناوي نه انکار وکړ.

څنګه چې د افغانستان او شوروي اتحاد د داسې لوړرتبه غونډو دستور و، بریژنیف، پودګورني او کوسیجین د افغانستان ناپیلتوب او د شوروي اتحاد د پاره د هغې اهمیت خورا ډېر وستایلو، او مختلفو ټولنیزو او اقتصادي نظامونو سره د روس او افغانستان دوستي. ته یې د دولتونو تر مینځ د تعاون او پرامن ګډژوندانه د بهترین مثال رنګ ورکړ. دلته هم د افغانستان د اقتصادي او مالي مرستو منابعو کې تنوع پیدا کولو او نوو دوستیو جوړولو د پاره په هڅو شوروي مشرتابه د مایوسۍ هیڅ اشاره ونه کړه.

د ماسکو هغه سفر په خبر تېر شو. د شوروي اتحاد مشرانو د جمهوریت په جوړېدلو خوښي څرګنده کړه، هم محمد داود سره په خصوصي خبرو کې او هم په عوامي بیانونو کې، او د افغانستان راتلونکي اووه کلن انکشافي پلان کې د ډېرې برخې اخستلو تیاری یې څرګند کړ.

پودګورني په هغې وینا کې چې مخکې ورته اشاره شوې ده، وویل: د کال ۱۹۷۳ء په جولای کې د جمهوري نظام د جوړېدلو راسې، زمونږ دوستانه روابط نور هم په بره خېژي. شوروي اتحاد وړومبنی هېواد دی چې نوی جمهوریت یې د هغې د اعلان نه سملاسي وروستو وپېژانده، او ورسره یې دوستانه اړیکو او ګټور تعاون کې یې پرمختګ د پاره تیاری څرګند کړ[۵۲]

افغانستان ته د اقتصادي او تخنیکي مرستو زیاتولو او د هغې اووه کلن انکشافي پلان ته مالي مرستو ورکولو په لړ کې د شوروي ژمنو ته په پاملرنه دواړو خواو د اقتصادي او تخنیکي تعاون د پاره د یو ګډ کمیسون په جوړولو موافقه وکړه. د کمیسون دا دنده وه چې د پلان په چوکاټ کې هغه پروژې په ګوته کړي چې د شوروي اتحاد په مرسته عملي کېدای شي؛ د موجوده لوزنامې یا د یوې نوې په اساس د تجارت او د تادیاتو معامله وسنجوي؛ او د اقتصادي او تخنیکي تعاون په ساحو کې که څه کشاله پېښېږي د هغې تصفیه دې کوي. مجوزه اووه کلن پلان کې شاملو مختلفو افغاني پروژو د پاره د شپږو سوو ملیونو ډالرو د حساب په پرانیستلو روسانو موافقه وکړه. هغوی په دې هم موافقه وکړه چې د شوروي اتحاد د پورونو په پرې کولو کې مهلت ورکړي.

په هر حال، په یوې اقتصادي معاملې افغانانو مثبت جواب و نه موند، هغه د هغې ګاز د بیې خېژولو مسئله وه چې شوروي اتحاد ته ورکول کېده. روسانو له افغانستان نه قدرتي ګاز د نړۍ په سویه د نرخ نه په ټیټه بیه اخیسته، او د افغانستان په هغو درخواستونو یې غور نه کاوه چې د بین المللي نرخونو مطابق دې د ګاز په نرخ خبرې وکړي[۵۳]. محمد داود پخپله کوسیجین سره خبره وکړه. هغه ورته وویل چې د ګاز د نوي نرخ ټاکلو کې څه پېچلتیاوې وې، چې د

کړپوهانو زیاتې مطالعې او څېړنې ته یې ضرورت درلود. محمد داود په دې هیلې هغه معامله پرېښوه چې باصلاحیته روسي مقامات به په هغې لور ګام تېز کړي. دا یاد ساتل پکار دي چې د روس په کومك د ګاز لټون د ۱۹۶۰ء لسیزې په وروستیو کلونو کې پیل شوی و. زیات افغان ګاز د پایپونو په ذریعه شوروي اتحاد ته لېږلې شو او د ګاز مقدار معلوم‌ولو میټرونه روسي سیمو کې و.

په سیاسي ساحه کې محمد داود شوروي مشرتابه ته له پاکستان سره د افغانستان د خرابو اړیکو معلومات ډېر تفصیل سره ورکړ. روسانو په غور د هغه وضاحتونه اورېده او د افغانستان تحمل او اسلام آباد سره د هغې روش یې ستایه. په هر حال د کرېملن د غرمې ډوډۍ په موقع چې محمد داود کومه وینا کړې وه د هغې هغه برخه چې د افغانستان او پاکستان اړیکو او پښتنو او بلوڅو سره د اسلام آباد روش سره یې اړه وه، د "تاس" له راپور نه حذف شوې وه. دا کار د افغانستان او پاکستان د اړیکو په لړ کې شاید د شوروي اتحاد زیاتېدونکی بېتوله او بېطرفه موقف ښودلو یوه کچه لاره وه. خو د محمد داود د سفر په ختمېدو د روس او افغانستان په ګډه بیانیه کې، روسانو د افغانستان او پاکستان تر مینځ "یو سیاسي اختلاف" او د افغانستان د اساسي موقف په سمون د خبرو په ذریعه د هغې د پرامن حل ضرورت وپېژاندو.

اقتدار ته له رسېدلو نه پس، داود د برېژنېف له خوا وړاندې شوي د ایشین کلېکټیو سیکیورټي (د اسیا ګډ امنیت) په مفکورې د تبصرې په ترڅ کې ویلې وو: "مونږ د مفکورې ځینې توکي خوښو، خو هغې کې د سرحدونو په سپېڅلتوب زور نه خوښو ... د هغې مطلب به د پاکستان د موجوده سرحدونو، چې انګرېزانو ټاکلي وو، منل وه"[۵۵] په هر حال د افغانانو د پاره دا ستونزمنه وه چې د ۱۹۷۳ء په مۍ کې کابل ته د پوډګورني د سفر په دوران کې پاچایي چې کوم موقف غوره کړی و د هغې اصلیت دې بدل کړي.

په دې ګومان چې مختلفو ټولنیزو او سیاسي نظامونو سره د دولتونو د ګډژوند پرامن اصولو رعایت په اسیا او د نړۍ په نورو برخو کې د امن ساتلو یوه موثره لاره ده، شوروي اتحاد او افغانستان یو ځلې بیا اعلان کوي چې اسیا کې د امنیت د تامین په خاطر د سیمې ټولو هېوادونو ته پکار دي چې هغې لړ کې ګډې هڅې وکړي[۵۶].

د هیئتونو په سویه روسانو د روس او افغانستان د ۱۹۷۴ء بیانیه کې درخواست کړی و چې د برېژنېف وړاندیز ته دې داسې قانوني بڼه ورکولی شي چې زیات اوار او مقصدي شي. افغانانو وضاحت وکړ، چې په اسیا کې د امنیت د عام جوړولو د پاره د ځینو شرطونو پوره کول ضروري وو. هغوی تجویز پېش کړ چې په استعماري سرحدونو د هغوی اعتراض او د جګړو په پرامن طریقو حل

ته د هغوی وفاداري ته دې د اعلامیې په هغې برخه کې چې د اسیا د امنیت سره اړه لري په مناسب شکل کې ځای ورکړی شي، که د کابل فرمول کې ترمیم کولی شي - د سختې ورکړې راکړې نه پس، د بحث مباحثو نه دا لاندې متن جوړ شو چې افغاني فکر یې په ښه انداز اخیستی و:

د افغانستان جمهوریت او شوروي اتحاد په اسیا کې د امن او تعاون په راوستلو کې ژوره علاقه لري، او ګومان کوي چې د اسیا د ټولو دولتونو په ګډو هڅو جوړ شوی امنیتي نظام به د اسیا د خلکو په ګټه وي - دې د پاره په پرامن لارو د کشالیزو مسئلو حل او د استعمار د بقایاو ختمول پکار دي[57] -

عجیبه ده چې کله ولس مشر پوډګورني خپله وینا کې وویل چې اسیايي هېوادونو کې په اسیا کې د ګډ امنیت د فکر ډېر هرکلی شوی و او حالات "ورو ورو جوړولی شو چې په هغې فکر کې سا واچوي"[58]، نو محمد داود د دې په هکله داسې وینا وکړه:

ستاسو جلالتمآب په اسیا کې د ګډ امنیت یادونه وکړه - دا د ستاینې وړ فکر دی، خو افغانستان داسې فکر کوي چې حقیقي امن هغه وخت راتلی شي چې ټول دولتونه د بشرې پرګنو قانوني حقونه رعایت وکړي، او د ملګرو ملتونو د چارټر په اساس استعماري روش وغندي[59]

له دې نه پرته، په هغه وخت کې افغانانو ته معلومه وه چې د برېژنېف د وړاندیز د عملي کېدو لږ یا بېخي هیڅ امکان نه و، ولې چې د اسیا د ګډ امنیت یو مهم ونډوال چین (چې یقین یې لرلو چې د روسي منصوبې اساسي هدف دا و چې هغه ګوښه کړي) هغې وړاندیز پورې ملنډه وکړه او په دې ټینګ و چې هغه به هیځکله د زمکې نه پښه پورته نه کړي - وروستو چینیان په حقه ثابت شول.

کابل ته د محمد داود د راستنېدو نه وروسته، سملاسي په اووه کلن انکشافي پلان کې، چې له مخکې نه پېل شوی و، د روسي ونډې د ساحې ټاکلو جریان نور تېز شو - په یو څو میاشتو کې دواړو خواو په یو شمېر هغو پروژو موافقه وکړه، چې په شوروي اقتصادي او تخنیکي مرستو عملي کېدې - په هغو کې دا پروژې شاملې وې:

د اوبه خور او نورې د کرنې پروژې، د یوریا سرې جوړولو یو بل ماشین، د جارقوایدوق د قدرتي ګاز پروژه، او یو بله ګډ هېلمنه دنده چې[؟] افغانستان قدرتي منابعې معلومې کړي او د هغو د ساتنو بریدونه وټاکي -

په هر حال روسیانو درېو مهمو اساسي پروژو سره د کار کولو نه څنګ کاوه، سره د دې چې هغو سره یې د کار اوږده سابقه لرله - هغه دا وې: (شمالي افغانستان کې) سرپل شبرغان کې د انګوټ په ځای د تېلو پاکولو فابریکه، لوګر

کې د عینك د مسو د زېرمو لټون او ورسره د ویلي کولو او پاکولو فابریکه، او د هندو کش په منځنۍ برخه کې د حاجیګك د اوسپنې د زېرمو انکشاف .

روسانو ډېر کلونه سرپل شبرغان کې د تېلو په لټون کې مرسته کړې وه، په ظاهره د انګوټ د ذخیرو نه پرته څه خاص کامیابي یې نه وه تر لاسه کړې، هغه هم له دویم نړیوال جنګ نه پس د سوېډن ماهرینو برخېره کړې وې . روسان په دې ټینګ و چې انګوټ کې ذخیرې د یوې فابرېکې د ضرورت جوګه نه وې . خو کله چې هم په هغه سیمه کې افغاني کارپوهانو پخپله د تېلو زیاتې ذخیرې بیا موندې، او د روسانو تاویلونه یې کچه ثابت کړه، خو روسانو بیا هم اړي کوله چې د پروژې د امکان تاکلو د پاره نوره ژوره څېړنه پکار وه . داسې ښکارېده چې په څه وجه روسانو غوښته چې څه وخته پورې د افغانستان تېل دې هم تر زمکې لاندې وي .

د عینك د مسو ذخیرو د مقدار معلوملو د پاره له جغرافیایي کتنو سره روسانو مالي او تخنیکي مرسته کړې وه . د هغوی د کتنو په رڼا کې د عینك زېرمې په مقدار ډېرې او په معیار ښې وې . خو کله چې په اووه کلن انکشافي پلان کې د عینك د مسو د لټون، او د ویلي کولو او صفا کولو فابریکې، چې کورنۍ ضرورت او صادراتو د پاره مس تیاروي، شاملولو فېصله وشوه، نو په هغې پروژه کې د روسانو شوق لږ شو . هغې پروژې ته د مالي مرستې په هکله له روسانو سره خبرې رواني وې، خو دا ښکاره شوه چې هغوی غوښتل چې مواد دې راوېستلی شي او افغانستان کې دې خوندي کولی شي . بیا به د ویلې کولو او پاکولو د پاره شوروي اتحاد ته استول کېږي[٦٠] . یو څو ځلې خو روسان د افغانانو فکر منلو ته نزدې شوي وو، خو له پخې ژمنې څخه یې ډډه کوله .

د حاجیګك د اوسپنې انکشافي پروژه یو ډېر درون کار و . د هغې بنسټیز کار په اووه کلن پلان کې نیول شوی و . یو ګډ فرانسوي او جرمني شرکت د انکشاف او لټون د امکان مطالعه بشپړ کړې وه، د حاجیګك د ذخیرو د اندازې معلوملو د پاره مهمې اولنۍ کتنې د شوروي زمکپوهانو کړې وې . د حاجیګك د انکشاف او لټون د پاره جوړ شوي پلان کې سړکونه، رېل پټلۍ، د درنګ نه وېستلو اسانتیاوې، یوه بنۍ، د صفا کولو اسانتیاوې او د موادو د جوړولو ماشینونه ودرول پکار وو . د افغاني پلانګرانو خیال و چې د پېداوښت په اولنو پړاونو کې حاجیګك به ایران، پاکستان او شوروي اتحاد ته صادراتو د پاره د اوسپنې ټوټې جوړوي . حاجیګك چون یوه درنه پروژه وه او نورو فرعي اسانتیاو جوړولو ته یې هم ضرورت درلود، نو دا هېله کېدله چې زیاته پنګه به د فرانسې، جرمني، امریکا او جاپان یو کنسورشیم نه تر لاسه شي . روسانو د حاجیګك د انکشاف یو څو مخصوصو اړخونو کې مالي او تخنیکي مرستې جاري ساتلو کې

علاقه ښودله. په هر حال کله چې د هغوی په مرستو خبرې رواني وې نو دا انګيرل کېده چې هغوی د حاجيګك په هکله هم هغه فکر درلود کوم چې د عينك د مسو په هکله و. د خامې وسپنې له راوېستلو نه پس دې هغه شوروي جماهيرو ته لېږل کېږي او هلته به ترې اوسپنه او پولاد جوړېږي[٦١]. هغوی غوښتل چې افغانستان دې هغو ته اوم مواد صادروي او جوړ شوی مال دې واردوي، چې د استعماري استحصال يو روايتي مثال و[٦٢].

د ١٩٧۴ء کال د ستمبر ١٠مې نه تر ١۴مې نېټې پورې محمد نعيم او وحيد عبدالله د شوروي اتحاد سفر وکړ. هغوی برېژنيف او کوسيجين سره ولېدل. د دوی د خبرو اساسي موضوع د افغانستان او پاکستان مخ په ورانې روابط او سيمې ته ورپېښ خطر و، خو اقتصادي معاملې هم د بحث په جريان کې رامنځته شوې. محمد نعيم په خصوصي ډول د عينك او حاجيګك د انکشاف د پاره روسي مالي مرستې ته اشاره وکړه، خو روسانو په هغې لړ کې د ابهام او ژغورنې نه کار واخيست.

په هغو خبرو کې کوسيجين نعيم او وحيد عبدالله ته ډاډ ورکړو چې شوروي حکومت به د افغان جمهوريت خلاف د پاکستان هر قسم جارحانه عمل په سخته غندي. هغه افغاني استازو ته دا ډاډ هم ورکړ؛ که افغاني خوا ضرورت محسوس کړ، نو د ځينو وسلو، لکه ټانك او د ټانك ضد، د مقدار سويه به لوړه کړي. په هر حال هغه دا هېله ښرګنده کړه چې افغانان به د پخوا په شان د پاکستان د پارونو جواب په تحمل ورکړي. نعيم کوسيجين ته وويل چې افغان حکومت له پاکستان سره د وسلوالې نښتې نه کرکه کوي، خو د تېرې په حال کې به افغانانو د پاره د خپلې دفاع نه پرته بله لاره نه وي. تر څو چې د روسي نظامي مرستو د زياتوالي تعلق و، نعيم وويل چې هغه به د کوسيجين فکر محمد داود ته ورسوي.

د ١٩٧۴ء په اکتوبر کې د شوروي اتحاد د دفاع د وزارت مرستيال مارشل موسکولېنکو د کابل يو رسمي سفر وکړ. د هغه سفر هغه يو روايت و چې د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ د نظامي تعاون په پېل کې قايم شوی و. هغه روايت د دواړو هېوادونو تر مينځ وخت په وخت د نظامي هيئتونو تګ راتګ و، چې د افغانانو د وسلو او روزنې ضرورت بيا تر نظر لاندې ونيسي او ارزيابي يې وکړي. د افغانستان او پاکستان د بحران په دوران کې، د مارشل هغې دورې داسې فکر وزېږاوه چې افغانستان له پاکستان سره جنګ ته هڅول کېده، خو هغه فکر بې اساسه و.

د محمد داود د سفر په جواب کې پوډګورني چې د ١٩٧۵ء د دسمبر په نهمه نېټه سفر کاوه، نو تر هغې نېټې افغانستان کې ځينې داسې پېښې شوې

وې چې روس د پاره د اندېښنې لامل وې ـ حکومت او پوځ کې د کمونستي نفوذ خلاف محمد داود خوله پرانستې وه او د هغې د ختمولو د پاره فعال شوی و ـ له دې نه پرته د افغانستان هڅې په مخه روانې وې چې د اقتصادي مرستو د منابعو ساحه پراخه کړي او هغو کې تنوع پیدا کړې ـ د دې غرض لپاره اسلامي، عرب او نورو هېوادونو سره تماسونه نیول شوي وو ـ

له دې انکشافاتو نه پرته، ځینو هغو چارو چې راساً یا غیر راساً ورسره روسان تړل شوي وو، پر خلاف د محمد داود ناتمېدونکي عکس العمل باندې به د شوروي مشرتابه خوشاله کېدلی نه شوه ـ د مثال په توګه محمد داود د ناپېيلي خوځښت په هکله خپله انتهایي مایوسي پټه کړې نه وه ـ د هغه په خیال، هغې خپله میانه روې بایللې وه او ورپسې نور نفوذ، بلکې د امن د پاره د یو تشکیل جواز، یې هم بایللو چې د کیوبا په شان د شوروي اتحاد پلوي هېوادونه د هغې غړي وو ـ محمد داود ډېرو خارجي مېلمنو ته ویلي وو چې هغه د کیوبا خلاف څه ویلي نه وو، خو هغې هېواد د ناپېيلي خوځښت د غړیتوب اهلیت نه درلود، ځکه چې هغه د شوروي اتحاد د کړنلارو محکوم و او د هغې اتحاد د ګټو د پاره یې، په خصوصي ډول افریقې او لاتیني امریکا کې، مخه بدلولی شي ـ هغه د رومانیې د غړیتوب هم مخالفت کړی وه ـ په کولمبیا کې د خوځښت د راتلونکي سرمشرانو غونډه کې د یو کتونکي په حیث د رومانیې د ګډون د هڅو په لړ کې د افغانستان د حمایت حاصلولو د پاره د هغې هېواد د سفیر د درخواست په جواب کې داود په شریفانه لهجه کې ویلي وو چې د هغه وخت د حالاتو په رڼا کې هغه د ناپېيلتوب خوځښت کې د رومانیې د ګډون هډو فکر نه شو کولی ـ د ناپېيلي خوځښت یو څو نورو غړو هېوادونو سره هغه هم اصرار کولو چې د غړیتوب جوړېدلو د پاره د جوړو شوو اصولو خیال ساتل ډېر ضروري وو؛ که نه هغه خوځښت به ډېر زر د یو یا د بل سوپر پاور د کړنلارې یوه وسیله شي ـ

دا هم معلومه وه چې د کابینې په غونډه کې محمد داود په افریقا کې د روس په مهموالي هم اعتراض کړی و، او کیوبا چې کوم رول لوباوه د هغې خلاف یې څو ځله خپله رایه څرګنده کړې وه[٦٣] ـ د سومالیې او حبشې تر منځه د اوګاډېن د دښتې جګړې روس او کیوبا ته موقع ورکړه چې د "افریقې ښکر" ته ورننوځي ـ محمد داود په جار د سومالیې ملاتړ وکړ ـ د افغانستان حکومت دا موقف خپل کړ، چې د سومالې او حبشې کشاله دې د اوګاډېن د خلکو د خپل اختیار په اساس په امن سره حل کړی شي ـ دا موقف د حبشیانو د موقف خلاف و. هغوی ته شوروي اتحاد او کیوبا نظامي او سیاسي مرستې ورکولې ـ حبشیانو اوګاډېن د خپل هېواد برخه ګڼله او د خپل اختیار د هر قسم جریان مخالفت یې کاوه.

د هغو انکشافاتو سره، بیا هم کابل ته د پوډګورني د دوو ورځو سفر (۹-۱۰ دسمبر، ۱۹۷۵) په دوران کې د روس او افغانستان په اړیکو کې څه ښکېل برخېره نه شو - د محمد داود او پوډګورني هغه خبرې، چې زه هم نه کې حاضر وم، عادي او بې پېښې وې - لکه د هغو لېدنو دستور وه، هغو خبرو د شوروي اتحاد او افغانستان بهترینو اړیکو سره تعلق درلود - په یو وخت هم پوډګورني افغانستان ته د کومې نوې اقتصادي مرستو د منابع د حاضرېدلو د داسې منابعو د لټون د نتیجو په هکله پوښتنه و نه کړه - په داسې وخت کې چې محمد داود د افغانستان د باندېنیو چارو د کړنلارې د بیان په حال کې د افغانستان او پاکستان د خرابېدونکو اړیکو خبره کوله، پوډګورني پوښتنه وکړه؛ آیا د ایران پاچا لا د هغو اختلافونه په ختمولو کې د افغانستان او پاکستان مرسته کوله؟ محمد داود چې مثبت جواب ورکړ، نو پوډګورني بیا پوښتنه وکړه چې پاچا په خپلو هڅو کې بریالی شوی و؟ د محمد داود د وضاحت اورېدلو نه پس چې پاچا لا د دواړو خواو نږدې کولو کې بریالی شوی نه و، هغه نور په هغې معامله کې خبره و نه کړه - داسې ښکارېده چې هغه صرف دې کې علاقه لرله چې د ایران پاچا هغې چارو کې نښتې وه! هغه د پاکستان له لارې د افغانستان د ټرانزېټي تجارت د مشکلاتو په لړ کې یو څو عادي پوښتنې وکړې، او بیا کابل ته د روانېدلو نه مخکې ماسکو کې له پاکستان سفیر سره یې د خپلې مرکې ذکر وکړ - پوډګورني وویل چې پاکستاني سفیر هغه ته، د پاکستان په لور د ښه نیت په توګه، ویلي وو چې افغانانو ته مشوره ورکړي چې بلوڅستان او سرحدي صوبه کې د مشکلاتو زیاتولو نه ډډه وکړي، ځکه چې د هغوی لاسوهنه به نه یوازې پاکستان ته زیان ورسوي، بلکې د ټولې سیمې امنیت به خطر ته مخامخ کړي - له دې نه وروسته، پوډګورني زیاته کړه چې څه سفیر ویلي وو هغه یې له کم و کاست نه پرته افغانانو ته ورسول - له یوې سا اخستلو نه پس، پوډګورني محمد داود ته نېغ کتل او وې ویل چې افغانستان یو خپلواکه هېواد و او خپل مخصوص ملي غرضونه یې لرل، او شوروي اتحاد د هغو قدر کولو - هغه زیاته کړه چې افغانستان به پخپله فېصله کوي چې د هغې غرضونو څه سره سمون درلود - هغوی په سیمه کې د انتهایي حساس حالت نه هم خبر وو - زمونږ له پاره د پوډګورني الفاظو له دې نه سېوا بل څه مطلب نه ورکاوه چې د افغانستان او پاکستان د کشالې په هکله شوروي اتحاد بېتوله و -

کله چې محمد داود د هغو خطرو ذکر وکړ چې د نړۍ امن او امنیت ته مخامخ وې، نو پوډګورني د بین المللي ښکېل د زیاتېدلو ټول مسئوولیت "د امرېکې د امپراتورۍ" په درشل او "د چین د لاسبرې په فکر" واچاوه - د پوډګورني په بیان د نېغې تبصرې نه پرته، محمد داود وویل بې له څه امتیازه "ټول" لوی

طاقتونه د نړۍ د او امن امنیت د ساتلو ستر مسئوولیت په غاړه لري او نور هېوادونه، چې د ملګرو ملتونو بې اثره نظام کښې راټول شوي وو، په چپه خوله او بې ارزۍ د لويو طاقتونو عملونو ته کتل، چې هغو په عمومي ډول د هغوی خپل غرضونه پر مخ بوتله. پوډګورني محمد داود ته کتل او سترګې له يې رپ نه ورکاوه.

سره له دې چې د شوروي اتحاد د دفاع د وزارت يو مرستيال پوځي جنرال ايوان جي پاولوسکي هم په خبرو کښې حاضر وه، يوازينی نظامي موضوع هم پوډګورني پخپله اوچت کړ چې محمد داود ته يې ووېل چې ماسکو کې نظامي مقاماتو هغه ته خبر ورکړی و چې افغانستان ځومره ټانکونه غوښتي وو هغه ټول به د ټاکلي جدول سره سم سپارل کېدل.

د افغانستان د پخواني درخواست په اساس پوډګورني په خبرو کښې اووه کلن پلان ته د اضافي روسي پور وړانديز وکړ. هغه پور د روسي ماهرينو په مرسته په قسطونو کښې ټاکل کېده. هغه ژمنه وکړه چې عينك د پاره به شوروي مرسته جاري وي خو د حاجيګك د اوسپني په برخېرنه کښې يې څه نه ويل. هغه وخت د انګوټ د تېلو پاکولو د فابرېکې د امکان لټولو د پاره يو لړ مطالعې روانې وې. نو هغه د هغې پروژې له تبصرې نه ډډه وکړه.

د دعوت په موقع پوډګورني په خپله وينا کښې د اسيا د ګډ امنيت ذکر ډېر زيات وکړ، خو محمد داود په خپل بيان کې په هغې تېر شو. د افغانستان او پاکستان د روابطو په لړ کې، د محمد داود وينا د هغې نه لږه سخته وه چې پخوا يې ماسکو کې کړې وه. په هر حال پوډګورني هغې موضوع ته ښخي اشاره و نه کړه.

مسکو ته د پوډګورني د روانېدو نه يو څو ساعتونه مخکښې د کابل په اعلامیې موافقه راغله. دواړو خواو ټينګه "اراده څرګنده کړه چې د شوروي اتحاد او افغانستان دوستانه اړيکو او په سياسي، تجارتي، اقتصادي، کلتوري او نورو ساحو کښې د ګټور تعاون د نور ښه کولو په لړ کښې به هره ممکنه هڅه کوي." هغوی هغه اړيکي "د دواړو هېوادونو د خلکو ارزښتناك ملکيت" وګڼله[64]. تر څو چې د اسيا د ګډ امنيت او د افغانستان او پاکستان د اړيکو تعلق وه، ګډې اعلاميې په ساده انداز کښې د هغو اصولو پخلی وکړو چې د ۱۹۷۴ء په جون کښې جوړ شوي وو.

د ماسکو د اعلاميې (۱۹۷۴ء) او د هغې يوې چې د پوډګورني د سفر په اختتام خوره شوه په ژبو څه توپير و. د "صميميت" د لفظ په ځای اعلاميې د "خپل مينځي باور، خپل منځي پوهې، سپيناوي او د ښه نيت" ذکر کړی و. د ځينو تحليل کونکو په نظر کې د "سپيناوي" لفظ د ډپلوماتيکې مخصوصې

اصطلاح کې، د روسیې او افغانستان په اړیکو کې مشکلاتو ته اشاره وه[٦٥]. په هر حال "سپیناوی" لفظ د څرګندونو په سمون استعمال شوی و، او هغې د دواړو هېوادونو په منځ کې د حالاتو د خرابېدلو په لور څه اشاره نه شوه ورکولی. له دې نه پرته، رښتیا خبره دا وه چې "سپیناوی" لفظ د کوربه هېواد د اعلامیې په اولنۍ مسوده کې استعمال شوی و او د شورویانو په متن کې نه و. د پېښو په رڼا کې دا ګومان ببځایه نه و چې روسانو شاید محمد داوډ سره خپل روش بیا ارزیابي کولو، خو په هغه وخت هغې لور ته څه اشاره نه وه.

د دسمبر په لسمه نېټه محمد داود او پودګورني هغه لوزنامه لاسلیک کړه چې د ١٩٣١ء د شوروي اتحاد او افغانستان د دوستۍ او نه تېري تړون یې نورو لسو کالو د پاره وغزولو. روسان چې د رنګارنګو دستورو شوقین دي په هغې ډېتشې پېښې خوشاله ښکارېدل.

د ١٩٧٦ء لسیزې په نیمایې کې چې روسانو ته احساس وشو چې د محمد داود او د چپلاسیانو بېلتون پوخ شوی وه، ماسکو د اخدګ د دواړو سیالو ډلو، پرچم او خلق، په یو متحده ګوند کې د یوځای کولو په هڅو کې بوخت و (پنځم در وګورئ). یقیناً دا کار یې د افغان کمیونسټ ګوند د ساتنې د پاره کولو چې دې نه زیاتې مهمې دندې ته یې چمتو کړي. روسانو اخدګ د خپلې کرنلارې یوه وسیله ګڼله او په راتلونکي وخت کې د هغې د وضعې په باره کې اندېښمن وو، نو ځکه یې د هغې ګوند داسې ورکېده نه شو زغملی. تر څو چې د روسانو ګټو اجازت ورکاوه، اخدګ یې شا ته په سوغېدلي نغري اېښو، خو هر کله چې افغانستان کې د شورویانو د زیاتې ټینګې موجودګۍ د ضرورت احساس کېده، نو اخدګ به یې اورمرو راغوښتلو چې د ماسکو له پلان سره سم خپل مسئولیتونه سر ته ورسوي.

له اقتدار سره نزدې ځینو افغاني حلقو دا یقین درلود چې کله د روسانو د پاره د افغانستان د نیولو وخت راشي، نو هغوی به د نظامي مداخلې او په زور نیولو نه ډډه کوي، ولې چې د هغوی په خیال روسانو دا تاریخي غلطي ګڼله او ډېرې ناوړه پېچلتیاوې ترې زېږېدلی شوې. د هغوی دا خیال و چې شورویان به افغانستان ته د کمونستي بدلون په حال کې راننوځي، چې د محلي کمونستانو لخوا مینځ ته راغلی وي. خو داسې کولو د پاره د یو مضبوط او یوشوي اخدګ ضرورت و چې د شورویانو د نزدېکت مسئولیت په غاړه د اخیستلو جوګه وي او په افغانستان کې د شوروي اتحاد لنډمهاله او اوږدمهاله غرضونه کامیابۍ ته رسوولی شي.

د داسې فکرونو په نظر کې ساتلو سره ډېر افغانان د پرچم او خلق د یوځای کولو د پاره د روسانو د هڅو په زیاتولو اندېښمن وو. محمد داود هم د

پرچم او خلق په یوځای کېدلو فکر اخستی و او د هغې مقصد یې د افغان جمهوریت د پاره مخاصمانه ګانه، خو د هغه خیال و چې د اخدګ د دواړو ډلو د مشرانو تر مینځ تربګنې دومره ډونګه وه چې هغه پېوندکاري به موقتي وه او د شوروي جماهېرو په کار به نه راتله - د محمد داود دا خیال و چې کله روسان د افغانستان نیول وغواړي نو هغوی به د محلي کمیونستانو په ذریعه کودتا راولي. د هغې د پاره زیات کار کوونکي به د نظامي تشکیلاتو نه راغواړي - په هر حال د هغه دا یقین و چې د هېواد اداره او د خپل کنټرول ټینګولو د پاره هغوی ته پکار وو چې ډېر زر په هغو نظامي دسیسه جوړونکو تکیه وکړي کومو چې د حکومت په رغاونه کې د پوهو او منظم ولسي کمونستو یوه ډله شریکه کړې او اقتدار یې نیولی و - د محمد داود دا خیال و چې د پرچم او خلق موجوده مشران، او نه د دواړو په یوځای، د شورویانو د غرضونو په لړ کې ګټور خدمت کولی شي، ځکه چې هغوی انتهایي بې کفایته وو - هغوی کې ډېرې کمزورۍ وې او د خلکو له حمایت نه برخوردار نه وو - هغه دې یقین ته نژدې و چې کله د خپلې کړنلارې د یو وسیلې په توګه روسان د پرچم او خلق په یو مضبوط کمونست ګوند کې یوځای کولو په لړ کې خپلې هڅې پکاروي نو هغوی به هم په هغه وخت د اخدګ د پاره یوه مکمله مشرتابه هم استخدام کوي او روزي - د دې فکرونو دا مطلب و چې په یو موثر کمونست یونټ کې د اخدګ دوباره جوړولو کې به وخت لګېدو.

محمد داود د ځینو نژدې ملګرو له هغه خیال سره اختلاف درلود، د کومو چې یقین و چې افغانستان کې د کمونستو تشکیل ته پښتې ورکولو د پاره به روسان د هغې زور د یوشوي اخدګ د موجوده مشرتابه پرشا اچوي، ځکه چې روسیې ته د هغې وفاداري ثابته شوې وه - دا یو داسې خاصیت و چې مسکو ورته د هر څه نه زیات اهمیت ورکولو - د هغوی دا مشوره وه چې شورویانو د پاره پرچم او خلق پورې د نښتلو یو اضافي سوب دا هم وه چې روسان رجعت پسند وو او نوی خیال او نوي خلك یې نه خوښول، خصوصاً په یو باندېني هېواد کې، چرته چې ناڅیدلې کندې د یو تشکیل د پاره د استخدام هڅې ورو کوي او هغه د پرېشانۍ وجه جوړوي -

په داسې حال کې چې د اخدګ په هکله د رایو اختلافونه عملي ډګر ته د خوځېدلو ګنګوسې خورېده، د افغانستان په کورنیو چارو کې د شوروې اتحاد تودې لاسوهنې محمد داود پرېشانه کړی و - محلي کمونستانو سره د هغوی تماسونه زیات، فعال او ښکاره شوي وو - محمد داود د شوروي اوږدمهاله پلمو نه ناخبره نه و، خو په څه وجه یې هغې خیال سره اتفاق نه کولو چې هغې هېواد شوروي اتحاد سره د افغانستان ټینګه دوستي او د هغې ناشلېدونکې ناپېلتوب نور نه ستایه، او نه یې پرې ځان پوهولو - هغه یو ځل وویل؛ د یو ګاونډي په حیث

افغانستان خپله اخلاصمنه دوستي د اتبار وړ ثابته کړې وه. او شوروي اتحاد د پاره د هغې ټينګ ناپيلټوب هغه هر څه وو چې د شوروي اتحاد د پاره يې اهميت درلود. هغه زياته کړې وه؛ په کورنيو او باندنيو سويو هر څه چې افغانستان کول، هغې سره د روس کار نه و. د افغانستان او شوروي اتحاد د اړيکو په هکله دې ساده شان مفکوره کې څه منطق و که چا ته په سويلي او سويل لويديځې اسيا کې د روسانو کړنلارې په ځای ولاړې ښکارېدې. خو د روس د تاريخي عکسونو، ښکاره غرضونو او جغرافيايي ضرورتونو په اساس د مخالف فکر په تول هغه مفکوره بې ربطه وه.

د ۱۹۷۶ء په دويمه نيمايي کې د روسانو د وړانکاريو په اړوند د پټو شعبو راپورونه برابر رارسېدل چې هغوی افغان کمونستان بيا راوټولول او کار ته يې اچول. محمد داود "صبر کوه او ګوره" روش خپل کړ، او روسي سفير سره يې د افغانستان په کورنيو چارو کې د شوروي لاسوهنې په معامله خبرې کولو نه ځان ژغوره. دا راز هغه د باندنيو چارو په وزارت کې يو مامور ته هم دا واك نه وه ورکړی چې داسې وکړي. اراده دا وه چې بېوخته شورويان سکونډل نه وو پکار، او نه د محلي کميونستانو خلاف څه قدم پورته کول پکار و تر څو د هغوی خلاف د رژيم په ضد کافي او قوي ثبوت لاس ته راغلی نه وي. دا ثبوت داسې پکار و چې د هغې صحت نه روسي استاذانو هم انکار نه شو کولې، او نه يې بيا د هغې په رڼا کې د ورکړې شوې سزا موضوع پورته کولی شو.

بېشکه روسان د افغانستان او اسلامي ګاونډيانو تر مينځ د اړيکو په انکشاف او پراخېدلو پرېشانه وو. په هغې حال کې به په شوروي اتحاد د افغانستان انحصار او د هغې په نتيجه کې په کابل کې د هغې نفوذ به هم کمېده. په هر حال روسانو د پاره په جار داسې حرکت کول مشکل وو چې هغه ناخوښه روش شا وګرځوي. ايران او پاکستان دواړو سره د روسيې اړيکي ښه و او نور ښه کېدل. تر ممکن حده، شوروي اتحاد د افغانستان ګاونډيانو ته دا ويل نه غوښتل چې هغې سره خپلو اړيکو ټينګولو نه ډډه وکړي، او په دې ترتيب له هغو سره خپلو اړيکو ته زيان ورسوي. په بل اړخ روسيانو نېغ په نېغه افغان حکومت ته هم نه شو ويلې چې ايران، پاکستان او عرب دولتونو سره د نزدې اړيکو د لټون نه لاس واخلي. د افغانانو له خوا د داسې وېنا عکس العمل به منفي و او، پرته له دې، داسې مشوره د اسيا د ګډ امنيت د منصوبې د عملي کولو په لړ کې د اسيايي هېوادونو تر مينځ د اړيکو ښه کولو په هکله د روسيې د ژورې علاقې خلاف هم وه.

په حقيقت کې روسان به اورمرو اندېښمن وو چې افغان کمونستانو سره څه پېښېدل، او نورو اسلامي هېوادونو سره د افغانستان د اړيکو په ښه کېدلو (په

خصوصي ډول له پاکستان سره د کابل روغه او له ایران سره د اقتصادي اړیکو پراخېدل) ـ خو روسي مامورینو په احتیاط افغاني مشرتابه او د باندېنیو چارو د وزارت غړو سره په تماسونو کې په هغو چارو د پوښتنو او تبصرو نه ډډه کوله ـ په ظاهره هغه ناغرضه روش د ماسکو په هدایاتو خپل کړی شوی و ـ مونږ خبرېدو چې د هغو انکشافاتو په هکله په کابل کې نورو دیپلوماتانو نه هغوی په څومره شواخون د معلوماتو اخیستلو زیار ګاللو، او د افغانستان د نوو سیاسي او اقتصادي کړنلارو په هکله یې یو څو ته د بوګنوونکې وېرې څرګندونه کوله ـ ماته یوازې یوه پېښه یاده ده چې په ځان د هغې تحمیل شوې بندیز نه سرغړونه شوې وه ـ د ۱۹۷۶ء په نومبر کې په نورو معاملو د خبرو په ترڅ کې، سفیر پوژانوف ما نه د شونډو په سر پوښتنه وکړه؛ آیا د افغانستان حکومت ته یقین و چې ایران به افغانستان ته د مرستو په هکله خپلې ژمنې ووپاړي؟ او آیا افغانستان په پاچا او د هغه په ژمنو اتبار کولو؟ ما جواب ورکړ چې د مرستو په هکله د ایران په ژمنو د شك کولو څه دلیل نه وه ـ د روسانو د دې بېخاصیته ځانلتوب مطلب دا و چې مسکو د خپل ځان تنقیدي تحلیل کولو او د افغانستان د دې نوي ګڼ اړخیزه حالت ارزیابۍ کولو ازمېښت نه تېرېده، او نه یې غوښته چې د ارزیابۍ تر تکمیله پورې د هغوی فکر دې ښکاره شي ـ

په دې دوران کې د شوروي جماهیرو او افغانستان تر مینځ اقتصادي تعاون عادي روان و ـ شورویانو په "۱۹۷۵ء کې افغانانو ته ۴۳۷ ملیونه ډالره پور ورکړی وه ـ ۱۹۷۶ء کې دواړو ملتونو یو تجارتي لوزنامه لاسلیك کړه چې ۱۹۸۰ء پورې تجارت کې په سلو کې پنځه شپېته زیاتی راولي ـ د ۱۹۷۷ء د ستمبر پورې په افغانستان کې د بل هر باندېني طاقت نه د شورویانو شمېر زیات و[٦٦]" ـ

کله چې د پرچم او خلق د یوځای کولو په لړ کې د شورویانو پټې چارې روانې وې، نو د افغانستان په بادېنیو او کورنیو کړنلارو کې په نوو تمایلاتو روسان خاموش وو ـ هغوی باقاعده د افغانستان او شوروي اتحاد په دوستۍ د یقین څرګندونه کوله او هغو اړیکو ته یې "د دوو مختلفو ټولنیزو او اقتصادي نظامونو سره د هېوادونو تر مینځ د پرامن ګډژوند پوه مکمل نمونه" ویل ـ د روسانو هغه درغلي تر هغې روانه وه چې محمد داود د کمونیزم د ورانکارۍ ښکار شو ـ

د وخت په تېرېدلو سره محمد داود افغانستان کې د شورویانو په پټو چارو سخت په قار و ـ د ۱۹۷۷ء په فبرورۍ کې چې لویې جرګې د ولس مشر په حیث د هغه چوڼ وکړ، هغې نه یو څو ورځې پس محمد داود وحید عبدالله او ما ته وویل؛ وخت راغلی دی چې هغه شوروي دولت کې د ټولو نه بره مقام، لیونډ برېژنیف، نه پوښتنه وکړي چې افغانستان کې د شوروي د ورانکاریو چارو ته هغه

منظوري ورکړي وه او که د هغه د علم نه پرته رواني وي. هغه به هغه ته ووايي چې څه کېدل هغې په هيڅ حال کې د شوروي مشرتابه هغو مسلسل څرګندونو سره سمون نه خوړ کومې چې هغوی افغان رژيم سره د دوستۍ او صميميت په هکله کولې. برېژنېف به هغه ته ارومرو سپينوي چې د هغې لارې نيولو نه د شورويانو اراده څه وه!

په مارچ کې روسانو محمد داود وباله چې اقتدار ته له رسېدلو نه پس ماسکو ته دويم رسمي سفر وکړي. هغه په خوشالۍ هغه بلنه ومنله. روسانو سره مشورو کې د سفر تاريخونه وټاکل شول؛ د ۱۹۷۷ء د اپرېل د ۱۲مې نه تر ۱۵مې نېټې پورې. د ماسکو په مخ الوتکه کې محمد داود وحيد عبدالله ته هدايت ورکړ چې شوروي اتحاد کې د استوګنې په دوران کې برېژنېف سره د هغه د يوې خصوصي لېدنې بندوبست وکړي. هغه وويل؛ د هغه اراده وه چې هغې غونډه کې صرف په هغې موضوع خبرې وکړي چې پخوا يې په کابل کې زمونږ پام ورته ګرځولی و. هغه وويل چې روسانو هيڅ اشاره ورکول نه و پکار چې هغې لېدنه څه ويل کېده. ماسکو ته د محمد داود او د هغه د ډلې له رسېدلو نه سملاسي پس وحيد عبدالله د تشريفاتو روسي منصبدار ته خبر ورکړ چې ولس مشر محمد داود غواړي چې له عمومي منشي برېژنېف سره په مناسب وخت يوه خصوصي لېدنه هم وکړي، شايد د سفر په پای کې.

د روسيې له خوا ليونډ برېژنېف، نيکولای پودګورني، الېکسي کوسېجين او څېني نورو شورويانو او د افغانستان له خوا محمد داود او هغه سره د ملګری هيئت تر منځ رومبنۍ غونډه کرېملن کې د دوولسم اپرېل په مازيګر وشوه[٦٧]. ګاوريلوف، د روسي د باندېنيو چارو د دفتر يو مامور چې کابل په کې يې په شوروي سفارت کې ډېر وخت تېر کړی و او ښه دري يې زده وه، د دواړو خواو ترجماني کوله.

مونږ چې يو بل ته مخامخ د مېز په خوا ناست وو، نو ورومبني شي چې زما پام وراوښت هغه د برېژنېف خراب صحت و. هغه ډېر رنځور ښکارېده، د هغې نه ډېر زيات چې مونږ په کابل کې د يو بل نه اورېدل. د هغه مخ سپېره او داغدار و. هغه په ډېر تکليف خبرې کولې او اکثر به د جملې په نيمه کې ودرېدو کله ناکله به ترې د خبرې سر هېر شو. د هغه سترګې بې نوره وې. په دې کې شك نه و چې هغه کار کاوه، که څه کار و، خو د ځينو مخصوصو دوايانو په زور. ما سره ناست يو ملګري ماته پسپسك کې وويل چې هغه نه پوهېدو چې برېژنېف به بلې غونډې ته ورسي کنه. د تعجب وړ وه چې برېژنېف نه يوازې چې تر بلې غونډې ورسېد بلکې تر ډېره لا ژوندی و او يو کال پس يې شوروي اتحاد کې د افغانستان د شاملولو د جريان مشري کوله.

د برېژنيف له خوا افغانانو ته د هرکلي د يو څو کلمو نه پس، محمد داود خبره واخسته او افغانستان ته د شوروي اتحاد د مرستو نه، خصوصاً د افغانستان د وړومبني اووه کلن انکشافي پلان په جوړولو او هغې ته يوه اندازه مالي مرستې ورکولو کې، يې له هغه نه مننه وکړه. د دواړو هېوادونو د اقتصادي معاملو په هکله هغه وويل؛ هغه د افغانستان او شوروي جماهيرو تر منځ د اقتصادي تعاون د لوزنامې مسودې سره موافقه کړې وه او د پلان وزير علي احمد خرم ته يې هدايات ورکړي وو چې هغه لاسليك کړي. محمد داود شوروي مشرتابه ته وويل؛ د روسانو اقتصادي او تخنيکي مرستو سره تړلې او د دواړو هېوادونو تر منځ د تجارت مسئلې به افغاني وزيران او هغوی شوروي هم منصبان وسنجوي، خو هغه په ذاتي توګه غوښتل چې يو ځلې بيا شوروي جماهيرو ته د افغاني طبعي ګاز د صادراتو د نوې لوړې بيې ټاکلو په هکله د يوې موافقې د ضرورت ذکر وکړي.

محمد داود شوروي مشرتابه د افغانستان او پاکستان د اړيکو د ښه کېدلو او ايران او عرب هېوادونو سره د نزدو اقتصادي اړيکو د انکشاف په اړه خبره کړه. هغه وويل چې افغانستان د يوې نوې او خوشاله ټولنې جوړولو په لور روان شوی و، او د هغې له پاره د افغانستان د خلکو او حکومت پرېمانه جدوجهد پکار و. د دې مقصد له پاره افغانستان ته د ټولو دوستو هېوادونو ناغرضه مرستې پکار وې او هغه د هغو مرستو په لټون کې فعال و. محمد داود وويل چې شوروي اتحاد کومې مرستې ورکولې هغه د افغانستان د خلکو او حکومت د پاره د ډېرې ستاينې وړ وې، او تر ډېره حده د هېواد د پرمختګ په لاره يې ورسره کومك وکړ. هغه هېله څرګنده کړه چې د افغانستان او شوروي اتحاد دوستانه اړيکي به، چې د ښه ګوانډيتوب، خپل منځي باور او د يو بل په کورنيو چارو کې د لاس نه وهنې په اساس ولاړ وو، نور هم ښه او پراخه شي.

محمد داود د افغانستان په ټينګ ناپېلتوب او افغانستان د پاره د هغې په اهميت زور واچولو، او زياته يې کړه چې د ناپېلې هېوادونو له خوا د ناپېلتوب د اصولو او قواعدو په سختۍ سره رعايت کول به هغه خوځښت نور پياوړی کړي او د امن او استحکام يو صحيح طاقت به ترې جوړ کړي. هغه وويل چې کولمبيا کې د ناپېللو سرمشرانو د غونډې جريان په عمومي توګه د ډاډ وړ و، خو دا يې په ګوته کړه چې د ناپېلتوب ځينې اړخونه بايد د خوځښت اساسي ښودنو سره زياته نزدې موافقه ولري، که نه هغه به د خپل هدف نه ورغړي او د بحث مباحثو د يو بل فورم حالت به په ټينګ شي. ښېشکه روسان په محمد داود پوهېدل چې هغه د کيوبا غونډې هېوادونو روش ته اشاره کوله چې هغو ناپېلی خوځښت د شوروي کړنلارو حمايت ته رابښکلو.

پودګورني ووېل چې شوروي اتحاد د افغانستان او پاکستان د اړیکو ښوالي ته هرکلی وایه، او زیاته یې کړه چې هغه به په سویل لویدیځه اسیا کې د هېوادونو د اړیکو په عادي کولو کې مرسته وکړي. هغه د محمد داود د وینا هغه برخه ښېخي له نظره وغورځوله چې ایران او عرب هېوادونو سره د افغانستان د اقتصادي تعاون د پراختیا سره یې اړه لرله. زما دا توقع وه چې هغه به د افغانستان د اقتصادي تعاون په نویو تمایلاتو یو ډول نازکه کره کتنه وکړي، یا لږ تر لږه له پنګورو هېوادونو سره د اقتصادي تعاون په نیمګړتیاو به عمومي تبصره وکړي، او د هغې مقایسه به هغو ګټو سره وکړي چې صرف شوروي جماهیرو او نورو سوسیالیستي هېوادونو سره اقتصادي تعاون نه پورته کېدلی شوه. د پودګورني له خوا داسې کومه اشاره به محمد داود ته یوه ښه موقع ورکړې وی چې د هغې معاملې نور وضاحت یې کړی وی، او داسې کولو سره به شاید هغه بریالی شوی وی چې تر څه حده هغه شکونه سپک کړې چې د افغانستان د کړنلارو په هکله د روسانو په ذهنونو کې پېدا شوي وو. کوسیجین، چې غونډه کې یې خبرو ته غوږ کېښوده، محمد داود ته یې ووېل چې شوروي اتحاد خبر و چې افغانستان د طبعي ګاز د بیې بیا ټاکلو ته څومره اهمیت ورکوي، او هغه هېله لرله چې شوروي اړخ به په نږدې راتلونکي وخت کې افغانانو ته، شاید د شوروي اتحاد او افغانستان ګډ اقتصادي کمیسیون په ذریعه، یو مثبت وړاندیز وکړي.

برېژنېف. لکه چې ناڅاپه د بېهوشي نه په حال شوی و، ولس مشر ته مخ کړو او پوښتنه یې ترې وکړه؛ آیا هغه د هغه فکر معلوموله شو چې د ایران پاچا ولې په دومره زیات مقدار وسلې جمع کولې. هغه په تبصره کې ووېل چې پاچا ته د شوروي اتحاد نه وېره نه وه پکار، ولې چې هغوی هغه ته بیا بیا د خپلې دوستۍ او پرامن ارادو په هکله ډاډ ورکړی و. هغه پوښتنه وکړه؛ آیا ایران د متحده ایالتونو د نماینده په حیث د خلیج په سیمه کې د متحده ایالتونو د ګټو د ساتنې اراده لرله؟ که داسې وه، نو، د هغه په خیال، هغه بې مطلبه کړنلاره وه. هغه ووېل چې متحده ایالتونه د هغې سیمې نه ډېر لرې وو، او شوروي اتحاد ایران سره اوږده پوله لرله، او، د یوې نښتې په حال کې، د وسلو هیڅ ډول ملاتړ د دې جغرافیایي نزدیکت مخه نه شوه نیولی. برېژنېف پوښتنه وکړه؛ آیا د ایران وړو ګاونډیانو د ایران د وسلو هغې انبار نه خطره نه محسوسوله؟ محمد داود جواب ورکړو؛ د هغه په خیال په سیمه کې ایران کومه نظامي کړنلاره نه لرله، او افغانستان د ایران د وسلو د جمع کولو نه خطره نه محسوسوله. هغه زیاته کړه چې هغه په وسلو داسې بې تناسبه خرڅونه نه خوښول، ځکه چې هغې ایران نه هغه پنګه تروړله چې د هغې ټولنیز او اقتصادي پرمختګ د پاره پکار وه. هغه د ۱۹۷۵ء په سپرلي کې د ایران پاچا او له هغې نه وروسته ایراني مامورینو سره په هغې

موضوع خبرې نه وې کړې ـ محمد داود وویل؛ د هغه په خیال د ایران د پاچا هغه خواهش چې ایران یو نظامي طاقت جوړ شي د وسلو د جمع کولو وضاحت کولی شو ـ داسې فکر د تېرې د مخنیوي د پاره کار کولی شو، او په سیمه کې او د اسیا په چارو کې د ایران اواز یې درونولی شو، او د هغې وقار یې زیاتولی شو، چې پاچا ورسره ډېره زیاته علاقه لرله ـ که داسې نه و نو د وسلو د جمع کولو هیڅ مطلب نه وه، په خصوصي ډول که د روسیې او ایران د نښتې په حال کې وسنجولی شي ـ

د محمد داود خیال و چې د دې وېرې څه حقیقي وجه نه و چې ایران به د "سیمییزې ژندارمې" رول ولوبوي یا امریکا به لویدیځه اسیا کې خپل نظامي طاقت خور کړي ـ هغه وویل چې د ایران په شمول د درېمې نړۍ هېوادونه لا د خپلو رغاونې او تشکیلاتو د نیمګړتیاو په مشکلاتو کې ګېر وو او هغوی په موثره توګه داسې هېلې نه شوې عملي کولی، که هر څومره نظامي وسلې ورسره وي ـ محمد داود په هغې ضمن کې د اومان د ضوفارې په پاڅون کې د ایراني کمزورې نظامي جریاناتو ته اشاره وکړه ـ د برېژنیف د مخ نخښنو نه دا ښکاره وه چې افغان ولس مشر څه ویل هغو ټولو سره هغه موافقه نه کوله، خو هغه معامله مخکې بونتله ـ په دې وخت خبرې بل سهار ته وځنډول شوې ـ

په هغه ماښام د کرېملن دعوت صمیمانه او شاندار و ـ برېژنیف حاضر وه خو زیاتې خبرې یې ونه کړې ـ پودګورني په خپله وینا کې د اسیا د ګډ امنیت وړاندیز ته د حوالې په ترڅ کې وویل؛ "مونږ غواړو چې د اسیا په هېوادونو کې امن او تعاون پېدا شي چې د هغوی ګډې هڅې د اسیا په قاره کې امنیت تامین کړی شي"٦٨ ـ هغه زیاته کړه:

> خو په دې څوک سترګې نه شي پټولی چې د ساړه جنګ پلویان (غالباً چینیان) اسیا کې هم د امن د کړنلارې د مخنیوي د پاره هر څه کوي ـ هغوی د اسیا په هېوادونو کې د ښکېل ساتلو هڅه کوي، او د خلکو په منځ کې د بې اتبارۍ تخم شیندي په دې خیال چې هېوادونه د یو بل خلاف ولمسوي او هغوی خپلو کې نښتو ته وپاروي ـ نظامي طاقتونه (شاید متحده ایالتونه او د هغو اروپایي او اسیایي پلویان، لکه ایران) هغه بلاکونه او جنګي اډې نیسي چې په اسیا کې هغوی جوړې کړې دي ـ د امپراتورۍ د ارتجاع (شاید متحده ایالتونه، اسرایل او مصر) فعالیت په منځنې ختیځ کې هم روان دی ـ امن دوستو هېوادونو ته پکار دي چې د هغو ترېګنو خلاف ودرېږي٦٩
>
> بیا په یو خصوصي انداز کې هغه وویل:
>
> د افغانستان د جمهوریت، چې د اسیا په زړه کې پروت دی. رول او د

هغې غوره ونډه ډېر ارزښت لري. شوروي اتحاد او افغانستان په اسیا او د نړۍ په نورو برخو کې له روانو حالاتو سره تړلو مهمو مسئلو ته په ګډه پام ورکوي[۷۰].

هغې دولتي دعوت کې چې کوم افغانان موجود وو، د هغو دا خیال و چې د اسیايي مسئلو په حل کې د افغانستان د ونډې اهمیت په هکله د پوډګوني وینا په حقیقت کې افغانانو ته یادونه وه چې د هغوی روسیې سره جغرافیایي نژدیکت اجازت نه ورکاوه چې "یو زیات شمېر مهمو مسئلو) ته د دواړو هېوادونو د ګډې لارې ورغړي او دې د پاره په اسیايي چارو کې د افغانستان فعاله ونډه د روسانو د پاره زیاته موذونه وه.

محمد داود په هغه دعوت کې په خپله وینا کې د اسیا ګډ امنیت یادونه ونه کړه. هغه د افغانستان په ناپېلتوب زور واچاوه، وې ویلې چې هغه د "پرامن ګډژوند، خپلمنځي درنښت، د یو بل کورنیو چارو کې د لاس نه وهنې، (او) په سیاسي ګوندونو او نظامي بلاکونو کې د نه شامېلېدلو په پخو ردو" ولاړ و.[۷۱] محمد داود په دې خبره زور واچاوه چې د افغانستان او شوروي اتحاد دوستانه او د ښه ګاونډیتوب اړیکي د ښه ګاونډیتوب، سپیناوي، صمیمیت، او بېغرضه او ارزښتناك تعاون په پخو ردو ولاړ وو[۷۲]. هغه امن ټینګولو ته هرکلی ووایه او د ملي ګټو، او روا غوښتنو او هېلو په نظر کې نیولو سره، ټولو هېوادونو او قارو ته د هغې د خورېدلو هېله یې څرګنده کړه[۷۳]. هغه هېله وکړه چې امن به د هغو مسئلو لرې کولو کې کومك وکړي چې "زمونږ سیاره ورسره نن مخامخ ده، خصوصاً د هغو مسئلو چې د موجوده بېتوله اقتصادي نظام نه زرغونېږي"[۷۴] محمد داود له پاکستان سره "یو سیاسي اختلاف" یاد کړ چې لا موجود و، او د هغې حالت په نتیجه کې د افغانستان او پاکستان اړیکي لا "د ښه ګاونډیتوب په څېر عادي" شوي نه وو، خو په هغه لړ کې هغه د ښوالي راتلو ذکر هم وکړو، او زیاته یې کړه؛ "که مونږ د دواړو هېوادونو د مشرانو تر منځ تماس نه جوړ شوي چاپېریال ساتلو کې بریالي شو، نو مونږ هېله کولی شو چې په راتلونکي وخت کې به د سیاسي اختلاف یو ویاړلی حل وموندل شي ..."[۷۵]

محمد داود مخکې اشاره وکړه؛ "د افغانستان خلك هڅه کوي چې د خپل ملي ژوند په مختلفو اړخونو کې د پاتې کېدنې ټولې پاتې نخښې ورکې کړي، هغه پاتې کېدنه چې د کورنیو او باندېنیو ارتجاع جوړه کړې وه، او د ټولو خلکو په ګټه یوه نوې مترقي افغاني ټولنه جوړه کړو"[۷۶]. محمد داود د شوروي اتحاد نه د هغوی د "بېغرضه مرستو چې د جمهوریتي نظام د جوړېدلو نه پخوا او وروستو یې ورکړې وې"، په خصوصي توګه هغه مرستې چې د جمهوریت وړومبنې اووه کلن پلان عملي کولو د پاره یې ورکړې و، په هکله تاوده منند

وکړه۷۷ .

محمد داود کولمبیا کې د ناپېیلي سرمشرانو غونډې باندې پوره خوشال نه وو . د هغه اعتراض په دې و چې د بلې غونډې د پاره په چپه خوله هوانا غوره کړی شوې وه، او هغه به خوځښت کې د کیوبا رول ته اهمیت ورکړي . خو د یو ناپېیلي مشر په حیث چې د باندېښو چارو د کړنلارې مهمه وېنا یې کوله، هغه د سرمشرانو د غونډې د کامیابۍ په هکله د ستاینې یو څو الفاظ وویل . په وینا کې هغه الفاظ هغه د وحید عبدالله په اصرار اچولي وو، د چا په خیال چې د سر مشرانو د بلې غونډې د پاره د هوانې غوراوی یو حقیقت و، او دې د پاره نه سیاست دا و چې کولمبو کې څه شوي وه هغه په درناوي ومني .

بله ورځ د کوربه هېواد د خبرو وار و . د شوروي هیئت مشر برېژنیف خبرې پیل کړې . په ظاهره د تېرې ورځې په نسبت لږ ستومانه ښکارېده، خو بیا هم خبرو کې یې ربړه محسوسوله او سا یې درنه وه . برېژنیف ولس مشر محمد داود ته د هرکلي یو څو الفاظ تکرار کړل . هغه خوښي څرګنده کړه چې د اروپا کې امنیت او تعاون د پاره د هېلسنکي کې تړونونه لاسلیك شوي وو، هغه یې د امن په لور یو لوی ګام وګڼه چې، د هغه په خیال، له ځینو مشکلاتو سره پرمختګ روان و. هغه په متحده ایالاتو او اروپا کې "د پوځي کړیو" او د چین د خلکو جمهوریت کې د "لاسبَریزو" ذکر وکړ چې د امن ټینګولو او د بین المللي ښکېلاك د کمښت په لاره کې غټ خنډونه وو . هغه وویل؛ شوروي اتحاد غوښتل چې چین سره روابط ښه کړي خو چې داسې ونه شول، نو د هغې مسئوولیت د چین په غاړه و . هغه د خپل هېواد خواهش څرګند کړ چې افغانستان دې خوشال وي او، د دې مقصد د پاره، په اقتصادي او تخنیکې مرستو کې یې زیاتوالی اعلان کړ . برېژنیف د افغانستان ناپېلتوب د شوروي اتحاد د پاره مهم او په اسیا کې د امن د ودې د پاره ضروري وګڼه، او هېله یې ښکاره کړه چې ناپېلي خوځښت به د امپراتورۍ د چل ول او کینې ښکار نه شي .

په دې وخت برېژنیف ښغ محمد داود ته وکتل او څه یې وویل چې په ظاهره یې ترجمان ګاوریلوف ناکراره کړ . خو لږ وخت پس هغه په تردد سره د برېژنیف د الفاظو ترجمه وکړه او، څه چې مونږ واورېدل، چې ډېرې بې ځایه خبرې وې او مونږ یې د اورېدلو هډو هیله نه لرله. برېژنیف شکایت وکړ چې په افغانستان کې په دوه اړخیزه کارونو، د ملګرو ملتونو او په نورو ګڼ اړخیزو پروژو کې، د ناټو د غړو هېوادونو د کارپوهانو شمېر ډېر زیات شوی دی . په تېر وخت کې افغانستان لږ تر لږه دومره کوی چې په شمالي سیمو کې به یې د ناټو د غړو هېوادونو کارپوهان نه بلل، خو اوس دې لور ته پاملرنه نه کوي . هغه وویل؛ شوروي اتحاد دا کار ښه نه ګڼي، افغانستان باید د شوروي اتحاد له کارپوهانو

پرته نور څوك هلته پرې نه ږدي، ځكه هغې جاسوسان دي او د خپلې امپراتورۍ د موخو د مخبېولو له پاره كار كوي.

د خبرو په ځاى كې يوه خاموشي خپره شوه او زړونه وترهېدل - ځېني روسان پرېشانه ښكارېدل، او افغانان ډېر خپه وو - ما محمد محمد داوډ ته وكتل - د هغه مخ ترينګلى او تور شوى و - برېژېنيف خبرې بندې كړې لكه له افغان ولس مشر نه يې جواب غوښته - په ساړه او له احساساتي حالت پرته محمد محمد داود، برېژېنيف ته د هغې جواب وركړ، چې معه به ظاهره روسانو له پاره د توقع نه داسې خلاف و لكه د برېژېنيف الفاظ زمونږ له پاره - هغه برېژېنيف ته وويل چې څه روسي مشر وويل د هغې توقع افغانانو نه كوله - هغوى د هغه بيان د افغانستان په چارو كې هراړخيزه اورنۍ لاسوهنه وګڼله - هغه مخكې وويل چې افغانستان له شوروي اتحاد سره خپل اړيكي ارزښتناك ګڼل، خو هغه ملګرتيا له دواړو لوريو برابره وګڼله د اروابښاد محمد داود د خولې افاظ كټ مټ اوس هم ماته ياد دي:

مونږ به هېڅكله هم تاسو ته اجازه در نه كړو چې مونږ ته حكم راكړئ۳ چې مونږ څنګه خپل هېواد وساتو، او څوك په افغانستان كې استخدام كړو - دا چې د افغانستان له پاره رابلل شوي بهرني كارپوهان مونږ څه ډول او چېرته ساتو، دا يوازې زمونږ حق دى.

كه مونږ په دې تګلاره وروسته هم پاتې شو پروانه كوي خو په خپلو پرېكړو كې بل چا ته د لاسوهنو حق هډو نه وركوو.

له دې وينا نه پس محمد داود يو دم پاسېد - ورسره ټول افغانان هم پاڅېدل - محمد داود روسانو ته يوڅه درناوى وړاندې كړ او د هغې لوى هال دروازې پلو روان شو - په هغه وخت برېژېنيف خپلې كرسۍ نه لږ څه په زحمت پاڅېد - خپلو دوو ملګرو، پودګورني او كوسيجين، سره، چې روسي ترجمان ورپسې و، او په محمد داود پسې يې تېز ګام اوچت كړ - ښكاره وه چې هغه د شوي نقصان تلافي كوله - وحيد عبدالله او ما چې ولس مشر سره نزدې وو، روسان ولېدل چې راروان وو - وحيد عبدالله محمد داود ته په غوږ كې وويل چې د ډپلوماتيكو نزاكتو په خاطر، مناسب دا دي چې روسانو نه سمه خداپاماني واخيستل شي، كه نه د مسكو سفر به بېخي ناكام وګڼل شي - هغه دا خبره محمد داود ته له سره يو ځل نه زياته تكرار كړه - داود پښه نيولى شو او شا ته وګرځېد. د هغه د مخ نه غصه تللې وه - هغه روسانو ته ورمخكې شو او د برېژېنيف غزېدلى لاس يې ونيوه - يوې خوږې موسكا سره برېژېنيف وويل؛ "ما ته ويل شوي دي چې ستاسو عزت مآب ما سره يو خصوصي لېدنه كول غواړي - زه ستاسو په واك كې يم - مونږ به وينو هر وخت چې ستاسو د پاره مؤذون وي" - محمد داود په صفا او

اوچت اواز کې وویل چې ټول یې واوري؛ "زه غواړم چې تاسو عزت مآب خبر کړم چې هغې لېدنې ته نور ضرورت پاتې شوی نه دی" - دایې وویل او بیا یې له پوډگورنې او کوسیجین سره روغبړ وکړ او په تېزۍ سره له کوټې نه ووت - هغه د محمد داود او برېژنېف اخري لېدنه وه - د دواړو هیئتونو تر منځ نیمگړې غونډه بې و نه شوه، او د روسانو خبرې نیمگړې پاتې شوې -

له هغې نه مخکې چرې هم د روسانو او افغانانو په لوړرتبه غونډو کې، محمد داود ته د برېژنېف د الفاظو غوندې څه اورول شوي نه وو - په ظاهره هغه شعوري غصه وه - د هغې په ذریعه برېژنېف د داود په کورنیو او باندېنیو کړنلارو کې په نویو تمایلاتو د شورویانو د غصې څرگندونه غوښته - هغه په داسې طریقه هغه کار وکړ چې ښه ورته معلوم وو، چې داود به یې ډېر خپه کاوه - هغه ته دا ویل چې یوه کورنۍ چاره دې د روسانو په خوښه کوي - خو که هغه غوښتل چې هم په هغه وخت داود ته غابنچیچې وکړي او پرېشان یې کړي، نو د هغه چل په شا ډېر سخت گوذار وکړ، ځکه چې د خپلو برابر او نژدو ملگرو په مخکې افغان ولس مشر هغه ته رټ جواب ورکړ -

ځینو مبصرینو داسې اټکل کاوه چې د ماسکو پېښنه د داود د خاتمې پېل و - بېشکه د روسیې او افغانستان روابط د معیار له لحاظه زیانمن شول - د دوو مشرانو په منځ کې تېزو خبرو هغه مایوسي برخېره کړه چې د دوو هېوادونو څرگنده تر ښو اړیکو لاندې پرته وه او هغه اساسي اختلافونه یې، چې د دوستۍ او د تعاون د مرستې په مفکورو کې موجود وو، په نخښنه کړل -

په بله ورځ د دواړو هیئتونو تر منځ تماسونه جاري وو داسې لکه چې هډو څه پېښ شوي نه وي - د افغانستان او شوروي جماهیرو تر منځ د اقتصادي تعاون د انکشاف تړون علي خرم او اېس ای سکاچوف لاسلیك کړ - د هغې تړون تر مخه په مختلفو ساحو کې افغانستان ته د اقتصادي او تخنیکي مرستو موده د دولسو کلونو د پاره نوره اوږده شوه او د هغو مرستو ساحه پراخه کړای شوه[۷۸] - دواړه خواوو به هغو ساحو کې مخصوصې پروژې جوړولې او تصویبولې - د گډې اعلامیې په متن هم په اسانه موافقه وشوه - هغه په اساسي ډول هم هغه شان و لکه د ماسکو د ۱۹۷۴ء اعلامیه او د هغې یوې چې کابل کې په ۱۹۷۵ء کې خپره شوې وه، خصوصاً هغه برخې چې د اسیا گډ امنیت او د "پاکستان- افغانستان" شخړې سره یې تعلق درلود -

د داود او برېژنېف په منځ کې چې څه پېښ شوي وو له هغې نه پس د روسانو او افغانانو د اړیکو د مثبت حالت په هکله معیاري بیانونه تشدېدي وو، خو د هیڅ یو خارجي په هکله گومان نه کېد چې له هغې ډرامایي پېښې نه دې خبر شي -

په اعلاميه کې يوه نکته نوې وه، هغه دا چې دوارو خواو هغه "فکر" ومانه "چې ټول هېوادونه چې د اروپايي کانفرنس اخري قانون (هېلسنکي تړونونه) يې لاسليك کړی و بايد يو بل تړون وکړي چې د يو بل پر خلاف د ړومبني نوکلياي ګوزار نه ځان ژغوري"[٧٩] - "خيال" بېشکه د روسانو و - هغوی اصرار کاوه چې په اعلامېې کې دې شامل شي - له هغې معاملې سره د افغانانو راساً تعلق نه و او د هغې اختلافي نوعيت هغوی ته معلوم و، خو هغوی د روسانو اصرار پام کې ونيوه او په نه زړه يې په اعلامېې کې هغې ته په اشاره کولو موافقه وکړه -

له مسکو نه چې محمد داود راستون شو، نو د روسيې او افغانستان اړيکي هم هغه شان وو - زمونږ هغو ملګرو ته، چې محمد داود سره هره ورځ په تماس کې وو، معلومه وه چې داود د برېژنيف په هغو پارونکو خبرو ډېر زهير شوی و، خو هغه خپلو ملګرو ته مشوره ورکوله چې له شوروي اتحاد سره دې تر ممکنه حده دوستانه تماسونه ساتي - هغه ماته له يو ځل نه زيات ويلي وو، چې د افغانستان د پايښت د پاره شوروي اتحاد سره د ښو روابطو ساتل ضروري وو "کله نا کله که روسان مونږ د پاره په دې چارو کې مشکلات پېدا کوي هم" - هغه به اکثر ويل چې باندېنيو اړيکو کې به افغانستان روسانو ته کله هم بانه ور نه کړي، خو که د افغانستان دوستانه ارادې او کار کې روا ازادي ته هغوی نوره څه د خپلو ګټو په ضد معنا ورکوي، نو په حقيقت کې افغانستان بې هيڅ نه شو کولی - په ډېرو موقعو محمد داود په خصوصي خبرو کې، ځينو خارجيانو ته هم، دا هېله څرګنده کړې وه چې روسان، له افغانستان سره د ډېرو کلونو له ملګرتيا نه پس، په هغې اهميت پوهېدل چې افغانستان د روسانو دوستۍ ته ورکاوه - داود به ويل؛ که روسانو د هغې حقيقت صحيح ارزيابي کړی وی نو هغوی ته به د افغانستان په عملونو دومره اندېښنه نه وی پېښه شوی - ما ته ياد دي چې په يوې غونډه کې چې د هغه ډېر وزيران په کې حاضر وو، محمد داود ويل چې روسيه د محاصرې فکر نيولی و، خو بايد هغوی دا احساس کړی وی چې افغانستان به هېڅکله هم د هغې زنځير کړی جوړه نه شي چې د هغوی له وېرې سره سمه به د هغوی نه تاوولی شو - په خصوصي زورداره طريقه کې هغه زياته کړه چې د افغان جمهوريت ناپېلتوب به همېشه د پاره صحيح وي او يو بې تعصبه تحليل کوونکی به هېڅکله هم د افغانستان کړنلاره د ناپېلتوب د اساسي اصولو نه خلاف و نه ويني - محمد داود به ويل؛ "که روسان په خپلو پولو په سمه توګه ناپېلی افغانستان غواړي، نو هغوی ته به معلوم وو چې دا شته - که هغوی نور څه غواړي، نو مونږ يې هغوی ته نه شو ورکولی".

روسانو ته افغانانو سره په رسمي کارونو کې شريفانه روش ساته، خو دا

معلومه وه چې هغوی خپلې ورانکارۍ زیاتې کړې وې، په خصوصي ډول په افغانستان کې کمونست تشکیل یې پیاوړی کاوه. د ۱۹۷۷ء په جولای کې پرچم او خلق سره بیا متحد شول. داسې ښکارېده چې روسان دې ته مایل و چې د متحده اخدګ د دواړو ډلو مشرتابه دې لږ تر لږ په هغه وخت په ځای وساتلی شي.

مسکو نه چې واپس شو، هغې نه یو څو میاشتې پس، ولس مشر محمد داود ما ته وویل چې حکومت دې په دې جدي غور وکړي چې روسانو ته ووایي چې په کابل کې د خپل سفارت د ډپلوماتېکو او غېر ډپلوماتېکو نفرو شمېر دې کم کړي. هغه وویل؛ په هغوی کې ځینې، چې په غېر قانوني چارو کې ښښتي وو، د زغم له حد نه ډېر وراوړېدلي وو. ما هغه ته وویل چې روسانو ته د نفرو کمولو د پاره د وېنا په هکله فېصله ډېره اهمه وه. هغې به یقیناً د روسیې او افغانستان په دوستۍ بد اغېز کاوه، او هغه همېشه د پاره هغه دوستي ساتل غوښتل. ما له هغوی نه پوښتنه وکړه؛ آیا افغانستان داسې یوې نتیجې ته تیار و. داود جواب راکړ چې هغه د نتیجو نه ښه خبر و چې د سفارت د نفرو کمولو د پاره درخواست کولو نه ټوکېدلی شوې، خو د سفارت د حجم کمول ډېر اهم وه او جدي پاملرنه یې غوښته. ما محمد داود ته وویل چې روسي سفارت کې ځینې نفر د "تاپکاره" په حیث په ګوته کول پکار وو چې وېستل شوی وای. داسې کار به شاید شوروپانو د پاره له هغې نه، چې ورته د سفارت د حجم د کمولو د پاره وویلی شي، لږ خوړونکی و. هغه وویل؛ دا هم یوه لاره وه چې د ناوړه خلکو نه خلاصی وشي، خو د سفارت حجم په حقیقت کې ډېر زیات و. ما هغوی ته وویل چې د باندېنیو چارو وزارت به داسې چارو کې د دولتونو د دستور په هکله یو سند تیار کړي چې هغوی پرې غور وکړي. یو څو ورځې پس ما هغه خبر کړ چې هغه سند تیار وه. هغه وویل چې بیا یې چرې ورکړم. په راتلونکو میاشتو کې، ما ورته څو ځله وریاد کړه، خو هغوی، سره د دې چې خپل اساسي موقف یې نه و بدل کړی، د هغې شان غوښتنې لانجو فکرمن کړی وه. نتیجه دا و چې محمد داود هغه د باندېنیو چارو تیار کړی سند هډو و نه لوسته، او هیڅ فېصله و نه شوه.

د ۱۹۷۷ء په اکتوبر کې د روسي ټرانسپورټي الوتکو، توپولیف او انتونو ۲۲، په افغاني هوایي سیمو کې د الوتلو راپورونه راتله. وروستو نورو منابعو تصدیق وکړه چې هغو الوتکو کې په ډېر مقدار کې حبشي د پاره وسلې وړل کېدلې چې د هغې هېواد عسکر له سومالیې سره د جنګ د پاره نور قوي کړي. د روس ټرانسپورټي الوتکې د ایران هوایي سیمې نه په ډډه د افغانستان او پاکستان په هوایي سیمو کې الوتلې، ځکه په ایران کښې د رادار شبکه پراخه او موثره وه. پاکستان نه اخوا هغه الوتکې د هند په سمندر عدن ته تللې. هلته یې تېل اچول او بیا د حبشې په لور الوتلې. په ډېرو موقعو روسي الوتکې په کراچۍ

کې هم د تېلو د پاره کوزې شوې وې ـ پاکستاني مقاماتو به منظورې ورکوله ـ هغوی ته يې ويل چې هغو کې د کرهنې ماشينونه وو ـ داسې ويلی شوه چې په يو وخت چې تېل اچول کېدل په الوتکه کې د سامان د نوعيت معلومات شوي وو، چې روسان او پاکستانيان دواړه يې ډېر پرېشانه کړي وو ـ تر هغې نه پس د هغو الوتکو کوزېدل هلته بند شول، خو پاکستانيانو، شايد په سياسي وجه، هغې خبرې ته هوا ورکول مناسب و نه ګڼل ـ

محمد داود غوښتل چې په افغاني هوايي سيمو د تېري پر خلاف شورويانو ته يو سخت احتجاج ليك ورکړي ـ خو اراده يې بدله کړه او د باندېنيو چارو وزارت ته يې وويل چې روسانو ته داسې نوټ ور نه کړي، شايد نه يې غوښتل چې په داسې وخت کې هغوی وسکونډي او پرېشانه يې کړي، چې د روسيې او افغانستان اړيکو کې ښکېل په ختو و ـ

په دې دوران کې، بل اړخ ته، هغه د روسانو وړې وړې غوښتنې نه منل جاري ساتل ـ دمثال په توګه يوه داسې معامله هغه وه چې شوروي اتحاد خپل مستقل صنعتي نمايش سفارت سره يوې لګېدلې ودانۍ نه، چې د کابل په خوا کې پرته وه، د کابل ښار ته انتقالول غوښتل ـ هغې نوي ځای افغانستان کې د روسانو موجودګي زياته ښکاره کوله ـ او داود د هغې مخه نيول غوښتل ـ

د ۱۹۷۷ء په مني کې د پلان د وزارت ځينو مامورينو په انکشافي پلان کې د شوروي په ونډه اخيستلو کې د سستۍ شکايت کولو ـ دا هم ويل کېدل چې شورويانو له ځينو تخنيکي وزارتونو سره په لوزنامو له خبرو نه ډډه کوله ـ په عمومي ډول خبرې به چې خصوصياتو ته ورسېدې نو روسان به ډېر مخې ته نه راتلل ـ د دې د پاره دا اټکل کول اسان نه وو چې د هغوی نازړه توب د کوم يو نوي هدايت لاندې و او که د هغوی عادت سره روان و ـ مونږ د باندېنيو چارو وزارت کې پوژانوف او د هغه له ملګرو سره ډېرو ښو روابطو باندې خوشال وو ـ د افغانستان او روسيې د باندېنيو چارو وزارتونو تر نظر لاندې د شوروي اتحاد او افغانستان د ګډ سرحدي کميسيون چارې په ښه توګه په مخه روانې وې ـ د هغې کميوسون دنده دا وه چې د مرغاب درياب د غاړو د نړېدلو اندازې وسنجوي او د زيانونو د ترميماتو او د دواړو هېوادونو د پولې په اوږدو کې په دوامداره توګه د غاړو د پخوالي د لارو چارو سفارش وکړي ـ په حقيقت کې روسانو په حېښنوونکې توګه ځانونه په هغو خبرو کې، چې په افغانستان او کله شوروي اتحاد کې کېدلې، ډېر زيات نرم ښودل ـ دا راز چې د امو درياب يوې جزيره کې ـ چې دعوه دار يې افغانان وو، يوه روسي سرحدي ګزمه ولېدل شوه، نو افغاني او روسي سرحدي مقاماتو هغه معامله په دوستانه طريقې اواره کړه، او د باندېنيو چارو د وزارت له خوا د ډپلوماتيکې لارې په ذريعه د معاملې اوچتولو نه بغير

هغه روسي ګزمه ډېره زر واپس شوه . هم د ١٩٧٧ء په مني کې روسانو افغانان خبر کړل چې هغوی بنې سویې ته د طبعي ګاز د بیې خېژولو سره موافقه کړې وه، چې د ډېرې مودې راسې افغانانو غوښتله . د آصفي د وینا د مخه "هغوی د ګاز د بیې په سلو کې دېرش یعنې د ١٦.١٠ ډالرو نه ٢١ ډالرو ته خېژولو سره موافقه کړې وه"٨١ .

په هر حال د روسانو د ورانکاریو په شالید کې د شوروي اتحاد له خوا دي دوستانه حرکتونو ته له کتلو سره د ډاډ څه وجه نه . ډېر زر حالات د روسانو په حق کې کېده چې داود اخوا کړي او افغانستان تر خپل لاس لاندې راولي . د کال ١٩٧٨ء د اپرېل په ٢٧مې نېټې هغوی کمیونستي کودتا په لاره واچوله، او جمهوریت شوروي غرضونو ته پرېوتو .

## Notes

1. *Anis* (a Kabul newspaper), 18 July 1973. Translation from Dari by the author.
2. Ibid.
3. *The Times* (London), 27 July 1973.
4. Official Records of the Plenary Meetings of the UN General Assembly, Twenty-Third Session 1690 Plenary Meeting, 10 October 1968.
5. Quoted by Hyman, *Afghanistan Under Soviet Occupation*, 68.
6. Asian *Recorder*, Regd. No. D 727, vol. XX, No. 2, January 1974, 11785.
7. *Pakistan Affairs* (Washington, D.C.: Embassy of Pakistan, 1 December 1973). Khan Abdul Ghafar Khan, the prominent Pashtun leader, the founder of Khudai Khidmatgaran and an advocate of self-determination for the Pashtuns, had been in and out of British and Pakistani jails for years and had lived in exile in Afghanistan. Ghafar Khan was the father of Khan Abdul Wali Khan, then president of the National Awami Party (see note 10).
8. Ibid.
9. *Le Monde*, 3–4 February 1974.
10. The NAP had gained an absolute majority in Baluchistan in the Pakistan-wide elections of 1970 and was thus allowed to constitute the provincial government of Baluchistan in 1972. A coalition of the NAP and *Jamiat-i-Ulama-i-Islam* (JUI), a religious party, had won a majority in the NWFP. That electoral success had enabled a coalition of NAP–JUI to form the NWFP provincial government. Bhutto's Pakistan People's Party (PPP) had fared extremely poorly in the two frontier provinces but had won the majority of votes in Punjab and Sind. In East Pakistan (which later became Bangladesh), Sheik Mijibur-Rahman's Awami League had won the absolute majority. The NAP was the national party of the Pashtuns and the Baluchis in Pakistan. It stood for the realization of Pashtun and Baluch aspirations. Afghanistan had become increasingly supportive of the NAP and of the position of its leadership on Pashtun and Baluch issues. The NAP advocated friendship and close relations with Afghanistan. The Pakistani establishment viewed the NAP with extreme suspicion. It was considered by Pakistani ruling circles to be working for the secession of the NWFP and Baluchistan from Pakistan. The standard accusation leveled against NAP was that it had never accepted the "ideology of Pakistan."
11. *Asian Recorder*, Regd. No. D-(c)-82 vol. XXI, No. 18, 3–13 May 1975, 125–67.
12. *Kessing's Contemporary Archives*, 17–23 March 1975, 27018.
13. Ibid.
14. Ibid.
15. Ibid.
16. Ibid.
17. *Asian Recorder*, 23–29 April 1975, 12557.
18. *Kessing's Contemporary Archives*, 17–23 March, 27018.
19. *Asian Recorder*, 5–11 February 1975, 12423.
20. Ibid.
21. *Asian Recorder*, 23-29 April 1975, 12557.
22. *Kessing's Contemporary Archives*, 19–25 December 1975, 27851.

Ibid.

24. Ibid.
25. Bhutto was accompanied by Aziz Ahmad, minister for defense and external affairs; Yusef Buch, special assistant to the prime minister; Agha Shahi, foreign secretary; and Shah Nawaz, additional foreign secretary.
26. This passage and others that follow have been recreated from memory. Although they are not perfect quotes, I am confident they are accurate accounts of what was said and what transpired during this critical phase of Afghan foreign relations. This confidence stems from the fact that my memory of the events, statements, exchanges, and conversations is extremely acute as a result of my close involvement and my awareness at the time of their historical significance.
27. For the full text of the communiqué, see the *Kabul Times*, 12 June 1976.
28. Members of the Afghan delegation in the talks with the Pakistanis were Waheed Abdullah; Dr. Rahim Sherzoy, Afghan chargé d'affaires in Islamabad; Mohammad Gul Jahangiri, director of the first political bureau; Abdul Ahad Nasser Ziayee, deputy chief of the foreign minister's secretariat; and me.
29. All quotations from the Shalimar speech are from the *Kabul Times*, 23 August 1976.
30. *Kabul Times*, 23 August 1976.
31. The remnants of the outlawed NAP that had not been jailed, had taken part, along with some elements of other opposition parties, in the 1977 March elections under the banner of the National Democratic Party. They were overwhelmed by the PPP, which was victorious in all the provinces. Later all opposition parties gathered together in the Pakistan National Alliance.
32. Etemadi was arrested in Kabul by the Communists after their takeover of Afghanistan and subsequently "disappeared" from his prison when he was apparently killed.
33. General Zia-ul-Haq was not the head of state of Pakistan but the head of its government. Choudhry was still the president of Pakistan.
34. The members of Daoud's official delegation were Waheed Abdullah; Ambassador Noor Ahmad Etemadi; Mohammed Gul Jahangiri, director of the first political bureau, Ministry of Foreign Affairs; Abdul Ahad Nasser Ziayee, deputy chief of the foreign minister's secretariat; and I.
35. *Asian Recorder*, 26 March–1 April 1978, 14237.
36. Translation from Dari by a learned friend who wished to remain unnamed.
37. *Asian Recorder*, 26 March–1 April 1978, 14237.
38. Ibid.
39. Ibid.
40. Ibid.
41. Selig S. Harrison, *In Afghanistan's Shadow* (New York: Carnegie Endowment for International Peace, 1981), 81. (Emphasis added.)
42. See, for example, speeches by Waheed Abdullah, *Official Records of the Plenary Meetings of the UN General Assembly*, Thirty-first Session (1976) and Thirty-second Session (1977).
43. Conversations with Mohammad Naim in late 1973.
44. *Kabul Times*, 2 November 1974.
45. Bradsher, *Afghanistan and the Soviet Union*, 24. Presumably the sum mentioned was spent since the inception of U.S. aid in the 1950s.
46. *Kabul Times*, 9 August 1976.
47. *Pravda*, 31 July 1973.
48. *Life Magazine*, 9 April 1956. By "supply and communications facilities" the Russian probably meant grain silos, gasoline storage tanks, and all-weather roads.
49. Bradsher, *Afghanistan and the Soviet Union*, 64.
50. *Kabul Times*, 6 June 1974.
51. Ibid.
52. Ibid.
53. For an interesting account of Afghan natural gas and its export to the USSR, see Abdul Tawab Assifi, "The Russian Rope: Soviet Economic Motive and the Subversion of Afghanistan," *World Affairs* 145 (Winter 1983): 253–64.
54. The Afghans had a pretty clear idea of what the price of their natural gas should be. They had studied the matter intently and had collected data by sending technical missions to nonaligned gas-producing countries, notably Algeria.
55. Quoted in Alvin Z. Rubinstein, *Soviet Policy Toward Turkey, Iran and Afghanistan* (New York: Praeger, 1982), 140.
56. Quoted in Ibid., 144.
57. *Kabul Times*, 9 June 1974.
58. Ibid.
59. Ibid.

60. Assifi, "*The Russian Rope*," 264.
61. Ibid., 263.
62. Ibid.
63. The advance of Russian power in Africa, spearheaded in 1975 by the deployment of 20,000 Cuban troops in Angola, airlifted and seaborne by the Soviet Union, and the rapid expansion of this power to the strategically important region of the Horn of Africa had been of concern to the Afghan leadership. This concern was caused not only by reconfirmation of Russia's expansionist policies but also by U.S. inaction and lack of resolve to effectively oppose aggressive Russian moves. It was understandable that such a situation could be disturbing for a country like Afghanistan, living under the unavoidable shadow of a northern neighbor bent on expanding its influence even to regions situated thousands of miles away from its recognized frontiers. Waheed Abdullah and I on several occasions pointed out the gravity of the matter to U.S. ambassador Eliot and shared with him our concern about the spread of Soviet influence in Africa.
64. *FBIS/USSR International Affairs, South Asia III* J 1, 17 December 1975.
65. Bradsher, *Afghanistan and the Soviet Union*, 64 (emphasis added). It should be noted that the joint communiqué issued at the end of Mohammad Daoud's visit to Moscow in April 1977 referred to the Afghan–Soviet talks during that visit as having taken place in an "atmosphere of trust, friendship and understanding." There was no mention of frankness, but the word *friendship* was prominent. However, at that stage, relations between Afghanistan and the Soviet Union were showing signs of stress, and as the reader will discover later in this chapter, those talks could in no way be described as having taken place in "an atmosphere of trust, friendship and understanding." It is, therefore, not prudent to rely only on the wording of a communiqué between two countries to assess the nature of their relations at a given moment or to attach too much importance to the purported meaning of certain words in "the Soviet diplomatic jargon."
66. Alfred L. Monks, *The Soviet Intervention in Afghanistan* (Washington, D.C. and London: American Enterprise Institute, 1981), 14.
67. The Soviet leaders were accompanied by Andrei Gromyko, minister of foreign affairs; Semen Skachbov, chairman of the state committee for foreign economic contacts; Alexander Puzanov, USSR ambassador to Afghanistan; and a few other Russian officials. Daoud was accompanied by Mohammad Khan Jalalar, minister of trade; Ali Ahmad Khurram, minister of planning; Jumah Mohammad Mohammadi, minister of water resources and power; Waheed Abdullah, minister in charge of foreign affairs; Ali Ahmad Popal, Afghan ambassador to Moscow; Mrs. Rafik, head of the foreign minister's secretariat; a few other members of the Foreign Ministry including one official who spoke fluent Russian; and me.
68. *FBIS/USSR International Affairs, South Asia III*, 13 April 1977, J4.
69. Ibid., J5.
70. Ibid.
71. Ibid., J6.
72. Ibid.
73. Ibid., J7.
74. Ibid.
75. Ibid., J8.
76. Ibid.
77. Ibid., J9.
78. Fields involving Russian economic and technical assistance included development of gas, oil, petrochemical, and chemical industries; irrigation; transport and communcation; public health; veterinary sciences; geological prospecting for oil, gas, and solid minerals, among others.
79. *FBIS/USSR International Affairs, South Asia, III*, 18 April 1977, J2.
80. The Murghab River has its source in Afghanistan and crosses into Soviet Uzbekistan.
81. Assifi, "The Russian Rope," 256. Assifi stated that, just a few days before the Soviet coup of April 1978, the Russians once again raised the price of gas to $37 per 1,000 cm$^3$, "making the price retroactive for three years."

# اتم څپرکی

# د جمهوریت نسکوریدل

## د ۱۹۷۸ء کودتا

محمد داود اقتدار ته د نظامي کمونیستو منصبداراانو په ملاتړ رسېدلی و . د هغوی د ملاتړ د مزد په توګه، هغوی یې د حکومت په رغاونه کې شامل کړل . په هر حال کابینه او اداره کې په مهمو ځایونو کمونیستانو په حساسو شعبو کې چې څومره کمونیستان او د هغوی پلویان استخدام کړل د هغو شمېر ډېر زر بوګنوونکې سویې ته وختو . د مثال په توګه د کورنیو چارو وزارت، چې مشر یې مشهور کمونیست (پرچمي) منصبدار فیض محمد و، او د محمد داود په کودتا کې ښکاره و، تقریباً هغه ټول مارکسستیان او لیننستیان، چې د کابل لارو کوڅو کې خوشي ګرځېدل، لګه د سپنج راونغړل . د معارف او اطلاعاتو او کلتور وزارتونه، چې د ننوتلو مهم هدفونه وو، ورپسې جوخت رواړ وو .

په نظامي قطعو کې د شوروي اتحاد د روزل شویو منصبداراانو یوه ډله وه . د عام یقین په خلاف د هغو شمېر د اتو سوو نه زیات نه و . د منصبداراانو د ډلو نه زیات وطندوست او پاخه مسلمانان وو . خو کمونستان په سیاسي توګه تیار او انتهایي فعال وو . په کامیابه کودتا کې د ونډې اخستلو نه زړور شوي، کمونیستانو منصبداراانو نظامي او ولسي بیروکراتانو سره به تماسونو کې په منظمه توګه داسې اثر ورکاوه چې د هغوی سیاسي موقف ته د محمد داود پشتې

حاصله وه . هغوی به ښکاره لاپې وهلې چې "پاچا جوړونکي" او د "تخت په شا طاقت" وو، او دا صلاحيت يې لرلو چې خپلو بړېسو له تحفظ او ترفيع ورکړي . دې روش موقع پرستو ته، په خصوصي ډول په پوځ کې، موقع ورکړه چې "د انقلاب د اتلانو" واګون ته ورټوپ کړي[1] . محمد داود په نظامي او ولسي تشکيلاتو کې د کمونيستي نفوذ ګړندی ودې اندېښنه محسوس کړې وه، خو سياسي بصيرت هغه د فوري قدم اوچتولو نه منع کاوه . هغه ته دا معلومه وه چې پوځ نه د کمونيستو وېستل يا د هغوی شنډول به يو اوږد او نازك عمل وي . ځکه چې د کورني حالاتو او د افغانستان او شوروي اتحاد د اړيکو د استحکام په خاطر په لږ تر لږه زيان داسې قدم اوچتول پکار و . دې د پاره د جمهوريت په اولني او نازك پړاو کې، د کمونيستو له تېريو سره، د رژيم د مستحکم کولو د پاره يوه اندازه نرمي لازمي وه .

د حکومت او د نظامي او ولسي کادرونو د بيا رغولو په لړ کې محمد داود د تېر رژيم د ځينو لوړرتبه مامورينو د لرې کولو، او خپلو پخوانو ملګرو کې د يو څو، چې د مهمو چوکيو په تمه وو، نه راوستلو، فېصله وکړه . هغه مايوسه نفر چې زيات پکې خاينان او رشوتخواره وو د محمد داود سخت خلاف شو ل.

د محمد داود د جمهوريت په اولنيو کلونو کې د رژيم خلاف درې دسيسې برڅېره شوې . نويو ټاکلل شويو کمونيستو کارکوونکو چې د کورنيو چارو د وزارت او پوليس واکمن وو، د حکومت خلاف د هغو فعاليتونو اهميت کې ډېرې مبالغې نه کار واخيست . هغوی خپلو ذاتي او نظرياتي دښمنانو سره زړه فتنه پالله . هغو افراطيونو د خپلو ګټو د پاره خلك نيول، او تېري به يې کول، ان تر وژلو پورې . د حکومت په ضد هغو ناکامه دسيسو څخه يوه هغه وه چې يو پخواني صدراعظم محمد هاشم ميوندوال په کې ککړ و .

د <u>١٩٧٣</u>ء د ستمبر په ٢٠مه نېټه ميوندوال او نور څلور څلوېښت غېر کمونيستي نظامي منصبداران (جنرالان او کرنېلان)، د پارليمان پخواني غړي او تاجران د نوي رژېم د اړولو د پاره د دسيسې په تور ونيول شو[2] . د هغې ډلې يو اهم غړی د پوځ يو پخواني لوی درستيز او د محمد داود يو نزدې ملګری جنرال خان محمد و چې نوي جمهوري رژيم کې شامل کړی شوی نه و . د اولنيو نيولو نه پس، پوليس نور ډېر خلك د ميوندوال په دسيسه کې د لاس لرلو په تور ونيول. هغوی کې د زياتو قصور چپلاسيانو سره د هغوی اوږده تربګني وه . کومو خلکو چې ميوندوال پېژنده[3] هغوی د دسيسې په تور د هغه په نيولو اتبار نه کاوه . هغه د محمد داود او د هغه د ورور او د باندېنيو چارو پخواني وزير محمد نعيم ډېر خوښ و . نعيم ميوندوال، چې د هغه په وزارت کې و، خپل استاذ ګڼه . ميوندوال د جمهوريت پېل ته هرکلی ويلی و، او دا يقين و چې هغه د داود په حکومت کې

د یوې اهمې عهدې د پاره پام کې نیول شوی و[٣] .

میوندوال د کمونیستو مخالف پېژندل شوی و . چپلاسیانو سره د هغه د تربګنۍ تاریخ اوږد و چې د مشروطیت د دورې نه پیل کېدلو . د کمونیستو دا خیال و چې د میوندوال مترقي دېموکراتېك ګوند (مساوات)، چې لا د جوړېدلو په حال کې و او غېر رسمي و، د هغوی د نظریو د خورولو او د هغوی د ګټو په لاره کې یو خنډ و . د کورنیو چارو د وزارت کمونیستان به ارومرو خوشاله شوي وو چې د میوندوال او د هغه د ملګرو د نیولو اجازت ورکړی شو .

داسې ښکارېده چې د میوندوال کودتا د پخواني حکومت، چې په سر کې یې شفیق و، خلاف جوړه شوې وه . د داود مخې ته راتلو نه پس هغه کوښښ کړی وو چې خپل ملګري ولمسوي چې د کوتا ټغر ټول کړي . خو د نوي حکومت په ضد د هغه ځیني ملګري مایوسه وو، او نورو دا وېره کوله چې کمونیستو سره د داود ملګرتیا به داسې حالت منځ ته راولي چې د هغوی ګټو ته به زیان ورسوي . هغو وجهو دوی هڅولي وو، هغې نه مخکې چې جمهوریت خپلې جرړې ټینګې کړي، باید هغوی ګوذار وکړي . په کومه اسانتیا چې د داود کودتا بریالۍ شوې وه هغې به هم دسیسګران خپل قسمت ازمایلو ته تشویق کړي وو . داسې ښکارېدله، میوندوال، چې مخکې نه په دسیسه کې ژور بوخت و، بلکه لاره نه لېده، او شاید په نهزړه یې هغوی سره موافقه کړې وه . د هغو سندونو او د میوندوال ملګرو سره د خبرو د ټېپونو نه دا ګومان کېدلی شو چې د هغه د نیولو په وخت هغه په دسیسه کې پوره ګډون لرلو . هغو کې ډېرو سندونو او د ځینو دسیسګرانو د جرم منلو بیانونو داسې اشاره ورکوله چې پاکستان هم په هغې کې نښتی و[٤] .

د کورنیو چارو وزارت مامورینو باندې به بوی لګېدلی و چې داود د میوندوال په حق کې یوه اندازه همدردي لرله . هغوی ته دا یقین شوی و چې اخره کې به هغه ته بخښنه، او شاید یو مقام هم، ورکړي . هغوی په هر قیمت د هغې مخه نېول غوښتل . یقیني لاره د میوندوال په مرګ ختمېدله . هغوی فېصله وکړه چې د هغه مرۍ خپه کړي او هغې ته د انتحار رنګ ورکړي . د کال ١٩٧٣ء د اکتوبر په ٢٠مه نېټه یو کمونیست (پرچمي) پولیس منصبدار صمد اظهر، چې د تحقیقاتي ډلې یو غړی و، او د هغه یو څو ملګرو د میوندوال مرۍ خپه کړه . (د کمونیستو د بریالیتوب نه پس د کورنیو چارو وزارت کې اظهر د امنیتي قواو مشر وټاکلی شو[٥]) . داود ته ډېر زر پته ولګېده چې میوندوال د کمونیستو د لاسه وژل شوی و . دې بېځایه وژنې هغه فهرژن کړ، خو هغه د رسمي کیسې د خورولو اجازت ورکړ، چې خلك خبر کړي چې میوندوال ځان وژلی و . د کال په ختمېدلو، هغې محکمې چې د دسیسګرانو محاکمه کوله میوندوال د پاره په نیشتوالي کې

د مرګ جزا واوروله. جنرال خان محمد په هغو کې و چې د مرګ په جزا محکوم او اعدام شوي وو. نور محبس ته ولېږلي شو، او یو شمېر خوشي کړی شول.

د ۱۹۷۳ء په اخر کې محلي مسلمانانو بنیادګرانو (اخوان المسلمین) په شمالي برخه کې د پنج دریاب په غاړه د واخان په خوله کې د بدخشان درواز نومې یو وړوکي کلي کې ناکراري جوړه کړه. اخوانیانو داود او د هغه مترقي ښېګړې نه خوښولې. داود پخپله یو پوخ مسلمان و خو د مذهبي بنیادګرۍ خلاف یې تحفظات لاره، او د پاچا امان الله غوندې یې مرتجع ملایان، پیران او د هغوی مریدان د خپلو ښېګړو او د عصري کولو پروګرامونو خلاف ګڼل. د درواز پېښې شاید څه اهمیت نه لرلو، خو د کورنیو چارو وزارت کې کمونیستانو د هغې په لړ کې یو غال مغال جوړ کړ، او حکومت یې ولمسولو چې امنیتي قوا ولېږي. د زیږو لوړو ژورو په وجه د زمکې د لارې درواز ته رسېدل اسان نه وو، او د هغې د زړې زمانې په هوایي پټۍ صرف وړې الوتکې کېناستلی شوې. حکومت درواز ته د باختر اېیر لاینز (د افغانستان کورنی هوایي خدمت) په دړېو "ټوېن وټر" الوتکو کې عسکر ولېږل. الوتکې چې کوزې شوې، نو معلومه شوه چې ناکراري پخوا ختمه شوې وه. خو هغې پېښې د کورنیو چارو وزارت کې کمونیستو ته ښه بانه په لاس ورکړه چې د مسلمانانو بنیادګرانو د نیولو چارو کې ګړندي شي. د ۱۹۷۴ء لسیزې په نیمایې کې یو شمېر اخوانیان نیولی شوي وو، او یو شمېر پاکستان ته وتښتېدل٦.

د افغانستان او پاکستان د خرابو روابطو تښتېدونکو ته پاکستان سم له واره پنا موندلو کومك وکړ. "په خپله د لږ اهمیت وړ وو، خو افغاني بنیادګرانو ته نه صرف د پاکستان د مسلمانو همخیالو حلقو کې هرکلی وویل شو، بلکې د بهټو حکومت له خوا یې هم پذېرایي وشوه، چې ډېر زر یې هغې کې پرتې سیاسي ګټې بوی کړې"٧. د بهټو تر خپل نظر لاندې پاکستاني مقاماتو د افغان منحرفینو روزلو او هغوی ته د وسلې ورکولو دنده پیل کړه. پاکستانیانو به هغوی لېږل چې د افغانستان دننه په ځایونو حملې وکړي چې حکومت ته مشکلات پېدا کړي. د پاکستان تماس د کورنیو چارو وزارت کې د کمونیستو د پاره د بنیادګرانو خلاف د عملیاتو جواز موندلو کې اساني راوسته. د هغې حالت نه د ګټې اخستلو د پاره کمونستانو ځینې مسلمان روحانیون ونیول، چې د هغوی خوښ نه وو، خو هغوی یقیناً د پاکستان اېجنټان نه وو.

د وخت په تېرېدلو سره چې جمهوریت قوي شو. نو محمد داود د چپلاسیانو نه، چا چې ورسره د اقتدار په نیولو کې کومك کړی وه، د ګوښه کېدلو کوښښ پیل کړ. تهران ته د یو رسمي سفر نه چې د ۱۹۷۵ء په اپرېل کې راستون شو، نو داود هرات کې اعلان وکړ چې افغان ملت به د یوې "واردې شوې

مفکورې" هم په افغانستان کې خورول ونه زغمي، او تر خپل وسه به د هغې د خورېدلو مخه نيسي . هر چا ته ښکاره و چې د واردې شوې مفکورې نه د داود مطلب کمیونزم و . ويلی شو چې د هرات وېنا روسانو له غصه وروستې وه او دا احساس يې ورکړی و چې محمد داود خپلې سیاسي لارې ته راړول هيڅ امکان نه درلود .

داود د ١٩٧٥ء د خاتمې پورې حکومت او اداره کې د کمونیزم نفوذ ډېر کم کړی و . هغې اړولو راړولو کې چې عملي کېدل. د کورنیو چارو وزارت وړومبنی و چې هغې نه په منظم ډول کمونیستان ووېستل شول . د نورو وار چې راغلو نو کمونیستان يې يا خو ووېستل او يا يې معمولي چارو ته واچول .

د بهرنيو چارو په وزارت کې يو څو مشهور کمونيستان وو، لکه شاه محمد دوست . د هغه په هکله دا ويلی شول چې کله يې ماسکو کې د افغانستان د سفارت د دويم سېکتر په حيث کار کولو نو روسانو استخدام کړی و . او د دوست د اوږدې زمانې ملګری عبدالهادي مکمل . د جمهوريت په راتلو دوست پېښور کې او مکمل کويټه کې د افغانستان قونصل و . د باندېنيو چارو د وزارت د پاکوالي په لړ کې هغه دواړه د خپلو عهدو نه لرې کړی شول . مکمل لرې مودې د پاره د سرحدي چارو د وزارت مرستيال ټاکلی شوی و . (د کمونيستانو اقتدار نه راتلو نه پس دوست د باندېنيو چارو وزارت کې د سياسي چارو مرستيال وزير ، او د ببرك کارمل په دوره کې د باندېنيو چارو وزير شو . مکمل هم هغه وزارت کې د اداري چارو مرستيال وزير او وروستو عراق کې سفير شو) . يو بل کمونيست سخي دانشجو ماسکو کې د افغان سفارت کونسلر و . د هغه د لرې کولو د فېصلې نه مخکې د کمونيستو کودتا راغله، او هغه پاتې شو . (کارمل دانشجو د باندېنيو چارو وزارت کې د سياسي چارو مرستيال وزير وټاکه، خو وروسته يې د هغه رتبه يو معمولي چوکۍ ته ټيټه کړه) . په وزارت کې د پوهنتون د نوو محصلينو خوښول څه اسان کار نه و . دا وروستو معلومه شوه چې هغو ځوانانو کې چې په ١٩٧۴ء کې استخدام شوي وو، درې کمونيستان وو، هغوی کې يو محمد فريد ظريف د يو چالاك ابن الوقت نه پرته بل څوك نه وه . (د کارمل حکومت دا سړی په ملګرو ملتونو کې د افغانستان پوخ نماينده ټاکلی وه) . زه هغه وخت حېران شوم کله چې د ١٩٧٨ء د اپرېل په ٢٩م سحر مال، چې هېواد د کمونيستو په ولکه کې و د باندېنيو چارو وزارت ته ورسېدم او خپل قسمت سره مخامخ شوم . په هغه سحر کوم سړي چې "د ډيموکراتيك ريپبلك اف افغانستان" (ډرا) په نوم ماته هرکلی ووې، او په ظاهره د اداري او امنيتي چارو واکمن و، محمد اکبر مهر نومېدو . او پخوا د وزارت د تشريفاتي څانګې پر حران او خدشخوږ . غړی . چې د هر چا . سره زما . په فکر کې يو سخت وضندوست و . اوروستو هم هغه ورځ

چې زه ونیول شوم او د دفاع وزارت ته بوتلای شوم، او زمونږ د تشریفاتي څانګې هغې پخواني ملګري هغه ننداري ته خوشالېده).

کمونیست وزیران یو بل پسې د کابینې نه لرې کړای شول. بېکفایته او د خبرو پیاوړي ښخي لرې کړې شول، او نور باندېنیو هېوادونو کې سفیران وټاکل شول. د ۱۹۷۷ء تر اخره په حکومت کې یو کمونیست وزیر پاتې نه و ۸.

کمونیستو نه چې پاك شو نو کابینه کې سمون راغی، حال دا چې دومره زر دا کار نه و کېدای لکه داود چې غوښتل. داود ته چې کوم درې وزیران ډېر نزدې وو، د نورو اکثرو په خیال غرضي سیاستمداران وو چې صرف اقتدار او وقار ته خوشالېدل. د مالي چارو وزیر سید عبدالاله (داود چې ولس مشر شو نو هغه یې د جمهوري ریاست مرستیال وټاکه)، د کورنیو چارو وزیر قدیر نورستاني (هغه د فیض محمد په ځای ټاکل شوی و)، او تر څه حده د دفاع وزیر حېدر رسولي. عمومي فکر دا و چې هغوی خاینان وو او په خپلو وزارتونو کې یې ډېرې بېقاعدګی کړې وې. د ډېرو خواو نه په داود فشار و چې عبدالاله، قدیر او رسولي هم لرې کړي، خو هغه د هغوی په حق کې ټینګ ولاړ و او د هغوی په لرې کولو هیڅ نه راضي کېده. وروستو عبدالاله او قدیر دواړو خپله وفاداري ثابته کړه، داود سره پاتې او مړه شول کله چې د ۱۹۷۸ء په اپرېل کې کمونیستو د ریاست ماڼۍ ونیوه. (رسولي هغه وخت په ماڼۍ کې نه و. هغه وروستو ونیولی او اعدام شو).

محمد داود په پوځ کې هم د کمونیزم د نفوذ د تمبولو په لور ګام پورته کړی و. هغې کار کې هغه د مشکلاتو نه خبر و. هغې معامله کې هر رقم سختي روسانو نېغ په نېغه چېلنج ګاڼه، او کېدی شوه چې د نظامي منصبدارانو په روزنه کې د روسانو د ګډون او افغانستان ته د روسي نظامي ساز و سامان د ورکولو ټوله رغاونه یې ښکته پورته کړې وی. په پوځ کې سمون راوستلو د پاره نه صرف شوروي اتحاد سره د افغانستان نظامي تعاون کې بلکې د افغانستان په اساسي کړنلارو هم اساسي بدلونونو ته ضرورت و. داسې سخت عمل د پاره لا وخت پوخ شوی نه و. تر ممکن حده، پوځ کې مشهور کمونیستان تر نظر لاندې ساتل کېدل. هغوی ته هم زر احساس وشو چې حکومت کې د هغوی محبوبیت ټیټ شوی، نو هغوی هغې سره سم سیاسي فعالیت کم کړ. پوځ کې هغه فېشن نه و پاتې چې نړۍ کې د انقلاب او د هغې راوستلو کې د نظامي تشکیلاتو د ونډې وکالت به کېده. داسې ښکارېده چې مسکو نه په هدایت رسېدلو پوځ کې د هغوی اجیرانو خپل چلول بدل کړی و. هغوی ټیټه خوښه کړې وه او داسې فکر یې ورکاوه چې د رژیم سیاسي مفکوره یې منلې وه، کومه چې د هغوی د خواهشاتو نه سرچپه روانه وه. له شوروي اتحاد نه چې څوك نوي راستنېده د هغوی په هکله به چې

احتیاط معلومات کېده . هغه منصبداران چې د شوروي اتحاد زیات پلویان وو، هغوی لرې او ګوښه قطعو ته ولېږل شول، او کوښښ کېده چې هغوی یو بل نه بېل وساتي . د شوروي نفوذ تمبولو د پاره اضافي قدم دا پورته شو چې محمد داود هغه پلان تصویب کړ چې یو شمېر ټیټ رتبه منصبداران د شوروي په وسلو روزني د پاره مصر او هندوستان ته ولېږي، د روسي نظامي مشاورینو شمېر لږ کړي او هغه د غونډ او فرقې تر سویې محدود وساتي . سره د دې اقداماتو، داود سره د پوځ او په هغې کې د یو شمېر عناصرو، چې شوروي نفوذ ته وتر وه، د وفادارۍ اندېښنه وه .

په دې غرض چې د دولت امنیتي اورګان، مصونیت ملي، نوو غوښتنو سره مجهز کړي، د کال ۱۹۷۵ په پیل نه د هغې د بیا تشکیلولو کار روان وه . سره د دې چې د هغې مشر جنرال اسماعیل فرمان وفادارۍ کې شك نه و، داسې ثبوت و چې هغې شعبې ته ځینې چپلاسیان ننوتي وو . پوځ کې د کمونیستانو د پېژندلو کار نسبتاً اسان و، او پولیس (د کورنیو چارو وزارت) په مکمل ډول د کمونیستو عناصرو نه پاك شوی و، خو د دولت د امنیتي شعبې نه د هغو وېستل ډېر مشکل وو . له بده مرغه دې لړ کې ډېر څه نه وو شوي چې د داود د جمهوریت وخت ختم شو او د کمونیستانو ورانکاریو ته پرېوتو .

د جمهوریت د زېږېدنې راسې، داود خپل پام د افغانستان اقتصادي حالت ښه کولو ته ګرځولې و . د هغه پوخ یقین و چې د هېواد پایښت ګرندۍ اقتصادي ودې ته اړه لرله . د ۱۹۵۰ء د لسیزې په شان، د هغه اساسي فکر هغې ودې باندې ورتول و . د هغې ممکن کېدلو د پاره هغه ډېر زیار ګاله . هغه به ویل چې خوشاله افغانستان د کمونیزم خورول تمبولې شي، او غریب افغانستان به د هغې ښکار وي . د هغه تلوسه وه چې د اسیا په ملتونو کې یو قوي او مترقي افغانستان په فخر او ویاړ ولاړ ووینې . د هغه په یقین هغې جایزې د پاره ځینې ټولنیزو او سیاسي شتیمنیو نه لاس وینځل پکار وو، او ملت ته پکار وو چې په موقتي ډول هغه وزغمي .

محمد داود چې په نظر کې لرلو د افغانستان هغه شان اقتصادي ودې د پاره د باندېنیو مرستو روایتي وسیلو په ظاهره کفایت نه کاوه . له دې پرته وسیلو کې پراختیا نه صرف اقتصادي ضرورت و بلکې داود د پاره پکې سیاسي راښکون هم و . له ښه مرغه ایران او ځینو عرب هېوادونو کې د تېلو انکشاف مالي مرستو د پاره نوې وسیلې پیدا کړې وې، او داود هغو نوې وسیلو راواړولو د پاره په پام خوځېده . پاکستان سره د اړیکو ښه کېدلو افغانستان ته د اسلامي او عربي مالي مرستو د پاره چاپېریال نور هم روڼ کړ . څه د پاسه دریو کالو موده کې د بین المللي امکاناتو او باندېنیو ژمنو په اساس اووه کلن انکشافي پلا

وسنجول شو. هغه پلان د ۱۹۷۶ء په ستمبر کې اوچتو هېلو او محفوظې خوشبينۍ سره په لاره واچول شو. ښکاره وه چې هغو مثبت ګامونو او انکشافاتو او د هغو سنجولی شوو ګټورو نتيجو کمونيستان خپه کول.

۱۹۷۷ء کال د محمد داود د پاره د ښوېدو د ببلولو کال و. په دغه کال کې د افغانستان دننه يو څو داسې پېښې وشوې چې هغه يې ډېر خپه کړ. د خپلو نژدو ملګرو يې دا خيال و چې د هغو پېښو نه پېدا شوي تشنج د هغه د زړه زور او جوش باندې ناوړه اغيز کړی و. وړومبۍ پېښه په کابينه کې درځ و چې هغه وخت ښکاره شو کله چې د ملي غورځنګ په نوم د ګوند د جرګې د غړو اعلان وشو. هغه ګوند داود جوړ کړی و او د اساسي قانون د مخه يوازينی قانوني ګوند و. يو شمېر وزيرانو چې د ګوند په جرګه کې نه وو شامل (او د هغو پوخ يقين وه چې وې به) سخت عکس العمل وښوده او استعفاګانې يې ورکړې. د منحريفينو مشر د باندېنيو چارو مسئوول وزير وحيد عبدالله و، او د کرهنې وزير عزيز و صفي. دا دواړه داود ته ډېر نژدې وو. ولس مشر د پاره هغه انکشاف د توقع نه خلاف و. د هغه خيال و چې د هغه ملګري هغه ته پوره وفادار وو، او هغو کې يو به هم هغه سره داسې څه مخالفت و نه کړي، چې هغه د عامو خلکو غوږ ته ورسي. هغه ته دا احساس ناڅابه وشو چې داسې نه وه. د محمد نعيم په هڅو، هغه وزيران واپس خپلو وظېفو ته وګرځېدل، خو له هغوی سره د داود هغه مينه نه وه پاتې. دا داسې وه لکه څه سپېڅلې امانت ورک شوی وي.

دويمه پرېشانونکې پېښه هغه وه چې د پاګلانو بنديانو د پناکوټ (مرستون) د زمکې لاندې پوړ کې اووه اويا داسې لاشونه برڅېره شول چې د انحلال په مختلفو پړاونو کې وو. د هغې تحقيق ډېر زر د هغې جرم مسئووليت د هغې شعبې په قوماندان واچاوه. دا ښکاره شود چې هغه يو داسې سړی و چې د خلکو په ازارولو خوشالېده، او ذهني تعادل يې ګډوډ و. هغه خپل تسکين داسې کولو چې بنديانو کې به يې هغه نفر ولټول چې نه يې کورنۍ لرله او نه دوست، او هغوی به يې په انتهايي بوګنوونکې طرېقې ووژل. هغه په هغې وېرونکې دنده کې د جمهوريت له راتلو نه د مخکې نه نښتی و، خو زيات مرګونه يې په وروستونو کلونو کې کړي وو. داسې بوګنوونکی جرم کول به ډېره موده روان ؤ، او مقاماتو نه برڅېره کولو. هغه د بخښنې وړ نه وه، او د کورنيو چارو وزارت د مسئووليت په ساحه کې هغې بدنامې شعبې کار کاوه. د وظېفو په اجراء کولو کې يې بېغوري ښوولې. د هغو خوارو بنديانو وېرونکې قسمت داود ډېر زيات خپه کړی و. هغه ماته ويلي وو چې په ژوند کې هغې پېښې نه زيات بل څه هغه دومره نه و خپه کړی. بېشکه د خفګان د هغې درجې پورې د جرم يو حس ورزيات شوی و. هغه ته پته وه چې په اخري پړاو، هغه، چې يو ولس مشر و، د هغو پېښو

مسئوول و .

د ۱۹۷۷ء په جولای کې شوروي اتحاد راساً فشار اچولو او د هندوستان او عراق د کمونیست گوندونو او اجمل ختك د ښو نیتونو د استعمالولو په نتیجه کې په یو رپانده ایتلاف کې د اخدگ د پرچم او خلك ډلو بیا یوځای کولو کې کامیاب شول[۹]. د داود د منفي روش په جواب کې، د کال ۱۹۷٦ء د اخري ورځو نه داسې نخښې لېدی شوې چې د پرچم او خلق د ټیټې سویې ځینې عناصر دې ته راضي شوي وو چې خپلو کې نزدې شي او د مکمل تباهی نه ځان وساتي . د حکومت اقدامات نازك خو موثر وو . هغو کمونیست د کال ۱۹۷۷ء د فروری په میاشت غونډې شوې د لویې جرگې د غړیتوب د انتخاب نه وېستي وو . د هغې قانون جوړونکې جرگې د فېصلو نوعیت داسې و؛

> د نوي اساسي قانون منل،
> د افغان عنعناتو ارزښت او سپېڅلتیا،
> یو گوندي نظام او د ملي غورځنگ په نامه د یو گوند جوړول چې په قانوني چوکاټ کې یوازینی گوند و، د هغې په نتیجه کې د کمونیستو په سیاسي فعالیتونو قانوني بندېز ولگېده،
> اوو کالو د پاره د ولس مشر په حیث د داود انتخاب - شاید د اخدگ یوځای کولو کې یې کومك وکړ، بلکې هغه جریان یې تر څه حده گړندی کړ،

هغه د اهمیت یوه پېښه وه، لږ نه لږ د داود رژیم په هکله د شوروي ارادو عکاسي یې کوله . د پرچم او خلق په منځ کې درځ د شلو کالو نه موجود و . تر هغې وخته د هغو په یوځای کولو کې شوروي اتحاد څه خاص کوښښ نه وه کړی . هغوی چې د هغو یوځای کولو د پاره هغه وخت خوښ کړ د پرېشانی لامل گرځېدلی و . د هغې صرف دا مطلب و چې ماسکو دې نتیجې ته رسېدلی و چې افغانستان کې شوروي شتوالی موثر کولو د پاره وخت راغلی و، او حالات په تادی پخېدل چې د ماسکو پلویان کمونستان واك په لاس کې واخلي .

محمد داود د پرچم او خلق په یوځای کولو غصه و، او نعیم هغه د بدمرغی یوه نخښه گڼله . د ۱۹۷۷ء په ستمبر کې یوه ورځ چې د حکومت په کورنیو او باندېنیو کړنلارو یې تبصره کوله، هغه ناڅاپه ایسار شو او ما ته یې وویل؛ "تا ته پته ده، چې جواري مې وبایلله . مونږ خپل چال وچلاو خو بایېمولوده . زر یا پس یو وړوکی اقلیت به واك تر لاسه کړي او د وسلې په زور به په ټولو خلکو حکومت کوي . بېشکه د افغانستان مسلمانان به کمونیزم په رضا ونه مني . خو زه د وینې روان رودونه گورم ..." د "جواری" اشاره یې د ۱۹۵۰ء لسیزه کې هغې فېصلې ته وه چې د شوروي اتحاد نه په ډېر زیات مقدار کې د نظمي او

اقتصادي مرستې اخستلو په حق کې شوې وه او شمالي ګاونډي سره په دوستۍ او نزدیکت کې یې د افغانستان پایښت لټولو . زه دا اعتراف کوم چې ما محمد نعیم په هغه ورځ پرېښنو نو په ما رپ لګېدلی و .

د پرچم او خلق پیوند راغلی و، خو دا معلومه وه چې په اخدګ کې د اقتدار د پاره د مرګ او ژوند جګړه روانه وه . ځینو خلقیانو لکه حفیظ الله امین او د هغه ډلې دا یقین نه کولو چې پرچم به د خلق، چې لویه ډله وه، لاسبری ومني . شاید زړې ترېګنۍ، ورسره د خلقیانو د کنټرول په لاس کې د اخستلو ضرورت، امین دې ته مایل کړی و چې د کستمنو پرچمیانو د ختمولو د پاره زیات سخت او موثر طریقو نه کار واخلي . امین هغه وخت د خلق ډلې یو فعال غړی و او نظامي قطعو سره یې ټینګ تماس و . د اخدګ په حکومت کې هیڅ یو د حیثیت خاوند پرچمي ته د امین د واك ته د ګوتې نیولو اجازت نه و .

د ۱۹۷۷ ء په آګست کې په یو ماښام یو پېلوټ انعام الله ګران د خپل اپارتمان په مخکې ووېشتل شو . هغه کمونیست نه و خو ببرك کارمل سره یې شبکل ډېر یو شان وه او د بده مرغه هغه سره خوا کې وسېدلو . د ۱۹۷۸ ء د اپرېل په اوولسمه نېټه یو اهم پرچمي مفکوره دان میراکبر خېبر، چې شاید د ګوند په مشرتابه کې په رتبه کې کارمل نه هم جګ و، د کابل یو بازار کې ووژلی شو . د هغو وژلو په لړ کې هیڅ نیول ونه شول . خو کابل کې دا یقین عام و چې د حفیظ الله امین په امر د هغه برېښو صادق عالمیار او د هغه ورور هغه دواړه (ګران په غلطۍ) وژلي وو . (عالمیار د امین په حکومت کې د پلان وزیر و او د هغه ورور د عمومي ټرانسپورټ رییس) . د هغو وژلو په منځ کې یو شمېر واړه پرچمیان په مرموزه حالاتو کې مړه شوي وو .

هغو پېښنو داسې فکر پېدا کړ چې د کمونیستو په دېګ کې د اهمیت ورځه خوټېدل . شاید خلقیانو د واك نیولو په هېله خپل متوقع سیالان د منځه وړل . د اېنټي لېجنس راپوررونو داسې اشاره ورکوله چې کابل کې د شوروي دولت د امنیت کمېټې (KGB) د اجیرانو د فعالیت سویه جګه شوې وه . دستوري روسي راز ساتنې او احتیاط کولو نه بغېر، شوروي سفارت کې د مشن زوسي مرستیال او افغانستان کې د کې جي بي یو اهم کارکونکی نووکرېشنیکوف په خپله د پرچمیانو او خلقیانو کورونو ته تلو . په یوه موقع یوې غونډه کې چې هغه په کې حاضر وه یو شمېر اهم خلقیان او پرچمیان یو ځای شوي وو . د اېنټي لېجنس راپوررونو د مخه د هغې فعالیت لویه برخه د اخدګ د سیالو ډلو یوځای کولو ته پاملرونکې وه . د پېښنو په رڼا کې دا ګومان کېدای شو چې د نووکرېشنیکوف او د هغه د اجیرانو فعالیتونه صرف د پرچم او خلق کچه یووستون د پاره نه وه، بلکې څه وخت یې داسې لارو چارو لټولو ته ورکولو چې د اخدګ نازولی خوب

پرې حقیقت ته ورسي او سیاسي قدرت تر لاسه کړي .

د ۱۹۷۸ء د مارچ په نیمایې کې یو باندېنی وسیلې افغانانو ته د هغوی د رتلونکي رژیم په هکله یو هیجان آمېز خبر ورکړ . بي بي سي د فارسي د پروګرام په یوې تبصره کې دا وویل چې د داود خلاف یوه وسلواله کودتا کېدونکې وه . په کومه باوري ژبه کې چې هغه تبصره کېدله هغې د باندېنیو چارو وزارت کې مونږ ډېر پرېشانه کړ . ما هغه راپور داود ته وښود . هغه لکه هغه راپور کتلی وه . هغه کاغذ بیا ولوستو او ما ته یې واپس کړ ، خو څه یې و نه ویل . هم په هغه ورځ یو ټولنیزه غونډه کې ما په غېر رسمي توګه هغه معامله بریتانوي سفیر سره اوچته کړه . هغه وویل چې شاید هغې کې څه نه وو او بي بي سي کله نا کله د سر د پاسه نه خبرې کوي . په هر حال زه پرېشانه وم او خپل ذهن نه مې هغه عجیبه شانې تبصره نه شوه وېستلی .

اپرېل روان و او د کمونیستانو د څه قسم خوځښتونو باره کې ګنګوسو کابل ډېر ژوندی کړی و . ما به هغه ګنګوسې محمد داود ته رسولې . هغوی ویل چې هغو ټولو ګنګوسو جدي پام غوښتو . زما تسلي شوې وه چې هغه د کودتا د یوې منصوبې نه خبر و ، خو دا یې نه ګڼله چې هغه به داسې بې سنجه وه . په حقیقت کې که د اخدګ په عمومي منشي نور محمد ترکي ، چې د کمونیستانو د کودتا نه پس د افغانستان وړومبنی کمونیست حکمران شو ، یقین وکړ ، او په دې لړ کې دا یقین په هر حال مناسب و ، نو هغه کودتا آګست د پاره ترتیب شوې وه۱۰ . شاید د روسانو دا هېله وه چې تر هغې وخته به هغوی د دې جوګه شي چې په صحیح معنو کې یو متحده اخدګ ودروي ، چې هغه ، د هغوی په خیال ، د پاڅون او اخره کې د افغانستان د حکومت د پاره یو ضرورت و .

د اپرېل په اوولسمه نېټه د خیبر وژلو نه سملاسي پس اخدګ د "شپې لیکونو" په وسیله په حکومت تور ولګاوه چې خیبر یې د چپلاسیانو د ختمولو د هڅو په لړ کې وژلی و . د خیبر د وژلو او د هغه د ښخولو په منځ کې د دوو ورځو غېر عادي څنډ پېښ شو . بېشکه هغه ورځ په دې کې تېره شوه چې د حالاتو ارزیابي وکړي او معلومه کړي چې د خیبر وژل به د مارشونو او تظاهراتو په ذریعه د حکومت د پرېشانه کولو نه سېوا نور څه د پاره استعمال کړی شي! پرچم او خلك دې نتیجې ته رسېدلي وو چې د خیبر وژلو د هغوی پلویان او خواخوږي دومره پارولي وو چې په هغه مخصوص وخت هغوی خوځښت ته اچولی شو او د حکومت خلاف یو ډېر متحرك قوت ترې جوړولی شو ، چې د هغوی د شمېر د لږوالي په ګټه وو . شاید هغوی په دې هم موافقه کړې وه چې د شوې پېښې نه ګټه اخستل پکار وو ځکه چې د مضبوطولو داسې موقعې هر وخت په لاس نه راځي . کمونیست مشرتابه فېصله وکړه چې د خیبر د وژلو مضبوطونکی توکی دې د

حکومت خلاف د درنو تظاهراتو په شکل کې استعمال کړي چې د حکومت بېداري او صلاحيت ټيټ کړي ـ هغې سره سم به يې کمونيست نظامي منصبدارانو ته مشوره هم ورکړې وه چې ترتيب شوې کودتا د پاره دې د ټاکلي وخت نه مخکې تياری ونيسي ـ

د خېبر د ښخولو د دستورې نه مخکې کابل ښار کې د اخدګ غړو، خواخوږو او تماشه کتونکو يو لوی مارش وکړ ـ اګر چې هغه د تظاهرې نه زيات د جنازې مارش و، خو "د غړو پام متحده ايالاتو سفارت ته و چرته چې ځوانانو ماتم کوونکو د سي آئي ای او امپراتورۍ په ضد په واز کومي شعارونه ورکړل"[۱۱] ـ د شعارونو جوش او د ګوندي کارکونکو باغياته روش، او د ښخولو په دستوره کې د پرچم او خلق د مشرانو د وېناګانو زور د شعوري پارونې پولې ته رسېدلي وو او يوې اندازې پورې باور يې ښولو چې دې نه مخکې د چپلاسيانو په غونډو کې نه وه لېدل شوی ـ

د ښخولو په دستوره کې حفيظ الله امين نه بغېر د ترکي او کارمل په شمول د پرچم او خلق ټولو مشرانو وېناوې وکړې ـ هغوی په جار د خېبر د وژلو تور په حکومت ولګاوه او دا يې په پوره باور ويل چې داود فېصله کړې وه چې هغوی ټول يې په يو ځای ختمول او يا يو بل پسې يې په چا وژل، او اخدګ يې تباه کولو ـ هغوی خپلو پېرويانو ته غږ وکړ چې خپله چوپتيا او ناراستي ماتې کړئ او يو شئ چې د "مطلق العنان" داود رژيم نسکور کړي ـ

د خېبر د ښخولو نه پس، حکومت په ټولو تظاهراتو بنديز ولګاوه ـ هغه بندېز په وجداني توګه عملي شوی و ـ د لويديځ د ډېرو راپورونو په خلاف، صرف هغه يوه مظاهره شوې وه ـ

محمد داود د عدليې وزير او لوی څارنوال جنرال وفيع الله سميعې ته هدايت وکړ چې هغه ته دا مشوره ورکړي چې د خېبر د ښخولو په دستوره کې د اخدګ کومو مشرانو چې وېناوې کړې وې هغوی په قانوني ډول محاکمې لاندې راوستلی شو کنه ـ هغه داسې ګام اخستل نه غوښتل چې د افغانستان دننه او د باندې يومخيز او د قانون د چوکاټ نه د باندې ګڼلی کېدای شو ـ سميعې ما ته وويل چې ولس مشر د هغې معاملې دې اړخ ډېر فکرمن کړی و ـ د يوې اوونۍ ژور تحقيق نه پس، داود ته خبر ورکړی شو چې د اخدګ مشرانو د قانون خلاف ورزي کړې وه، نو هغوی نيول او محاکمه کول جايز وو ـ د دې عمل د خطرو نه داود خبر و، خو دا يې محسوسوله چې دا مناسب نه وو چې د اخدګ مغرور روش چېلنج نه شي ـ د ټولو وېناګانو د ټېپونو د لوی څارنوال د دفتر وضاحت اورېدلو نه پس حکومت فېصله وکړه چې د اخدګ مشران دې محاکمې ته تيار کړی شي ـ د هغوی د نيولو سندونه تيار شو او د شپږوېشتم اپرېل په شپه پوليس يو بل

پسې هغوی ونیول.

د پېښنو په رڼا کې داسې ښکارېدله چې د اخدگ مشران د ټولو په هېڅ د نیولو توقع لرله. شاید په دې غرض هغوی ښه مقرر امین د ښخولو په دستوره کې وېښا نه منع کړی وه، چې هغه ازاد وي او د کودتا په لار اچولو کې کومك وکړي. د کمونیستو نظامي منصبدارانو ډلې سره، چې د اخدگ اساسي شتمني وه، هغه تماس ساته او د هغې تماس قوي کړی وه. دا هم گومارلی کېده چې د اخدگ خلاف د حکومت متوقع عملیات په نظر کې لرلو سره چالاك امین په ارادي ډول داود او د هغه رژیم غندلو او کنځلو ته ډډه کړې وه، په دې هېله چې هغه ټول مشران به محبس ته لاړ شي، چې هغه ترې کرکه کوله، او هغه به یوازې د گوند په سر کې پاتې شي. خو د هغه د کور په شاوخوا د مشکوکو حرکتو په اړه د پټو راپورونو په اساس، د اووېشتم اپرېل په سهار حکومت فېصله هم وکړه چې امین هم خپل حفاظت کې واخلي. د هغه نیولو سره د اخدگد مشرتابه ټول نارینه غړي د سیخونو شاته شو.

د کمونیستو د واك نیولو نه پس چې اخدگ کوم کتابگوټي خواره کړي وو د هغو د مخه امین ازاد وخت کې کمونیست منصبدارونو سره د تماس نیولی وه چې کودتا په لاره واچوي. په هر حال دا خبره مشکوکه ده چې آیا د ننداري نه د هغه نیشتوالي په روانو پېښنو کې څه خاص توپیر راوستلی شو! بېشکه د اخدگ د مشرتابه دا فکر و چې ټول به اعدام کېدل. د کمونیستو منصبدارانو او د روسانو فکر بل څه نه شو کېدلی. منصبدارانو او د هغوی روسي لارښوونکو د داسې پېښې اجازت نه شو ورکولی. امین وه اوکنه، د منصبدارانو ډلې، چې د مخکښو کودتاچیانو نه جوړه وه لکه عبدالقادر (د هوایي قواو مرستیال) او اسلم وطنجار (د زرهدارو د څلورمې قوا یو منصبدار)، به د شورویانو په برکت کودتا پیل کړې وه ۱۲. امین لا په محبس کې و چې هغویي د اپرېل په اووېشتم داسې قدم اوچت کړ.

د کمونیستو د واك اخستلو د بریالیتوب نه پس امین (نورو خوبو سره) د یو نظامي نابغه په رنگ کې پېش کولی شو. خو دا مشکوکه وه چې ایا د اپرېل د شپږوېشمې او اووېشتمې نېټې نظامي عملیاتو کې د کمونیستو منصبدارانو د پاره هغه د روسي نظامي مشاورینو نه زیات سودمن وه کنه! د سترگو لېدلی حال دا وه چې هغو مشاورینو د خپلو محلي کامرېډانو څنگ هیڅکله نه وه پرېښی، د هغویي ملا به یې ټپوله او په هره ممکنه طرېقه یې ورسره کومك کولو. دا ښه ښکاره وه چې مشاورینو د وسلوالو قواو د مخابراتو نظام گډوډ کولو کې کار کړی و، چې داود ته وفاداري قطعي بیلې او شنډې کړي. مشاورینو به جنگ کې هم برخه اخستې وه. د موقعې یو گواه ما ته سوگند وکړ چې هغه په خپلو

سترګو لېدلی و چې یو "سور سري درون عسکر، چې په یقین سره افغان نه و د یو ټانك په شا افغان عسکرو سره په مخه روان و او کابل هوټل سره نژدي د وفادار ژنډارمې یو ټولې په لور یې د درنو توپونو ډزې کولې". مختلفو منابعو دومره څه ویلي دي چې شوروي میګ الوتکې تاشقند نه الوتلې، د باغیانو پشتي یې کوله، او د ریاست مانۍ، چرته چې داود، د هغه کورنۍ او د کابینې غړي محاصره شوي وو، "په صحیح ډول بمباري" کوله، چې د شوروي راساً نظامي ګډون په هکله وېناوې په جدي توګه نه اخستل ګران شوي دي.

اسلم وطنجار د اپرېل په اووېشتم د غرمې نه مخکې د پل چرخي د بارکونو نه، چرته چې د زرهدارو څلورم قوا پروته وه، د ښار په لور خپل ټانکونه وخوځول، او په دولسو بجو یې د دفاع وزارت ونیولو. یو ټانك د مرمرو په هغې ښایسته ودانۍ، چې ساتنه یې نه وه، بې د څه ضرورته یو ډز وکړو. بیا د وطنجار ټانکونو د ریاست د مانۍ مخې ته د لارې بلې غاړې ته ودرېده. داسې راپور و چې د پل چرخي بارکونو کې وظیفدار منصبدار وطنجار نه پوښتنه کړې وه چې د هغه کاروان کوم خوا روان وه. هغه جواب ورکړې وه چې د کمونیستو د پاڅون د وېرې د دفاع وزارت هغه ته امر کړی و چې خپل ټانکونه کابل کې ځای په ځای کړي.

هغه وخت ورځ بې موسمه یخه وه. تورو سپېرو ورېځو اسمان نیولی و. او یو خوندور نرم اورښت پیل شوې و. د ماړۍ دننه د کابینې غونډه روانه وه. کابل کې د بحراني حالت د منځ ته راتلو نه داود خبر کړی شو. د امنیت په خاطر هغه امر وکړ چې د هغه کورنۍ او نژدې خپلوان د ښار کې د خپلو کورونو نه مانۍ ته راوستلی شي، او په خپله خصوصي سرې لهجه کې هغه خپلو وزیرانو ته وویل چې خپلې چارې دې روانې ساتي [۱۳]. تقریباً د مازیګر په دریو بجو باغیانو ریاستي مانۍ محاصره کړې وه.

هغه دوران کې ډګروال عبدالقادر د جګړن داود تړون په ملګرتیا باګرام هوایي ډګر نیولی وه. تړون "د هوایي قواو دېرش منصبداران چې ځانونه یې سپارلي وو، د سبق ورکولو په غرض، په ماشینګڼ وویشتل" [۱۴]. هغې اغیانو ته داسې فایده ورکړه چې هغې سره د داود وفادارو هیڅ مقایسه نه شوه کولی. باګرام اخستلو نه فوراً پس، جېټ الوتکو او زرهدارو هېلیکوترونو په کابل الوته پیل کړه، او د مازیګري په تېرېدلو وړومبی هېلیکوترونو او بیا میګ الوتکو په ریاستي مانۍ د توغندیو برید پیل کړ. هوایي برید به کله کله دومره سخت و چې یو وخت خو دا ګومان کېدو چې مانۍ کې د وسلې ګودام اور اخستی و، خو داسې نه وه. کابل او خواوشا کې د مقاومت د ځایونو ړنګولو د پاره هم هېلیکوترونو نه کار واخستل شو. ماښام چې راتلو نو د ریاستي مانۍ نه بغیر، چې جمهوري

ګارډ يې په ډېرې زړورتيا دفاع کوله، ټولې حکومتي ودانۍ د دسيسګرانو لاس ته ورغلې وې . يو اساسي هدف راديو کابل په وړومبنۍ چپه کې نيولى شوى و . د کورنيو چارو وزارت کې او په پښتونستان چوك د پوليسو يو شمې نفرو زړورد جګړه وکړه خو اخر ونيول شو او ټول د تېغه تېر شول .

د کابل خلك چې داسې جنګ يې پخوا چرې هم نه و ليدلى هك پك پاتې وو . ماښام په اووه بجو وطنجار، چې د انقلابي لوى درستيز رتبه يې خپله کړې وه، او قادر لاندېنى بيان د افغانستان راديو نه خور کړو (اولني پښتو کې او دويم دري کې): داسې ووېل شو

د افغانستان په تاريخ کې په وړومبي ځل، د پاچاهۍ، ظلم، ټولواکۍ، او د ظالم نادر خان د کورنۍ اخرنۍ نخښې ختمې شوې او د دولت ټول واکونه د افغانستان د خلکو په لاس کې دي . د دولت واك په پوره ډول د نظامي قواو انقلابي شورا په لاس کې دى . ګرانو هېوادوالو! ستاسو د خلکو دولت، چې د انقلابي شورا په لاس کې دى، تاسو ته خبر درکوي چې د انقلاب ضد هر عنصر به، ځوك چې د انقلابي شورا د امرونو او هدايتونو نه سر غړوي، سم د واره انقلابي نظامي مرکزونو ته وسپارل شي [١٥].

وطنجار خلکو ډېر نه پېژاندو، خو د قادر د سياسي مېلان په هکله هېڅ شك نه و . دا ښکاره وه چې کمونستانو د حکومت واك تروړلى و .

په اووه نيمو بجو ما خپل کور نه ماڼۍ کې د ټيليفون يو بېجدوله نمبر وواهه او وحيد عبدالله مې وموند . عجيبه وه چې د کابل په ځينو برخو کې لا ټيليفون کار کولو، خو تقريباً په لسو بجو هغه نظام ټپ ودرېد . وحيد عبدالله پرسکون ښکارېدو او پوښتنه يې وکړه چې ما راديو نه اعلان اورېدلى و . ما چې مثبت جواب ورکړ، نو هغه ووېل چې حالت ډېر خراب و . محاصرې لاندې ماڼۍ باندې د هرې لورې نه د ټانکونو ډزې روانې وې، خو هوايي بمباردمان شايد د تيارې له امله ودرېدلى و . ما د ولس مشر پوښتنه وکړه . وحيد عبدالله ووېل چې هغه ښه وه، او محمد نعيم او د خپلې کورنۍ نورو غړو سره جوختې خونې ته اورېدلى و . وحيد عبدالله زياته کړه چې کابل کې او په شاوخوا کې ټولو نظامي قطعو او ګارېژنونو او ولايتونو سره د ماڼۍ مخابره پرې وه، او هغو سره د تماس هيڅ امکان نه وه . هغۀ ووېل چې په ماڼۍ کې دا هېله وه چې قرغه (کابل) کې اتمه فرقه او (کابل سره نزدې) ريشخور کې اوومه فرقه به په خپل سر دارالخلافې ته وخوځي .

لږ وخت پس يو لوړرتبه هوښيار منصبدار، چې زه ورسره ډېر بلد وم، خبر کړم چې باغيانو ټول پرچمي او خلقي مشران خوشي کړي وو . ماته ووېل شو چې

هغه وخت هغوی د کابل راډیو په ودانۍ کې جمع کېدل - هلته هغوی د دولت د اداري په لړ کې ځینې ترتیبات نیول - او روسي سفیر پوژانوف هغوی سره وه -

د کمیونستو کودتا په ظاهره بریالۍ شوې وه - لږ څه خاموشۍ نه پس، د اپرېل په اتویشتم سهار تقریباً په دوو بجې، لکه د دوزخ دروازې خلاصې شوې وې - ښکارېده چې هغوی د ریاست ماڼۍ الوځوله - شغلو داسې اسمان برېښولو لکه ورځ - میګ الوتکو او هېلیکوپټرانو سات په سات په ماڼۍ بریدونه کول، لکه باغیانو اخرنی ګوذار کولو - د دربمي ناحیې او دارالامان په لور هم بمباري کېدله - وروستو معلومه شوه چې د هغې هدف اوومه فرقه وه، چې راغونډه شوې وه او ریشخور نه د کابل په لور خوځېدلې وه چې ځان ریاستي ماڼۍ ته ورسوي - د دارالامان په لاره اوومه فرقه د ډېرې درنې بمبارۍ لاندې راغله او ډېر تلفات یې ولیدل - کمونیستو په هوا پوره واک موندی و او هغه یې په موثره توګه استعمالولو - لږ وخت پس اوومه فرقه په شا شوه او اطرافو کې خوره شوه - وروستو معلومه شوه چې د دفاع وزیر رسولي قرغه کې اتمې فرقې ته رسېدلو کې کامیاب شوی و، خو کابل ته د هغې خوځولو کې کامیاب شوی نه وه - له هغه ځایه هغه ریشخور ته تلی وه او تر ماتې پورې اوومې فرقې سره و - رسولي د اپرېل په ۲۹مه نېټه ونیولی شو، کابل ته راوستل شو، او اعدام شو - د یو ښه منظم پلان په کرښه د کودتا په اولنو ساعتونو کې یو موټې کمیونستو منصبدارانو د داود وفادارې نظامي قطعې، لکه ۸۸مه د هوای ضد توپخانه، ۳۲م غونډ او کمانډوز (فدایان)، شنډې کړی شوې وې یا یې وژلي وو -

د اپرېل په اتویشتم د سهار د څلورو بجو نه لږ څه مخکې هغه هېبتناک شور په ناڅاپي ډول بند شو - په ښار باندې یوه مرموزه خاموشي خپره شوه - مونږ ته پته وه چې خاتمه رسېدلې وه - په ریاستي ماڼۍ کې د کمونیستو په مقابله کې د جمهوري ګارډ مقاومت له پښو لوېدلی و - هغه بهادرو خلکو، چې په مسلسل ډول د ټانکونو او هوایي بمبارۍ لاندې وو، تر اخري نفره مقاومت کړی و - دسیسګران په پاتې خلکو وروختل او د ننه ودانیو ته ورننوتل - محمد داود وزیرانو او د ریاستي لیکتون غړو ته ویلي وو چې ځانونه وسپاري او بېځایه د ژوند زیان وژغوري - د عبدالاله او قدیر نورستاني نه بغېر، چې هغویې د ولس مشر پرېښودلو نه انکار وکړ، نورو هغه پرېښو - دا به تقریباً سهار شپږ بجې وې چې د خلکو یوه ډله هغې خونې ته ننوته چې داود او د هغه کورنۍ او دوه وزیران وو په کې - یو باغي په داود اوچت غږ وکړو چې ځان وسپاره - وایي چې هغه جواب ورکړو: "زه د بادېنیو دهریه خلکو یوې ډلې ته ځان نه سپارم" - په هغې جواب کمونیستو ولس مشر، د هغه ورور محمد نعیم، د هغوی د کورنیو تقریباً ټول غړي (سره د وړو ماشومانو) او هغه دوه وزیران وویشتل - هم په هغه ورځ د

افغانستان دېموکراتیک جمهوریت (ادج) اعلان شو . د ریاستي ماڼۍ د ماتې نه پس ټول وزیران ونیول شو . د کمونیستو د واک نیولو نه یو څو اوونۍ پس، د کمیونسټو حکومت وحید عبدالله او وفیع الله سمیعي اعدام کړل، او نور یې په محبس کې واچول .

## د جمهوریت د غورځېدلو تحلیل

ولې د محمد داود رژیم چې په ظاهره ښه ټینګ و دومره په اسانه او زر وغورځېد؟ په یقیني ډول د دې څه خاص جواب نه شته . خو یوه خبره یقیني ده . لکه څنګه چې ځینو لویدېځو لیکوالانو لیکلي دي، د لارو کوڅو تظاهرات، د خوراک کمبود یا د زده کونکو ناکراري د داود د رژیم د ناڅاپي مرګ لاملونه نه وو . د کابل هر یو استوګن به د دې تصدیق وکړي چې هغه ورځو کې، د کودتا نه مخکې یا هم په هغه ورځ چې هغه پېښ شوې وه، یوه مظاهره هم نه وه شوې (د خیبر د جنازې نه پرته، لکه چې بیان یې شوی دی)، نه د خوراک کمبود و او نه زده کونکو کې ناکراري وه . یوه بله خبره هم دا شان یقیني وه . د یو موټې کمونیستو منصبدارانو د بریالیتوب لامل د هغوی اراده وه، او، د هر څه نه د پاسه، شوروي منصوبه بندي او مرسته . کمیونسټ منصبدارانو د یو ډېر محتاط او سنجولې خوځښت په لامل ډېر زر د هوایي قواو واک ترلاسه کړ، او د هغې موثر استعمال یې وکړ . د جنګ هغه تباه کوونکو وسیلو ترلاسه کولو (شاید له تاشکند نه پورته کیدونکو شوروي میګ الوتکو نوره پشتي ورکړې وه) هغوی داسې ځای ته ورسېدل چې وفادارانو، چې په شمېر کې ډېر زیات و، ته یې موقع په لاس ور نه کړه چې د هغې جدوجهد مخه واپس وګرځوي . اپرېل کې د هغو خواشینو ورځو پېښو په یادولو، د انګرېزۍ یو زوړ بېت مې ذهن ته راځي، چې د بنیادم د قسمت وسوسو ته فکر اړوي:

ستا په نېغه لاره به (د) زرو (نفرو)
(مخه) درې (نفر) په مزه ونیولی شي[16]

د لویدیځ په لیکونو کې د محمد داود د حاکمانه حکومت او د افغانستان په سیاسي ژوند د پوره کنټرول موندلو ارادې په هکله ډېر څه لوستل کېږي . ګومان کېږي چې د هغه کړنلارو او د حکومت انداز د ښیلاسۍ (شاید مذهبي بنیادګرانو ته اشاره ده) او ازاد خیاله بانفوذه سیاسي ډلو د حمایت نه هغه محرومه کړی و . ځانلتوب ته یې ټېل وهلی وه او د چپلاسۍ خطرو ته یې ورسېلمه کړی وه . په دې لړ کې د یوې نکتې سپیناوی ډېر ضروري دی . هغه وخت د

اهمیت ورې داسې منظمې بنیلاسی. او ازاد خیاله سیاسي ډلې نه وې چې د سیاسي تنظیم برخه کېدلی شوې. سره د دې چې د کابینې او د بیوروکراسی. د لوړې سویې زیات خلك معتدل محافظه کار یا ازاد خیال وو. د داود ملي غورځنګ یواځینی قانوني ګوند و، چې د جوړېدلو په حال کې او غېر منظم و. د هغې مقصد دا وه چې ټولې ملي، اصلاحي او مترقي قواوې راکاږي او په یو سیاسي واحد کې یې راغونډې کړي. مسلمان بنیادګران هېڅکله هم د حکومت حمایت نه کاوه. د هغوی شمېر دومره نه و چې د افغانستان په سیاسي ساحه یې څه اغېز کولی شو، په خصوصي ډول کله چې په هغوی پاکستان سره د ملګرتیا داغ ولګېد.

دا راز د محمد داود او "د عنعنوي اهمیت ورې قبایلي او ټولنیزو مشرانو" تر منیځه څه شخړه نه وه. لکه ځیني تحلیل کوونکي وای ۱۷. هغه روماني "افغان پوهان" مایوسه کولو نه کرکه کېږي، د چا د وېښې خوب چې کله هم نه ختمېږي، چې غضبناك ازاد افغان قبایل د مرکزي حکومت خلاف دوامداره بغاوت کې ویني. خو بېخونده رښتیا دا دي چې د داود د جمهوریت په دوران کې، د درواز د معمولي ناکرارۍ نه پرته، هیڅ یو قبایلي پاڅون نه پېښ شوی. او د داود او "د عنعنوي اهمیت ورې" خلکو، چا ته چې اشاره شوې ده، تر منځ څه تربګني نه وه. دې نه پرته مونږ له ځانه یوه پوښتنه کوو؛ آیا د ابادۍ د هغو برخو خلکو داود سره همدردانه روش او مرستې، چې د تحلیل کونکو په خیال نه وې، د شوروي په مرسته د کودتا د کامیابۍ مخه نیولی شوه؟ زه پخپله په دې نه پوهېږم چې دا به څنګه کېدلی شو.!؟

د ټولو صحیح اقداماتو سره، چې د افغانستان پایښت د پاره یې مناسب حالات پېدا کولای شو، د جمهوریت کړنلاره خپل مقصد کې ناکامه پاتې شوه. زما یقین دی چې هغه کړنلاره په دې ساده وجه کامیابه نۀ شوه چې په سیمه کې د جوابي طاقت، لکه په نولسمې او شملې پېړۍ کې بریتانیه، د نیشتوالي په وجه، په هیڅ حال کې هغې د هند د سمندر او د فارس خلیج په لور د روسیې د خوربدلو خواهش سره سمون نه خوړو. د ۱۹۷۰ء د لسیزې په اخرې کلونو کې یقیناً د شوروي امپراتورۍ یقین پېدا شوی و چې هغې د پاره د سویل په مخ خوځښت بیا پېل کولو د پاره وخت پوخ شوی وه. د روسیې د ارادې په هکله داسې د منلو ور بل ثبوت نه شته، پرته له دې چې افغانستان ځان سره شامل کړي، ولې چې د یو هېواد په شکل کې هغې شورویانو د پاره څه خاص ارزښت نه لرلو، خو صرف دا چې د هغې په سویل کې پروت دی او هندوستان ته د ننوتلو کېلي ګڼلي شي. افغانستان د شوروي اتحاد امنیت ته څه خطره نه ودروله، او روسي مشرانو ته پته وه چې د افغانستان ناپېلتوب په پوره ډول صحیح و. د افغانستان تروړل ضروري وو، که د افغانستان د بریدونو نه وراخوا د سویل په لور

خوځښت يې د نظامي تېري په شکل کې نه دوی، بلکې په پټه او د وخت مطابق د ورانکارۍ او تربگنۍ په ذریعه وی. په دې لړ کې د روسیې د پاره د افغانستان نیولو نور هم اهمیت زیات کړ، کله چې د افغانستان سیمییزه ادعا د داود په دور کې په ختمېدو وه، او د پاکستان د تجزیې د پاره نوره په کار نه راتله. شوروي اتحاد سره د مکملې وفادارۍ د لوړې نه او د شوروي مرکزي اسیا د خورېدنې نه بغېر، چې د هغې مستقل وجود يې په هر حالت کې ختمولو، افغانستان که هر روش او هره کړنلاره خپله کړې وی، هغه به د شوروي خوځښت مخې ته غورځېده. د افغانستان په حاکمانو دا تور لگي چې شوروي اتحاد نه په ډېر مقدار د اقتصادي، تخنیکي او نظامي مرستو په منلو، هغوی خپل هېواد روسیې ته خلاص کړی و چې ویې نیسي. په هر حال شوروي کومك هغې ناڅغورونکې نیولو د پاره صرف زمکه وتره کړې وه. د هغې په لاره ننوتلو نه پرته به روسانو د یو څو ساعتونوپه ځایې په یوڅو ورځو کې افغانستان نیولی وی. دا به یواځېنی توپیر و.

روسانو سره د اوږدې مودې تماسونو افغان مشرتابه په عمومي ډول دې نیتجې ته رسولې و چې شوروي طاقت خورېدونکی وه، او چې بیا اسیا کې د هغې خوځښت د پاره وخت راغلی وی، نو افغانستان به يې د جغرافیایي موقعیت په وجه اول تر پښنو لاندې کاوه. د مرکزي اسیا د نیولو تاریخ هم هغوی ته دا ښودلي وو چې روسي طاقت لکه د زول په مخه ځي، او هغه موجوده وقفه موقتي وه. هغوی د روسانو د دې مقصد په هکله هیڅ فرېب ته نۀ خوښېده. په دې دوران کې يې د خپل هېواد د پرمختك د پاره مشقت جاري ساته، په دې هېله چې بین المللي حالت به په داسې انداز کې بدل شي چې هغه به یقیناً د روسانو د پلمو عملي کېدلو مخه ونیسي.

خو هغه هیله من بدلون منځ ته رانغلو. په بل اړخ حالت د شوروي اتحاد په حق کې انکشاف وکړ. د هند نیمې وچې او د سوېز د ختیځې غاړې نه د بریتانیې متوازن طاقت واپس شو، او متحده ایالات د هغې درځ ډکولو نه ډېر لري وو. په هر حال د نظامي تړونونو څه ناقصو تجربو نه پس، د مختلفو وجو پر اساس داسې ښکارېده چې متحده ایالات په اسیا کې د بریتانیې د نفوذ ځای نه شو نیولی. د وېتنام له غمیزې نه پس داسې بندیزونو، چې د نړیوال مسئوولیتونو په غاړه یو سوپر پاور د پاره موذون نه وو، هغه شله کړې وه، او نوره هم د ځان په غم اخته شوې وه. له دې نه پرته، دیتان (روغې) چې کوم قناعت منځ ته راوست، هغې متحده ایالات نور هم کمزوري کړل. کله نا کله به متحده ایالات چین ولمساوه چې د شوروي اتحاد ایسارولو د پاره مهمه دنده اجراء کړي. خو په حقیقت کې اوس هم ښکاري چې چین صرف د خپلو مخصوصو گټو خیال ساتي، چې یو د بل سوپر پاور خلاف توازن وساتي.

د افغانستان په هکله متحده ایالاتو ډېر بېغرضه روش خپل کړی وه، حال دا چې هم په دې لاره خطره وه چې روسان به د فارس خلیج د اوبو لارو ته د رسېدلو د پاره هندوستان تر پښنو لاندې کړي - د امریکا د کړنلارو جوړونکي په ظاهره دې نتېچې ته رسېدلي وو چې د لویدېځو ګټېو ساتنه د افغانستان د ختیځو پولو نه وراخوا ښه کېدلی شوه - دې بېغرضۍ سره نورې بانې هم ونښتې - هغو کې غټه دا وه چې متحده ایالاتو دا مفکوره جوړه کړه چې افغانستان کې د هغوی فعال شتوالی به د افغانستان د مرګ وجه شي، ځکه چې روسیه به هلته د متحده ایالاتو د ډېرې ونډې نه خطره محسوسه کړي - دې د پاره د متحده ایالاتو نیشتوالی به د افغانستان د پایښت امکان ډېر کړي - که د روس اراده دفاعې وی نو دا مفکوره صحیح کېدای شوه، خو که دا منلی شوه چې روسانو خپل ښکاره هدف ته رسېدلو د پاره متې نغښتې وې، نو هغو دلایلو کې زور نه پاتې کېده. له دې نه پرته، کله چې د سوړ جنګ په اخرني پړاو کې د متحده ایالاتو مرستې افغانستان کې زیاتې شوې، نو هغې د افغانستان ناپېلتوب ته څه زیان ونه رساوه، او نه روسانو داسې څه حرکت وکړ چې هغه حالت ختم کړي - په بل اړخ د دواړو سوپر طاقتونو تر منځ یوه روغناکه سیالي وزېږېده، چې هغې نه د افغانستان ودې ته ډېره ګټه ورسېده - د امریکا د دې مفکورې دې تېوکې ته د متحده ایالاتو او افغانستان د اړیکو یو کتنوال (مبصر) ښه فکر کړی دی: "د نامعلومو لاملونو په بنا د شورویانو د پارونې دا وېره په پوله پرتو نورو حساسو هېوادونو لکه ترکیې، ایران او پاکستان ته ونه غزېده"[18] -

افغانانو په خپل هېواد کې د امریکا مقصدي او موثر شتوالی غوښتو، چې د افغانستان مثبت ناپېلتوب سره یې، د روس لاسبری ګډوډ کړی وی، او هغه یې د سویل په مخ خوځښت نه اړولی وی - کۀ د بریتانیې ټینګتیا په اسیا کې د روسانو د یون مخه نیولې وه، نو د امریکې ارادې ولې داسې کار نه شو کولی؟ منم، که د همزمان بین المللي ژوند زښتو حقیقتونو، او د یو سوپر پاور په حیث د متحده ایالاتو برابر مسئوولیتونو او د هغې په نړېوالو ګټېو باندې غور وشي، نو دا تر یو ساده شان فکر و - خو افغانان د تاریخ په اهمیت پوهېږي - د خپل فکر په صحت یې یقین درلود، او په هغې به یې امریکایانو دوستانو سره ازاد بحث کاوه - د جمهوریت په اخېرنو دوو کلونو کې دا ښکاره وه چې امریکایانو په اسیا کې د افغانستان په موقعیت، د هغه په مسئلو، او د امریکا د مرستو د موذون زیاتوالي په ضرورت د پوهېدلو کوښښ کاوه - هغې به ارومرو د امریکا شته والی زیات کړی وی، خو د هغې موثر او مقصدي شته والي مخې ته لویه لاره پرته وه.

شورویانو ته ښه پته وه چې هغه وخت په اروپا کې د هغوی خوربدنې امکان نه لاره - هغوی منلې وه چې په اسیا کې د خوربدلو په لړ کې محتاط

خوځښت د پاره حالات موذون وو. تقریباً د یوې پېړۍ د ځنډ نه پس، په اسیا کې د خورېدنې دې نوي پړاو کې د افغانستان شاملول ورومبنی منطقي ګام وه. یو مهم توکی دا هم و چې د هغوی د نظامي قواو تیاري روسان دې فېصلې ته چمتو کړي و. په ۱۹۶۲ء کې د کیوبا د مېزایلونو بحران نه را په دېخوا شوروي اتحاد په منظم ډول خپل نظامي توان زیاتولو. د ۱۹۷۰ء لسیزې د ورومبنو کلونو پورې ماسکو په خپل پرمختګ خوشاله وه. په ۱۹۷۵ء کې پودګورني محمد داود ته ویلي وو؛ شوروي نظامي قواوې دومره قوي شوې وې چې د لویدځ د مشترکه قواو هر قسم تېری یې په شا تمبولی شو. نورې پسخونې چې په هغه وخت یې د خوځېدلو په لړ کې شوروي ارادې ته اخېري شکل ورکړ پخپله راساً افغانستان پورې اړه لرله، یو هغه هېواد چې یو وخت محمد داود ته خروسچیف داسې ښودلی وه؛ "یوازینۍ درېځه چې په لویدیځ کې لا خلاصه ده او د هغې په ذریعه شوروي اتحاد سا اخلي". روسانو هڅې کولې چې په افغانستان کې د امکان تر پولې په باداره توګه ځانونه شته کړي. د ۱۹۷۰ء لسیزې د ورومبنو کلونو پورې د هغوی یقین و چې خپل سملاسي هدف ته رسېدلي وو. خو په ۱۹۷۵ء کې مایوسه شو. د محلي کمونیستانو خلاف د محمد داود عملیات، د مرستو د وسیلو پراخولو کې د افغانستان بریالیتوب او د هغو په نتیجه کې په شوروي اتحاد د افغانستان د انحصار لږوالي، پاکستان سره د اړیکو ښه والي او نور روسیې دا اجازت نه ورکول چې کله وغواړي هغه اړیکي ولړي، او لویدیځ ته مایل د تهران، کابل او اسلام آباد د یو محور د جوړېدلو امکان شورویان ولړځول چې په دې پوه شي چې افغانستان ډېر زر له هغوی نه ګوښه کېدونکی و. دې ټولو توکو د افغانستان د نیولو هڅې ګړندۍ کړې.

د ۱۹۷۷ء په سپرلي کې د داود او برېژنیف تر منځ زړهبداوي نه پس به روسانو اورمرو دا ګومان کړی و چې محمد داود داسې سړی نه و چې د روسانو خوشالولو د پاره یې خپلې کړنلارې په شا ګرځولی وی. شاید د هغې لېدنې نه پس شورویانو فېصله وکړه چې داود او افغان جمهوریت چې ځومره زر کېدلی شي ختم کړي. په هر حال د شورویانو دې فکر چې بین المللي چاپېریال موافق و، او ایران کې د پېښو رفتار، دې کې شك نه و چې د میر اکبر خېبر وژلو هم دا هر څه ګړندي کړي وو، د کمونیستي بریالیتوب په ذریعه په شوروي اتحاد کې د افغانستان د شمولیت په هکله د هغې فېصلې عملي کول توند کړل.

د سویل په مخ د یون بیا پېل کولو په لړ کې د ورومبني ګام د پاره روسانو چې کوم بین المللي حالات موذون ګڼل، هغو کې یو په افریقا کې د هغوی د خوځښت، چې په ۱۹۷۵ء کې په انګولا کې د هغوی لاسوهنې سره پېل شوی و، په جواب کې د امریکا خاموشي وه. هغې پسې زر د "د افریقې ښکر" غوندې په

جغرافيايي او سياسي توگه حساسه زياته سيمه د شوروي تر نفوذ لاند راغله ـ د عربو د نيمتاپو په لويديځه غاړه او د سرو اوبو په خوله کې پروت عدن د مخکې نه د روس يوه بانډه جوړه شوې وه ـ د دې مهمو روسي گټو په جواب کې د امريکا حيرانوونکې ناراستي. يقيناً روسان زړور او گړندي کړي و چې د خپلو پراخو هدفونو لاس ته د راوړلو په هکله محتاطه خوشبيني وپالي ـ هم په هغه وخت که د هغو عملياتو نه د روسانو مراد د امريکايانو د ارادې ازمېښت و، نو هغوی به اورمرو ډاډه شوي وو، چې متحده ايالاتو هېڅ اراده نه لرله ـ روسانو به دا هم گومان کړی و چې متحده ايالاتو په سويل لويديځه اسيا کې نور څه مخصوص غرضونه نه لرل چې د هغو د ساتنې فکر ورسره وی ـ او بيا، په هر حال کې، د وېتنام د جنگ په دوران کې، د امرېکې د خلکو چروت څه داسې و چې حکومت ته يې نور اجازت نه ورکولو چې بيا د باندې، په خصوصي ډول اسيا کې، چرته داسې شخړه کې ځان ونښلوي ـ

د متحده ايالاتو او پاکستان اړيکي هم ساړه وو، په خصوصي ډول هغه وخت هغوی د پاکستان د نوکليايي کړنلارو په لامل ځان راښکلو ـ پاکستان نه د متحده ايالاتو ورو ورو په شا کېدلو، او د پاکستان ناپېلتوب ته تاوېدلو نه به هم مسکو کې د يو ښه انکشاف مطلب اخستی شو ـ د اپرېل د کمونيستو د کودتا نه يو څومياشتو مخکې، پوژانوف، د چا باره کې چې زما يقين وه چې د ماسکو د اجازت نه بغېر يې خپله ځاني خبره هم نه کوله، ماته وويل چې پاکستان کې د امريکا د موجودگۍ لړوالی، او د متحده ايالاتو د سوري لاندې د هغو نظامي تړونونو چې پاکستان ورسره تړلی وه مرگ، به يقيناً پاکستان په دې سيمه کې د شوروي اتحاد مخصوصو او جايزو غرضونو ته زيات مايل کړي ـ هغه زياته کړه چې شوروي اتحاد هم يو اسيايي دولت و او، په دې وجه، د ځينو خصوصي او ناژغورلي پاملرنو حقدار و ـ هغه هېله څرگنده کړه چې پاکستان به اوس د روسيې "نژدې دوست" هندوستان سره زيات نرم روش اختيار کړي ـ په ظاهره د پاکستان د کمزوريانو په زياتي روسان خوشالېدل ـ د نورو شيانو نه علاوه، هغوی ته اسيا کې د امريکا توان او غرض هم په کمېدو ښکارېده ـ ماسکو به دا گومان کاوه چې افغانستان ته د روسانو د ننوتلو خلاف به امريکايان څه معنوي عکس العمل و نه ښايي.

د اسيا د ننداري تکړه کتونکو، روسانو د پاره ايران کې غال مغال هم بېشکه د هغوی عملياتو ته هڅولو د پاره ډېر جدي و ـ ايران کې د راتلونکو مهمو پېښو په نظر کې ساتلو سره، په خصوصي ډول د ۱۹۷۸ء جنوری کښې تهران ته د جمې کارټر د سفر نه پس (د هغوی د تعبير د مخه هغه پاچا ته د متحده ايالاتو د مکمل حمايت وعده ورکړې وه) هغوی د افغانستان په نيولو اسيا کې په زياته

ګټوره توګه ځای په ځای کېدل غوښته . هم هغه میاشت کې په قُم کې عوامي فسادونه هم وشو .

دې کې شك نه وه چې د خیبر وژلو د افغانستان په لور د روسانو خوځښت، چې مخکې نه کرېملن کې فېصله شوې و، ګړندی کړو . محلي کمونیست مشرتابه روسانو ته دا باور ورکړ چې د خیبر وژلو د هغوی اتحاد ټینګ کړی و، او د کمونیستو په ګټه داسې جذباتي او موذون حالات بیا مشکله وه چې پیدا شي . دې نه هم زیات مهم، ویلی شو چې حفیظ الله امین روسانو ته ویلي وو چې داود په افغانستان کې د ګرد کمونیست تنظیم د ختمولو فېصله کړې وه[19]. مسکو د دې اجازت نه شو ورکولی . د کمیونستو د مشرتابه په جار او بېطرفه محاکمه هم، لکه چې داود غوښتله، تمبول پکار وو، هسې نه چې د محاکمې جریان په افغانستان کې د شوروي جریاناتو ساحه او زور خلکو ته برښېره کړي .

په هر حال داسې ثبوت وه چې روسانو د کودتا وخت مخکې کولو کې تردد نیولي وو . هغوی لا د پرچم او خلك د ایتلاف په زور باور نه درلود[20] . روسانو د داود رژیم د اړولو او د هغې په ځای د یو کمونیستي حکومت د راوستلو د پاره یو حقیقي او موثر اخډګ کې د پرچم او خلق په مکمله توګه ویلي کول سنجولې وو . هغوی په پوځ کې د کمونیستو منصبدارانو په صلاحیت کې نه تېروته چې د مشاورینو په ملاتړ یې وسلواله کودتا راوستلی شوه . خو هغې کفایت نهٔ کولو . د هېواد د نیولو او اداره کولو د پاره هغوی ته د اخډګ ولسي کادرونه او شوروي اتحاد ته نزدې د وفادارو عناصرو یو کمیونسټ حکومت پکار و . له دې پرته، د شوروي اتحاد دا یقین و چې د پرچم او خلق په منځ کې پاتې درځ به نه صرف کمیونستهان د شوروي هدایاتو عملي کولو کې بې اثره کړي، بلکې د دواړو ډلو سرپرست او لاربښود شوروي اتحاد به هم یوې ناوړه او ګرانې سیالۍ کې ونښلوي .

په هر حال، داسې ښکارېده چې د کمونیستو مشرتابه د شورویانو په لمسولو کې بریالی شوی و، چې د وخت نه مخکې د کودتا په پېل کولو موافقه وکړي . ویلی شي چې د بل هر چا نه زیات، د اقتدار رنځور امین د روسانو ارادې بدلولو کې لاس لرلو . هغه ورته ویلي وو چې د پرچم او خلق یووستون حقیقي او دوامداره و او صرف یو پېوند نه و د رتبې فشارونو شوکولی شو . هغه ورته نور ویلې وو چې کمونیست مشرتابه چې د خلکو نه زرغونه شوې وه، خپلو مسئلو او غوښتنو سره پوره بلده وه . هغه روسانو ته د خپل یقین باور ورکړی و چې خلك به کمیونستهو ته تود هرکلی وایي ځکه هغوی یې د غریبو او پرېوتو خلکو صحیح نمایندګان ګڼل . امین ویل؛ کمونیست، چې د خلکو نه زرغون شوي و، د هغوی په اداره کولو او هغوی ته د ډاډ په ورکولو پوهېده . هغه روسانو ته مشوره ورکړې

وه چې د هېواد د ادارې په هکله ورته پرېشانه کېدل نه وه پکار ځکه چې د کمیونستېو مشرتابه په کلونو د پاچاهۍ او د محمد داود رژیم د نیمګړتیاو او بریالیتوبونو کتنه او ارزیابي کړې وه، او د حکومت ټولو اړخونو نه خبر وو. [۲۱] امنیتي ځواکونو چې په هېږ د خلکو نیولو لاس واچولو، د په اورېدلو شاید روسان د امین زاریو او غوښتنو منلو ته لېغړي شوي وو، او د ۱۹۷۸ء د اپرېل په اوویشتم تاریخ سهار د کودتا په ذریعه د داود رژیم ړنګولو ته شورویان راضي شوي وو.

دا ګومان کول حاجت نه لري چې شورویان د ټاکلې کودتا نه خبر وو کنه! دې کې شك ن شته چې شورویانو د مختلفو عواملو په اساس د داود ختمولو فېصله کړې وه. د شورویانو د پټې ملګرتیا نه بغېر، د هغوی هیڅ یو لاسپوڅي د هغه د اړولو او وژلو جرآت نه شو کولی. دې کې شك نه شته چې شورویان نه صرف د کودتا پلانګران وو بلکې په مختلفو پړاونو کې د هغې د عملي کېدلو مسئوولیت یې هم په غاړه اخستی وه.

د کمونیستو د کودتا او د هغې نتیجه دې کتاب کې بیان شوې ده. خو دا ذکر به مناسب وي چې د کمونیستو ورانکاریو نه د افغانستان د غورځېدلو نه یو څو اوونۍ پس، هر هغه څه چې امین، لکه ویلی کېږي، شورویانو ته ویلي وو بېخرته دروغ وختل. د پرچم او خلق بېتوله یووستون ډېر زر ببېل شو او د هغوی تر منځ درځ په تربګنۍ برخېره شو؛ هر یو د بل ختمول غوښتل. امین لافه وهله چې د کمونیستو مشرتابه د افغانستان د خلکو نه زرغونه شوې وه، خو دا زر ښکاره شو چې کمونیستو د افغانستان د خلکو د روایاتو، هېلو او مسئلو نه هډو خبر نه وو. ځکه هغوی د خلکو نه په هېږ ببېل شو. تر څو چې د هېواد د حکومت او ادارې تعلق و، خلقیان او پرچمیان ډېر بې کفایته وختل، تر دې چې شوروي اتحاد په زرګونو مشاورین د هغوی د مسئلیتونو د پاره وارد کړل.

د کمونیستو له خوا د اقتدار نیولو، د ترکي او امین زور او ظلم، او د افغاني دود دستو او غوښتنو نه د هغوی ناخبرۍ د هېواد په ټولو برخو کې د نوو حاکمانو خلاف خلکو وسله اوچته کړه. د کمیونستېو اقتدار تروړلو نه سملاسي پس، د نااشنا حکومت خلاف د افغاني ملتپالو پاڅون پیل شو، او ورسره د زور زیاتي نه تبنتېدونکو مهاجرینو پاکستان او ایران ته بهیرونه روان شو. امین ترکي وواژه او هغه نه یې د کمونیست رژیم د مشرۍ چوکۍ ونیوله. ډېرو زیاتو روسي مرستو سره هغه په ډېرې بېکفایتۍ د بغاوت خلاف عملیات کول. د افغانانو د مقاومت خلاف د زور ظلم په وجه د کمیونستېو رژېم ړنګېده.

روسیانو باندې چې بوی ولګېده چې د ورانکارۍ د لارې په اسانه د هغوی لاس ته راغلې ګټه په پرېشانه کونکي زیان بدلېدونکې وه، نو هغوی نظامي

قواوې منځ ته ټېل وهلې چې حالت باندې قابو راولي ـ د روسيانو د سويل په مخ د خوځښت په هغه پړاو، د شوروي اتحاد مقصد دا وه چې افغانستان کې د کمونيستو حکومت ټېنګ کړي او افغانستان وساتي ـ هغوی هلته خپلې قواوې ساتل نه غوښته ـ دي کې شك نه شته چې د ۱۹۷۹ء په دسمبر کې په افغانستان د شوروي نظامي قواو د يرغل مقصد دا و چې هلته د کمونستو حکومت ته پشتي ورکړي ـ د هغې په نتيجه کې د کميونسټو زياتيو او بربريت سره د روسي نظامي قواو په زور افغانستان کې د "امن" راوستلو دهشت هم شامل شو ـ (کله چې روسي عسکرو په کابل بريد وکړ او ببرك کارمل يې د افغاني کمونيست رژيم د مشرۍ په چوکۍ کېښولو هغې نه پس ډېر زر، هغوی امين اعدام کړو، شايد څه د هغې دروغو چې هغه ويلي وو او د غلطو مشورو ورکولو په وجه) ـ

شايد د شوروي نظامي قواو په ذريعه د افغانستان د اشغال بله وجه دا وه چې په ايران کې د ايراني بنيادګرانو له خوا د امريکا يرغملو د نيولو په نتيجه کې د متحده ايالاتو او ايران تر منځ بحران په ختو وه ـ روسيان شايد حېران شوي وو چې متحده ايالاتو د محمد رضا شاه او د هغه د موروثي حکومت د ساتنې د پاره هيڅ ونه کړل، او هغوی به دا ګومان کړی وی چې د يرغملو خوشي کولو نه د ايران ژغورنه د ايران خلاف متحده ايالاتو نظامي عملياتو ته پارول شول ـ روسانو به غوښتل چې د امريکا د داسې عملياتو په حال کې افغانستان ته د وسلوالو قواو د لېږلو د پاره دې ښه تياری ونيسي ـ

د ۱۹۷۹ء په دسمبر کې چې شوروي لښکرو افغانستان ونيوه، د هغې په نسبت، خصوصاً په لويديځ کې، د ۱۹۷۸ء د اپرېل کميونسټي کودتا ته لږ اهميت ورکولی کېدو ـ د نظامي تېري رواني اثر د کودتا په نسبت ډېر زيات و. زياتو کتونکو کودتا د افغانانو کورنۍ مسئله ګڼله، چې د لويديځ په ښوبدو يې نېغ په نېغه اغېز نه کاوه ـ خو دې کې د ټکان يو توکی هم شامل و؛ په افغانستان کې د شوروي حقيقي شتوالي خطرو لويديځ ولړزاوه ـ هغوی وکتل چې سرې لښکرې د خيبر درې په خوله کې تيارې ولاړې وې ـ په هغه وخت لويديځ افغانستان ته د روسي خوځښت مخالفت ته واوړېدو، خو وخت بيا ډېر تېر وه ـ

لويديځ تقريباً دې ته نه وو کتلي چې د داود خلاف کودتا په اسيا کې د روسيانو د خورونې په نوي پړاو کې يو خطرناك قدم و ـ د افغانستان د اشغال فېصله چې وشوه نو روسانو د پاره يوازېنی ضروري قدم د داود ختمولو او د هغه په ځای د ماسکو پلوي کمونيست رژيم راوستل و ـ دې نه پس هېواد د هغو و، او کله چې هغوی غوښتلې افغانستان ته يې وسلوالې قواوې ورپېژندلی شوې، او هغه د "د بلنې" په جواب کې په هوسايۍ کېدلی شو ـ روسيانو ته پته وه چې د افغانستان په لويديځ، سويل او ختيځ کې هر يو د نظامي اهميت وړ ځای ته د هغوی قواوې يو څو ساعتونو کې رسېدلی شوې ـ

# Notes

1. A favorite expression used by the press to designate the officers who had helped Daoud in his coup.
2. Hyman, *Afghanistan Under Soviet Domination*, 65.
3. I learned from Mohammad Naim in early 1974 that Maiwandwal was to be posted to Washington as ambassador.
4. I have seen written statements by at least one conspirator, a certain Zanghoon Shah, who had confessed to receiving large sums of money from Pakistani sources. The ambassador of, Pakistan to Kabul, when invited by the Foreign Ministry to review and assess the documents and confessions tying his country to the coup, declined to do so.
5. This episode was narrated to me by Waheed Abdullah in late 1973.
6. Gulbudin Hekmatyar, who, after the fall of Afghanistan to Communism in 1978, became leader of one of the resistance organizations in Peshawar, was one of those who had fled across the border.
7. Hyman, *Soviet Domination*, 67.
8. Minister of Commerce Mo' ammad Khan Jalalar, who was retained in the cabinet, was suspected in some quarters of being a Soviet agent. Some time after the Communist takeover of Afghanistan, he was posted by Taraki to an important economic job. Babrak Karmal reappointed Jalalar minister of commerce.
9. Ajmal Khattak was the former secretary general of NAP, living in exile in Kabul. After the rapprochement between Afghanistan and Pakistan, Khattak had grown disenchanted with Mohammad Daoud, his benefactor.
10. Hyman, *Soviet Domination*, 75, and *Kabul Times*, 3 May 1978.
11. Hyman, *Soviet Domination*, 76.
12. Abdul Kadder and Aslam Wattanjar had participated in Mohammad Daoud's coup in 1973.
13. Neither Mohammad Daoud nor members of his family lived in the presidential palace, the former royal palace. Part of the palace was used as presidential offices, and its other buildings and living quarters were closed.
14. Hyman, *Soviet Domination*, 76.
15. The text in Hyman, *Soviet Domination*, 77, was helpful for translation from a Communist publication in Dari.
16. Quoted in Colonel H. D. Hutchinson, *The Campaign on Tirah* (London: Macmillan and Co., 1898), 187.
17. Nancy and Richard S. Newell, *The Struggle for Afghanistan* (Ithaca, N.Y.: Cornell University Press, 1981), 48.
18. Leon B. Poullada, "Afghanistan and the United States," 183.
19. Conservations with jailed Khalqis during my imprisonment in Pul-i-Charkhee prison near Kabul in 1980.
20. Ibid.
21. Ibid.

# آخري خبره

روسانو د افغانستان استقلال ختم کړ - د افغاني واکمنو د پاېښت سخته لوبه بالآخر د ۱۹۷۸ء په اپرېل کې پای ته ورسېده - د افغانستان د پاېښت ضروري توکی د قوي خو سیالو ګاونډیانو تر منځ د افغانانو له خوا توازن ساتل وو - اسیا نه د بریتانیې تګ، هغه توازن ګډوډ شو - بل کوم یو باندېني طاقت د حقیقي معنو کې د بریتانیې د ځای د نیولو کوښښ و نه کړو - د یو پارسنګي طاقت نیشتوالی او د اقتصادي ګړندي پرمختګ، د عصري پوځ جوړولو، او پښتونستان د پاره د سیاسي حمایت راښکلو ضرورت سره په طبعي ډول توازن د شمال په لور ټیټېده - په نتیجه کې افغاني واکمنو ته خپلې عنعنوي کړنلارو کې څه خاص سمون راوستل پکار وو - هغوی د افغانستان د استقلال د یقیني ساتلو په لړ کې شوروي اتحاد سره دوستي او نږدې تعاون خوښ کړ - افغانانو غوښتل چې روسانو ته د افغانستان د استقلال د ساتلو یو شرط کېږدي - خو هغه ټول بېکاره وختل چې شوروي اتحاد فېصله وکړه چې د سویل په مخ خپل خوځښت بیا پېل کړي - کله نا کله به دا فکر کېدلو چې د ناپېلتوب ټینګ درېځ به افغانستان له خوا د تېري نه وساتي - خو هغه هم یو سراب ثابت شو - په هغه ورځ چې سالنګ سرنګ پرانستلی شو یو مشر سړي ما ته ویلي و چې افغانان د بل په وخت ژوند کوي -۲۲ زما په یاد دي چې زه ورته موسکی شوم - د پېښو په رڼا کې، زما خیال دی چې هغه رښتیا ویلي وو -

تر څو چې د کرېملن په کړنلاره کې اساسي بدلون نه وي راغلی، روسان به د افغانستان نه لاس رانه کاږي - هغوی به د هېواد نه وسلوالې قواوې واپس کړي، که د سوپر پاور په سویه یوه ګټوره سودا ورسره وشي، یا که لویدیځ او، خصوصاً پاکستان، کابل کې د ماسکو پلوي حکومت په رسمیت وپېژني (ضروري نه ده چې اوسنی مشرتابه دې په سر کې وي) - په ظاهره افغانستان نه د شوروي قواو واپسي به لویدیځ د پاره یو لنډمهاله ګټه وي او یقیناً د هغې هرکلی به کېږي، لکه د افغان د مسیلې د ډېرې مودې راسې ځنډولی شوی "سیاسي حل" بلآخر رارسېدلی وي - د شوروي قواو د واپسی په خوشالی کې د سیاسي حل نور توکي به هېر شي، او شوروي اتحاد به د ماسکو د پلوي حکومت په ذریعه افغانستان د خپل واك لاندې ساتي - شوروي جماهیر به اصرار کوي چې د ماسکو

پلوي حکومت دي ناپيلي، اسلامي او نماينده، او شايد نور څه، وي، او د خپلو خودغرضيو په نظر کې نيولو سره به په دې خوشال وي، د افغانستان د خلکو نه بغير. افغانستان چې په هر قدم بدلولی شي، هغه به د يوکو مسخرو هغې ډرامې ته ښا رابښکلي براته وي. هغه حالت به روسيان د دې جوګه کړي چې خپلې ښکرې، هر وخت چې وغواړي، د کابل حکومت په "بلنه" د بين المللي "ضمانت" نه بغير افغانستان ته بيا ولېږي. د داسې قوي امکان، يا خطرې، شته والی به د باندې نړۍ له خوا د استقلال افغاني مبارزينو د پاره اخلاقي او مادي مرستو ته خنډ شي، ځکه، داسې ښکاري، چې د باندېنۍ نړۍ ټول فکر په دې راټول دی چې افغانستان نه دې شوروي عسکر د باندې وي. او په هېواد څوك حکومت کوي څه خاص اهميت نه لري! دا قسم شوروي لاسبرى به په حقيقت دا مانا ولري چې افغانستان شوروي نظام کې شامل شي.

روسيان به د افغانستان واك پرېنه ږدي ولې چې افغانستان د هغوی د ښکاره هدف په لور ناګرځېدونکی ګام دی. په افغانستان باندې د هغوی يرغل د اسيايي سيال، د چين د خلکو جمهوريت، په مقابله کې د هغوی حيثيت نور پياوړی کوي، او يقيناً هغوی ته يې د سوپر پاور په سيالی کې په متحده ايالاتو هم يوه ورکړې ده. له دې نه پرته د افغانستان د اشغال نه چې کوم لنډ مهاله ګټې پورته کېدلی شي هغه دومره ډېرې دي چې هغه پخپله افغانستان نه د شوروي د لاس وېستلو خلاف دي. د سيمې په حالاتو خبر يو کتونکي د شوروي اتحاد د دې ګټو داسې بيان کړی دی:

> د افغانستان فتح، يوه زړوره خو په احتياط سنجولی شوې شوکه، د شوروي اتحاد د نظامي قواو د يون نمايندګي کوي چې د فارس خليج او د هرمز نهر نه د پنځو سوو ميلونو په فاصله لري ځای ته يې ورسوي. که شورويان د افغانستان پخولا کولو کې بريالی شي او مخکې يون د پاره يې د يو قرارګاه په شکل کې قوي کړي، نو هغه سيمه وېرولی شي او اروپا او جاپان ته د تېلو خولې بندولی شي. د هغې طاقت په مخالفت کې د لويديځ ملګرتيا زياته نه شي پايدلی چې د هغوی د ضرورت د تېلو وسيلې يې په لاس کې وي[۲۳]

چې د کرېملن مشرتابه حالات موذون وګڼي نو هله به د سويل په مخ شوروي اتحاد بل ګام پورته کړي. خو دا يقيني ده، که لويديځ ډېر بېدار نه وي، نو هغه به د توقع نه زر وشي.

دا به مناسب وي چې د افغانستان د تاريخ دا پاڼې د افغاني جمهوريت د موسس محمد داود، او څنګه چې هغه وه، په هکله په يو څو الفاظو ختمې شي.

محمد داود یو اختلافي څېره وه او وي به ـ که یوې خوا ته د سیاسي ولس یوې برخې د هغه مطلق العنان حکومت باندې سخت اعتراض درلود ، او هغه یې افغانستان کې د جمهوري جریان پرمختګ ګړندي کولو کې یو خنډ ګاڼه، نو بلې خوا ته د هغه په وطندوستۍ او د افغان ملت پرمختګ د پاره د هغه اخلاص کې هیڅ اختلاف نه وه ـ د هغه د حکومت طریقه همېشه د پاره د خلکو نه وه خوښه، خو په هغه کله هم د خود غرضۍ او د اوچې موتبرۍ تور نه وه لګېدلی ـ داود په ولسي ژوند کې فضولیات او خیانت نه زغمه ـ هغه سخت او ناستومانه کېدونکی کار کوونکی ځوښتل، ولې چې خپلو ملګرو نه یې هم هغه شان هیله لرله ـ هغه د بل رای ته غوږ اېښو ، خو فېصله یې خپله کوله ـ په عمومي ډول شوې فېصلې به ډېر په مشکله بدلېدلې ـ خو داسې پېښې شوې وې چې نوره څه مشوره به راغله نو داود به خپله ابتدایي فېصله ترمیم کړه ـ هغه په اسانه چاته واك نه ورکولو ـ هغه خاصیت، چې د افغانانو د زوړ کهول د پاره څه نوی نه وه، مجبور وه چې د حکومت چارې انتهایي مرکزیت لاندې راولي ـ (خو هغې روش) هغې رفتار چې هغه غوښتو، او د عصري بیوروکرېسي چې هغه قایمول غوښتله، سره موافقت نه لرلو ـ

د افرادو په هکله داود په مشکله خپله رای بدلوله ـ وفادار دوستان یې خوښ وو ـ که څوك به یې د نظره پرېوتو، په هره وجه که وه، نو نړۍ په مخ هیڅ طاقت د هغه رای بدلولی نه شوه ـ د هغه په مسئلو پوهېده د ستاینې وړ وو ـ د افغان تاریخ نه ښه خبر و ـ په زړه نرم و ـ د غریب او بې امتیازه خلکو په هکله د هغه اندېښنه کې اخلاص و ـ کله به چې په ارام او ښه چروت کې و، نو محمد داود به د زړه له تله خندل ـ هغه داسې د بوټ تندي مطلق العنان نه و لکه په عمومي ډول چې ښودلی شو ـ خو یقیناً هغه د واك داسې هوا لرله چې ورسره په خبرو ناست به یې د هغه دراوښت ته مایل کړ او، په پوره سپناوي، یو قسم ښکېل به یې خور کړو ـ

د چپلاسي خوځښت د کلونو د محتاطې مطالعې په نتیجه کې، داود هېواد ته د افغاني کمونیستو په وفادارۍ اتبار نه لرلو ـ د هغه د زوړ فېشن ملي تمایلات د کمونیستو بین المللي تمایلاتو سره ډېر مخالف وو ـ هغه یو څو چپلاسي نظامي منصبدارانو سره، چې ورسره یې کودتا کې مرسته کړې وه، دوستانه روابط لرل، خو د سخت درېځه کمیونستو وطندوستۍ منلو ته تیار نه و ـ هم هغه شان په چا چې د ښیلاسي درېځ ګټو ته د وفادارۍ شك و، هغه یې هم نه زغملو ـ

د محمد داود په ذهن ډسپلن (نظم و ضبط) خور و ـ اړېګړې او ځانځاني یې نه خوښوله ـ هغه به اکثر د پاچاهۍ په دوران کې د "مشروطې دورې" د

ناخوشگواره چاپېریال ذکر کولو ـ وکیلانو ډېر بې مسئولیته کارونه کول، چې د نظام اتبار او د حکومت فعالیت ته یې زیان رساوه ـ یقیناً هغه چې کوم نظام جوړول غوښتل هغې کې د ځان ځانۍ رو نه و ـ هغه غوښتل چې په دې هر څوك پوه شي چې جمهوریت او ځانځاني یو شان او یو شی نه دی ـ د داود په هکله زیاتو لیکوالانو چې کومه خاکه پېش کړې وه، د هغې سرچپه هغه افغانستان د پاره د عوامي جمهوري نظام مخالف نه و، خو هغه دېموکراسي یو سپېڅلی امانت ګڼلو او خلك د هغې ساتونکي ـ هغه په هغې حال کې غوړېدلی شي چې خلك یې په ارزښت پوه شي او هغه شان پرې عمل وکړي ـ د هغه خیال و چې په افغانستان کې د دېموکراسۍ هدف ته رسېدلو د پاره ځینې شرطونه باید پوره شي ـ د هغه په خیال کله چې بېسوادي د لاس لاندې شي او اقتصادي وده د ډاډ وړ یوې سویې ته ورسي نو د دېموکراسۍ مناسب چاپېریال به جوړ شي ـ دا بیا د خلکو کار دی چې دېموکراسي جرړې نیولو او زرغونېدلو ته پرېږدي!

په روانو حالاتو کې داود افغانستان د پاره د یو میانه رو سوسیالیزم په حق کې و چې د افغاني عنعنوي ارزښتونو مناسب فکر وساتي، او د هغو نظامونو په شان ګډ اقتصاد چې زیات مترقي هېوادونه یې پالي ـ د محمد داود د تېرو اجرآتو په قضاوت او د زیات مناسب حالاتو منځ ته راتګ، لکه پاکستان سره د حالاتو ښه والی او د اسلامي او عربي منابعو نه د مرستو په شکل کې د نوو پانګو لاس ته راتلو په نظر کې نیولو سره، دا ګومان بې دلیله نه و چې هغه ته که وخت ورکړی شوی وی نو هغه به افغانستان د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په لاره پوخ اچولی وی ـ

دا راز د محمد داود د باندېنیو چارو دریځ د افغانستان د خلکو غوښتنو او خواهشاتو سره سمون خوړ ـ که د ودې کولو اجازت ورکړی شوی وای، نو هغې کړنلارې به یقیناً د افغانستان اسلامي او ناپېلی تشخص پوخ کړی وی.

د محمد داود په فکر ناپېلتوب د افغانستان د پایښت یو ساتنوال و. په هر حال، د هغه د ناپېلتوب مفکوره د روسانو نه په توپیر وه ـ داود په هغو اصولو سخت ولاړ و چې په ١٩٦٢ء کې په بلغاریه کې جوړ شوي وه، کله چې روسیانو صرف هغه هېواد ناپېلی ګڼه کوم چې باندېنیو چارو کې د ماسکو په کرښه تګ منلو او دا اعلان یې کولو چې شوروي اتحاد "د ناپېلې نړۍ طبعي ملګری" و.

داود د افغانستان د شمالي ګاونډي له ښکېلاکي زور نه ښه خبر وه ـ ښېشکه هغې مهمې اندېښنې هغه د چپلاسیانو خلاف په وخت او پرېکړې عملیاتو نه منع کاوه، سره له دې چې د هغوی د ملت په ضد او د ورانکاریو فعالیتونو حالات خراب کړي وو ـ

محمد داود منل چې شوروي اتحاد ته څه مخصوص مراعات ورکول

پکار وو، خو، هغو نه وراخوا، د روسیانو په خوښه د افغانستان د استقلال او ناپېلتوب مفکوره کې یې ترمیم کولی نه شو. محمد داود اکثر ګومان کاوه چې شورویان د هغوی په کړنلارو او ګټو په هکله د افغانستان د ډاډ په حدونو پوهېدل. د هغه په خیال د افغانستان ناپېلتوب او دوستي د داسې پوهې په شکل کې د جایزې وړ ګرځول پکار وو. له بده مرغه داسې نه وه.

د محمد داود د وژلو سره، یو دور، د ژوند یو پوره دستور، ختم شو. د دوو سوو کلونو په موده کې د خپل ملت د پائښت د یقیني کولو د پاره د افغان واکمنانو په رابشکلې بیاستې تګ ختم شو، او ورسره د افغانستان د استقلال وجود. د هندوکش د هېواد د منځګړتوب رول، وروستۍ د دوو امپراتوریو تر منځ، او بیا د دوو مفکورو او د ژوند د دودونو تر منځ، ناڅاپه ختم شو. د هغې نتیجه کې نه صرف د افغانستان د خلکو په برخه ډېر زیات مشکلات ورسېده بلکې یوه نوره خطرناکه نړۍ هم منځ ته راغله.

## Notes

1. The Salang Tunnel, inaugurated in August 1964, crosses the Hindu Kush at an altitude of 11,000 feet on the main highway from Kabul to the Soviet border and is 1.7 miles long. The tunnel and the highway, built by the Russians, considerably shorten the distance between the ports on the Amu River and the Afghan hinterland.
2. Leon B. Poullada, "The Failure of American Diplomacy in Afghanistan," *World Affairs* (Winter 1982–1983); 230.

# دانش خپرندویه ټولنه

دانش خپرندویه ټولنه
+۹۲-۹۱-۲۵۶۴۵۱۳

| | |
|---|---|
| د افغانستان لنډ تاریخ | د علامه عبدالحي حبیبي لیکنه |
| | د محمد داود وفا ژباړه |
| د الفت نثري کلیات | محمد اسمعیل یون په زیار |
| د الفت مرغلرې- شعري کلیات | د شهرت ننګیال په زیار |
| د احمد شاه بابا دیوان | د مومن موحد په زیار |
| احمدشاه بابا افغان | د میرغلام محمد غبار لیکنه |
| | د امین الله دریخ ژباړه |
| غرغښت یا ګرشاسپ | احمد علي کهزاد |
| افغانستان سرزمین اریا | محمد نادر کمال |

او نور...

PROPERTY OF ARIC Established 1989
PROPERTY OF ACKU 8175

# The Fall of Afghanistan

## An Insider's Account

**Abdul Samad Ghaus**
Former Deputy Foreign Minister of Afghanistan






+۹۲-۹۱-۲۵۶۴۵۱۳:
چاپ: دانش کتابخانه، قصه‌خوانی بازار- پېښور